# سیګار

د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

لاک ۲۰۱۲ د
ربوت‌کا

## د متحده آیالاتو کانګریس ته درې میاشتنی رپوټ



## د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحیت قانون (عامه قانون 181-110) د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش (سیګار) رامنځ ته کړ.

د سیګار نظارت دنده، لکه څنګه چې د قانون په واسطه ټاکل شوې، هغه پروګرامونو او عملیاتونو پورې اړوند پلټنو او.

- تحقیق خپلواک او عیني نظارت دی چې اړوند مبلغ بسپنه ورکول شوي وي یا په بیله بیا د افغانستان بیارغونې لپاره ورته چمتو شوي وي.
- د پروګرامونو او عملیاتونو په اداري کې د اقتصاد، کفایت او مؤثریت ودې لپاره جوړې شوي پالیسیو رهبریت او انسجام، او پر هغو وړاندیزونه او په دا ډول پروګرامونو او عملیاتونو کې د ضایع، درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستنې موندل او مخنیوی یې.
- پدې معنی چې دا ډول پروګرامونو او عملیاتونو پورې اړوند ستونزو او نواقصو او د سمولو فعالیت لپاره اړتیا او ودې څخه د بهرنیو او دفاع چارو وزارتونو په بشپړ او متداول ډول خبرول.

د افغانستان بیارغونه کې هر لوی قرارداد، مرسته، تړون یا د بسپنې ورکولو بل کوم میکانیزم شامل دي چې د متحده ایالاتو دولت کوم وزارت یا اداري لخوا دننه شوي چې د افغانستان بیارغونې لپاره اړوند مبلغ کارول یا په بله ورته چمتو شوي مقدار پکې دخیل وي.

سرچینه: عامه قانون 181-110، "د ۲۰۰۸ مالي کال لپاره د ملي دفاع صلاحیت قانون،" ۱/۲۸/۲۰۰۸.

(د دې راپور د کانګریس په واسطه فرمان ورکړی شوي لست منځپانګو لپاره ۳ برخه وګورئ.)

**د پوښ عکس:**

**د متحده ایالاتو یو سرتیری** د ننګرهار کرهینز تجارت پرمختیا ډلې سره خپل ټرک ته روان دی ترڅو د افغان کرهنیز بارورتوب ملاتړ لپاره دندې ته چمتووالی ونیسي. (د متحده ایالاتو د اردو عکس)

ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانسـتان د بیارغونې لپاره

خوشحاله یم چې کانګرس ته خپل درې میاشتنی رپوټ په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغنیزو هڅو په اړه وړاندې کوم. کله مې چې د جولای په لومړۍ نیټه د افغانستان د بیارغونې د ځانګړي عمومي پلټونکي دنده په غاړه واخیسته نو ژمنه مې وکړه چې د هغو 90 میلیارد ډالرو په اړه چې کانګرس له ۲۰۰۲ کال راهیسې د افغانستان بیارغونې ته چمتو کړیدي، ګرندۍ، کره او هر اړخیزه پلټنه وکړم.

د دې ربع رپوټ دا روښانوي چې سیګار تر کوم حده په خپلو ژمنو ولاړ دی.

سیګار په دې ربع کې خپل کار پراخ کړی او تر ټولو ستر پروګرامونه او ستونزې یې تر غور لاندې راوستي دي. مونږ ۱۱ لیکل شوي اثار چمتو کړیدي – چې د سیګار له تاسیس راهیسې په یوه ربع کې تر ټولو لوړه کچه ده. دغه اثارو کې پلټنې، څارنې، د کانګرس اعلامیې، د خبرداری پاڼې، او پلي کونکو ادارو ته یو څیړنیز رپوټ شامل دي زمونږ موخه: د دې لپاره چې کانګرس او د متحده ایالاتو ادارې په مناسب وخت کې له هغو ستونزو باخبره شي، چې د بیارغونې پرمخ خنډونه رامنځ ته کوي یا د امریکایانو ژوند ته ګواښ متوجه کوي او یا د مالیه ورکونکو پر پیسو درغلي، ناوړه کارونه او اختلاس په ګوته کوي.

زمونږ پلټنه، څارنه او څیړنیزې هڅې په دې ربع کې دریو کړکیچنو برخو ته متمرکزې وې: د افغانستان د ملي اردو لوجستیکي ورتیاوې، د افغان امنیتي ځواکونو د تسهیلاتو کیفیت او پایښت، همداشان په فساد کې له ښکیلو او هغو قراردادیانو سره چې کاري کیفیت یې ټیټ دی د قراردادونو ځنډول یا لغوه کول، چې په دې کې له باغیانو او تروریستي ډلو سره تړلي شرکتونه هم شامل دي.

## سیګار له DoD سره هغه ستونزې شریکې دي چې افغان ملي اردو ته د چمتو کیدونکیو تیلو په حسابونو کې شتون لري

په سپټمبر کې سیګار DoD او کانګرس ته خبرداری ورکړ چې د متحده ایالاتو له لوري افغان ملي اردو ته د چمتو کیدونکو تیلو په برخه کې د حساب ورکونې سترې ستونزې شته دي. مونږ همداراز هغه پلټونکی رپوټ خپور کړ چې له DoD سره تړلی دی:

- ملي اردو ته د 1.1 میلیارد ډالرو په ارزښت د چمتو شویو تیلو لپاره دقیق حساب شتون نلري.
- د غوښتل شویو، پیرودل شویو، تسلیم شویو او لګول شویو تیلو په اړه بشپړ اسناد شتون نلري.
- د افغان ملي اردو د تیلو اړتیاوو ته د اټکل دقیق حساب نشته.

د دوو څرګندونو په ترڅ کې د سنا د څارنې او دولتي سمون کمیټې، او د ملي امنیت، کورنۍ دفاع، بهرنیو عملیاتو، فرعي کمیټو ته څرګندونې وشوې، او ما دغه لاسته راغلي شواهد له دې کبله خواشینونکي وبلل چې د ۲۰۱۳ کال له جنوري وروسته به متحده ایالات او ناټو د افغان ملي اردو د تیلو لګښت ته ډېره پاملرنه کوي او د تیلو د پیردولو مسولیت به پخپله هغوی ته ورکوي—دا پروګرام به په راتلونکو شپږو کلونو کې 2.8 میلیارد ډالر لګښت وغواړي. د سیګار د پلټونکو هڅو په پایله کې، د دغه فرعي کمیټې مشر او چارواکو د هغه قانون جوړونې ملاتړ اعلان کړ چې د DoD د هغه کار مخه به نیسي چې د تیلو د پیرودلو لپاره افغان دولت ته په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه پیسې برابروي، دا کار به تر هغو دوام لري چې سیګار او د د فاع وزارت ومني چې په افغان حکومت کې د حساب ورکونې او څارنې پیاوړې بنسټونه رامنځ ته شویدي.

## سیګار د افغانستان په مهمو لویې لارو کې د متحده ایالاتو ځواکونو ته د IED تهدیدونو پلټنه کړیده

په اکتوبر کې سیګار د متحده ایالاتو مرکزي قوماندان او نړیوالو سوله ساتو/امریکایی ځواکونو قوماندان ته د خبرداري پاڼه وسپارله چې د هغه مهم قرارداد په اړه د بلقوه تقلب یادونه شوې وه چې د پلچکونو د بندولو د سیستم د څارنې او ټاکنې په قرارداد کې وې چې موخه یې پلچکونو ته د یاغیانو د لاسرسي مخنیوی وو.

د پوځي سرچینو له لوري له سیګار سره د طرح شویو اندېښنو په بنسټ، داسې اټکل کیږي چې د پلچکونو د بندولو د سیستم یوه لویه شمیره د افغان قراردادیانو له لورې په غلطه بشپړ ښودل شویده، په داسې حال کې چې د پلچکونو د بندولو سیستم یا پلي شوی ندی یا یې په کارونو کې لویې نیمګرتیاوې لیدل شویدي، او اغیزمن ندي، همداراز یاغیان کولای شي چاودیدونکي مواد پکې په ګړندۍ توګه ځای پر ځای کړي. مونږ دغه رپوټ د مربوطه پرسونل د خبردای په موخه خپور کړیدی تر څو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د ساتنې په موخه بیړني ګامونه ونیول شي. دغه قضیه د سیګار او پوځ تر منځ د همغږۍ د ګټو یوه بیلګه روښانوي.

## د سیګار پلټنو او څارنو د زیربناوو ستونزې جوته کړیدي

سیګار د 800 میلیون ډالرو پر هغه قرارداد پلټنې پیل کړیدي چې د افغان امنیتي ځواکونو تسهیلاتو ته د پایښت او عملیاتو ملاتړ برابروي، دغه قرارداد له ۲۰۱۴ کال وروسته د افغانستان د پایښت ساتنې د وړتیاوو په اړه سترې پوښتنې راولاړې کړیدي. زمونږ څارنو د ملي اردو په یوې قرارګاه او د پولیسو روزنیز مرکز کې بیلابیلې نیمګړتیاوې په ګوته کړیدي، لکه د جوړښت ستونزې، نامناسبه درجه بندي، ګودالونه، د تخلیې نیمګړی سیستم، د بریښنا ستونزې او د پایښت عملیاتو نشتوالی.

مونږ سپارښتنه کړیده چې د متحده ایالاتو د پوځ د انجینرانو ډلې یا USACE، چې دغه قراردادونه یې پلي کړیدي،باید د دغو مهمو ستونزو په تړاو د قراردادیانو مسولیت په ډاګه کړي.

## سیګار خپلې هڅې روانې ساتلي دي څو د دولت په قراردادونو کې د ناوړو قراردادیانو د ګټلو مخه ونیسي

د سیګار د دې ربع کار په نورو سیمو هم اغیزې درلودې. مونږ ۶۰ شرکتونه او اشخاص د قراردادونو د ځنډ او لغوه کولو لپاره پلي کونکو ادارو ته وروپیژندل، له دې سره په تیرو دوو کلونو کې مونږ خپل کار پیل کړیدی دغه مجموعي شمیره ۲۰۶ ته ختلې ده. په دغه ډله کې ۴۳ شرکتونه او اشخاص د حقاني شبکې په څیر له هغو ډلو په ملاتړ پېره پیژندل شوي، چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو په وړاندې جنګیږي. د سیګار پلټنې د ۴۱ قراردادونو د ځنډیدو او د ۸۵ پروپوزلونو د لغوه کیدو لامل شوې. همداشان د متحده ایالاتو په بیارغنیزو پروژو کې ۴۶ قراردادونه له هغو شرکتونو او اشخاصو سره چې په درغلۍ او غلطې کاروونې کې ښکیل وو لغوه شول.

سیګار اوس مهال له خپلواکو ادارو سره په اړیکه کې دی چې له هغو قراردادیانو سره چې په درغلي تورن دي قراردادونه وځنډوي او لغوه یې کړي. نږدې یو کال مخکې، سیګار د مدیریت او بودیجې دفتر یا OMB ته د مقرراتو هغه مسوده وړاندې کړه چې له مخې به یې سیګار وتوانیږي څو پخپله د قراردادونو د ځنډولو او لغوه کولو واک وومي. د دې واک لاس ته راوړل اړین دي. لکه مخکې چې تاکید پرې وشو، نورو اداراتو ته د قضیې راجع کول عملي ګامونه ځنډوي. په راجع شویو قضیو د نورو اداراتو عملي ګام پورته کول شاوخوا ۳۲۳ ورځې وخت غواړي. دغه ځنډیدنې په ځانګړې توګه په کرکیچنو سیمو کې د منلو ندي. ناوړه قراردادیان د پیسو د ضایع کیدو په علاوه ژوند هم له ګواښ سره مخ کوي. د بیلګې په توګه، مونږ په دې ربع کې وموندله چې افغان قراردادیانو ونشوای کولای چې د پلچکونو اوسپنیزې دروازې په سمه توګه نصب کړې او څارنه ترې وکړي. دغه دروازې د افغانستان د لویو لارو د پلچکونو لپاره په دې موخه کاریږي چې د یاغیانو د IED ایښودلو مخه ډب کړي. ما OMB او قانون جوړونکو ته په ډاګه کړیده چې د سیګار د هغه واک غوښتنې ملاتړ وکړي چې له مخې به یې شکمن قراردادیان په ګړندۍ توګه د متحده ایالاتو په بیارغنیزو پروژو کې له ګډون څخه محروم کړي.

## سیګار نوي لومړیتوبونه هم په لاس کې لري چې ورسره به د مهالنیو رپوټونو شمیرلوړ شي

سیګار د عملي اقداماتو تر څنګ غوږ هم نیسي. د دوبي په اوږدو کې ما له افغانستان څخه لیدنه وکړه او په کابل او ولایاتو کې مې له ګڼو ملکي او نظامي مشرانو سره وکتل. هلته، او په واشنګټن کې ما د ګڼو دولتي چارواکو او د کانګرس له غړیو سره له خبرو اترو وموندله چې، دوی د امنیت، فساد او له انتقال وروسته د بیارغنېزې پروسې په اړه اندیښنې لري. په کابل او واشنګټن کې د متحده ایالاتو چارواکو له مونږ د دغو ستونزو په پیژندنه کې مرسته وغوښته. او د پیسو تر لګښت مخکې یې د حل لارې موندل وغوښتل. مونږ دغه غوښتنې

په پام کې لرو او خپل ځانګړي رپوټونه، اعلامیې او خبرپاڼې د قاطع او په وخت اقداماتو لپاره زیاتوو. په دې برخه کې د رسمي پلټونکو او څارونکو زیار د ستایلو وړ دی.

برسیره پردې، سیګار د پلټونکو، څارونکو، څیړونکو، وکیلانو او نورو متخصصینو د چټک غبرګون ډله جوړوي، ترڅو زمونږ لاس ته راتلونکي معلومات وازمویي او په وخت کانګرس او فدرالي ادارو ته کارنده رپوټ چمتو کړي. دغه لومړیتوب به د یوه با تجربه پلټونکي له لوري په مخ بیول کیږي چې په تیرو دریو کلونو کې یې په افغانستان کې د سیګار له عملیاتو څارنه کړې وي.

## راتلونکي ته کتنه

د سیګار پلټونکي او څارونکي په ګډه کار کوي څو په بیړه ترینګلو قضیو ته ځواب برابر کړي. د بیلګې په توګه، د اکتوبر په لومړیو کې، یوې نظامي ارزونکې ډلې سپارښتنه وکړه چې په افغانستان کې د ناټو عمومي قوماندان جنرال جان آلن دې له سیګار وغواړي چې د هغو 230 میلیون ډالرو څرک ولګوي چې د افغان اردو د تجهیزاتو بیارغونې لپاره برابر شوي وو. مونږ په بیړنۍ توګه پلټنه پیل کړه او اعلان مو وکړ چې د DoD له لوري د افغان ملي اردو د تجهیزاتو قرارداد او مدیریت به تر پلټنې لاندې ونیسو. د 500 کانټینرو له جملې د 474 هغو له څارنې ورسته د نظامي روزنې ډلې ته روښانه کړه چې د مدیریت کمزوري د دې لامل شوه چې ترمیمي پرزو ته د 136 میلیونو ډالرو بیاغوښتنه وشوه.

د تجهیزاتو د پرزو پلټنه د اوو نویو پلټنو له ډلې یوه ده او درې نوې څارنې په دې ربع کې پیل شوې. په دې کې به د هغو قراردادونو او پروګرامونو په اړه یوه روښانه ارزونه وشي چې موخه یې د یوه داسې افغان حکومت بیارغونه ده چې په خپله د ځان امنیت ساتلو وړتیا ولري. برسیره پردې، سیګار په رسمي توګه د مالي پلټنې پروګرام پیل کړ. دغه پروګرام به د هغو مرستو او قراردادونو له ۱۱ هغو پلټنو سره پیل شي چې په ټوله کې 913 میلیون لګښت پرې راغلی دی. مالي پلټنه هغه مهمه لاره ده چې له مخې یې ډاډ تر لاسه کیدی شي چې د مالیه ورکونکو پیسې په سمه توګه لګول شویدي او هغه پیسې چې درغلي پکې شویده بیا راژوندۍ کړي.

د رپوټ د دغه دورې په اوږدو کې، سیګار د خپلو کارکونکو شمیر ۱۷۵ ته لوړ کړ او په افغانستان کې یې خپل شتون پراخ کړ. په مزارشریف کې هم یو دفتر پرانیستل شو، او ورسره په افغانستان کې د سیګار د دفترونو شمیر اوو ته لوړ شو— دا به د څارنې په ډګر کې یوه مهمه لاسته راوړنه وي.

لکه مخکې چې یادونه وشوه، شرایط ستونزمن او موده کمه ده. په دوو کلونو کې افغانانو ته د واک لیږد په لویه کچه د بیارغنیزو پروګرامونو له بریالۍ پلي کیدو سره تړلی دی. ترڅو افغان امنیتي ځواکونه پیاوړي کړي، د حکومتولۍ ظرفیتونه لوړ کړي او اقتصادي پراختیا ته لاره هواره کړي. په دغو هڅو کې ناکامي به نه یواځې افغانانو ته بدبختۍ راولي بلکه تروریستانو ته به یو ځل بیا په افغانستان کې د ځالو جوړولو زمینه مساعده کړي او ورسره به په امریکا د حملو لپاره خطرناکه وي.

مونږ خپلې څیړنیزې او ارزونکې سرچینې پیاوړې کوو ترڅو په مناسب وخت هغه څارنې په لار واچوو چې د متحده ایالاتو له بیارغنیزو پروګرامونو ساتنه وکړي چې په یوه هیواد کې د متحده ایالاتو تر ټولو ستره مرسته په ګوته کوي. زه او د سیګار نور کارکونکي ژمن یو چې له کانګرس او په افغانستان کې له نورو ښکیلو اداراتو سره په ګډه کار وکړو، ترڅو به عامو بسپنو ساتنه وکړو او ورسره متحده ایالات په دې وتوانوي چې په افغانستان کې خپلو بیارغنیزو موخو ته ورسیږي.

په درنښت،

جان ایف. سوپکو
د افغانستان بیارغونې ته ځانګړی عمومي پلټونکی

# د منځپانګو جدول



## ۱ برخه


### 3 د افغانستان عمومي کتنه
5 د لیږد له پرمختګ سره د متحده ایالاتو اضافي پوځونه بیرته وویستل شول
6 ناټو/ایساف د ANSF څخه د ملاتړ کولو لپاره د یوې ستراتیژي جوړولو په تکل کې دي
9 د پاکستان له لارې د ناټو اکمالاتي لاره بیرته پرانیستل شوه
9 د سولې خبرې اترې په ټپه دریدلي دي
10 کرزي د اداري فساد په ضد فرمان ورکړ
11 د افغانستان او امریکا متحده ایالاتو ګډ کمیسیون په کار پیل وکړ
11 د آسیا پراختیایي بانک د افغان اقتصاد وړاندې لید نوی کړ
12 متحده ایالاتو او ناټو په افغانستان کې خپل نوي چارواکي اعلان کړل




## ۲ برخه


### 15 د سیګار د څارنې فعالیتونه
18 سیګار د سون موادو د اخیستلو په اړه د نه حساب ورکولو په اړه ګواهي ورکوي
21 د سیګار فعالیتونه وړاندیز شوي قانون لړۍ چټکوي
22 سوپکو په افغانستان کې د جګ پوړو چارواکو سره ولیدل
22 سیګار د ښه کړنې دوه جایزې ترلاسه کړې
23 ځانګړي نوښتونه
25 د خبرداری لیکونه
26 پلټنې
37 تفتیش
42 تحقیقات
52 د سیګار بودیجه
53 د سیګار کارکوونکي




## ۳ برخه


### 55 د بیارغونې نوي خبرونه
60 د بودیجو وضعیت
74 درې میاشتني د پام وړ ټیکي
76 امنیت
100 حکومتداري
126 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا

# د منځپانګو جدول



## ۴ برخه


**153 د نورو اداراتو څارنه**

155 د څارنې بشپړ شوي کارونه

164 د څارنې روان کارونه


## ضميمې او پايليکونه


174 A ضميمه: قانوني شرطونو ته د رپوټ متقابله سرچينه ورکول

182 B ضميمه: د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو بسپنې

184 C ضميمه: د سيګار پلټنې

187 D ضميمه: د سيګار تحقيقات او د شکاياتو شميره

190 E ضميمه: لنډيزونه او مخففات

194 پای ليکونه

”تراوسه مو ډېره لاره وهلې ده، په ډېرو جګړو کې
مو ونډه اخيستې ده، او ډېرې وينې مو تويې کړي
دي، خو تر اوسه زموږ دنده پای ته نده رسيدلې.“

— د دفاع وزير ليون پنيټا

سرچينه: د دفاع وزارت، د دفاع وزير ليون پنيټا، د ناټو د دفاع وزيرانو ته وينا، د ۲۰۱۲کال د اکټوبر ۱۰ مه.

# ۱

## د افغانستان په اړه
# عمومي کتنه



# منځپانګه


**د متحده ایالاتو د لیرد بهیر د پرمختګ سره سم تهاجمي پوځیان له صحنې څخه ایستل کیږي** 5

**ناټو/ایساف د افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه د ملاتړ کولو لپاره خپله ستراتیژي چمتوکوي** 6

**د ناټو د اکمالاتو لاره په پاکستان کې بیا پرانستل شوه** 9

**د سولې خبرې په ټپه دریدلې دي** 9

**کرزي د اداري فساد په ضد فرمان ورکړ** 10

**د متحده ایالاتو- افغان دوه اړخیزه ګډ کمیسیون په کار پیل وکړ** 11

**د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان نوی اقتصادي لرې لید وړاندې کوي** 11

**متحده ایالات او ناټو دواړه په افغانستان کې خپل نوي چارواکي اعلانوي** 12


**تصویر یې په تیرشوی مخ کې دی**
د متحدو ایالاتو پوځیان په ۸۲ هوایي فرقې کې افغان ملي پولیسو او افغان ملي پوځیانو د خپلو هغو امنیتي، پوځي، او بشري عملیاتو د ستاینې لپاره غونډه جوړه کړې وه چې د افغانستان په غزني ولایت کې یې ترسره کړي ول. (د متحده ایالاتو د سمندري ځواک تصویر)

# د افغانستان په اړه عمومي کتنه

په افغانستان کې د سيګار له وروستي رپوټ څخه راهيسې په پوځي او سياسي برخو کې ډيرې تازه خبرې رامينځته شويدي، چې دا به په راتلونکي کې دمتحدو ايالاتو تر مشرۍ لاندې د بيارغونې هڅو باندې پراخې اغيزې ولري. د رپوټ ورکولو پدې ربع کې د متحدو ايالاتو ۳۰۰۰۰ غښتلو پوځيانو دنده چې په ۲۰۰۹ کال کې سپارښته شوې وه، پای ته ورسيدله، د "محرمو" يا "شين په نيلي" بريدونو کچه زياته شوه چې له امله يې افغان امنيتي واحدونو ته د ايتلافي ځواکونو لخوا روزنه وځنډول شوه، او د پاکستان له لارې د ناټو ځمکنۍ اکمالاتي لاره بيرته پرانيستل شوه. د متحدو ايالاتو سابقه لرونکي ملکي او پوځي مشرتابه خپل هغو هڅو ته دوام ورکوي چې له مخه يې افغان حکومت ته د بيارغونې پروژو د سپارلو لپاره پلانونه جوړکړي. په عين وخت کې، متحده ايالاتو او دشمالي اتلانتيک اتحادېې تړون (ناټو) په افغانستان کې خپل نوي سابقه لرونکي استازي ټاکلي دي ترڅو د نړيوالې ټولنې لخوا افغان حکومت ته د مسوليت ورسپارلو په بهيرکې د دوی له تمايلاتو څخه استازيتوب وکړي او په نتيجه کې هيواد او دوامداره اقتصادي پرمختيا خوندي وساتل شي.

لکه څنګه چې په لاندې کرښو کې راځي، پدې ربع کې ګڼ شمير پرمختګونه په افغانستان کې د متحدو ايالاتو او ايتلافي ځواکونو د رغنيزو موخو ترلاسه کولو په وړاندې د ستونزو پرشتون ټينګارکوي.

## متحده ايالات د ليږد بهيرله پرمختګ سره سم اضافي پوځيان له سيمې ګوښه کيږي

د ۲۰۱۲کال په سپتمبرکې، متحده ايالاتو خپل ټول ۳۰۰۰۰ پوځيان چې په ۲۰۰۹ کال کې د ولسمشر اوباما د فرمان په اساس ليږل شوي ول، په بشپړ ډول بيرته واستول. پدې سره د متحده ايالاتو د پوځ شمير په افغانستان کې ټول ټال ۷۶۰۰۰ کسانو ته راټيټ شو. دغه شميره به د ۲۰۱۴ کال تر پايه پورې چې د متحدو ايالاتو جنګي ځواکونه په بشپړډول بيرته استول کيږي، خپل کمښت ته دوام ورکړي.

کله چې اضافي ځواکونه بيرته پای ته ورسيد، نو جنرال مارتين ای. ډيمپسي، د پوځي آمرينو د ګډ سټاف رييس وويل چې دا به ايتلافي ځواکونو ته "دا موقع ورکړي ترڅو د طالبانو خوځښتونه په شا وتمبوي" او "افغان امنيتي ځواکونو ته به د ودې لپاره زمينه برابره کړي."[1] د متحده ايالاتو د بيارغونې هڅې په جدي توګه د افغان ملي پوليسو او افغان ملي پوځ پر جوړولو راغونډې شويدي. د ۲۰۰۲کال څخه راپديخوا، کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواکونو د جوړولو لپاره ۵۱ ميلياره ډالر چمتو کړي دي ـــ چې د تخصيص ورکړشوي ۸۹ ميلياره ډالرو له نيمايي څخه زياتې دي. د دې مرستو له جملې څخه نږدې ۳۷ ميلياره ډالر، يا تقريبا ۷۲٪ افغان ملي امنيتي ځواکونو ته، د ۲۰۰۹مالي کال څخه تر۲۰۱۲مالي کاله پورې تخصيص ورکړشويدي، کله چې ولسمشر اوباما د اضافي پوځيانو د ليږلو فرمان ورکړ.

ولسمشر په ۲۰۱۳مالي کال کې د افغان ملی امنیتي ځواکونو څخه د ملاتړ لپاره د 5.7 میلیارده ډالرو غوښتنه کړې ده.

د رپوټ ورکولو پدې دوره کې، د افغانستان لپاره د امنیتي لیږد ګډې قوماندې (CSTC-A) چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې، اسباب برابرولو، مرکز جوړولو، او پایښت مسولیت په غاړه لري، رپوټ ورکړی دی چې د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیسو د ګډ ځواک کچه د افغان ملي امنیتي ځواکونو موخې ۳۵۲۰۰۰ ته نږدې شویده. په افغانستان کې د متحدو ایالاتو ستراتیژۍ دې پورې تړلې ده چې دا ځواکونه له ۲۰۱۴څخه وروسته د خپل هیواد د امنیت ساتلو وړتیا ولري.

د دې لپاره چې متحده ایالاتو د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو لپاره ډېر زیات رقم تخصیص ورکړی دی، او هم د افغانستان د راتلونکي لپاره پوځ او پولیس اساسي ارزښت لري، سیګار یو شمیر پلټنې او تحقیقات په لاره اچولي دي ترڅو معلومه کړي چې د متحدو ایالاتو په بسپنو روان شوي پروګرامونه ترکومه بریده د یوه پایداره افغان ملي پوځ او ملي پولسو په روزلو کې بریالي شویدي. پدې ربع کې، سیګار دوه پلټنې او درې تحقیقاتي رپوټونه خپاره کړي دي چې په ترڅ کې یې لاندې مواردو ته اشارې شویدي ۱) CSTC-A نشي کولی د هغو ۱.۱ میلیارده ډالرو پوره حساب ورکړي کوم چې افغان ملي پوځ ته د تیلو د اخیستلو لپاره مصرف شویدي، او ۲) افغان ملي پوځ او ملي پولیس دا وړتیا نلري چې د هغو قشلو او د روزنې مرکزونو څخه چې د دوی لپاره جوړ شویدي په سمه توګه کار واخلي او ساتنه یې وکړي. سیګار د افغان ملي امنیتي ځواکونو په اړه پنځه نورې پلټنې په لاره اچوي. دا پلټنې رغنیزې پروژې معاینه کوي، د نقلیه وسایطو او ترمیمي پرزو له ترونونو څخه د CSTC-A څارنه ارزوي، او همدارنګه د تیلو د محصولاتو د اخیستلو، انتقال، او حساب ورکولو په برخه کې د افغان ملي پولیسو ظرفیت معاینه کوي. سیګار د افغان ملي پولیسو په اړه خپله پلټنه هغه وخت پیل کړه چې د تیلو د خریداریو د مدیریت، تعقیبولو او حساب ورکولو په برخو کې د افغان ملي پوځ په وړتیا کې یې ځینې ستونزې موندلې (د دې پلټنو او تحقیقاتو د جزییاتو کتلو لپاره د دې رپوټ ۲برخه وګورئ او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرمختیا لپاره د متحدو ایالاتو د هڅو په اړه نور جزییات د دې رپوټ په ۳برخه کې وګورئ).



**ځانګړي عمومي پلټونکي** جان ایف. سوپکو د ۲۰۱۲ کال په اګست کې د خپل سفر په موده کې د بګرام هوایي ډګر سنګین وزنه پوځي وسایط معاینه کړ. (د سیګار تصویر)

## ناټو/ایساف د افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه د ملاتړ کولو لپاره ستراتیژي جوړوي

د رپوټ ورکولو په دې موده کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو د لیږد بهیر دوام درلود. د ناټو په مشرۍ نړیوال سوله ساتي ځواکونو د تیرکال څخه ډېر ځایونه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته سپارلي دي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په پای کې، د افغان خلکو ۷۵ سلنه چې په ښارونو، ولایتونو، او ولسوالیو کې ژوند کوي د لیږد په بهیر کې شامل شویدي. پداسې حال کې چې دمتحده ایالاتو رسمي چارواکي وایي پدې سیمو کې امنیتي وضعې د پام وړ توپیر ندی موندلی، همدارنګه دوی دې ته هم اشاره کوي چې د لیږد بهیر د هیواد له بې خطرو سیمو څخه پیل شوی دی. متحده ایالات او ایتلافي ملګري یې پدې پوهیږي چې امنیتي خطرونه کولی شي د بیارغونې هڅې په بشپړ ډول له ګواښ سره مخ کړي.

د رپوټ ورکولو پدې دوره کې، د دفاع وزیر لیون پنیټا د ناټو هیوادونو د دفاع وزیرانو ته وویل چې ملګري باید د افغان ملي امنیتي ځواکونو د اوږدمهاله بریالیتوب لپاره هرڅه چې په توان کې لري ترسره یې کړي. دې د یوې درې ځانګې درلودونکې ستراتیژۍ په پلي کولو ټینګار وکړ ترڅو:

- د افغان ځواکونو سره د ایتلاف پیاوړې ملګرتیا رامنځته شي.



**د دفاع** وزيرليون پنيټا، مينځنی، د ۲۰۱۲کال په اکتوبر کې د بروسل په مطبوعاتي کنفرانس کې خبرې کوي ترڅو د جنرال جوزف دانفورډ ټاکنه (ښـی خوا آخري نفر) د جنرال جان آلن څخه وروسته (چپ خوا آخري نفر) د ايساف د قوماندان په توګه اعلان کړي. دواړه د متحده ايالاتو سمندري ځواک پورې اړه لري. آلن په اروپا کې د متحدينو د اعلی قوماندان په توګه د اميرالبحر جيمز ستاوريډيس (دپنيټا چپ طرف) څخه وروسته نومول شوی دی. د ناټو عمومي منشي اندرس فوګ راسموسن د پنيټا په ښي خوا کې ولاړ دی. (د دفاع وزارت تصوير)

- داخلي بريدونو ته په اغيزمن ډول ځواب ورکړ شي، او
- په ۲۰۱۴ کال کې کمپاين ته په احتياط سره وده ورکړ شي.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو سره د ملګرتيا پياوړي کول

د ۲۰۱۲کال د اکتوبر په ۱۰، د دفاع وزير ليون پنيټا د ناټو هيوادونو د دفاع وزيرانو په يوه ناسته کې خبرې وکړې او دوی يې وهڅول، ترڅو د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وړتياو د ودې لپاره د امنيتي مرستندويه ځواکونو د يوې نوې ډلې له موډل څخه ملاتړ وکړي. ناټو/ايساف د افغان ملي پوليس او ملي پوځ سره نوي روزونکي او مشاورين ګوماري ترڅو "د امنيتي مسووليت د مشرۍ په غاړه اخيستلو کې له دوی سره مرسته وکړي". د دفاع وزير پنيټا همدارنګه وويل چې ناټو ښايي هغه وخت زيات کړي کوم چې روزونکي يې له افغان ملي پوځ او ملي پوليسو سره تيروي ترڅو "د ايساف د غړو او د افغان روزونکي بنيادونو ترمينځ اوږدمهالې اړيکې ټينګې شي."[2]

د ناټو د ويناپه اساس، دمګړۍ د روزونکو او مشاورينو ۴۶۵ ډلې د افغان پوځ او پوليسو له واحدونو سره په کار بوخت دي؛ پنيټا د ناټو له ملګرو وغوښتل، ترڅو ۵۰ نورو ډلو لپاره پرسونل چمتو کړي.[3]

## داخلي بريدونو ته ځواب ورکول

د رپوټ ورکولو پدې دوره کې، "داخلي" يا "شين په نيلي" حملې د افغان ملي امنيتي ځواکونو لخوا د متحدو ايالاتو او نورو ايتلافي ځواکونو باندې زياتې شويدي، چې د افغان پوځيانو او پوليسو د روزنې او مشورې ورکولو په اړه يې انديښنې زياتې کړي دي. د ۲۰۱۲کال له پيل څخه تراوسه پورې، ۳۷ داخلي حملې د ايتلافي ځواکونو د ۵۱ پرسونلو د مينځه تلو لامل شوي، چې پدې کې ۳۲ امريکايان وو. نورې وژونکې حملې په خپله د افغان ملي پوليسو او ملي پوځ ترمينځ رامنځته شوي چې په ځينو کې يې قومي دښمنيو ونډه درلوده.

په رسنيو کې د دې بريدونو په اړه کافي تبليغات وشو او خلکو پرې ډېرې خبرې وکړې، آن تردې چې افغان حکومت ته د امنيتي مسووليت د سپارلو د راتلونکي پړاو په اړه انديښنې پيدا شوې. د ناټو/ايساف قومانده په پيل کې د دې داخلي بريدونو پروړاندې د مقابلې لپاره د ايتلاف له پرسونل څخه غوښتنه وکړه چې له ځان سره په ټولو حالاتو کې وسلې وګرځوي او په موقتي ډول يې د امريکايي ځانګړې ځواک قومانده افغان محلي پوليسو ته د روزنې له ورکولو څخه ګوښه کړې ده. افغان حکومت هم په خپل وارسره تحقيقات پيل کړي او پخواني پوځيان بيرته د پوځ صفوفو ته جذبوي. جنرال ظاهر عظيمي، د دفاع وزارت وياند، وايي چې نوي معيارونه د دې لامل شويدي چې سلهاوو کسان د افغان ملي پوځ څخه بندي ياهم له دندې څخه وويستل شي.[4]

د ۲۰۱۲کال تر اکتوبر پورې، ناټو/ايساف د داخلي بريدونو د ګواښ له مينځه وړلو لپاره يو پلان جوړ کړی دی. په دې پلان کې لاندې ټکي شاملې دي:[5]

- روزنې ته پراختيا ورکول چې په کلتوري پوهاوي، د استخبارات ضد تخنيکونو، پاملرنه، او د جاري معلوماتو شريکولو باندې ډير تاکيد کوي.
- د "محافظتي زاويې" پروګرام پلي کول، چې په ترځ کې يې د اييتلافي ځواکونو يو سرتيری کله چې د افغان ملي پوځ سره کارکوي اړينه ده چې په وسلو سمبال او چمتو وي.
- د پخوانيو پوځيانو ګومارنه او د استخبارات ضد عملياتونو ته پراختيا ورکول
- د بريدونو دځانګړتياوو د تجزيې لپاره پرله پسې هڅه کول

## د ليږد بهير له پرمختګ سره سم دقيق پلان جوړونې ته اړتيا ليدل کيږي

د دفاع وزير پنيټا ويلي دي چې د ايتلافي ځواکونو په وړاندې مهمه ننګونه دا ده چې د ليږد لپاره يو داسې واضح پلان چمتو کړي چې افغان ملي امنيتي ځواکونه د افغانستان د امنيت د ساتلو جوګه شي. هغه پدې اړه وويل چې له ۲۰۱۴څخه وروسته به ايساف ځواکونه څومره او په کوم جوړښت په افغانستان کې پاتې کيږي تراوسه نده ټاکل شوې، خو په ۲۰۱۳کې به ايتلافي ځواکونه په لږو مرکزونو کې فعال وي، همدارنګه د امنيتي ځواکونو لخوا د افغانستان د امنيتي پړې په غاړه اخيستلو سره سم د متحده ايالاتو د تجهيزاتو خالصه کچه کميږي او نړيوال ځواکونه په تدريج سره "شاخواته خپل ګامونه" اخلي.[6]

لکه څنګه چې د دې رپوټ به امنيتي برخه کې څيړل شوې ده، د ليږد بهير په پلان کې په تدريجي ډول د ولايتونو د بيارغونې ټيمونو او د ولسواليو د ملاتړ د ټيمونو بيرته را ايستل هم شامل دي چې دا ډلې دمګړۍ د ولايتونو او ولسواليو په کچه د بيارغونې له هڅو څخه ملاتړکوي. پنځه ويشت هيوادونه د PRT او DST د عملياتونو لپاره په مستقيم او غيرمستقيم ډول مرسته چمتو کوي چې پدې هيوادونو کې امريکا، انګلستان، جرمني، پولنډ، ايټاليا، او جاپان شامل دي. د ليږد بهير پای ته رسيدو سره سم، د ولايتي بيارغونې ټولې ډلې خپل کارونه افغان حکومت، پراختيايي ادارو او غير دولتي موسسو، او ياهم خصوصي سکټور ته ورسپاري.[7] همدا اوسمهال ناټو/ايساف په بې خطرو ولايتونو کې د PRT او DST تړل پيل کړي دي.

د ايتلاف د شتون له مينځه وړل د بيارغونې هڅې له دوو ننګونو سره مخ کوي. د PRTs څخه پرته به د متحده ايالاتو ادارو ته ګرانه پريوځي ترڅو د ولايتونو او محلي سيمو په کچه خپلې پروژې پلي او ترې څارنه وکړي. د ناټو/ايساف سرتيرو د PRTs او نور رسمي چارواکو ته امنيت چمتو کړی کله چې دوی له کابل څخه بهر ته سفر کوي. د ځواکونو له کمولو سره سيګار او داسې نورو پلټونکو ادارو ته به ګرانه وي ترڅو له پروژو څخه کتنه او ارزونه ترسره کړي.

لکه څنګه چې یې په عراق کې وکړل، د متحده ایالاتو ملکي او پوځي پلان جوړوونکې ډلې په سلهاوو پوځي عملیاتونه او دندې او د بیارغونې پروژې تربیا کتنې لاندې نیسي ترڅو دا معلومه کړي چې کوم یو بنایي افغان حکومت ته وسپارل شي او کوم یو د متحده ایالاتو سفارت ته ولیږدول شي یا هم بند کړای شي. سیګار به د بیارغونې پروژو د سپارلو له بهیرڅخه په کلکه څارنه وکړي. دا اداره همدا اوس یوه پلټنه پرمخ بیایي او پکې دا ارزول کیږي چې آیا افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د مرکزونو د رغونې اړتیاوې او د لیږد کړنلارې د منلو وړ ترون کړنلارو سره سم ترسره کیږي، او آیا دا چې تاسیسات داسې جوړیږي چې په راتلونکي کې یې د ساتلو لګښت کم وي که څنګه.

## د پاکستان له لارې د تدارکاتو لړۍ بیرته پیل شوه

افغانستان ته د ناټو د اکمالاتو لړۍ چې د پاکستان لخوا د۲۰۱۱کال په نومبر کې بنده شوې وه د ۲۰۱۲کال په جولای کې بیرته وروسته له هغه پرانستل شوه چې متحده ایالاتو د خپل هوایي بریدونو په اړه بښنه وغوښتله، چې په ترڅ کې یې ۲۴ پاکستاني سرتیري وژل شوي وو. د قطار ټرافیک بیرته پرانیستلو د هوا له لیارې یا هم د افغانستان د شمالي ګاونډیو لکه قازقستان، قرغزستان، او ازبکستان له لارې د اکمالاتو لګښت او خطرونو کې د پام وړ کمښت راوستې دی. دې هیوادونو د هرې نقلیې وسیلې په سر۱۲۵۰ډالر اخیستل چې دا مخکې له ځنډیدو څخه د پاکستان د فیس پنځه چنده کیده.[8]

په داسې حال کې چې د افغانستان او پاکستان د پولې پرانستل یو ښه پرمختګ دی، شورشیان په نا امنو سیمو کې د پاکستان څخه د اسبابو د خوندي انتقال په بدل کې د پیسو غوښتنه کوي. د طالبانو یوه قوماندان رسنیو ته ویلي دي چې د اکمالاتي لارو د بیرته پرانستل کیدو سره سم شورشیانو ته دا موقع برابره شوه چې د بار وړونکو شرکتونو څخه د لیږد ساتنې تادیې په واسطه د پیسو اخیستلو له لارې "بنډل بنډل پیسې راغونډې کړي". کانګرس د پخوا څخه دا اندیښنه رابرسیره کړې وه چې شورشیان د قطار له ساتلو څخه پیسې راغونډوي. د ۲۰۱۲مالي کال د ملي دفاع د صلاحیت په قانون کې کانګرس د دښمن سره هرډول ترون منع کوي. پدې ربع کې، سیګار یوه پلټنه پیل کړې ده ترڅو دا معلومه کړي چې آیا د متحده ایالاتو مرکزي قومانده او ترون کوونکو یې د ترون کولو له تاسیس شوو پالیسیو او کړنلارو سره چلند کوي که څنګه. دا پلټنه همدارنګه دا هم ارزوي چې آیا د بهرنیو چارو وزارت او USAID ترکومه بریده داسې پالیسۍ او کړنلارې لري چې هغو کسانو یا ادارو ته بودیجه په لاس ورنشي چې د شورشیانو سره مرسته کوي یا هم د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو سره ښکاره دښمني لري.

## د سولې خبرې له ځنډ سره مخ شوي دي

افغان حکومت په دې اند دی چې شورشیانو ته یواځې د جګړې له لارې ماتې نشي ورکولی ځکه نو یې د طالبانو سره د سولې خبرو ته خپل ملي لومړیتوبونو په سرکې ځای ورکړې دی. د سپتمبر په ۲۵ د ملګرو ملتونو له عمومي منشي سره په خپلو خبرو کې ولسمشر حامدکرزي د امنیت له شورا څخه غوښتنه وکړه چې د طالبانو زیات غړي له تور لیست څخه وباسي ترڅو مستقیمو خبرو ته لاره هواره شي. ښاغلي کرزي په خپلو غوښتنو ټینګار وکړ ترڅو نه یوازې طالبانو ته بلکه د دولت مخالف ټولو هغو وسله والو ډلو ته دسولې لاس ورکړي چې غواړي په خپل هیواد کې "با عزته، د سولې تر سیورې لاندې او خپلواکه ژوند

وکړي" ترڅو پورې چې دا جنګیالۍ ډلې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کیږدي، د ترهګرو ډلو سره خپلې اړیکې وشلوي، د تیرې لسیزې لاسته راوړنې خوندي وساتي او د افغانستان اساسي قانون ته درناوی وکړي.[9]

د تورلیست څخه د طالبانو د اضافي غړو ویستل د ولسمشرکرزي لخوا په داسې وخت کې وړاندیز کیږي چې د سولې خبرې اترې له ځنډ سره مخ شویدي. د متحده ایالاتو، افغان حکومت او طالبانو ترمینځ د قطرخبرې اترې د۲۰۱۲کال په مارچ کې وروسته له هغه څخه په ټپه ودریدلې چې امریکا هغه وړاندیز و نه منه چې د خپل یو امریکایي بریدمل په بدل کې چې د طالبانو سره بندي ؤ، د کیوبا په ګوانتنامو په جزیره کې له خپل سمندري مرکز څخه د طالبانو پنځه تنه بندیان خوشې کړي. د متحده ایالاتو حکومت د مذاکراتو د هڅو په اړه کوم رسمي خبر ندی خپورکړی، خو د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند د اکتوبر په دریمه ویلي دي چې "طالبانو د څه مودې لپاره خبرو اترو سره دلچسپي نه ښودله."[10]

## کرزي د اداري فساد په ضد فرمان ورکړ

د افغانانو په عامه ژوند کې خپریدونکی اداري فساد د هیواد اصلاح، پرمختګ، ثبات، او ودې په وړاندې ستر خنډ ګڼل کیږي. د ۲۰۱۲کال په جولای کې د۷۰ بسپنه ورکوونکو هیوادونو کنفرانس په ټوکیو کې په څرګند ډول وویل چې په افغانستان کې د دوی مرستې په مستقیم ډول د اداري فساد له کنټرول سره اړیکه لري. همدارنګه دوی وایې "حکومتولي د پرمختیا له کړنو سره مستقیمه اړیکه لري"، د دوه اړخیزه حساب ورکولو چوکاټ چې په کنفرانس کې منل شوی دی د افغان حکومت څخه غواړي ترڅو حکومتولۍ، د قانون حاکمیت، او بشري حقونو ته وده ورکړي. دا چوکاټ افغان حکومت دې ته هڅوي ترڅو "د اداري فساد په ضد د مبارزې لپاره قانوني چوکاټ پلي او پیاوړی کړي." په داسې یو چوکاټ کې ښایي دا کړنې شاملې وي "د قضایي، اجرایي او قانون جوړونې پخوانیو چاراواکو د کلنۍ شتمنیو اعلانول"، او "د مخدره موادو ضد هڅې پیاوړې کول."[11] د دې چوکاټ سره ژمنه دا غوښتنه کوي چې افغان حکومت او نړیوال بسپنه ورکوونکي دواړه په افغانستان کې له کړنو څخه څارنه وکړي.

د روان کال د جولای په پای کې ولسمشر کرزي د یوه ولسمشري فرمان په ترڅ کې اعلان وکړ چې حکومتولي کې سمون راولي او د اداري فساد کچه به کمه کړي. دا ۲۳مخیزه فرمان، چې پارلماني بیاکتنې ته وړاندې شوی دی، د نورو مواردو له جملې څخه لاندې ټکو ته بلنه ورکوي:

- حکومتي چارواکي دې په حکومتي پوستونو کې د خپلو ملګرو یا خپلوانو له ګومارلو او یا هم پرګومارونکي چاراواکو باندې د اغیزې له راوستو څخه ډډه وکړي،
- افغان ستره محکمه دې د اداري فساد پورې اړوندې ټولې دوسیې پای ته ورسوي،
- ټولې غیر فعالې محکمې دې تر۹ میاشتو پورې په بشپړ ډول په کار پیل کړي، او
- پوځ او پولیس مکلف دي ترڅو د خپلو چاراواکو د استخدام او پرمختګ په اړه ولسمشري دفتر ته رپوټ ورکړي.

د بهرنیو چارو د وزارت چارواکو سیګار ته ویلي دي چې د فرمان اړیکه د ټوکیو له چوکاټ سره دا ښیي چې حکومت په جدي توګه د اصلاح او سمون پر اجندا تمرکز کوي. د دې خبرې په منلو سره چې بیارغونې هڅې تر هغه پورې نه بریالي کیږي چې افغان حکومت د اداري فساد په ضد جدي ګامونه پورته کړي، سیګار به د ولسمشرکرزي د دې فرمان پلي کول له نږدې څخه وڅاري.

متحده ایالاتو او نورو نړیوالو بسپنه ورکونکو ژمنې سپارلي دي چې خپل ۵۰٪ راتلونکې مرستې به ددولت د بودیجې له لارې چمتو کوي، خو د دې مرستې برابرول په مستقیم ډول دې پورې تړلې ده چې افغان حکومت ترکومه حده بسپنه ورکوونکو ته د بسپنو بشپړ حساب ورکولی شي. د اداري فساد مخه نیولو څخه پاتې راتلل به بهرنۍ مرستې په داسې حال کې له ګواښ سره مخ کړي چې افغانستان ورته اړتیالري.

سیګار پدې ربع کې دوه پلټنې پیل کړي دي ترڅو اداري فساد پورې اړوند دوه موضوع و ارزوي: د کابل نړیوال هوایي میدان له لارې د پیسو جریان، او هغه مستقیمې مرستې چې متحده ایالات یې د عامې روغتیا وزارت ته ورکوي.

## د متحده ایالاتو-افغان دوه اړخیزه کمیسیون په کار پیل وکړ

د متحده ایالاتو-افغان دوه اړخیزه کمیسیون خپله لومړۍ ناسته د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۳ مه په واشنګټن کې ترسره کړه. دا کمیسیون وروسته له هغه رامینځته شو چې ولسمشر بارک اوباما او حامد کرزي د ۲۰۱۲ کال په مۍ کې د ستراتیژیکې ملګرتیا تړون لاسلیک کړ. دې هوکړه لیک د متحده ایالاتو د سرتیرو له وتلو څخه وروسته متحده ایالاتو او افغانستان ترمینځ د اړیکو لپاره یو بنسټ جوړکړ، خو په څرګند ډول له ۲۰۱۴څخه وروسته په افغانستان کې د امریکا پوځي شتون نه روښانه کوي.

د بهرنیو چارو وزیرې هیلري روډام کلنټن کمیسیون ته ویلي دي چې د دې کارونه به داسې ځانګړې ګامونه رامینځته کوي چې په پورته کولو یې د هوکړه لیک موخې ترلاسه کیږي.[12] دا موخې پدې ډول دي: د افغان امنیتي ځواکونو پایښت، د اقتصادي پراختیا پروژو ته بسپنه ورکول، ښه حکومتولۍ ته وده ورکول، د منطقوي امنیت او همغږۍ څخه ملاتړکول، او د افغانستان سره مرسته کول ترڅو د بودیجې پر نیمګړتیاوو برلاسی شي. همدارنګه د دې خبرو اترو څخه داسې طمع کیږي چې وروسته له هغه چې په ۲۰۱۴ کال کې د امریکا پوځي شتون پای ته رسیږي، د امنیتي اهتماماتو په اړوند یو نوی دوه اړخیزه هوکړه لیک رامینځته کړي. دا به د ځواکونو په اړه د شته هوکړه لیک ځای ونیسي.

کومې ډلې چې د کمیسیون په ناستو کې ګډون کوي مشري به یې د سفیر جیمزوارلیک، د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالاتو د ځانګړي استازی مرستیال، سفیر اکلیل احمد حکیمي ، او په متحده ایالاتو کې د افغانستان ځانګړي استازی کوي.

## د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان اقتصادي لرې لید تازه کړ


د ۲۰۱۲ کال په اکتوبرکې د اسیا پراختیایي بانک په خپل یو تازه رپوټ کې هغه اقتصادي ننګونې چې د افغانستا په وړاندې دي په نښه کړې. ADB وایي چې په روان مالي کال کې چې د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې پای ته رسیږي د افغانستان اقتصادي وده ۵.۷٪ ته راټیټه شوې ده. دا بانک د اقتصادي ودې کموالی د وچکالۍ له امله بولي چې د صادراتو کچه یې کمه کړې ده. که څه هم ADB په روان مالي کال او ۲۰۱۳ مالي کال کې زیاته وده ښیي، داسې وړاندوینه یې کړیده چې په راتلونکي کلونو کې به اقتصادي وده د لږو صادراتو او دبهرنیو پوځي ځواکونو د وتلو له امله ټیټه وي. په یوه بیله یادونه کې د ADB رییس هاروایکو کورودا داسې وایي چې "افغانستان د ستراتیژیک موقعیت په درلودلو سره که چیرته ثبات ومومي کولی شي په بالقوه ډول د میلیاردو ډالرو په ارزښت سوداګرې ځانته راجلبه کړي." په هرصورت، د یاد بانک رییس زیاتوي چې بهرنۍ مرستې به "له افغانستان سره مرسته

وکړي ترڅو پایداره اقتصادي زیربنا جوړکړي، او دکمزورې حکومتولۍ په وړاندې مبارزه وکړي، د جنسیت پربنا خپریدونکی نابرابروالی له مینځه یوسي، بیکارۍ او اندیمیک غربت کم کړي."[13] د ADB رپوټ پدې اړه نړیوالې اندیښنې رابرسیره کوي چې افغانستان په نږدې راتلونکې کې په هغه کچه اقتصادي وده ونکړي چې د پایداره بیارغنیزو هڅو لپاره ورته اړتیالري.

## متحده ایالات او ناټو په افغانستان کې خپل نوي چارواکي اعلانوي

سابقه لرونکی دیپلومات جیمز ب. کوننینګم وروسته له هغه چې د ولسمشر اوباما لخوا په افغانستان کې متحده ایالاتو د سفیر په توګه ونومول شو او د سنا لخوا ومنل شو د۲۰۱۲کال د اګست په ۱۲ یې لوړه وکړه. دی پداسې حال کې چې پخوا په کابل کې د سفیر مرستیال ؤ، د رایان کراکر څخه وروسته د سفیر په توګه ونومول شو. کوننینګم پخواله دې په اسراییل، هانک کانګ، ایټالیا، ملګرو ملتونو او ناټو کې کار کړی دی.[14] نوی سفیر د اګست په اخرو ورځو کې د ځانګړي عمومي پلټونکی جان ایف سوپکو او د سیګار له کارکوونکو سره دکابل په سفارت کې ولیدل او په افغانستان کې د مسایلو او ننګونو په اړه یې خبرې اترې وکړې.

په سفارت کې د یوې ناستې په ترڅ کې چې د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر۱۱ ترهګرۍ برید په یاد جوړه شوې وه، کونینګم وویل، "مونږ د القاعدې په ماتولو، او افغان ځواکونو ته د امنیتي مسولیت په لیږد کې کافي پرمختګ کړی، او هم ترهګرو ته مو دا موقع نده ورکړې ترڅو یو داسې مرکز ومومي چې له هغه ځای نه متحده ایالات ترګواښ لاندې ونیسي... مونږ له افغانستان سره د یوې ملګرتیا په جوړلو بوخت یو چې په مرسته به یې تر اوږدمهال پورې یوبل وګالو."[15]



**جیمز کونینګم**، چپ طرف، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سفیر په توګه د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۲ لوړه کوي. دی پخوا د سفیر مرستیال پاتې شوی، او د سفیر رایان کراکر څخه وروسته د سفیر په توګه معرفي شو. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

همدارنگه په اگست کې، د ناټو عمومي منشي اندرس راسموسن د جرمني ديپلومات سفير موريتس ر.ژوچيمز په افغانستان کې د ناټو سابقه لرونکي ملکي استازي په توگه وگوماره. دی د انگليس سفير سايمون گاس څخه وروسته ټاکل شوی دی. ناټو په خپلې يوه اعلاميه کې ويلي دي چې د ژوچيم په دندو کې به له افغانستان سره د ليږد په بهيرکې مرسته کول او هم د ۲۰۱۴ څخه وروسته د يوې ملگرتيا مينځته راوړل شامل وي چې په مرسته يې خپله موخه "يو خپلواک، خوندي، او ديموکرات افغانستان لاسته راوړي."[16]

د اکتوبر په ۱۰ ولسمشر اوباما د متحده ايالاتو دسمندري ځواک جنرال جوزف ف. دانفورډ په افغانستان کې د ايساف د نوي قوماندان په توگه ونومو. ياد جنرال دمگړی دسمندري ځواکونو د مرستيال قوماندان په توگه کار کوي.[17] دی به د ناټو/ايساف اوسني قوماندان د سمندري ځواکونو جنرال جان آلن په ځای راشي. جنرال آلن د ولسمشر لخوا د اروپا د متحدينو اعلی قوماندان، او د اروپا لپاره د متحده ايالاتو د قوماندان په توگه گومارل شوی دی چې د ۲۰۱۳ کال د پسرلي څخه وروسته په کار پيل کوي. ولسمشر وويل، "د جنرال آلن تر قوماندې لاندې مونږ د القاعدې په ماتولو کې ډير پرمختگ کړی او دا چې دوی به هيڅکله هم ځواکمن افغانستان ته د گرځيدو توان ونلري." ده ويل که چيرته سنا تصويب کړي جنرال دانفورډ به د ليږد بهير په اساسي پړاو کې د متحده ايالاتو د ځواکونو مشري وکړي ترڅو په افغانستان کې جگړه پای ته ورسيږي "او افغانستان د خپل امنيت بشپړ مسوليت په غاړه واخلي." ولسمشر همدارنگه گواښ ورکړ چې "په افغانستان کې ډير گران کار تر اوسه لا زمونږ په مخ کې پاته دی."

”د بیارغونې ډالرونه زمونږ د ملي امنیت لپاره یوه ښه پانګونه ده او مونږ ته به اجازه راکړي چې په افغانستان کې خپله بوختیا مسولانه پای ته ورسوو. مګر دا په ډیرې چټکۍ سره خرڅیږي او د عامه خلکو د څارنې څخه لرې دي، ځکه نو مونږ باید د دې د عاقلانه لګښت لپاره ځانګړې پاملرنه وکړو.“

— *U.S*. سناتور جین شاهین *(D-NH)*

سرچینه: د متحده ایالتونو سناتور جین شاهین (D-NH) دفتر، خپور شوی خبر، د ۲۰۱۲ کال د اګست ۲.

# ۲
# د سیګار څارنه **فعالیتونه**



# منځپانګه


سیګار د تیلو اخیستلو د نه حساب ورکوونې په اړه شهادت ورکوي 18

د سیګار کار د قوانینو وړاندیز هڅوي 21

ساپکو په افغانستان کی د لوړ پوړو چارواکو او کارکونکو سره وکتل 22

سیګار د غورو کارونه له کبله دوه انعامونه وګټل 22

ځانګړې نوښتونه 23

د خبرتیا مکتوبونه 25

تفصیلي تفتیشونه 26

تفتیشونه 37

پلټنې 42

سیګار بودجه 52

د سیګار کار کوونکي 53


**په مخکنی پاڼه کې انځور**
د سیګار د څارنې ټیم په کابل کې د ملي پولیسو د سامانونو د ساتنې او مراقبت د تاسیساتو څخه لیدنه وکړه. (د سیګار انځور)

# د سیګار د خار فعالیتونه

پدې ربع کې، سیګار ۱۱ لیکل شوې پایلې خپرې کړې دي، چې دوه د پلټنو راپورونه، درې تفتیشونه، دوه راپورونه د کانګرس لپاره، درې د خبرتیا مکتوبونه او یو د پلټنې راپور پکې شامل و. سیګار بسپنې هم بیرته لاسته راوړې، د ټرون پیسې یې وسپمولې او د هغو عدلي ګامونو ملاتړ یې وکړ چې پایله یې په غیر قانوني فعالیتونو کې د ښکیلو کسانو په بند کې اچول وو. سیګار د اوو نوو پلټنو او دریو نوو تفتیشونو خبر ورکړ او د صلاحیت غوښتنه یې وکړه چې مفسد قراردادیان تعلیق او بند کړي. او د چټک غبرګون ټیم د جوړلولو پلانونه او د مالي پلټنو نوی پروګرام یې پیل کړ. او دا چې په ۲۰۱۴ کې د متحده ایالتونو جنګي شتون ته یوواځې دوه کلونه پاتې دي، دا ټول نوښتونه د سیګار د عزم ښکارندوی و چې د ایجنسي سرچینې یې اغیزمنې کړې او په افغانستان کې چټک، ځیرک، او ډیر فعال نظارت منځ ته راوړې.

پدی ربع کې د سیګار فعالیتونه دا دي:

- د کانګرس د دوو اوریدنو مخ ته د ځانګړي عمومي مفتش شواهد، د تفتیش د یوه راپور په اړه د دفاع وزارت د معذوریت څرګندونه کوي چې د افغانستان د ملي اردو (ANA) لپاره د ۱،۱ میلیارده ډالرو د تیلو شتمني حساب ورکړی، او یو وړاندیز چې په راتلونکې کې د ملي اردو د تیلو بودجه۱،۲ میلیارده ډالره کمه شي.
- د پلټنې یو راپور چې د عملیاتو او ساتنې او مراقبت د تاسیساتو د قراردادونو د غیر منظمې خارنې پیژندنه یې کړې وه، او له ټرون وروسته د افغانستان د حکومت د وړتیا پوښتنه یې کړې، چې له ټرون څخه وروسته تاسیسات وساتي.
- د تفتیش درې راپورنه په شمول د یوه راپور چې دا یې څرګنده کړه چې د امریکا اردو یو قراردادي د ټولو مکلفیتونو څخه آزاد کړی و، سره له دې چې کارونه یې د منلو وړ نه ول او هغه ګارنیزیون یې چې جوړ کړی و ساختماني ستونزې درلودې
- د بند یو حکم، د ستر جوري صورت دعوه، د فیدرال د څلورو تورونو اسناد او څلور نیول
- ۲۱۵ ښکاره تحقیقات، په ګډون د ۲۴ غللاو او دا چې تیل بل ځای ته وړل کیدل
- ۴۶ نهایي بندیزونه او د ۴۱ مفسدو قرارادیانو تعلیق
- د ۶۰ قرأردادیانو لپاره د تعلیق او بندیز وړاندیزونه

## بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه ۲۱-۴۱: د ANA پطرولي مواد، تیل او روغنیات
- پلټنه ۳۱-۱: د ANA د تاسیساتو عملیات او ساتنه

## بشپړ شوي تفتیشونه

- تفتیش ۳۱-۱: د ملي اردو د کندز ګارنیزیون
- تفتیش ۳۱-۲: د ملي اردو د ګمبیري ګارنیزیون
- تفتیش ۳۱-۳: د وردګ د ملي پولیسو د روزنې مرکز

## کانګرس تر مخه شهادت

- شهادت ۲۱-T۵۱: د ANA لپاره د ۱،۱ میلیونو ډالرو تیلو څخه د DoD خارنه
- شهادت ۲۱-T۶۱: د DoD وړتیا چې ملي اردو ته د تیلو اداره وسپاري

## د خبرتیا مکتوبونه

- د مالي اسنادو له منځه وړل
- د افغانستان په لویو لارو کې د پلچکونو تر لاندې د ځالیو نه شتون
- د سرک د قراردادي د تقلب تحقیق

## تحقیقي راپور

- دبنمن سره قرارداد کول

## سیګار د تیلو د اختیستلو د نه حساب ورکولو په اړه شهادت ورکوي

پدې ربع کې، ځانګړي عمومي مفتش جان اف ساپکو د سیګار د روانو پلټنو د پایلو څخه، چې د امریکا د دفاع وزارت (DoD) و نه شو کړای د ۱،۱ ملیارد ډالرو دقیق حساب ورکړي کانګرس ته دوه ځلې شهادت ورکړی. دا موندنې په ځانګړي توګه ستونزمنې دي، او پداسې حال کې راځي چې امریکا او ناټو (NATO) پلان لري چې د ملي اردو لپاره د تیلو لګښت ډیر کړي او د تیلو مسولیت افغان حکومت ته وسپاري. دواړه شهادتونه د ملي امنیت، کورنۍ دفاع، او بهرني عملیاتو لپاره د څارنې لپاره د خونې د کمیټې او د حکومت د اصلاح د فرعي کمیټې تر مخه وو. د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۱۳ ساپکو یوواځنی شاهد و، او د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۳۰ دویمه اوریدنه کې د دفاع د وزارت او د متحده ایالتونو د پراختیا د ادارې (USAID) شاهدان هم شامل وو.



**ځانګړی عمومي مفتش** جان اف ساپکو، کیڼ لورې ته، له نورو شاهدینو سره یو ځای د ۲۰۱۲ سپټمبر په ۲۰ کانګرس ته شهادت ورکوي. (د سیګار انځور)

د سپتمبر د ۱۳ د اوریدنې څخه وروسته، ساپکو وویل چې د افغانستان د امنیت د انتقالي ګډې قوماندانې(CSTC-A)، چې د ملي اردو (ANA)د تجیهز او تربیې مسولیت لري، د پنځو کلونو په ترڅ کې د ANAلپاره نیږدې ۱،۱ میلیارده ډالرو پټرولي مواد، تیل او روغنیات (POL) تیار کړي. هغه وویل، "د افغان ملي اردو لپاره تیل یو با ارزښته مواد دي چې په آسانه غلا کیدای شي، او د افغان ملي اردو سره مرسته کوو چې خپله لوژستیکي وړتیا ته په مناسبه او دوامداره توګه وده ورکړي، او د POL حساب ورکړي، او دا افغان ملي اردو ته د امنیتي مسولیتونو د انتقال یوه مهمه برخه ده."

ساپکو وویل د سیګار پلټنه چې د ۲۰۱۲ کال په فبروري کې پیل شو، څرګنده کړه چې CSTC-A د ملي اردو لپاره د اخیستل شوي، رواړل شوي، او مصرف شوي تیلو بشپړ اسناد نلرل، او د تیلو د اړتیاو د اندازې لپاره یې یوه مناسبه طریقه نلرله، تر څو د هغې پر اساس د بسپنې غوښتنه وکړي. پدغه وخت کې، CSTC-A ونشو کړای چې سیګار د نیږدې ۴۷۵ میلیونو ډالرو د تادیاتو اسناد ورکړي، او د CSTC-A د چارواکو په وینا، دا اسناد له منځه وړل شوي وو.

د سیګار مفتیشونو موندل چې د CSTC-A په اوسنۍ طریقه که د ملي اردو د تیلو د اړتیاو د اندازه کولو لپاره لمړني معلومات لکه شمیره او د افغان ملي اردو د تیلو د ځایونو د ساتلو ظرفیت، تر کار لاندې وسایطو او جنراتورونو شمیرل، او د افغان ملي اردو په هره ساحه کې د تیلو مصرف شامل نه و. د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې، CSTC-A د یوې میاشتې د مارچ ۲۰۱۲د پخوانیو معلوماتو د ګټې اخنیستې څخه، د تیلو د کلنۍ بسپنې لپاره خپله طریقه بدله کړه، تر څو د ۲۰۱۴ - ۲۰۱۸ مالي کلونو لپاره د افغان ملي اردو د تیلو د اړتیا اندازې اټکل وکړي. ساپکو وویل د سیګار اعتماد د CSTC-A په وړتیا چې د افغان ملي اردو د راتلونکو تیلو اړتیاو اټکل وکړي نور هم کم شو، کله چې د CSTC-A پلان کوونکو هغو ټریلرونو او نورو تجهیزاتو لپاره تیل ورکړي وو چې ماشینونه یې نلرل.

سیګار پدې پوه شو چې هیڅ یوه دفتر په امریکا او یا د افغانستان په حکومت کې د افغان ملي اردو د تیلو د فرمایشاتو، اخیستلو، رسیدلو او مصرف شویو بشپړ اسناد نلرل. CSTC-A د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر میاشتې وړاندې د تیلو د اخیستلو او تادیاتو بشپړ اسناد نلرل، او ویې نشو کړای چې د سیګار د پلټنې لپاره د ۲۰۱۱ کال له مارچ څخه د ۲۰۱۲ کال

تر مارچ پورې تر نيم زياد اسناد برابر کړي. CSTC-A د تيلو پلورونکو ته پيسې ورکړي، بې له دې چې د رسيدلو تيلو د کميت او کيفيت خپلواک تصديق وشي. د رسيدلو تيلو د کچې او د افغان ملي اردو له خوا د ورکړل شوي، ساتل شوي او مصرف شوي تيلو اندازه يې نه وه معلومه او همغږې کړې. (په راتلونکې پاڼه کې 2.1 شکل وګورئ) "په پايله کې،" ساپکو وويل، "CSTC-A نشي کولای چې توپيرونه ښکاره کړي او د احتمالي غلاوو پيژندنه وکړي."

ساپکو وويل هغه ستونزې چې سيګار پيدا کړي بايد هرڅه ژر حل شي. CSTC-A پلان جوړ کړی و، تر څو د تيلو او نورو پټرولي موادو د تدارکاتو، موندلو، رسولو او حسابولو مسوليتونه د ۲۰۱۳ کال په جنوري کې افغان حکومت، د اوريدنې د تاريخ د پيل څخه تر څلورو مياشتو کمه موده کې وسپاري. CSTC-A غوښتل چې د افغان د ملي امنيتي ځواکونو له بسپنې (ASFF) څخه په مستقيمه توګه افغان حکومت ته سهم ادا کول پيل کړي، او په ۲۰۱۳ مالي کال کې د افغان ملي اردو تيلو لپاره ۳۴۳ ميليونه ډالر ورکړي. پردې برسيره، CSTC-A وړانديز کړی و چې د افغان ملي اردو د تيلو کلنۍ بسپنه د ۲۰۱۴ – ۲۰۱۸ مالي کلونو لپاره ۵۵۵ ميليونه ډالر ته زيات کړي، چې ټولټال ۲،۸ ميلياردو ډالرو ته رسيږي. ساپکو وليدل چې که د بسپنې ورکولو کچه د دقيق اټکل د اړتياو پر بنسټ نه وي، او که افغان ملي اردو د حساب ورکولو اغيزمن کنټرول ونلري، د تيلو د غلا او ضايع کولو خطر به ډير شي.

ساپکو کميټې ته وويل چې سيګار په ۲۰۱۲ کال کې CSTC-A چارواکو ته د خپلو انديښنو په اړه رسماً خبر ورکړی و. CSTC-A ځينې ګامونه واخيستل چې د ايجنسي د پايلو ځواب ورکړي، مګر پوره نه و، څو د افغان ملي اردو د تيلو د اړتياو لپاره دقيق کار وشي او اغيزمن کنټرول د مناسب حساب ورکولو د دوام لپاره تاسيس شي. په پايله کې سيګار دفاع وزير او نورو چارواکو ته راپور وړاندې کړ او دوی يې له انديښنو څخه خبر کړل. سيګار يو مکتوب هم خپور کړ تر څو چارواکي خبر شي چې CSTC-A د تيلو اسناد له منځه وړي دي. پردې برسيره سيګار خپل د تحقيق رياست ته هدايت ورکړ چې دا موضوع په ځيرتيا سره وګوري.


د سيګار راپور دوه وړانديزونه وړاندې کړل. لمړی دا و چې په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت (NTM-A) او CSTC-A دې د ۲۰۱۳ مالي کال او د پلان شوي ۲۰۱۴ – ۲۰۱۸ کلونو د ملی اردو د تيلو بودجه، د ۲۰۱۲ مالي کال بودجې ته چې ۳۰۶ ميليونه ډالره ده راټيټه کړي او دا اندازه دې وساتي ترڅو CSTC-A او افغان ملي اردو د اړتياو لپاره يوه سيستماتيکه پروسه جوړه کړي. دويم دا و چې قومانداني دې يو هر اړخيز عملي پلان جوړ، تاييد او تطبيق کړي، او د کور دننه پر کنټرول دې پاملرنه وکړي ترڅو د اخيستل شويو او راوړل شويو تيلو کچه معلومه شي.

CSTC-A د سيګار له وړانديز شوي عملي پلان سره موافقه وکړه، مګر د راتلونکو تيلو د بودجې د کموالي له وړانديز سره يې مخالفت وکړ، ترڅو چې د اړتياو لپاره يوه سيستماتيکه پروسه جوړيږي. CSTC-A وويل چې وړانديز شوې بسپنې ته اړتيا ده ترڅو د اردو روانو عملياتو ته دوام ورکړي. ساپکو بيا وويل چې سيګار CSTC-A په کلکه و هڅاوه چې د افغان ملي اردو د POL لپاره دې خپله بسپنه نه ډيروي. ځانګړي عمومي مفتش وويل چې د تيلو لپاره دې افغان حکوت ته د "سپين چک" د ليکلو په اړه احتياط وشي. هغه وويل "که دا کار وشي نو دا مانا ورکوي چې يو خطرناکه شرط دوه چنده شي."

ساپکو قانون جوړونکو ته وويل چې د سيګار د روان تفتيش پر کار برسيره، سيګار د ۲۰ جرمونه تحقيق کوي، چې د اردو او ملکيانو لپاره تيل غلا شوي او بل ځای ته وړل شوي.

شکل ۲.۱

**د کره ټګ لارې څخه بهر د سونګ توکو غوښتل او بارول د یادې چارې په اړه د حساب ورکولو د سیستم د نه شتون لامل شوي دي**




سرچینه: د سیګار 14-12 پلټنه، د *افغان ملي پوځ د پټرول، تیلو، او ګریسو په اړوند ریوټ*، د 2012 کال د سپتمبر 10.

تحقیقونه د ۱۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت د تیلو د ټرانسپورټ د قراردادونو د رشوت، فساد او د داوطلبۍ په پروسه کې د لاسوهنې په اړه وي. پلټونکو د افغان اتباعو او کمپنیو، د دفاع وزارت ملکي کارکوونکو، او د متحده ایالتونو د اردو کارکوونکو په اړه چې په ټرانسپورټ کولو، ساتلو او د تیلو په ویشلو کې لاس درلودلو په اړه معلومات ترلاسه کړل. هغه وویل،

"هیڅ کوم مواد داسې مهم ندي لکه تیل چې د افغانستان بیارغاونې لپاره مهم دي، او هیڅ مواد داسې د غلا او بې ځایه ضایع کولو په خطر کې ندي." "لکه څنګه چې متحده ایالتونه او ایتلافي ملګري یې وځي او د امنیت مسولیت افغان ځواکونو ته سپاري، د امریکا له خوا اخیستل شوي تیل به لا هم د فساد او غلا له کبله د ضایع کیدو په خطر کې وي."

د سپتمبر په ۲۰ اوریدنه کې، فرعي کمیټې د ساپکو، الن اف ایستیوز، په دفاع وزارت کې د لوجیستیکي او موادو تیارولو معاون سکرتر، د هوايي ځواکونو برید جنرال بروکس ایل باش، په ستر درستیز کې د لوجیستیک ریس، او دانولد سمپلر د افغانستان او پاکستان لپاره د USAID د ریس معاون څخه شاهدتونه واوریدل. ایستیوز وویل سیګار د POL د ادراې د اصلاح لپاره ډیر ځایونه پیژندلي وو، مګر هغه زیاته کړه چې دی د POL د مالي اسنادو د منځه وړلو څخه خبر ندی. هغه وویل چې NTM-A/CSTC-A به سیګار ته ټول هغه اسناد ورکړي چې د پلټنې لپاره یې غواړي. ایستیوز دا هم وویل چې NTM-A پریکړه کړې ده چې افغان ملي اردو ته د ۲۰۱۳ کال د بودجې یواځې دریمه برخه انتقال کړي. نوره به د NTM-A تر کنټرول لاندې پاتې وي او په ۲۰۱۴ کې به انتقال شي که د ۲۰۱۳ بودجې څخه په سمه توګه کار واخیستل شي.

ساپکو د NTM-A/CSTC-A د دې پریکړې درناوی کړی چې د تیلو د بسپنې هغه کچه کمه کړي چې پلان یې تیار شوی، او په ۲۰۱۳ کې به افغان حکومت ته انتقالیږي. مګر هغه وویل چې پدې کې شک نشته چې مالي اسناد د منځه وړل شوي دي: د متحده ایالتونو د هوايي ځواکونو دوه تورنانو د سیګار پلټونکو ته وویل چې دوی د دې لپاره اسناد د منځه وړي چې د ساتلو مناسب ځای یې نه درلود. ساپکو وویل چې سیګار پدې کار کاوه چې کمپیوټري نسخې پیدا کړي، تورنانو وویل چې دوی هڅه وکړه ترڅو هغه اسناد پیدا کړي چې سیګار یې غوښتنه کړې. هغه د CSTC-A د اسنادو ساتل "ډیر ستونزمن" وبلل او بیا یې دا وړاندیز تکرار کړ، چې ترڅو د دې پروګرام ستونزې نه وي سمې شوي، د ۲۰۱۳ مالي کال او د پلان شوي ۲۰۱۴ – ۲۰۱۸ کلونو بودجه دې کمه شي. کله چې درې میاشتې پای ته ورسیدې، CSTC-A لا هم سیګار ته غوښتل شوي اسناد نه و ورکړي.

## د سیګار کار د قوانینو وړاندیز هڅوي

د ځانګړي عمومي مفتش ساپکو د شهادت په ځواب کې، جمهوري غوښتونکي جیسن شافیتز (R-UT) د کورني امنیت، کورنۍ دفاع او بهرني عملیاتو د فرعي کمیټې د خونې رئیس، او د فرعي کمیټې غړی جان تیرني (D-MA) د قانون یوه مسوده وړاندې کړه، چې افغان ملي اردو ته د دفاع وزارت د POL د رسولو پروګرام څخه په کلکه نظارت وشي. شافیتز وویل، "تر څو چې مونږ پدې پوهیږو چې په حقیقت کې په POL او لرګیو باندې څومره ولګیږي، په کوم ځای کې او څنګه د تیلو څخه کار اخیستل کیږي، او دا چې تیل ورک شوي او یا غلا شوي، زه دا نه شم منلی چې مونږ د امریکا د مالیې ورکوونکو ډالرونه ضایع کړو." د خونې پریکړه ۶۴۸۵، چې د کال ۲۰۱۲ د سپتمبر په ۲۱ کې وړاندې شوه، DoD د دې څخه منع کوي چې د افغانستان حکومت ته مستقیم او یا غیر مستقیم بسپنې د POL او لرګیو د اخیستلو لپاره ورکړي، ترڅو چې سیګار او د دفاع وزیر کانګرس ته ډاډ نه یې ورکړی چې د افغانستان حکومت د حساب ورکولو او نظارت لپاره دقیق ګامونه اخیستي دي. او دفاع

وزیر باید دا تصدیق هم وکړي چې افغان حکومت ته ورکړل شوي POL او لګښ مشروع و او حساب یې بشپړ دی. د قانون مسوده د خونې د اردو خدماتو او بهرنیو چارو کمیټو ته وړاندې شوې وه.

د دې ربع په راپور ورکولو کې، امریکایي سناتورانو جین شاهین (D-NH) او جیم ریش (R-ID) هم د قانون یوه مسوده وړاندې کړه، که ایجنسي د سیګار وړاندیزونو ته پام ونکړي او یا یې و نه مني، فیدرالي ایجنسي باید کانګرس ته خبر ورکړي او د خپلو کړنو څخه به عامه خلکو ته ډاډ ورکوي. شاهین وویل، "مونږ په افغانستان کې د نظارت یو مهم دفتر ځای پر ځای کړی، او مونږ باید ډاډمن اوسو چې ایجنسي او قراردایان دې ته مناسبه پاملرنه کوي." د سنا د قانون ۳۵۰۵ مسوده چې د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۲ وړاندې شوه، د دې پربنسټ ایجنسي باید کانګرس ته د هر هغې بیلګې توضیح ورکړي که دوی د سیګار د پایلو سره چې د قراردادي لخوا د ۵۰۰،۰۰۰ ډالرو احتمالي تاوان رسیدلی وي، ځواب نه ورکوي او یا ورسره مخالفت کوي. قانون هغه پریکړه ګوري کله چې شاهین پلټنه کوله او د متحده ایالتونو هوایي ځواکونو پریکړه ونه منله. د هوایي ځواکونو د انجینري او چاپیریال مرکز (AFCEE) لمړی د سیګار د ۲۰۱۲ کال د پلټنې وړاندیز نه مني چې د مالیه ورکوونکو ۴،۳ میلیون ډالره بیرته ورکړي، چې په کابل کې د اردو لپاره د یوه خراب جوړ شوي د تاسیساتو د یوه مرکز په بیارغونه کې لګیدلي وې. مګر وروسته تر دې چې شاهین هوایي ځواکونو ته یو مکتوب ولیکه، AFCEE قرار دادي ته د غوښتنې مکتوبونه ورکړل.

## ساپکو په افغانستان کې د لوړپوړو چارواکو او کار کونکو سره وکتل

د دې دورې په راپور ورکولو کې، ځانګړې عمومي مفتش افغانستان ته لمړی سفر وکړ، چیرته چې هغه د امریکا د لوړپوړو ملکي او اردو مشرانو، او د سیګار د پلټنې او تفتیش د کارکونکو سره د یو شمیر ننګونو په اړه په شمول د امنیتي، فساد، په افغانستان کې د وړتیا نه شتون او د کارونو د دوام، چې د امریکا د بیارغونې هڅو پر وړاندې ولاړ دي مشورې وکړې. هغه په واشنګټن کې د DoD، DoS او USAID د چارواکو سره وکتل تر څو د دوی د بیارغونې پر پروګرامونو خبرې وکړي. هغه په افغانستان او امریکا کې د چارواکو اندیښنې وواریدلې، او دا معلومات یې د سیګار د پلټنې او تفتیش د پلان کولو په پروسه کې راوړل. تطبیق کوونکو ایجنسیو څو ځلې دا وویل چې سیګار دې اوسني پروګرامونه د حقیقي وخت پر بنسټ وپلټي، ترڅو دوی ستونزو ته د حل لار پیدا کړي، مخکې تر دې چې تړون، بسپنه او د همکارۍ تړونونه پای ته ورسیږي. ساپکو د سیګار پر عزم ټینګار وکړ چې پدې سخت او انتقالي وخت کې د امریکا د پروګرامونو بسپنې لپاره یو هر اړخیز او فعال نظارت تیار کړي.

## سیګار د غورو کارونو د کبله دوه انعامونه ترلاسه کړل

د ایمانداری او اهلیت لپاره د عمومي مفتیشینو شورا (CIGIE) سیګار او نورې ایجنسي یې په خپل کلني مجلس کې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۱۶ وستایلې. سیګار د پلټنې د راپور له کبله چې د دې کال په پیل کې خپور شو د غوره کارونو انعام وړي، چې د دفاع وزارت حساب ورکوونې د ښه کیدو لپاره یې د عملي ګامونو وړاندیز کړی و، چې ۵۲،۰۰۰ موټرونه

ځخه ډېر یې، چې ۴ میلیارده ډالر ارزښت یې درلود د افغانستان ملی امنیتي ځواکونو ته ورکړ شوي وو. د تفتیش غړو چې دا پلټنه کړې وه، دن چین، تارا چیمن، انجله یاریان او البرت هنتینګټن III وو. ځانګړې استازو فیلیپ کزن او وای مان لونګ د پلټنې د غوره کارونو انعام وړی، دوی د یوه بریالي تحقیق مشري کوله چې په ترڅ کې یې د رشوت یوه لویه قضیه د امریکا د بیارغونې د هڅو د پیل ځخه په ۲۰۰۲ کې د افغانستان ځخه راووتله. د GIGIE انعامونه هغه کسانو ته ورکول کیږي، چې غوره کارونه یې کړي او په هیواد کې دننه او دباندې یې د هیواد لپاه کار کړی وي، د IG په ټولنه کې پیژندل کیږي.

## ځانګړې نوښتونه

### سیګار هڅه کوي د تعلیق او بندیز صلاحیت تر لاسه کړي

ځانګړي عمومي مفتش ساپکو د خونې ملي امنیت، کورنۍ دفاع، او بهرني عملیاتو فرعې کمیټې پروړاندې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۲ شهادت ورکړ، چې سیګار خپلواک صلاحیت ته اړتیا لري ترڅو قراردادیان تعلیق او بند کړي، نه دا چې په تمه اوسي ترڅو نورې ایجنسي یې پر وړاندیزونو عمل وکړي. ساپکو د کمیټې غړو ته وویل، "دوی د وخت قدر نه کوي." "که تاسې غواړۍ چې یو ښه کار وکړئ او د خرابو خلکو او تروریستانو مخه ونیسۍ چې له حکومت سره قرار داد ونکړي، اوس هغه وخت دی، نه دا چې دا کار دوه یا درې کاله وروسته ترسره شي."

تعلیق د لنډې مودې لپاره قراردادي ته اجازه نه ورکوي چې د حکومت د قراردادونو په داوطلبۍ کی برخه واخلي، ترڅو قانوني او د پلټنې اجرات سرته نه وي رسیدلي. بندیز معمولاً د دوو یا دریو کلونو لپاره وي او قراردادي نشي کولای د یوې معینې مودې لپاره د حکومت په قرارداد کې برخه واخلي.

د لاندنې کمیټې ریس او برحاله غړو ته په بل مکتوب کې، ساپکو وویل، چې سیګار له ۲۰۰ ډیرې پیښې د اردو اداري، DoD، DoS او USAID ته د تعلیقونو او بندیزونو لپاره لیږلي دي. له دغو ځخه، ۱۰۶ لا تراوسه د عملي اقدام په تمه دي، په شمول د ۴۳ پیښو چې قراردادیانو د شورشیانو سره اړیکې درلودې. (دا پاڼې49–51 د سیګار د تعلیق او بندیز د بشپړو معلوماتو لپاره وګورئ)

ساپکو ویلي چې نیږدې یو کال وړاندې، د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۳، سیګار د معلوماتو او مقرراتي چارو د اداري او بودجې د (OMB) دفتر ته د مقرراتو یوه مسوده وړاندې کړه، چې سیګار ته به اجازه ورکړ شي چې د تعلیق او بندیز خپل پروګرام تطبیق کړي. OMB لا تر اوسه پر دې وړاندیز عملي ګام ندی پورته کړی، سره له دې چې سیګار په افغانستان کې د پلټنې او تحقیق یوه لویه اداره ده، او د څو ایجنسیو د موضوعاتو هر اړخیز تخصص لري، تر څو پلټنه وکړي او د قراردادیانو ضعیف فعالیت په نښه کړي. "تعلیق او بندیز یوه ډیره قوي وسیله ده چې د تقلب، ضایعاتو او ناوړه ګټه اخیستنې مخه نیسي، په ځانګړې توګه په هغه بیړني ماحول لکه افغانستان کې، چیرته چې د مالیه ورکونکو په میلیاردونو ډالر له خطر سره مخامخ دي."



**شرون ووډ**، د تحقیقاتو ا سرپرست عمومي معاون، د سیګار د تحقیقاتو د ټیم په استازیتوب د CIGIE انعام اخلي. (د سیګار انځور)

## د چټک غبرګون ټیم

د ده د ستراتیژۍ یوه برخه دا وه چې سیګار ورغوي تر څو د کانګرس او د متحده ایالتونو د تطبیق کونکو ایجنسیو، چې د افغانستان په بیا رغونه کې کار کوي، اړتیاو ته ښه ځواب ورکړي، ځانګړي عمومي مفتش ساپکو د سیګار د ځانګړو پروژو د دفتر د جوړیدو خبر ورکړ. دا دفتر به د چټک غبرګون ټیم د ډیرو ماهرو پلټونکو، تحقیق کونکو، تحلیل کونکو او قانون پوهانو څخه جوړ کړي، او یو مجرب مفتش به یې مشري کوي، هغه څوک چې په افغانستان کې یې د دریو کلونو لپاره د سیګار عملیات پر مخ وړي. د چټک غبرګون ټیم به په مهمو مسایلو کار کوي او د خبرتیا راپور به کانګرس او تطبیق کونکو ایجنسیو ته په ډیرې چټکۍ سره د بیا رغونې د احتمالي ستونزو په اړه برابر کړي، ځکه د پلټنې او تحقیق بشپړ راپور تیارول نه (۹) میاشتو ته اړتیا لري. لکه څنګه چې د انتقال ساعت مخ په وړاندې روان دی، سیګار غواړي چې قوي نظارت وکړي، تر څو د امریکا د مالیې ورکونکو ډالر په مناسبه او اغیزمنه توګه ولګیږي او د امریکا د بیا رغونې موخې تر لاسه شي. د چټک غبرګون ټیم به کانګرس او د ټولو ایجنسیو چارواکو ته پر وخت او عملي اطلاعات تیار کړي.

## مالي پلټنه

د سیګار مالي پلټنه د خطر پر بنسټ د طریقې څخه ګټه اخلي تر څو د امریکا له خوا د افغانستان لپاره بیا رغونې تمویل شوي قراردادونو، فنډونو او د همکارۍ د تړونونو د لګښتونو پیژندنه او پلټنه وکړي. دا پروګرام هغه وخت جوړ شو کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې د بهرنیو بیړنیو عملیاتو د قراردادونو او فنډونو د پلټنې د ډیریدونکو لګښتونو په اړه اندیښنه څرګنده کړه. د دې نوښت نه به سیګار وکولای شي:

- تایید کړي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د امریکا د قرار دادونو او د فنډونو د قراردادیانو لګښت مناسب، پیدا کیدونکی او حمایت کیدونکی دی.
- د قرارداد او فنډ په اړه د کورنۍ کنټرول چاپیریال ارزونه وکړي، او
- که د نه مطابقت او ضعیف کورنۍ کنټرول بیلګی پیدا شي، احتمالي تقلب او ناوړه ګټه اخیستنه به و پیژنۍ.

او د امریکا د کرنې وزارت (USDA) سره وکتل، تر څو د پروګرام موخو ته وضاحت ورکړي او ګډ کار تاسیس کړي. د ۲۰۱۲ کال د جولای په میاشت کې سیګار د ۱۱ قراردادونو او فنډونو د پلټنې خبر ورکړ، چې د پلټنې ټولټال لګښت نږدې ۹۱۳ میلیونه ډالر و. پلټنه به د هغو شرکتونو لخوا تر سره شي، چې په سیالۍ کې د سیګار له خوا غوره شوی. سیګار پلان لري چې د پلټنې ځانګړي قراردادونه د راتلونکي راپور ورکولو په دوره کې وړاندې کړي.

### د کاپستون راپور – د کارونو ساتنه او دوام

سیګار د کاپستون لومړي راپور ته نږدې کیږي، چې وروسته له دې چې په ۲۰۱۴ کال کې د بیا رغونې مشر توب افغانان کوي، د امریکا د پانګونې د دوام او ساتنې د ننګونو ارزونه کوي. که افغان حکومت ونشو کړای چې کارکونکي، فنډونه او مواد پروګرامونو ته تیار کړي، د امریکا د مالیې ورکونکو په میلیاردونو ډالر به د ضایع کیدلو په خطر کې شي. مګر د راتلونکو کلونو لپاره، د افغانستان حکومت کومې سرچینې نلري تر څو په کافی اندازه عواید تولید کړي، چې د عملیاتو لګښتونه، پشمول د امنیتی او پرمختیایي زیاتیدونکي لګښتونه تر پوښښ لاندې ونیسي. سیګار د امریکا او افغان حکومت پر وړاندې د ستونزمنو مسلو او پریکړو ارزونه کوي، پداسې حال کې چې د افغانستان سره مرسته کمیږي، دوی هڅه کوي بیا رغونې ته دوام ورکړي.

## د خبرتیا مکتوبونه

### د خبرتیا نوي مکتوبونه

- د مالي اسنادو له منځه وړل
- د افغانستان په لویو لارو کې د پلچکونو تر لاندې د ځالیو نه شتون
- د سړک د قراردادي د تقلب تحقیق

### د مالي اسنادو له منځه وړل

د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۱۰ سیګار د دفاع وزیر لیون پنیټا او نورو ته د خبرتیا یو مکتوب لیږلی و، چې د پلټنې په وخت کې یې د ملی اردو د POL د لوجیستیکي وړتیاوو څخه خبر کړي، د NTM-A/CSTC-A چاروکو وویل چې دوی د ملي اردو د تیلو د تادیاتو ټول مالي اسنادونه، چې د ۲۰۰۶ د اکتوبر څخه تر ۲۰۱۱ فبروری ټولټال ۴۷۵ میلیونه ډالر کیږي د منځه وړي. پردې برسیره CSTC-A و نشو کړای چې د ۲۰۱۱ د مارچ څخه د ۲۰۱۲ تر مارچ پورې تر نیمی زیاد د پلټنې اسنادونه تیار کړي، چې سیګار یې غوښتنه کړې وه . په پایله کې سیګار و نشو کړای چې د حسابونو د تصفیې په دوره کې د ملي اردو د ۴،۵ میلیون ډالرو معینو تیلو فرمایشاتو اسنادونو پلټنه وکړي.

د اسنادو له منځه وړل او داچې توضیح ورکړي چې ولې یې نور اسناد تیار نکړل، دا د دفاع وزارت او د اردو د اداري د پالیسیو پر خلاف یو کار و. په ځانګړې توګه، د ۲۰۱۰ کال د فبروری په ۲۸، د امریکا د اردو مرکزي قوماندانی یو هدایتي مکتوب خپلو مالی مدیرانو ته لیږلی، چې د دوامداره آزاد د عملیاتو په اړه مالي اسناد دې د منځه نه وړي. مکتوب چې د اردو د مالي سیستم د محاسبې د مقرارتو په اړه و، ویلي و چې مناسبه لیدنه، حساب ورکونه، شفافیت، څارنه او د دې مالي اسنادو کنترول اړین دی، تر څو خپل اعتبار او د کانګرس او مالیه ورکونکو اطمینان او اعتماد وساتو.

سیګار قوي وړاندیز کړی و چې د دفاع وزیر او نور دې د ویل شویو اسنادو د له منځه وړلو د څرنګوالي، او دفاع وزارت دې د خپل ستندرد پر بنسټ د عملي ګامونو کتنه وکړي. دغه ادرې وزیر ته خبر ورکړ چې دا موضوع د سیګار تحقیق ته لیږل شوې ده.



**د امريکا بهري عسکر** په افغانستان کې د پلچک خالی نصبوي (د DoD انځور)

## د افغانستان په لويو لارو کې د پلچکونو تر لاندې د ځاليو نشتون

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په مياشت کې د سيګار جنرال جيمز ماتيس، د CENTCOM قوماندان او جنرال جان آلن، د نړيوالې امنيتي همکاريو ځواکونو (ISAF) قوماندان ته يو مکتوب ليږلی، او خبرداری يې ورکړی و، چې قراردادیانو د پلچکونو تر لاندې د اوسپنې ځالی ندې جوړې کړي، تر څو ياغيان و نشي کولای چې په لويو لارو کې د پلچکونو تر لاندې د سړک غاړې ماينونه کيږدي. سيګار وويل چې لومړنيو جرمي تحقيقونو کې د پلچکونو تر لاندې د ځاليو د جوړلو او تفتيش کولو په قرارداد کې د پام وړ ډېر تقلب پيدا کړ. دا يو داسې سيستم و چې د اوسپنې سيخونه به د پلچکونو په دروازو او يا د سيلابونو په لارو کې جوړيدل، تر څو ياغيان و نشي کولای هلته د سړک غاړې ماينونه کيږدي. ځانګړي عمومي مفتش جان اف ساپکو ليکلي، ”کيدای شي افغان قراردادیانو په غلطه توګه د پلچکونو تر لاندې د ځاليو د جوړيدو پوره راپور ورکړی، اما په حقيقت کې ځالی يا بيخې نه وي او يا سمې نه وي جوړې شوي، چې ياغيانو کولای شو هلته لار پيدا کړي.“ مکتوب يو ځای په نښه کړی چې په ځانګړې توګه د تهديد وړ و، مګر کيدای شي چې دا ستونزه به په ټول افغانستان کې شتون ولري. سيګار وويل چې دوی د ۲۰۱۰ کال د عملياتي ځواک (Task force) او د CENTCOM د قرارداد د ګډې ملاتړې اداري (C-JTSCC) سره يو ځای کارونه تر سره کول، تر څو دا مسله په ډاګه کړي. سيګار دا معلومات وړاندې کړل، چې بيرني ګامونه دې واخيستل شي او ټول اړوند کارکوونکې دې لرې شي تر څو په افغانستان کې د امريکا ځواکونه خوندي شي.

## د لويو لارو د يوه قراردادي د تقلب تحقيقات

ځانګړي عمومي مفتش ساپکو د امريکا USAID مدير راجيو شاه، او په افغانستان کې د دې ادارې ريس، کين ياماشيتا ته د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په يوه مکتوب کې مشوره ورکړې، چې د يوه قراردادي پيسې ورنکړي، هغه څوک چې د USAID سره د ۴۹۸ ميليونو ډالرو د همکارۍ تړون لري، چې د افغانستان په سويل او ختيځ کې يې ستراتيژيکې ولايتي لارې جوړې کړي. ساپکو وليکل چې سيګار د نړيوال معاونت او پراختيا (IRD) لخوا د سړکونو د پروژې چې د دې تړون تر پوښښ لاندې و د ډېرو ضايعاتو او ناسم اداري تورونو تحقيق پرمخ وړي. هغه وويل چې سيګار اړوند نور تورونه هم ګوري، چې له کبله يې د IRD پر لوړ پوړو چارواکو د رشوت او پيسې اخيستنې تورونه دي.

## پلټنې

کانګرس ته د وروستي راپور له وخته، سيګار د پلټنې دوه راپورونه بشپړ کړي دي. پدې درېو مياشتو کې سيګار اوه نوې پلټنې پيل کړي. خپاره شوي راپورونو د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د اسانتياو د څارنې، بسپنو، نظارت، او د عملياتو پياوړتيا په اړوند څو انديښنې پيژندلي. پلټنو پنځه وړانديزونه وړاندې کړي، چې د امريکا لخوا افغان ملي اردو د تيلو اخيستل او د ANSF لپاره د تاسيساتو په سمه توګه ساتلو حساب ورکونه دې اصلاح شي.

### بشپړې شوي پلټنې

- پلټنه ۲۱-۴۱: د افغانستان د ملي اردو د پطرولي موادو، تيل او روغنياتو راپور
- پلټنه ۲۱-۱: د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو تاسيسات: د بسپنو ورکولو، نظارت، او د عملياتو او ساتنې د دوام په اړه انديښنې

## د سیګار د وړاندیزونو څرنګوالی

پدې دریو میاشتو کې سیګار د پلټنو ۲۸ وړاندیزونه وتړل، چې د تصفیې د ۹ راپورنو په اړه و. د ۲۰۰۹ کال څخه، سیګار ۶۲ پلټنې او تفتیشونه خپاره کړي دي او ۲۰۹ وړاندیزونه یې کړي تر څو بسپنې بیرته لاسته راوړي، د ادارې نظارت اصلاح کړي، او د پروګرام اغیزمنتیا زیاته کړي. تر اوسه، سیګار تر نیمې ډیر دا وړاندیزونه تړلي دي. د وړاندیزونو تړل د سیګار ارزونې ته اشاره کوي، چې تطبیق کونکو ادارو، یا وړاندیزونه تطبیق کړي او یا یې قضیې په مناسبه توګه په ګوته کړي.

د اصلاحاتو په عملي ګامونو کې، چې پدې دوره کې تر سره شوي، AFCEE قراردادي ته د ۴،۳ میلیونو ډالرو بیرته غوښتنې مکتوب ورکړی، چې د کابل د اردو په روزنیز مرکز کې ناسم کارونه سم کړي، په شمول د بریښنا د اور د کارونو لګښت (د سیګار پلټنه ۲-۱۲). لکه څنګه چې سیګار په افغانستان کې د امریکا د ملکي وګړو سره مرستې د پلټنې وړاندیز کړی و، د ترانسپورت وزارت هم د بهرنیو چارو وزارت نه لګول شوي ۳،۵ میلیونه ډالر بیرته د امریکا خزانې ته ورکړل (د سیګار پلټنه ۱۷-۱۱).

د عمومي مفتش د کال ۱۹۷۸ د قانون پر بنسټ، او لکه څنګه چې تعدیل شوی، سیګار باید د هر هغه پخواني مهم وړاندیز په اړه راپور ورکړي، چې اصلاحي ګامونه یې په اړه نه وي اخیستل شوي. پدې ربع کې، سیګار د ۲۰ پلټنو راپورونو او د تحقیق د یوه راپور د وړاندیزونو په اړه د ادارو د عملي ګامونو څارنه کړې. دوه راپورونه چې تر ۱۲ میاشتو پورې زاړه دي، ۱۳ وړاندیزونه لري، چې د عملي ګامونو انتظار کوي. دا دوه راپورونه، افغان حکومت او تخنیکي مشاورینو ته د امریکا د معاش مرسته، او د افغان مالي سکتور برخو سره د امریکا مالي ملاتړ په اړه و.

- حکومت کارکونکو او تخنیکي مشاورینو ته د امریکا د معاش ملاتړ کې بې ثباتي کمه شي او مناسب حفاظت یې وشي. نه وړاندیزونه په افغانستان کې د امریکا د سفیر د عملي ګامونو په تمه دي، چې تر څو د نړیوالو دونرانو او افغان حکومت سره همغږي وکړي: چې یو ځای اساسي او مهم اصطلاحات جوړ یا تعریف کړي؛ د امریکا د معاش ملاتړ لپاره د معاش د یوه ستندرد اندازه معلومه کړي او ګټه ترې واخلي، حفاظت یې وکړي او د معاش لپاره د امریکا د بسپنو حساب ورکونه اصلاح کړي.
- د پلټنې راپور ۱۳-۱۱ په افغانستان کې د امریکا پر بسپنو د ادارو خپل منځ کې محدوده همغږي او لږ کنټرول درلود او دا کار په افغانستان کې د امریکا د هڅو پر وړاندې خنډ و چې د افغانستان مالي سکټور ته وده ورکړي او د امریکا د پیسو ساتنه وشي، دا راپور د ۲۰۱۱ کال د جولای په ۱۰ خپور شو. څلور وړاندیزونه چې د دفاع وزارت او د بهرنیو چارو وزارت ته لیږل شوي، د دوی د عملي ګامونو په تمه دي. وړاندیزونه د افغانستان پر بانکونو غږ کوي چې د بسپنو بریښنایی لیږل زیات کړي او د حساب ورکولو وړتیا دې ډیره کړي. پردې برسیره، دوی د افغانستان په ټول اقتصاد کې د امریکا د بسپنو د ډیر نظارت غوښتنه کوي. پدې دریو میاشتو کې سیګار وویل چې دا تفتیش به بیا کتل کیږي. (د دې نوې خپاره شوی تصفیې په اړه دا پاڼه وګورئ 33.)

AFCEE وروسته له دې د غوښتنې مکتوبونه ولیږل چې د امریکا سناتور جین شاهین (D-NH) هوایي ځواکونو ته ولیکل او د AFCEE د پریکړې په اړه یې شکایت وکړ چې د سیګار وړاندیز ته پاملرنه نه کوي. د لانورو معلوماتو لپاره، دا پاڼه وګورئ ۳۲.

## د پلټنې راپورونه خپاره شول

پدې ربع کې، د سیګار پلټنې د ملي اردو د وړتیاو ارزونه وکړه ترڅو تیل او نور پطرولي مواد اداره کړي او حساب ورکړي، او لکه څنګه چې NTMA-A تیاری نیسي ترڅو تاسیسات افغان حکومت ته په ۲۰۱۴ کال کې وسپاري، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د تاسیساتو عملیاتو او حفظ او مراقبت (O&M) د بسپنو ارزونه او نظارت وکړي. لومړني راپور دا وموندل چې نه CSTC-A او یا هم ملي اردو نشو کولای چې په پوره توګه د ملي اردو د تیلو اداره وکړي او حساب ورکړي. دویم راپور د افغان حکومت د وړتیا په اړه اندیښنه راپورته کړې، چې د ۲۰۱۴ کال وروسته د افغان ملي امنیتي ځواکونو تاسیسات دې اداره کړي.

## پلټنه ۱۴-۱۲ افغان امنیتي ځواکونه

### د ملي اردو لپاره د پطرولو، تیل او روغنیاتو راپور

د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۱۰، سیګار د دفاع وزیر لیون پنیټا او نورو چارواکو ته د خبرداری یو راپور وړاندې کړی، چې تر څو چې د تیلو د کار اخیستلو صلاحیت ملي اردو ته سپارل کیږي، CSTC-A دې یوه طریقه جوړه کړي، چې پر بنسټ یې د تیلو اړتیا د بسپنې وړاندیز او اغیزمن کنترول وشي، که دا کار ونشي د ملی اردو تیل او د افغان ملي امنیتي ځواکونو بسپنې به د ضایع کیدلو او غلا په خطر کې وي.

په تیرو پنځو کلونو کې، د ASFF د لاری د ملي اردو د پطرولي موادو د امریکا بسپنې ټولټال نږدې ۱،۱ میلارده ډالرو ته رسیدلي. CSTC-A چې د ملي اردو د تجهیز کولو او روزنې مسولیت لري، ملي اردو لپاره یې پطرولي مواد، تیل او روغنیات (POL) تیار کړي دي. کله چې تیل ورسیږي، افغان ملي اردو د POL د ادارې او توزیع پوره مسولیت پر غاړه اخلي. CSTC-A پلان لري چې د ۲۰۱۳ کال په جنوری کې ملي اردو د تیلو لپاره د بسپنو ورکول، د ASFF له لارې مستقیماً افغان حکومت ته ورکړي. CSTC-A اټکل کوي چې ملي اردو به په ۲۰۱۳ مالي کال کې د POL لپاره ۴۶۶ میلیونه ډالرو ته اړتیا وي، او وړاندیز کوي چې د ۲۰۱۴ مالي کال لپاره د تیلو بسپنه ۵۵۵ میلیون ډالرو ته زیات شي.

### اهداف

سیګار دا پلټنه پیل کړه چې:

- د CSTC-A د هڅو د حالت ارزونه وکړي، ترڅو د ملي اردو وړتیا ته وده ورکړي چې پطرولي مواد اداره او توزیع کړي.
- وګورئ چې آیا ملي اردو کورنی کنترول لري چې پطرولي مواد حساب کړي او د تقلب، ضایعاتو او ناوړې ګټې اخیستنې، پشمول د غیر قانونې بل ځای ته د تیلو وړلو او غلاو مخه ونیسې.

### موندنې

1. CSTC-A چارواکو سیګار ته وویل چې د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر میاشتې وړاندې دوی د تیلو د تادیاتو هیڅ اسناد نلرل، او وجه یې دا وه چې د ملي اردو د POL اسناد چې نږدې ۴۷۵ میلیونه ډالره و د منځه وړل شوي ول. پردې برسیره، وروسته تر دې

چې پلورونکو تيل مستقيماً د ملي اردو ځايونو ته رسولي CSTC-A د تيلو د مصرف لپاره اسناد او يا اداره پر ځای ندرلوده، پدې پاڼه کې (20 دا شکل وګوری 2.1).

2. د تيلو پر فرمايشاتو کنترول اغيزمن نه و، تر څو د افغانستان د ملي دفاع وزارت د لوجيستيک او موادو د ادارې قوماندانې (MMC-A) پوه شي چې د ټولو تيلو فرمايش ورکړل شوی، او دا چې د ملي اردو کومې قطعې تر خپل تخصيص زياد تيل اخيستي.
3. CSTC-A پلورونکو ته پيسې ورکړي، بې له دې چې د رسيدلو تيلو د کميت او کيفيت خپلواک تصديق وشي. د تيلو د فرمايشاتو لپاره افسرانو د تيلو فرمايش ورکړی، د تادياتو لپاره يې د رسيدلو راپورونه تيار کړي، او هغو قطعاتو چې تيل اخيستي، د دفاع وزارت د اړتيا وړ فورمې پرته، چې د رسولو د ټکټ اصليت معلوموي، د کميت او کيفيت تصديق کړی.
4. تيل پلورونکو هر وخت هغې اړتياوې ندي مراعات کړي چې د تيلو د اخيستلو په قرارداد کې راغلي او CSTC-A ور څخه کار اخيست. د بيلګې په توګه، پلورونکو د اړتيا وړ د تيلو د کيفيت راپور په خپل وخت ندی وړاندې کړی. پر دې برسيره، د پلورونکو د رسيدلو په ټکټ کې، چې د تادياتو د بل سره و، هر وخت هغه اړين معلومات نه درلودل چې د رسيدلو تيلو کميت معلوم کړي.

## سپارښتنه

د دې لپاره چې د ملي اردو لپاره د POL حساب ورکول اصلاح شي او د تقلب او ضايعاتو ضعيفوالی کم شي، سيګار سپارښتنه کړې، چې عمومي قوماندان او NTM-A/CSTC-A دا لاندې ګامونه واخلي:

1. د لخوا ASFF د ملي اردو د تيلو اړتياو لپاره د (۲۰۱۳ مالي کال) او راتلونکي (۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ مالي کلونو) بودجې د ۲۰۱۲ مالي کال بودجې ته چې ۳۰۶ ميلونه ډالره ده را ټيټه کړي. د ASFF لخوا د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره ټاکل شوې بودجه بايد وساتل شي، تر څو يوه مناسبه طريقه او سيستماتيکه پروسه د ملي اردو د تيلو د اړتياو لپاره د اصلي او ملاتړ کونکو تيلو د مصرف او ګټې د معلوماتو پر بنسټ جوړه شي.
2. د کورني کنترول پروسې لپاره يو هر اړخيز عملي پلان جوړ شي، تاييد او تطبيق شي، چې د تيلو اخيستل او رسيدل معلوم کړي او د تيلو حساب ورکول اصلاح کړي.

## د ادارې تبصرې

NTM-A/CSTC-A د لومړۍ سپارښتنې سره عموماً موافقه نده کړې. دوی وويل چې د بسپنې اوسنۍ اندازه بايد ساتلې شوې وی، تر څو د اردو اوسني عمليات دوام وکړي. په ځانګړې توګه، دوی وويل چې تمه کيږي د ۲۰۱۲ مالي کال بودجه د تيلو د لګښت لپاره به نږدې ۴۸۰ ميليونه ډالره وي، او لکه څنګه چې سيګار وړانديز کړی و، که د تيلو لګښت ۳۰۶ ميليون ډالرو ته راوړل شي، دا به نږدې ۳۷٪ د ټولو امنيتي عملياتو لپاره کموالی وي. NTM-A/CSTC-A دا هم وويل چې دوی نشو کولای د موټرونو د تيلو د مصرف دقيق اټکل وکړي، او دليل يې دا وه چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) لپاره نور موټرونه، جنراتورونه او نور ماشينونه راتلل، او د فصلونو پر اساس د تيلو په لګښت کې توپير

و. مګر CSTC-A ونشو کړای چې مشخص اسناد د دې لپاره و ښیې چې څنګه دې عاملونو د دوی پر کلني اټکل اغیزه کړې، او دا چې دوی ادعا کوي چې زیاتې بسپنې ته اړتیا شته.
په پایله کې سیګار پر خپل سپارښتنې ټینګار وکړ، چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ملي اردو د POL بسپنې اندازه دې ۳۰۶ میلیونه ډالر وساتل شي، تر څو یوه مناسبه طریقه جوړه شي او د ملي اردو لپاره د تیلو کلني مصرف اندازه د واقعی مصرف او اړتیا پر بنسټ محاسبه شي.

NTM-A/CSTC-A د سیګار د ټولې دویمې سپارښتنې سره موافقه وکړه. دې د هغو ګامونو په اړه توضیحات ورکړي، چې د کورني کنټرل لپاره یې ځانګړي کارونه کړي، تر څو د تیلو د اخیستلو او رسیدلو ارزونه وکړي او د تیلو حساب ورکول اصلاح کړي.

د سیګار کارونه د ملي اردو د POL په اړه دوام لري او وروستنی راپور به په راتلونکو دریو میاشتو کې خپور شي.

## پلټنه ۱-۱۳: د افغان ملي امنیتي ځواکونو تاسیساتو لپاره د عملیاتو او حفظ او مراقبت قراردادونه

### د افغان ملي امنیتي ځواکونو تاسیسات: د بسپنې، خارنې او د عملیاتو او حفظ او مراقبت د دوام په اړه اندیښنې

دی پلټنې وموندل چې د امریکا د اردو د انجنیرانو قول اردو (USACE) قرارداد د ای ټې ټې ایکسلیس سیستم شرکت (Exelis) سره قرارداد کړی، چې په شمال او جنوب کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو تاسیساتو لپاره عملیات او حفظ او مراقبت وړاندې کړي، د دوی کارونو له یو بل سره توپیر درلود، دې لپاره چې USACE او Exelis د کیفیت د کنټرول او د کیفیت د اطمینان توپیر لرونکي او متناقض طرزالعملونه تطبیق کړي و. پردې برسیره، د افغانستان د حکومت د وړتیا په اړه سوال شته چې د قرارداد نه وروسته تاسیسات وساتي.

NTM-A خپل پلان جوړ کړ چې د تاسیساتو عملیات او حفظ او مراقبت افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د ۲۰۱۱ کال د فبروری په پای کې وسپاري. د دې لپاره چې هڅه وشي تر څو افغان ملي ځواکونه وړتیا پیدا کړي، NTM-A ۸۰۰ میلیون ډالرو ته اړتیا درلوده، تر څو په ټول افغانستان کې افغان اردو او پولیسو تاسیساتو لپاره عملیات او حفظ او مراقبت تیار کړي. د ۲۰۱۰ کال د جولای په میاشت کې، USACE د دې خدماتو لپاره د افغانستان په شمال او سویل کې Exelis ته د تاسیساتو د خدماتو لپاره د معینو قیمتونو دوه قراردادونه ورکړل. د تاسیساتو قرارداد په شمال کې ۴۵۰ میلیونه ډالر او په سویل کې ۳۵۰ میلیونه ډالره ارزښت درلود. د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې د دې قراردادونو ۴۸۰ تاسیسات چې نږدې ۴۵٪ د اردو او ۵۵٪ د پولیسو لپاره و، تر پوښښ لاندې ونیول، چې پدې کې د قول اردو قوماندانیو څخه تر د پولیسو وړې قرارګاه شاملې وې.

په دوه قراردادونو کې د تاسیساتو لپاره د عملیاتو او حفظ او مراقبت خدمات، عامه خدمات، او حرارت، هوا کښ او د ایر کندیشن د سیستمونو خدمات شامل و. په قرارداد کې راغلي چې Exelis به افغان ملي ځواکونو ته د عملیاتو او حفظ او مراقبت لکه بریښنا، د نلونو سیستم، او د بدرفت د فابریکې عملیاتو روزنه ورکوي.

### اهداف

دې تفتیش غوښتل چې تر هغې کچې تفتیش وکړی چې:

- Exelis د عملیاتو او حفظ او مراقبت قراردادونه د قراردادونو په شرایطو تطبیق کړي دي.
- USACE د قراردادونو لپاره نظارت برابر کړی دی.

- NTM-A او USACE د افغان ملي امنیتي ځواکونو وړتیا ته وده ورکولو هڅې کوي، ترڅو د ۲۰۱۴ کال له پوره انتقال څخه وروسته خپل تاسیسات پخپله اداره کړي.

**موندنې**

1. لکه څنګه چې Exelis خدمات عموماً د قرارداد په شرایطو وړاندې کړي، مګر د قرارداد په لومړنیو پړوانو کې یې ستونزې درلودې تر څو کار پیل کړي، او د عملیاتو او حفظ او مراقبت ضعیفو خدماتو د قرارداد پر تطبیق اغیزه کړی.
2. د قراردادي تر کنترول د باندې عواملو، پشمول د قراردادي د کارکونکو زورونه، د ساختمان ضعیف کیفیت، د تیلو غیر منظم رسیدل، عملیات او حفظ او مراقبت اخلال کړي، چې کیدای شي د قرارداد لګښت له دې کبله ډېر شوی وي. د بیلګې په توګه د ۲۰۱۰ کال د دسمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر جنوري، Exelis د ۶۱ مهمو پیښو راپورونه وړاندې کړي، چې افغان اردو او پولیسو د قراردادیانو کارکونکي تهدید کړي، وهلي او تاسیساتو ته یې اجازه نده ورکړي. د دې پیښو نیمی په عملیاتو او حفظ او مراقبت منفي اغیزه کړې.
3. سیګار د Exelis د ۲۰۱۲ کال د می د میاشتې ټول بیلونه چې USACE ته یې وړاندې کړي تحلیل کړي، او موندلي یې چې د قراردي ټول بیلونه چې نږدې ۲۳۷ میلیون ډالره دي د دوو قراردادونو د شرایطو سره برابر دي. پردې برسیره، NTMA د پروژو تحلیل کړی چې ۱۶ میاشتې وړاندې د قرارداد پای ته د رسیدو دمخه په ۲۰۱۴ کال د مارچ په میاشت کې به د شمال قرارداد بسپنه ختمه شي. دا به په هغو تاسیساتو کې چې افغان حکومت ته لا ندې سپارل شوي، د عملیاتو او حفظ او مراقبت لپاره مهم خنډ وي.
4. د عملیاتو او حفظ او مراقبت په قراردادونو کې نظارت توپیر درلود، او دا د USACE وړتیا پوښتي، تر څو دا وګوري چې Exelis د قرارداد د شرایطو په بنسټ خدمات وړاندې کوي.
5. USACE چارواکو د دې پر ځای چې د اداري ستندرد طرزالعملونه تطبیق کړي،د څارنې او راپور ورکولو لپاره یې غیر رسمي لارې جوړې کړي. دا کار په ساحه کې د مسولینو لخوا د کیفیت د اطمینان په راپور ورکولو کې او د ټولې ساحې تفتیش کولو کې د توپیر لامل شوی. د فیدرال مقرراتو پر بنسټ، قراردادي اداري ملکفې دي چې د کیفیت اطمینان تر سره کړي، تر څو وګوري چې خدمات د قرارداد په شرایطو وړاندې شوي. او د اداري د طرزالعملونو په اساس پدې کې د کیفیت اطمینان مستند کولو تفتیش شامل دی. لکه څنګه چې په قراردادونو کې راغلي Exelis د کیفیت د کنترول پروګرامونه تطبیق کړي، مګر دا کار په سویل کې پوره نه و. USACE او فرعي قراردادي مسولینو راپور ورکړی، چې Exelis په سویل کې تاسیساتو ته لږ سفرونه کړي او د سویل د دوه ولایتونو په دفترونو کې یې کارکونکي په دندو نه و ګمارلي.
6. د افغانستان د حکومت وړتیا لا تر اوسه تر پوښتنې لاندې ده، تر څو د افغان ملي امنیتي ځواکونو تاسیسات اداره کړي، ځکه په کافي اندازه د کیفیت وړ کارکونکي نشته او د بودجې، تدارکاتو او لوجیستک پوره سیستمونو ته وده نده ورکړ شوې. NTM-A او USACE ګامونه اخیستي چې د افغان حکومت وړتیا ته وده ورکړي، چې کله افغان حکومت ته د ۲۰۱۴ کال په پای کې تاسیسات په پوره توګه وسپارل

شي نو د افغان ملي امنیتي ځواکونو په تاسیساتو کې عملیات او حفظ او مراقبت تر سره کړي. د ۲۰۱۲ کال د اګست تر ۱ د ۱۷ ځایونو د سپارلو کارونه پیل شوي. مګر، لدې کبله چې USAC هغه پلان او طرزالعملونه نه و جوړ کړي چې نا تمامه تاسیسات د قراردادونو څخه لرې کړي او د لست څخه یې وباسي چې لګښت کم شي، اداري د هغو تاسیساتو د عملیاتو او حفظ او مراقبت لګښت ورکول چې نور د قراردادونو د پوښښ لاندې نه و.

### سپارښتنې

سیګار USACE ته درې سپارښتنې وړاندې کړې تر څو بسپنې د عملیاتو او حفظ او مراقبت د قرارداد د شرایطو پر بنسټ و لګول شي تر څو د قرارداد نظارت زیات شي.

1. د عملیاتو او حفظ او مراقبت د دوه قراردادونو د مدیریت لپاره د ادارې ستندرد طرزالعملونه تطبیق کړي.
2. Excelis ته لارښونه وشي چې د افغانستان په سویل کې دې خپل د کیفیت کنترول پروګرام پوره تطبیق کړي، چې قرار دادي باید کافي کارکونکي ولري او په سویل کې د ANSF په ځایونو کې خپل شتون تاسیس کړي.
3. د نا تمامو تاسیساتو په اړه دې خپل پلان او طرزالعمل تطبیق کړي تر څو د قرارداد څخه وایستل شي، او د عملیاتو او حفظ او مراقبت لګښتونه لږ شي.

### د ادارې تبصرې

USACE د سیګار د ټولو دریو سپارښتنو سره موافقه کړې. USACE وویل چې د USACE-TAD سیمیز قراردادي ریس او د USACE-TAN اصلي قراردادي افسر به د تطبیق کولو طرزالعملونه جوړ کړي، تر څو د قرارداد د نظارت لپاره یوه ستندرده طریقه شتون ولري او د قرارداد د کیفیت د اطمینان پلان په دوامداره توګه تعقیب شي. د هغه وخته څخه چې د سیګار راپور خپور شوی، دواړو Excelis او د دې اصلي فرعي قراردادي د کیفیت د کنترول د ۱۹ مدیرانو/مفتشینو د پوستونو اجازه ورکړې او ۱۵ پوستونه یې ډک کړي دي. د TAM اصلي قراردادي افسر هم د Excelis سره کار کوي چې د نا تمامو تاسیساتو د لرې کولو لپاره مناسب طرزالعملونه جوړ کړي.

## پدې دریو میاشتو کې نوې پلټنې اعلان شوې

پردې برسیره چې ۱۱ مالي پلټنې یې په دې پاڼو کې 24–25 کړې، د راپور ورکولو پدې دوره کې سیګار اوه نورې پلټنې پیل کړې. پلټنې به دا ارزونې وکړي چې:

- DoS د بیا رغونې د هڅو د قراردادونو، د همکارۍ تړونونو او بسپنو لپاره د مالي پلټنو پوښښ برابر کړی.
- DoD او قراردادیانو یې طرزالعملونه جوړ کړي، تر څو د دښمن سره د قرارداد کولو مخه ونیسي.
- افغان او د امریکا چارواکي د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د پیسو لیږلو نظارت کوي[18]
- د عامې روغتیا د وزارت سره د USAID مستقیمه مرسته پایلې لاسته راوړي

### نوې پلټنې

- په افغانستان کې د DoS مالي پلټنې پوښښ لګښتونه
- دښمن سره د نه قرارداد کولو بندیز څخه DoD اطاعت کوي
- د افغانستان په اقتصاد کې د پیسو تعقیبول
- د عامې روغتیا وزارت سره د USAID مستقیمه مرسته
- د ANSF لپاره روانې ساختماني پروژې
- د افغان ملي پولیسو پطرولي مواد، تیل او روغنیات
- د ۰۳۲ میلیون ډالرو ورک شوي ترمیمي پرزې

- وروسته تر دې چې د قرارداد طرزالعملونه و منل شول د NATO NTM/CSTC ساختماني اړتیاوې او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د انتقال طرزالعملونه د ساختماني کارونو د اړتیا پر بنسټ دي.
- CSTC-A او افغان ملي پولیس (ANP) کولای شي د امريکا لخوا د پطرولي موادو د بسپنو مدیریت وکړي او حساب ورکړي.
- DoD کولای شي د امريکا لخوا ANSF ته د ترمیمي پرزو مدیریت وکړي او حساب ورکړي.

## په افغانستان کې د DoS د مالي پلټنې د لګښت راپور

د ۲۰۰۲ کال څخه DoS په افغانستان کې د بیارغونې لپاره د ۶،۱ میلیارد ډالرو بسپنې خپلو تطبيق کونکو ملګرو ته په ۲۴۴ قراردادونو، د همکارۍ تړونونو، او ۱ میلیون ډالر بلاعوضه ورانديې کړي دي. د دې بسپنو مالي پلټنې DoS ته خپلواکه ارزونه برابروي چې وګوري دا بسپنې څنګه لګول شوي دي. د دې کال په پیل کې سیګار د USAID د بیارغونې د هڅو د پلټنو راپور تفتیش کړ (د سیګار تفتیش ۹-۱۲). اوس پلان لري چې د DoS د قراردادونو، همکاریو تړونونو او بسپنو د مالیی پلټنو د کارونو ورته تفتیش تر سره کړي.

## د DoD اطاعت چې دښمن سره د قرارداد کولو مخه نیسي.

د ملي دفاع صلاحيت قانون په ۸۴۱ برخې کې چې په ۲۰۱۲ کال کې د کانګرس له خوا تایید شو، راغلي چې د CENTCOM د عملیاتو په ساحه کې له ښمن سره قرارداد کول منع دی. پدې تفتیش کې سیګار پلان لري چې د CENTCOM له خوا هغه ترسره شوي کارونه وپيژني، چې د ۸۴۱ برخې د احکامو اطاعت کوي. سیګار به (۱) د CENTCOM او د دوی د قراردادیانو د ترسره شویو کارونو ارزونه وکړي، چې په بشپړه توګه د ۸۴۱ برخې د اړتیاو ځواب وايي او (۲) دا چې CENTCOM او قراردادیانو یې په بشپړه توګه د قرارداد د تاسیس شویو پالیسیو او طرزالعملونو اطاعت کړی. دا تفتیش به دا ارزونه هم وکړي چې تر کومې کچې DoS او USAID پالیسی او طرزالعملونه جوړ کړي، چې هغو اشخاصو او شرکتونو ته قرارداد ورنکړي چې په فعاله توګه د بغاوت ملاتړ کوي، او یا د متحده ایالتونو او یا ایتلاف ځواکونو سره مخالفت کوي.

## د افغانستان په اقتصاد کې د پیسو تعقیبول

سیګار د کورنې دفاع وزارت او د افغانستان د چارواکو هڅو بیا کتنه کوي چې د کابل په نړیوال هوایی ډګر کې کنترول تطبیق کړي او د پیسو لیږلو نظارت وکړي. دا محدوده کتنه به د سیګار په سپارښتنو کار وکړي چې اداري د ډیرو پیسو د شمیرلو ماشین څخه مناسبه کار واخلي او د دې معلومات دې د امریکا د قانون پلي کونکو چارواکو او مناسبو افغان چارواکو ته ورکړي. سیګار د پیسو د لیږلو او فساد په اړه دوه نورې پلټنې کړي دي: د پلټنې راپور ۱۳-۱۱ په افغانستان کې د امریکا بسپنو باندې ادارو خپل منځ کې محدوده همغږی او لږ کنترول درلود او دا کار په افغانستان کې د امریکا د هڅو په وړاندې خنډ و چې د افغانستان مالي سکټور ته وده ورکړي او د امریکا د پیسو ساتنه وشي، او پلټنه ۱۵-۱۰ کله

چې د فساد په وړاندې د امريکا هر اړخيزه ستراتيژي بشپړه شي په افغانستان کې به د امريکا هڅو ته ګټه ورسيږي. دواړو تفتيشونو سپارښتنې کړې وې، چې د امريکا د بيا رغونې بسپنو حساب ورکونه دې اصلاح شي، چې د افغانستان د حکومت د لارې لګيږي.

## د عامي روغتيا وزارت (MoPH) سره د USAID مستقيمه مرسته

د ۲۰۰۸ د جولای په مياشت کې USAID د پنځو کلونو لپاره ۲۳۶ ميليونه ډالره مستقيم بسپنه د عامي روغتيا وزارت لپاره تاييد کړه. USAID دا مستقيم بسپنه په ۱۳ ولايتونو کې د روغتيا ابتدايي خدماتو لپاره ورکړې وه، تر څو د پنځو ولايتونو د روغتونونو لپاره ضروري خدمات برابر کړي او د وزارت په مرکز کې کاري ظرفيتونو ته وده ورکړل شي. د روغتونونو په ضروري خدماتو کې هغه عمومي خدمات لکه کارکونکي، سامانونه، تشخيصيه خدمات او دواګانې دي چې روغتونونه يې د افغانستان د روغتيا په سيستم کې وړاندې کوي. د سيګار تفتيش به وګوري چې آيا د عامې روغتيا وزارت سره د دې مستقيمې مرستې څخه د ټاکل شويو موخو لپاره ګټه اخيستل کيږي او اټکل شوي پايلې تر لاسه کوي. لکه څنګه چې د همکاريو د تړون په مستقيمو مرستو کې ورته اړتيا ده، دا به هم وګوري چې آيا USAID او د عامي روغتيا وزارت مالي او نور کورني کنترولونه تطبيق کړي دي.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) لپاره تر کار لاندې ساختماني پروژې

د ۲۰۱۲ کال تر جون ۳۰ پورې امريکا د ANSF لپاره ۳۱۱ تر کار لاندې پروژې چې ۳،۷۳ ميلياره ډالره ارزښت لري، او ۲۴۴ نورې پلان شوې پروژې چې ارزښت يې نږدې ۲،۴ ميلياره دالر دی درلودې. سيګار به د CSTC-A د پروژو د اړتياو دليلونه او ملاتړ امتحان کړي. پلټنه به دا ارزونه هم وکړي: (۱) تر هغې کچې چې امريکا او ايتلاف خپل پلانونه د ANSF د راتلونکي ځواکونو د کميت په اساس جوړوي، (۲) آيا CSTC-A د نويو ساختمانونو په ځای د نورو چارو فکر هم کړی، او (۳) آيا CSTC-A مناسبو معيارونو ته وده ورکړې، تر څو وګوري د ANSF اوسنی وړانديز شوې پروژې ضروري دي، سرته رسيدلای شي او افغان حکومت يې اداره کولای شي.

## د افغان ملي پوليسو پطرولي مواد، تيل او روغنيات

سيګار اوس د افغان ملي اردو د پطرولي موادو لپاره د لوجيستيک د وړتيا پلټنه کوي. روانو پلټنو څو مسلې و پيژندلې چې چټکې پاملرنې ته اړتيا ليدل کيږي، د دې لپاره چې د بودجې په اړه پريکړه کيدونکې ده او دا چې د ملي اردو د POL مسوليتونه او د امريکا مستتقيم بسپنې افغان حکومت ته سپارل کيږي، او دا کار سبب شو چې سيګار د خبر دارۍ مکتوب وړاندې کړي. د افغان ملي پوليسو پطرولي مواد (POL) لکه د ملي اردو د POL د سپارلو ورته لنډ وخت او ننګونو سره مخ دی، سيګار اټکل کوي چې د ملي پوليسو د لوجيستيکي وړتيا په پلټنه کې به ورته مسلې رابرسيره شي. نوی تفتيش به په دوه مهمو مسلو کار وکړي، چې د ملي اردو د POL په پلټنو کې يې پيژندلي دي: د تيلو دقيقه اړتيا او د تيلو د اخيستلو حساب ورکول.

## د ترميم ورکړو پرزو کې ۲۳۰ مليون ډالر

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په مياشت کې د آيساف قوماندان (COMISAF) د مشورې او مرستې ټيم (CAAT) چې د اردو ارزونې ټيم دی، يو راپور ورکړی چې CSTC-A و نشو کړای چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د ۵۰۰ څخه د ۴۷۴ کانټينرونو او د ۲۳۰ ميليونو ډالرو ترميمي پرزو حساب ورکړي. CSTC-A د ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې افغان ځواکونو ته د ترميم پرزې اخيستې دي. هغه ټيم چې دا يې وښودل چې د ترميم پرزې ورکې دي، ووېل چې کېدای شي دا کار سبب شوی وي چې CSTC-A د نورو ترميمي پرزو د ۱۳۷ ميليون ډالرو په لګښت فرمايش ورکړی وي. ټيم يو راپور وړاندې کړ او دا سپارښتنه يې وکړه چې سيګار د CSTC-A د ترميمي پرزو د فرمايش او مديريتي کارونو تحقيق وکړي. راپور د ترميم پرزو په ټولو لوجيستيکي پړاونو کې پشمول د افغانستان ته د پرزو لېږل، په کابل کې د امريکا له خوا د پرزو تسليمې، د افغان امنيتي ځواکونو د قرارداديانو او فرعي قراردادیانو له خوا د پرزو ساتنه، او افغان ځواکونو ته د پرزو لېږلو ستونزې وپيژندلې. د سيګار تفتيش به (۱) دا ارزونه وکړي چې CSTC-A د ANSF لپاره د 9 درجې (Class IX) طريقې څخه د اړتياو، اخيستلو، اداره کولو، ساتلو او توزيع کولو لپاره کار اخلي، (۲) د ۹ درجې د پرزو د کورنې کنټرولونو ارزونه به وکړي چې آيا کافي دي او د تقلب، ضايعاتو او ناوړې ګټې اخيستنې مخه نيسي.

## روانې پلټنې

د سيګار اوه اضافي پلټنې د دريو مهمو بيا رغونې قراردادونو د امنيت، حکومتولی، او پراختيا په برخو کې پروګرامونو ارزونه کوي.

## د افغانستان ملي پوليسو لپاره د تخنيکي سامانونو د ترميم پروګرام (A-TEMP) نظارت او حفظ او مراقبت پروګرام

چې د A-TEMP تر لاندې د افغان ملي پوليسو ملاتړ وکړي، CSTC-A د موټرونو د خدماتو د اداري او د حکومت د PAE خدماتي شرکت سره د قراردادونو بسپنه ورکوي. دا پلټنه به په اصلي او هر فرعي قراردادي د حکومت په څارنې، د قراردادونو لګښت، د وسايطو لپاره د فالتو سامانونو او ترميم حساب ورکونه، او د کارونو حالت چې د وسايطو ترميم افغان ملي پوليسو ته وسپارل شي، کار وکړي.

## د پطرولي موادو، تيل او روغنياتو لپاره د افغان ملي اردو (ANA) وړتيا

امريکا د CSTC-A د لارې ملي اردو سره مرسته کوي تر څو خپلواکه او دوامداره لوجيستيکي وړتيا ولري. پدې ربع کې سيګار وموندل چې CSTC-A د تيلو د اړتيا لپاره مناسبه طريقه نلرله، چې په بنسټ يې د بسپنې اخيستلو وړانديز وکړي او د اخيستل شويو، رسيدلو او توزيع شويو تيلو اسناد يې بشپړ نه و. دفاع وزير ته د خبرتيا په يوه مکتوب کې ځانګړي عمومي مفتش جان اف ساپکو ويلي و چې CSTC-A و نشو کړای چې د ۴۷۵ ميليونو ډالرو د تيلو تاديات اسناد سيګار ته ورکړي او CSTC-A چارواکو ويلي چې دا اسنادونه له منځه وړل شوي دي. بشپړه پلټنه به په راتلونکو دريو مياشتو کې بشپړه شي.

### روانې پلټنې

- د ملي پوليسو لپاره د افغانستان د تخنيکي سامانونو د ساتنې پروګرام نظارت او لګښتونه (A-TEMP)
- د افغانستان د ملي اردو (ANA) د پطرولي موادو، تيلو، او روغنياتو لوجيستيکي وړتيا
- د نړيوال معاونت او پراختيا شرکت سره په سويل کې د USAID کرهنيزه پراختيايي پروژه
- د USAID د خپلو پراختيايي پروګرامونو لپاره پلان جوړوي
- په افغانستان کې د امريکا پر قراردادیانو چې د بيا رغونې کارونه تر سره کوي د افغانستان اسلامي جمهوريت تعرفې، ماليې او نور فيسونه وضع کړي
- د افغانستان د مخدره توکو پر ضد عملياتو لپاره هوايي ملاتړ
- د امريکا د حکومت هڅې تر څو د افغانستان بريښنا شرکت (DABS) سره مرسته وکړي او په يوه تجارتي انتفاعي شرکت يې بدل کړي

## د نړیوال معاونت او پراختیا شرکت سره د USAID سویلې سیمې کرنیزه پراختیایي پروژې ملګرتیا

USAID په سویل کې کرنیزې پراختیایي پروژې ته بسپنه ورکوي تر څو د سیمیزي بې ثباتی مخه ونیسي، په کرنه کې کار او ګټه ډېره کړي، او د دې سیمې سره مرسته وکړي، چې د یوې بې ثباته سیمې څخه یوې دوامدارې او سوکالې کرنیزې اقتصادي سیمې باندې بدله شي. د ۲۰۱۲ کال په فبروری کې، سیګار د USAID د تطبیق کونکي همکار د نړیوال معاونت او پراختیا شرکت (IRD) په اړه تورونه تر لاسه کړل چې IRD و نشو کړای په کافی اندازه د سیمیز حکومت او اردو مسولینو سره خپل کارونه همغږي کړي او بې دلیله یې په شمسي انرژی او د فارمونو په ترکترونو باندې فنډونه لګول. سیګار دا تفتیش کوي تر څو د شمسي انرژی او د فارم د ترکترونو د اخیستلو او توزیع دلیل معلوم کړي، او وګوري چې آیاد IRD لګښتونو د ستراتیژیکو همکاریو تړون د شرایطو سره او د پروګرام د مخو اطاعت کړی.

## USAID په افغانستان کې د خپلو پروګرامونو دوام لپاره پلان جوړوي

د امریکا په میلیاردونو ډالر به د افغان حکومت او یا دونرانو له خوا د ضایع کیدلو په خطر کې وي، که د امریکا له خوا تمویل شوي پراختیایي پروګرامونه دوام و نه مومي. USAID د ۲۰۱۱ په جون کې یوه لارښونه خپره کړه تر څو په افغانستان کې د کارونو د دوام پلانونه د مرستې د پروګرامونو له ډیزاین سره یو ځای کړي. تر دې وروسته کانګرس DoS ته دنده وسپارله چې د USAID په مشوره د بسپنو څخه د دې لارښونې پر بنسټ ګټه واخیستل شي. سیګار دا تفتیش کوي چې په افغانستان کې د USAID د پراختیایي پروګرامونو د ساتنې پلان جوړلو ارزونه وکړي.

## د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت له خوا د امریکا په قراردادیانو باندې چې په افغانستان کې د بیا رغونې په فعالیتونو

بوخت دي تعرفې، مالیې، او نور فیسونه وضع کړي، امریکا عموماً په قراردادیانو او د دوی په فرعي قراردادیانو تکیه کوي چې په افغانستان کې د امریکا بیا رغونې پروګرامونه تطبیق کړي. لکه څنګه چې راپور ورکړ شوی د افغانستان حکومت د امریکا په تمویل شویو پروګرامونو باندې تعرفې، مالیې او فیسونه وضع کړي. دا پلټنه به دا وګوري چې څرنګه فیسونه اخیستل شوي او آیا دا فیسونه د مناسبو نړیوالو تړونونو سره مطابقت لري. د دې پلټنې په یوه برخه کې به سیګار د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د ایتلاف د فعالیتونو کمیدل او د دې اغیزه به د افغانستان د حکومت په عملیاتي بودجې باندې هم وارزوي.

## د افغانستان د مخدره توکو د له منځه وړلو لپاره هوایي ملاتړ

سره له دې چې نړیواله ټولنه او افغان حکومت هڅې کوي چې د کوکنارو کرنه او د غیر قانوني مخدره موادو قاچاق کم کړي، افغانستان اوس هم د نړی ۹۰٪ تریاک تولید وي. د غیر قانوني مخدره موادو تجارت د یاغي توب ملاتړ هم کوي. د امریکا د مخدره موادو په وړاندې ستراتیژی هڅه کوي چې د مخنیوي د عملیاتو له لارې اورپکو ته د بسپنو لیږلو مخه

ونیسي. دا عملیات د امریکا په هوايي بسپنه تکیه کوي، تر څو د امریکا او افغان قانون پلي کونکو ملاتړ وشي. امریکا هڅه کوي چې د افغان ځانګړې ماموریت قطعې چې د هوايي مخنیوی قطعې په نوم هم پیژندل کیږي وړتیا زیاته کړي، او دا د مخدره موادو مخنیوي د عملیاتو دوام لپاره ډیر مهم دي. دا پلټنه به وګوري چې تر کومې کچې د امریکا مرسته قانون پلي کونکو ته د مخدره توکو د مخنیوي عملیاتو لپاره چټک هوايي ملاتړ تیاروي، او د مخنیوي قطعې لپاره د امریکا حکومت د ادارو پر خپلو مرستو باندې د نظارت ارزونه، او دا ارزونه چې د امریکا مرسته تر کومې کچې د مخدره توکو په وړاندې دوامداره هوايي ملاتړ ته وده ورکړې ده.

## د امریکا د حکومت هڅې تر څو د افغانستان د بریښنا شرکت (DABS) سره مرسته وکړي او په یوه انتفاعي شرکت یې بدل کړي

امریکا د هڅو ملاتړ کوي چې DABS د بریښنا ملي شرکت انتفاعي شي، تر څو وکولای شي د بریښنا په خپلو پښو ولاړه شبکه باندې بدله شي. د USAID له خوا تمویل شوې څو پروژې وتړل شوې او USAID پلان لري چې څو نوي قراردادونه وړاندې کړي، تر څو د بریښنا د خدماتو پراختیا ملاتړ ته دوام ورکړي. دا پلټنه به دا معلومه کړي چې تر کومې کچې امریکا پروګرامونه تمویل کړي چې د DABS انتفاعي کیدو سره مرسته وکړي او د دې هڅو د پایلو ارزونه به وکړي. پلټنه به دا ارزونه هم وکړي چې تر کومې کچې د متحده ایالتونو تطبیق کونکو ادارو خپلې هڅې همغږې کړې تر څو په خپلو پښو ولاړ DABS ته وده ورکړي.

## تفتیشونه

پدې ربع کې سیګار درې تفتیشونه بشپړ کړي او د دریو نویو تفتیشونو اعلان یې کړی. بشپړ شویو تفتیشونو د ملي اردو د کندز او ګمبیري په ګارنیزونونو او په وردګ کې د ملي پولیسو د روزنې په مرکز (NPTC) کې ساختماني ستونزې پیدا کړي. دا د متحده ایالتونو له خوا د زیر بنا تمویل او تطبیق شویو پروژو د تفتیشونو په کتار کې وروستنې څلور تفتیشونه و. په افغانستان کې د اردو د انجنیرانو د قول اردو د انجنیرانو د شمال حوزه (USACE-TAN) د امریکا د هڅو ملاتړ کوي چې افغان امنیتي ځواکونه په پښو ودروي. په څو مخکنیو عملیاتي پایګاو کې درې نوي تفتیشونه د کثافاتو د سوځولو فابریکې او د کابل په ولایت او شمالي ولایتونو کې غوره شوي تاسیساتو تفتیش کوي.

سیګار د دې کال په پیل کې خپل تفتیشونه پیل کړل ځکه چې پلټنو ساختماني او د اداري ستونزې پیژندلې وې، چې په تاسیساتو کې یې د امریکا پانګوونه د خطر سره مخامخ کړې. سیګار د ساختمان د کیفیت ارزونه کوي او دا ارزونه کوي چې د تاسیساتو څخه د اصلي موخو لپاره کار اخیستل کیږي او ساتل کیږي.

### بشپړ شوې تحقیقونه

- تفتیش ۳۱-۱: د کندز د ملي اردو ګارنیزیون: د اردو انجنیرانو قول اردو ډاین کور له ټولو قراردادي مکلفیتونو خلاص کړ سره له دې چې فعالیت یې ضعیف و په ودانی کې ساختماني ستونزې وې
- تفتیش ۳۱-۲: د ملي اردو د ګمبیري ګارنیزیون: په ساحه کې د هوارې او تاسیساتو د ساتنې ستونزې ساختمانونه له خطر سره مخ کړي
- تفتیش ۳۱-۳: د ملي پولیسو د روزنې مرکز د وردګ په ولایت کې: د قرارداد شرایط عموماً پر ځای شوي، مګر ستونزې او د معاینې کارونه باید سم شي



**د دې لپاره چې خاوره سمه** نه وه کلکه شوې مخکې تر دې چې د ANA لپاره په کندز کې د پامیر کمپ جوړ شي، د خاورې د کښیناستو له کبله ډیرې ساختماني ستونزې پیدا شوي، لکه دې ودانۍ ته. (د سیګار انځور)

## بشپړ شوي تفتیشونه

### تفتیش ۱-۱۳: د افغان امنیتي ځواکونو تاسیسات

**کندز کې د ملي اردو تاسیسات د اردو د انجنیرانو قول اردو ډاین کور د ټولو قراردادي مکلفیتونو څخه خلاص کړ سره له دې چې کارونه یې ضعیف و او ساختمانونو ستونزې درلودې.**

سیګار دا تفتیش پیل کړ چې په یوې پخوانۍ پلټنه کې یوه سپارښتنه تعقیب کړي چې د کندز په ګارنیزیون کې یې مهمې ساختماني ستونزې موندلې وې.[19] CSTC-A د ASFF د لارې د ۲۰۱۲ تر جون ۳۰ پورې ۷۲،۸ میلیونه ډالره USACE-TAN ته ورکړې چې ملي اردو لپاره په کندز ولایت کې د پامیر کمپ په نوم یو ګارنیزیون جوړ کړي. USACE-TAN بیا ډاین کور نړیوال شرکت ته دوه ساختماني قراردادونه ورکړل. دا تاسیسات د ۱،۸۰۰ پرسونل لپاره ډیزاین شوي و. مګر سیګار د ۲۰۱۰ اپریل په راپور کې راپور ورکړی چې د تاسیساتو ساحه اواره شوې نه و او تر ودانۍ لاندې خاوره کلکه شوې نه وه، او له دې کبله د پامیر کمپ تاسیساتو ساختماني ستونزې درلودې. د ۲۰۱۰ په جنوري کې سیګار څو ساختماني ستونزې ولیدلې او ویلیدل چې خاوره کښته شوې او دا چې ځمکه سمه هواره شوې نه وه، ودانۍ کښینستلې وه. که څه هم USACE-TAN او ډاین کور موافقه کړې وه چې د ودانۍ لاندې خاوره کیدای شي کښته شي، مګر دوی پر اصلاحي اقداماتو موافقه نه وه کړې. سیګار سپارښته کړې وه چې USACE-TAN دې د خاورې د ثبات ستونزې اصلاح کړي او وګوري چې ډاین کور باید کوم اصلاحي ګامونه واخلي چې ودانۍ بشپړه کړي.

#### موندنې

1. سیګار په ودانۍ کې نورې ستونزې، د ځمکې غلط هوارول او ژور سورې پیدا کړل.
2. لکه څنګه چې د ۲۰۱۰ د اپریل په سپارښته کې راغلي و USACE-TAN ونشو کړای چې د خاورې د نړېدو حالت اصلاح کړي. په ساختمان کې ستونزې او د ساحې غلط هوارول اوس هم مهمې اندیښنې دي.

د قراردادي په ضعیف فعالیت برسیره، USACE د ۲۰۱۱ په دسمبر کې په یوې پریکړې موافقه وکړه چې ډاین کور یې د ټولو مکلفیتونو څخه خلاص کړ چې ساختماني ستونزې یې باید اصلاح کړې وی. لکه څنګه چې یې د پریکړې سره موافقه کړې وه، USACE-TAN و نشو کړای چې د FAR 49.107(a) د احکامو اطاعت وکړي، چې د ۱۰۰،۰۰۰ ډالرو څخه ډیره پریکړه خپلواکه پلټنې او بیا کتنې ته اړتیا لري. د سیګار د ۲۰۱۰ د راپور په تعقیب، USACE-TAN قراردادیان اړ کړل چې د هغو تخنیکونو څخه کار واخلي تر څو د خاورې د نړیدو خطر اصلاح کړي. دې تخنیکونو اضافي لګښت ته اړتیا درلوده تر څو نړیدونکې خاوره را وباسي، د ساحې څخه یې لرې کړي او د لابراتوار د خوا تایید شوې خاوره یې پر ځای راوړي.

#### سپارښتنې

سیګار سپارښتنه کړې وه چې USACE-TAN دا ګامونه ترسره کړي:

1. په پامیر کمپ کې د ساختماني ستونزو د اصلاح لپاره د زیاتو لګښتونو توضیح ورکړي، چې د ASFF سره تمویلیږي تر څو وکتل شي چې نور ساختماني کارونو ته اړتیا شته او د امریکا حکومت لپاره مناسبه لګښت ولري.

2. د FAR 49.107(a) پر بنسټ د ډاین کور پریکړه دې د پلټنې یوه مناسب شرکت ته د ارزونې لپاره وړاندې شي. د هغې ارزونې په اساس، د پلټنې اداره باید لیکلي نظریات او سپارښتنې وړاندې کړي. پداسي حال کې چې پلټنې به په نورمال حالت کې قراردادي افسر د کاره لرې کړي، او لکه څنګه چې د پریکړې په اړه پوښتنه وه، سیگار بل وړاندیز وکړ چې د پلټنې پایلې او وړاندیزونه دې د USACE لوړ پوړي عمومي قوماندان له خوا وارزول شي.
3. تر څو مستند کړي چې په کوم دلیل ډاین کور د خپل قرارداد څخه خلاص شوی، سیگار سپارښتنه وکړه چې د USACE لوړ پوړی عمومي قوماندان دې توضیح ورکړي چې ولې پریکړه عادلانه او مناسبه وه.

**د ادارې تبصرې**

USACE-TAN د سیگار د سپارښتنې سره موافقه وکړه چې په پامیر کمپ کې د ودانۍ د ترمیم د اضافي لګښت توضیح به ورکوي، USACE-TAN دا موافقه هم وکړه چې د ډاین کور د پریکړې پلټنه به کوي. که څه هم د پریکړې اصلي کارکونکي نور په افغانستان کې نشته، USACE-TAN د دې پریکړې کلکه ارزونه پیل کړې ده او د ۲۰۱۲ د نومبر په ۹ به لیکلي پایلې وړاندې کړي.

## تفتیش ۲-۱۳: د افغان ملي امنیتي ځواکونو تاسیسات

**د ملي اردو ګمبیري کارنیزیون: د ساحې هوارول او د ودانۍ ترمیم ستونزې تاسیسات له خطر سره مخامخ کړي.**

سیگار دا تفتیش پیل کړ چې وګوري USACE-TAN د سیگار د ANA د ګمبیري ګارنیزیون د پخوانیو پلټنو د سپارښتنو په وړاندې کوم ګامونه اخیستي. CSTC-A د ملي اردو د ګمبیري د ګارنیزیون، چې د افغانستان په ختیځ سرحدي ولایت ننګرهار کې موقیعت لري د جوړولو لپاره USACE-TAN ته ۱۲۹،۸ میلونه ډالر ورکړي. د ۲۰۱۰ د اپریل په راپور کې سیگار د سیلاب د کنترولولو کارونو، د ساحې هوارول او د نړیدلو په حال کې د یو پل څو ستونزې موندلې دي. د بیلګې په توګه سیگار رپوټ ورکړی چې د تاسیساتو د ساحې ناسمه هوارول به د ودانۍ په شاوخوا کې اوبه ډیرې کړي، او که اصلاح نشي، نو کیدای شي له ډیر بارانه وروسته په سیلاب بدل شي. دې تفتیش غوښتل چې د USACE-TAN د ګامونو ارزونه وکړي چې د ANA په ګارنیزیون کې د ساحې هوارول او د تاسیساتو ساختماني ستونزې اصلاح کړي. سیگار یو پلچک تفتیش کړ چې تر ودانولو لاندې و تر څو د هغه بل پل ځای ونیسي چې د خرابیدو په حال کې و.

**موندنې**

1. سیگار وموندل چې که د ساحې د هوارولو ستونزې اصلاح نشي، د سیلاب لپاره نامناسبه لار به د ګارنیزیون تاسیسات د خطر سره مخامخ کړي. د ساحې ضعیف هوارول د دې سبب شو چې په ټیټو ځایونو کې اوبه راټولې شي، چې په ګارنیزیون کې یې سیلاب منځته راوړ ، سیلابي مواد راټول شول او د سیلابونو د اوبو لارې خرابې شوي.

2. سیګار د سیلاب خرابه شوې لار ولیدله او ویې لیدل چې د اوبو د تصفیې د فابریکې په شاوخوا اوبه ټولې شوې. د خاورې د له منځه تلو مقدار، فاضله مواد، او د سیلاب نښو دا وښودل چې USACE د دې ستونزو د اصلاح لپاره ډېر کم کار کړی دی او د ساحې هوارولو هڅې یې بې اغیزې وې.
3. د سیګار د پلچکونو د ډیزاین د اسنادو په ارزونه کې دا هم وموندل چې د پلچکونو د اوبو لارو ډیزاین کیدای شي ساختماني ستونزې ولري او پلچک خطرناکه کړي او یا ګڼه ورځخه وانخیستل شي.

**سپارښتنې**

د ګمبیري د ګارنیزیون د ساختمانې اطمینان لپاره، سیګار سپارښتنه کړې چې USACE دا ګامونه واخلي:

1. د سیلابونو د اوبو لارې دې ترمیم کړي تر څو د خرابیدونکو لارو ترمیم وشي او د سړکونو، ژورو ځایونو او د ټول ګارنیزیون د دیوالونو شاوخوا ځخه فاضله مواد لرې شي.
2. د سیلاب د کنترول د اصلاح لپاه کار وکړي، لکه د سړکونو په ټیټو ځایونو کې شګه اچول، چیرته چې سیلاب په منظم ډول راځي، تر څو د دې ځایونو ځخه اوبه ژر ووځي.
3. یو پروګرام دې جوړ او تعقیب کړي چې د سیلاب د لارو ساتنه وشي، ترځو د هغو ستونزو په وخت ترمیم وشي چې سیګار موندلي دي.
4. د ساختماني چارو بشپړ تحلیل دې وکړي او د پلچکونو ډیزاین بیا کتنه دې وکړي، او د پیژندل شویو ستونزو لپاره دې مناسب ګامونه واخلي.

**د ادارې تبصرې**

USACE-TAN د سیګار د دریو لمړنیو سپارښتنو سره موافقه کړې وه، مګر دا موافقه یې ونکړه چې ساختماني چارو بشپړ تحلیل او د پلچکونو ډیزاین بیا کتنه دې وکړي. -UACE TAN لیکلي و چې پروژه د ډیزاین په اساس د ۲۰۱۲ کال د جون میاشت په ۱۹ نیټه کې بشپړه شوې، او د ساختماني چارو اضافي تحلیل او بیا کتنې ته اړتیا نه شته.

## تفتیش ۳-۱۳ د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو تاسیسات

### د وردګ په ولایت کې د ملي پولیسو روزنیز مرکز: د قرار داد اړتیاوې عموماً پرځای شوي، مګر ځنې ستونزې او د ساتنې موضوع باید اصلاح شي

پدې دریو میاشتو کې سیګار د وردګ په ولایت کې د ۹۸،۱ میلیون ډالرو د ملي پولیسو روزنیز مرکز (NPTC) ساحوي تفتیش کړی، تر څو د ساختماني چارو د کیفیت، د تاسیساتو ځخه ګټه اخیستنه او ساتنې ارزونه وکړي. سیګار په NPTC او دریو ودانیو کې ساختمانې ستونزې پیدا کړي چې د جوړې شویو موخو لپاره ورځخه ګټه نه اخیستل کیدله.

USACE-TAN د تیکنالوجیستانو شرکت ته د یوه مشخص قیمت قرارداد ورکړ، چې د ۲۰۰۹ کال د جنوری په میاشت کې د NPTC لپاره نوي تاسیسات جوړ کړي. د دغو قراردادونو د دوه ساختماني برخو ارزښت ۹۸،۱ میلیونه ډالر و. په لومړنۍ برخه کې ډیزاین، مواد، کارکونکي، سامانونه د ودانیو د ودانولو لپاره، د انداخت ځایونه، پارکنګ، عامه خدمات، او نورې ساختمانې چارې د ملي پولیسو ۱۰۰۰ زده کونکو او ۵۰۰ ملاتړو کارکونکو

لپاره شامل و چې باید د ۲۰۱۰ کال په ۲۰ اپریل کې ترسره شي. په دویمه برخه کې د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشتې په ۳۱ کې د ۲۰۰۰ زده کونکو لپاره د ودانیو جوړول شامل و.

**موندنې**

1. که څه هم د ټولو ودانیو څخه د جوړې شویو موخو لپاره ګټه اخیستل کیدله او د ساختمان کیفت د قرارداد د غوښتنو سره عموماً برابر و، سیګار ځینې ساختماني ستونزې پیدا کړې. پدې کې د ډیزلو د ټانکونو د بریښنا د آرت کارونه سمه نه و، د وسایطو د ترمیم په ودانۍ کې د سلنسر د هوا کښ د پیپونو په شاوخوا کې بام څڅیده، او د دیوال په شاوخوا کې د سیلاب د اوبو د لارې یوه ځالی ورکه وه.
2. د ناسمې ساتنې کارونو له کبله خټه او ساختماني مواد د سیلاب د لارو په سیستم کې راټول شوي و، چې دا به د سیلاب او د موادو د راټولیدو سبب شي.
3. هغه ودانۍ چې د اطفایې لپاره جوړه شوې د اطفایې هیڅ وسایط پکې نه و. او د NPTC لپاره ګمارل شوي د اطفایې کاروکونکي یې هم نه درلودل. پردې برسیره هغه ودانۍ چې د مهماتو د ساتلو لپاره جوړه شوې وه د وسایطو د ساتلو لپاره او د یوه ګودام د یوې برخې څخه د طعام خانې لپاره ګټه اخیستل کیدله.

**سپارښتنې**

سیګار سپارښتنه کړې وه چې USACE-TAN دا ګامونه واخلي:

1. د ډیزل د بریښنا د آرت کیدو چارې دې د ډیزاین د اسنادو د مشخصاتو به اساس بیرته سمې کړي تر څو د احتمالي خطر د حالت مخه ونیول شي.
2. د وسایطو د ترمیم په ودانۍ کې د وسایطو د سلنسر د هوا کښ د پیپ شاوخوا کې د بام څڅیدنه ترمیم کړي.
3. د دیوال په شاوخوا کې د سیلاب د اوبو د لارې ورک شوې ځالی دې ترمیم کړي تر څو بې اجازې کسان د مرکز ساحې ته لار پیدا نکړي.
4. په منظم ډول د سیلاب د سیستم د لارو څخه خټه او مواد پاک کړي.

**د ادارې تبصرې**

USACE-TAN د سیګار هغې سپارښتنې سره موافقه نه وه کړې چې د ډیزل د ټانک د بریښنا د آرت نښلول دې بدل کړي. دوی وویل چې سیګار ته یې شواهد ورکړي دي چې د ډیزلو د ټانکونو د آرت کارونه د قرارداد د اړتیاو او مناسبو ساختماني ستندردونو په بنسټ بشپړ شوي و. دوی موافقه وکړه چې د بام څڅیدنه او د دیوال په شاوخوا کې ورکه شوې ځالی ترمیم کړي. دوی د هغه وړاندیز سره هم موافقه وکړه چې په منظمه ټوګه خټه او ساختماني مواد د سیلاب د لارو د سیستم څخه پاک کړي.

## نوي تفتیشونه

سیګار په ټول افغانستان کې د هغو ساختماني پروژو تفتیش کوي چې د امریکا د معاونت او بیا رغونې د بسپنو څخه تمویل شوي. پدې ربع کې یې درې نوي تفتیشونه پیل کړي. دوه د کابل په ولایت او شمالي ولایتونو کې غوره شوي تاسیسات دي. او دریمه په مخکنیو عملیاتي پایګاو کې د فاضله موادو د سوځولو فابریکې په اړه ده.

### نوي تفتیشونه

- په کابل کې تاسیسات
- په شمالي ولایتونو کې تاسیسات
- د سوځولو د فابریکې اړتیا او د ساختمان کیفیت

## په کابل او شمالي ولايتونو کې تاسيسات

د قراردادونو پخوانيو پلټنو ډېرې ساختماني ستونزې پيژندلي وې چې په افغانستان کې له ساختماني قراردادیانو څخه حساب نه و اخيستل شوی. د دې لپاره چې د تاسيساتو د جوړولو په برخه کې د متحده ايالتونو د ميلياردونو ډالرو د پانګوونې پوښښ ډېر شي، سيګار په کابل او شمالي ولايتونو کې د تاسيساتو تفتيش کوي. دا تفتيشونه به وګوري چې تاسيسات د مناسبو ساختماني ستندردونو پر بنسټ جوړ شوي، او د تاسيساتو څخه د جوړې شويو موخو لپاره ګټه اخيستل کيږي او په مناسبه توګه ساتل کيږي. دا تفتيشونه د ۲۰۱۲ کال په سپتمر او اکتوبر کې پيل شوي.

## د فاضله موادو د سوځولو فابريکې اړتياوې او ساختمانې کيفيت

سيګار د سوليرنو، شرنه، غزني او شنک په مخکنيو عملياتي پايګاو کې د فاضله موادو د سوځولو د فابريکو څو تفتيشونه پيل کوي. د هوا د کيفيت او د روغتيا د انديښنو په ځواب کې چې فاضله مواد په پرانيستې ساحه کې سوځول کيدل، کانګرس د افغانستان په مخکنيو عملياتي پايګاو کې په سلهاو ميليونه ډالر د سوځولو فابريکو لپاره تخصيص ورکړي. اداره به وګوري چې آيا: مخکې تر دې چې تسليمي واخيستل شي او وسپارل شي، د سوځولو د هرې فابريکې د جوړلو مخکې د اړتيا ارزونه شوې، د پايګاه اړتياوې او ظرفيت اندازه په پام کې نيول شوي، او ساختماني چارې د قرارداد پر بنسټ بشپړې شوي، او ساختماني ستونزې سمې شوي. د دې موندونو پر بنسټ، سيګار به نورې ساحې وپيژنې او وګورې.

## تحقيقونه

پدې ربع کې، د سيګار د تحقيقونو په پايلو کې، په متحده ايالتونو او افغانستان کې يو محکوميدل، څلور نيول، د DoD د قراردادیانو په وړاندې د فيدرال تورونه، او د امريکا د اردو د څلور اوسني پرسونل په وړاندې صورت دعوه شامل و. د سيګار کارکونکو تيل او نغدې پيسې چې ارزښت يې ۸۷،۰۰۰ ډالر و هم ونيول، او يو تحقيق يې تر سره کړ چې د امريکا د اردو سره يې مرسته وکړه تر څو هغه افغاني شرکت بند کړي چې د ملي اردو لپاره يې روغتيايې خدمات وړاندې کول او د امريکا حکومت ته يې ۱،۵ ميليونه ډالر وسپمول. سيګار سپارښتنه کړې چې ۶۰ مفسد قراردايان دې تعليق او بند شي.

## سيګار د تحقيقونو څو اړخيزې ستراتيژۍ لري

د ۲۰۰۹ څخه د سيګار د تحقيقونو پايله، ۲۹ نيونې، ۳۶ جرمي صورت دعوه او د فيدرال تورونه، ۲۲ محکوميدل، ۷ ميليونه ډالره جريمې او خسارې، او ۳۶ ميليونه ډالره بيرته لاس ته راوړل شوي، ۵۹ ميليونه ډالره سپمول شوي، او ۱۳۲ ميليونه ډالره د قرارداد پيسې خوندي شوي او بيرته د قرارداد پروسې ته ليرل شوي. د تحقيقونو رياست يوه فعاله تحقيقاتي ستراتيژي تعقيبوي، تر څو کارونه لاهم ښه کړي او په فعاله توګه تقلب او ناوړه ګټه پيدا کړي، او د امريکا په وړاندې د انفرادي اشخاصو او شرکتونو جرمي او مدني قضيې جوړې

کړي، او تر هغې اندازې چې کیدای شي د افغانستان قانون پلي کونکي د انفرادي اشخاصو او شرکتونو چې په بیا رغونه کې کار کوي ځواب ووایي.

سیګار ۲۱۵ خلاص تحقیقونه لري. (دا شکل وګورئ 2.2) تحقیق کونکي هره قضیه د جرم په اساس، دویم د احتمالي مدني اجراتو، او په پای کې اداري اصلاحاتو لکه تعلیق او بندیز په اساس ګوري. د سیګار ستراتیژی طریقه د افغانستان د چاپیریال ځانګړتیا په پام کې نیسي او دا کارونه تر سره کوي:

- تحقیق کونکي باید د یوه کال لپاره په افغانستان کې کار وکړي.
- د ټول هیواد په مهمو قراردادي مرکزونو کې تحقیق کونکي په دندو ګماري.
- د نورو تحقیقاتي ادارو او د فساد په وړاندې ډلو سره اړیکي نیسي.
- د افغان قانون پلي کونکو سره یو ځای کار کوي تر څو افغان اتباع او شرکتونه د امریکا د پیسو د ضایع کولو، تقلب او ناوړې ګټې په اړه ځواب ورکولو لپاره ونیسي.

## په افغانستان کې د سیګار تحقیقاتي شتون


د سیګار د تحقیقاتو ریاست ۵۷ کارکونکي لري، چې اصلاً خاص اجنټان دي، او د دې ربع په پای کې ۲۲ په افغانستان کې ځای په ځای شوي و. سیګار لکه د امریکا د نورو ادارو په بنه کار نکوي او په افغانستان کې تحقیق کونکي لږ تر لږه د یو کال لپاره په دنده ګماري. د سیګار د ځانګړو ایجنټانو ډیری تر اوسه پورې په هیواد کې دوه کاله کار کوي او ځینې یې په دریم کال کې دي. مګر په افغانستان کې د قانون پلي کولو نورې اداري لپاره کورني ایجنټان د لنډ وخت لپاره په کابل کې د ۹۰-۱۲۰ ورځو لپاره کار کوي. په مهمو ځایونو کې د اوږدې مودې لپاره کار کول سیګار ته دا وړتیا ورکوي چې د قرارداد په چاپیریال ښه پوه شي، سرچینې او مخبران استخدام کړي، او د امریکا حکومت له ادارو او د افغانستان د لوی څارنوال دفتر سره مهمې اړیکې ټینګې کړي.

## سیګار د تحقیقونو لپاره له ډلیزې طریقې څخه کار اخلي

سیګار د تحقیقونو لپاره د امریکا د "عملیاتي ځواک" د ماډل څخه کار اخلي چې لوی څارنوال جنرال رابرټ اف کینیډي ور څخه د تنظیم شویو جرایمو په وړاندې د ۱۹۶۰ په لسیزې کې کار اخیستی و. د عملیاتي ځواک طریقه سیګار، د قانون پلي کونکي ملګرې اداري، او څارنوالان سره یو ځای کوي تر څو د ټولو تخصصي تحقیقاتي او عدلي مهارتونه سره همغږې شي. دا سیستم د هرې برخه اخیستونکې اداري مهارتونه ډیروي او د قانوني واک ډیرې ستونزې له منځه وړي. د عملیاتي ځواک طریقه چې د څارنوالانو یوه کوچنۍ تخصصي ډله او مجرب تحقیق کونکي یوبل سره نږدې کار کوي، د بیا رغونې د تقلب په وړاندې یوه منل شوې ډیره اغیزناکه تحقیقاتي طریقه ده.

شکل ۲.۲

**د سیګار تحقیقات: د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې د پرانیستو تحقیقاتو شمیر**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 10/11/2012.

سيګار او د قانون پلي کولو نورې اوه ادارې په افغانستان کې د نړيوالو قراردادونو په وړاندې د مبارزې د عملياتي ځواک (ICCTF) د لارې همغږې کوي. په ICCTF کې نورې ادارې د فيدرال تحقيقاتي اداره (FBI) د USAID عمومي مفتش، DoS، او DoD، او د اردو د جرايمو قوماندانې (CID)، د بهري ځواکونو تحقيقاتي خدمات (NCIS)، د دفاع دجرايمو تحقيقاتي خدمات (DCIS)، او د متحده ايالتونو د هوايي ځواکونو د ځانګړو تحقيقاتو دفتر (USAF-OSI) شامل دي. ICCTF په قضيو باندې يو ځای کار کوي تر څو سرچينې و سپموي. سيګار په افغانستان کې تر ټولو نورو ادارو ډير تحقيق کونکې په دنده ګمارلي دي.

په افغانستان کې د قضيو جوړول يوواځې د کار لومړی ګام دی تر څو انفرادي اشخاص او شرکتونه چې په تقلب يا فساد تورن وي عدالت ته راوستل شي. دوی بايد په برياليتوب سره تر عدلي تعقيب لاندې ونيول شي. سيګار درې ځانګړي څارنوالان په دنده ګمارلي دي، د سيګار څارنوالان يا SIG-PROs چې دوی د سيګار د کارکونکو په توګه د عدلي وزارت د تقلب د څانګې سره کار کوي. د SIG-PRO نوښت د عملياتي ځواک د طريقې اصلي عنصر دی. دا د سيګار څارنوالانو ته اجازه ورکوي چې نږدې د سيګار په ټولو تحقيقاتو کې برخه واخلي، که دا د کولمبيا په سيمه کې د عدلي وزارت په مرکز کې وي، يا د متحده ايالتونو په سيميزه واکمنې کې وي. د SIG-PRO له لارې، سيګار اوس په ۱۰ عدلي حوزو او د کولمبيا په حوزه کې عدلي قضيې تعقيبوي.

## افغان قانون پلي کونکو ادارو سره کار کوي چې افغانانو څخه حساب واخلي

د سيګار تحقيق کونکي په افغانستان کې د ننګونو سره مخ دي. د "لومړی افغان" تر پاليسۍ لاندې، امريکا مکلفيت لري چې د افغان قرارداديانو څخه په هر ځای کې چې کيدای شي کار واخيستل شي مګر که داسې قضيه پيدا شي چې د دې قراردادیانو خيانت ثابت کړي، امريکا په دوی باندې قانوني صلاحيت نلري. د افغان فساد پر وړاندې مبارزې لپاره، سيګار يوه ستراتيژي جوړه کړې تر څو په هر ځای کې چې کيدای شي د افغان قانون پلي کونکو ادارو سره ملګرتيا وکړي. سيګار دا مني چې د مفسدو افغان قانون پلي کونکو سره کار کول احتمالي خطر لري، مګر باور لري چې داسې ملګرتيا ښه لار ده چې د هغو افغانانو څخه حساب واخلي چې د امريکا له خوا په تمويل شويو بيا رغوني قراردادونو کې تقلب کوي، او دا چې د امريکايي اشخاصو او شرکتونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې په رشوت او فساد کې لاس لري.

پدې ربع کې، سيګار په کابل کې د يوه افغان شرکت په اړه تحقيقات پيل کړي چې د امريکا د اردو کارکونکو ته يې رشوت وړاندې کړی تر څو قرارداد ورته ورکړ شي. د ICCTF يوه خفيه اجنټ د دوو افغان سوداګرو سره وليدل، دوی دې اجنټ ته ۵۰۰۰ ډالره نغدې پيسې ورکړې تر څو قراردادونه خپل شرکت ته راوګرځوي. سيګار او په افغانستان کې د لوی څارنوال دفتر يو ځای د دغې قضيې تحقيق وکړ. افغان چارواکوو دغه دوه سوداګران هغه وخت ونيول کله چې دوی نغدې پيسې وسپارلې. سيګار د ډيرو رشوتونو، تقلب او فساد لپاره څو نښې تعقيبوي، چې د امريکا کارکونکي او د امريکا له خوا تمويل شوي قراردادونه پکې برخه لري. د تحقيق کونکو د اوږد کار او د افغانستان په ډيرو ځايونو کې شتون اصلي علت دی، چې سيګار د رشوت او فساد

په برخو کې د امریکا د ډیرو نورو قانون پلي کونکو ایجنسیو څخه د افغان قانون پلي کونکو او د لوی څارنوال دفتر سره په کار کولو کې بریالی و.

## خرابو قراردادیانو ته د قرارداد ورکولو مخه نیول

په فیدرال حکومت کې سیګار د تعلیق او بندیز لپاره یوه فعاله او اغیز ناکه پروګرام جوړ کړی تر څو په افغانستان کی د مفسدو او هغو قراردادیانو چې سم کار نه کوي مخه ونیسي. تر څو قرارداد تر لاسه نکړي. سیګار پروګرام د ۲۰۶ انفرادي کسانو او شرکتونو د تعلیقونو او بندیزونو سپارښتنه کړې ده. سیګار د سوداګرۍ وزارت او د امریکا د ۲۰۱۰ کال د اردو عملیاتي څواک سره نږدې کار کوي،تر څو د هغو انفرادي کسانو او شرکتونو تعلیقونو او بندیزونو تعقیب او ملاتړ وکړي، چې په افغانستان کې د یاغیانو او نورو غیر قانوني ډلو په مرسته او ملاتړ تورن دي. سیګار د ۴۳ انفرادي کسانو د تعلیق او بندیز سپارښتنه کړی، چې افغان یاغیانو سره یې اړیکې درلودې، تر څو دا کسان په سویل لویدیځه آسیا کې د امریکا د بیا رغونې د پانګونې څخه ګټه وانخلي. اداره د خپلواکه صلاحیت په لټه کې ده، ترڅو قراردادیان تعلیق او بند کړي. د لا ډیرو معلوماتو لپاره دا پاڼې وګورئ 23–24.

## عامه پروګرامونه

د دوامدارو هڅو یوه برخه چې ضایعات، تقلب او ناوړه ګټه اخیستنه پیدا شي او مخه یې ونیول شي، سیګار په ټول افغانستان کې بیلابیل عامه او روزنیز فعالیتونه ترسره کوي. تحقیق کونکي د امریکا د اردو او ملکي چارواکو سره چې د امریکا لخوا د بیارغونې تمویل شوي قراردادونو وړاندې کولو مسولیت او نظارت لري، په ټول افغانستان کې د تقلب په اړه عامو خلکو ته معلومات وړاندې کوي. سیګار د ټیلفون خپله عمومي شمیره اعلانوي، چې د سیګار په ویب پاڼه کې په انګلیسي، دري او پښتو ښکاره لیکل شوې، ترڅو هغه کسان چې غواړي د تقلب په اړه معلومات وړاندي کړي، د راپور ورکولو لپاره یوځای ولري.

## تحقیقي پایلې

د راپور ورکولو پدې ربع کې، د سیګار تحقیقونو پایلې په امریکا او افغانستان کې څلور نیول، د فیدرال درې تورونه او یو عدلي حکم د امریکا په اردو کې د څلور اوسنیو او پخوانیو کارکونکو په وړاندې، د DoD د یوه قراردادي په وړاندې د فیدرال تور او د متحده ایالتونو د اردو یو پخوانې سرپرک مشر یې په بند محکوم کړ. د سیګار اجنټانو تیل او نغدې پیسې چې ارزښت یې ۸۷،۰۰۰ ډالره و ونیول. دوې دا مرسته هم وکړه چې د یوه افغاني شرکت قرارداد ختم کړي چې د ملي اردو لپاره یې د روغتیایې خدماتو ملاتړ کاوه، او د امریکا حکومت ته یې ۱،۵ میلیونه ډالر وسپمول. سیګار یو تحقیقاتي راپور هم خپور کړ تر څو د DoS او USAID سره مرسته وکړي چې د هغو انفرادي اشخاصو او شرکتونو سره قرارداد ونکړي چې په افغانستان کې د بغاوت کونکو ملاتړ کوي. پدې دریو میاشتو کې سیګار ۵۵ نوې تحقیقاتي قضیې پیل کړي او ۲۸ یې وتړلې، د خلاصو قضیو شمیره ۲۱۵ ته ورسیده. د دغو څخه، سیګار د ۱۶۶ قضیو مشره تحقیقاتي اداره ده. په راتلونکې ربع کې سیګار پلان لري چې دولس هغه قضیې چې په افغانستان کې پیل شوي، خپلو اجنټانو ته په متحده ایالتونو کې وړاندې کړي،

ترڅو په واشنګټن ډي سي او د امریکا په نورو حوزو کې د SIG-PRO له خوا صورت دعوه ورته جوړه شي.

## د بیا رغونې ۱،۵ میلیونه ډالر وسپمیدل

د ۱،۷۵ میلیون ډالرو د کلنیکو د انجنیرۍ ملاتړ پروګرام قرارداد چې د ملي اردو روغتیایي خدماتو سره یې مرسته کوله د سیګار د تحقیقونو وروسته د ناسم فعالیت له کبله فسخه شو. د فسخه کېدلو پایلې د امریکا حکومت ته ۱،۵ میلیونه ډالر وسپمول. د افغانستان شاهي لومړي لوجیستیک (ARFL) قرارداد کړی و ترڅو د ملي اردو لپاره بایو میډیکل (biomedical) سامانونه نصب، میزان او تصدیق کړي. په سامانونو کې د بې هوښۍ ماشینونه، د ایکس ری ماشینونه، هوا کښ، د زړه د شوک ماشین، او د EKG/ECG ماشینونه شامل و. قراردادي باید سامانونه منظم محال ویش سره معاینه کړي او ترمیم کړي وای. د سیګار پخوانیو تحقیقاتو مستند کړي و چې د ملي ارد د روغتون سامانونه ډیری وخت نه و معاینه شوي. پدې دلیل سیګار د اردو قراردادي دفترونو او د اردو روغتیایي خدماتو قول اردو سره له نږدې کار وکړ تر څو د پیل څخه د نوي قرارداد د فعالیت نظارت وکړي. سیګار د شرکت د قرارداد وړاندیز او ډېر نور اسناد بیا وکتل. دغه اداري دا پریکړه وکړه چې ARFL د اړتیا وړ تخنیکي تخصص نه درلود تر څو د قرارداد شرایط بشپړ کړي. سیګار اطمینان وکړ چې قراردادي افسران د ARFL له ستونزو خبر و. دې شرکت ونشو کړای چې د اړتیا وړ کارونه سرته ورسوي او ویې نشو کړای چې د قرارداد ټاکل شوي خدمات ترسره کړي. د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۱۹ د کار د بندولو حکم ورکړ شو. د ۲۰۱۲ کال د اګسټ په ۲ قرارداد تعدیل شو تر څو د ۱۱ میاشتو بسپنه د مکلفیت څخه خلاص کړي او پدې دلیل د متحده ایالتونو حکومت ته ۱،۵ میلیونه ډالر وسپمول شول.

## د امریکا د اردو سرپرک مشر باندې د ۱ ملیون ډالرو تور ولګول شو

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۱ د متحده آیالاتو د اردو سر پرک مشر باندې د شمالي کارولینا په ختیځه حوزه کې تور ولګول شو چې غوښتل یې نږدې ۱ میلیون ډالر نغدې پیسې د افغانستان څخه امریکا ته قاچاق کړي. نغدې پیسې په DVD ریکاردر کې پټې کړای شوې وې. په ۲۰۱۰ کې سیګار تحقیق پیل کړ چې پایله یې د سرپرک مشر تونیا لانګ کیبو نیول و، او دی وروسته له دې ونیول شو کله چې معلومات تر لاسه شول چې د امریکا حکومت افغان ترانسپورتي شرکتونو ته د سامانونو د ترانسپورت کولو پیسي ورکولې، مګر دا سامانونه هیڅ نه و راوړل شوي. کیبو په ۲۰۰۸ کال کې د کندهار په هوایي ډګر کې د ترانسپورت د اداري د همغږې کونکي په دنده د XVII هوایي قول اردو د ۱۸۹ د محاربې د دوام کنډک سره وګمارل شو. د دې کار د ترانسپورتي وسایطو د هڅو همغږي کول او د متحده ایالتونو اردو ته خدمات و. کیبو توطیه جوړه کړې وه تر څو ترانسپورتي حرکتونو وړاندیزونه جعلي کړي چې له دې کبله دوو افغان ترانسپورتي شرکتونو ته اضافي پیسې ورکړ شوې وې. او د دې په وړاندې دوو ترانسپورتي شرکتونو الزاماً کیبو او نورو ته چې د دې سره یې کار کاوه رشوت ورکړی. سرپرک مشر، چا چې د ګمرک د مفتش دنده هم پر مخ وړه، نږدې ۱ میلیون نغد ډالر یې د DVD په څو ریکاردرونو کې پټ کړي و چې بیرته یې امریکا ته ولیږي. په

کیبو باندې تور ولګول شو چې د نورو سره یې مرسته کوله تر څو غیر قانوني پیسې ولیږي او پیسې پټې کړي.

## امریکایي سر پرک مشر د ۱۰۰،۰۰۰ ډالرو په غلا او قاچاقولو جرم اقرار وکړ

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۱، امریکایي سرپرک مشر د شمالي کارولینا په ختیځه حوزه کې د امریکا د حکومت بسپنې په غلا او د نغدو پیسو د قاچاق په جرم اقرار وکړ. سیګار د CID، FBI، DCIS او ICCTF سره یو ځای د ICCTF تحقیق پیل کړ چې پایله یې د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۹ د پرک مشرې نانسي نیکول سمیت نیول و. پرک مشره سمیت د افغانستان په بګرام کې د ۲۳۰ مالي اداري شرکت د توزیع اجنټ وه، چې یواځې دې په خپل دفتر کې د بسپنو سیف ته اجازه درلوده. د ۲۰۱۰ کال د مي په میاشت کې د اردو یوې منظمې پلټنې وښودله چې هغې اسنادونو ته بدلون ورکړی تر څو ۴۰،۰۰۰ ډالره پټ یا غلا کړي. تحقیق کونکي بیا وروسته پوه شول چې سمیت یو بل سند بدل کړی تر څو ۶۰،۰۰۰ نور ډالر غلا کړي، چې ټولټال یې ۱۰۰،۰۰۰ د امریکې حکومت ته تاوان رسولی دی. هغې سیګار اجنټانو ته اعتراف کړی چې د سیف څخه یې بې له مناسبې اجازې پیسې اخیستې، پیسې یې د شا په بکس کې اېښې، او د ۲۰۱۰ کال د فبروری په ۱۵ د خپل بهرني کار په پای کې یې امریکا ته وړي.

## د ۲۰۱۲ کال د سپټبر په ۲۷ د امریکا د اردو پخوانی سر پرک مشر د رشوت د توطیې په

جوړلو بندي شو، د اردو پخوانی سر پرک مشر د ویرجنیا په ختیځه حوزه کې چې په افغانستان کې یې پخپله د رشوت توطېه جوړه کړې وه بندي شو. سیګار د سر پرک مشر فرنز رابینسون تحقیق کړی و، هغه چا چې د ۲۰۱۲ کال د فبروري په میاشت کې د ملي اردو د تاسیساتو د مدیر په توګه وګمارل شو. د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت کې له څو افغان ساختماني شرکتونو څخه د ۶۰،۰۰۰ ډالرو رشوت غوښتنه کړې وه، تر څو د تاسیساتو د جوړلو لپاره د امریکا د حکومت د درنو ماشینونو څخه نامناسبه ګټه واخلي. ده د ډمپ ټرک، ایکسکواتور، فورک لیفت، ګریدر او دوو ډولونو ویرونه د ګټې اخیستنې لپاره د ۳۰،۰۰۰ ډالرو لومړنی تادیې غوښتنه وکړه. هغه هدایت ورکړی و چې د ده په استازیتوب دې پیسي د ده ژباونکي ته ورکړ شي. رابینسون بیا وروسته ومنل چې د ژباړونکي څخه یې پیسې تر لاسه کړې وې، اما په افغانستان کې تحقیق کونکو و نشو کړای چې پیسې بیرته لاسته راوړي. د ۲۰۱۱ کال د جولای په میاشت کې رابینسون د FBI د اجنټانو له خوا هغه وخت ونیول شو کله چې هغه له افغانستان څخه امریکا ته راغی. هغه بیا وروسته په خپل جرم اقرار وکړ چې هغه د امریکا په اردو کې افسر و او د بل چا د پیسو څخه یې بې اجازه ګټه اخیستې. هغه د دریو کلونو لپاره بندي شو او ورته وویل شول چې د تاوان لپاره ۳۰،۰۰۰ ډالره ورکړي.

## د امریکا قراردادي باندې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۸

د رشوت تور ولګول شو چې د افغان قراردادیانو سره یې توطیه جوړه کړې وه تر څو د امریکا حکومت څخه د فانتوم ترانسپورتي شرکت ته پیسې واخلي. سیګار د دیانا مونتیس تحقیق کړی و، هغه د کیلاګ، براون او روت له خوا د ۲۰۰۸ کال په دسمبر کې په دنده

ګمارل شوې وه. دا شرکت د امریکا له خوا اجاره شوی و تر څو د افغان ترانسپورټي شرکتونو سره د اردو د حرکاتو کنترول قرارداد سره مرسته وکړي، چې د امریکا سامانونه او مواد ټول افغانستان ته ورسوي. تر تاسیس شوي سیستم لاندې، هر وخت چې یوه ترانسپورټي شرکت سفر کړی، د ترانسپورټ کولو د حرکت غوښتنې فورمه (TMR) یې ډکه کړې. مونتیس دنده لرله چې له قراردادیانو څخه TMRs راټول کړي او د خدماتو په وړاندې پیسې د قراردادي د بیل د پیسو توپیرونه سره همغږي کړي. وروسته له دې چې هغې TMRs تایید کول، بیا به د امریکا قراردادي کارکونکو ته د تادیاتو لپاره ورکړل کېدل. د ۲۰۰۸ کال په می کې مونتیس هغه TMRs د تادیاتو لپاره لیږل او پوهیده چې غلط و. د دې په وړاندې هغې ترانسپورټي شرکت څخه نږدې ۵۰،۰۰۰ ډالره او د بانک له لارې پیسې واخیستلې.

## د امریکا پرک مشر د ۲۰۱۲ کال په جولای کې د توطیې او غلا په تور ونیول شو،

د امریکا لومړی پرک مشر د سیګار له ابتکار څخه وروسته ونیول شو، سیګار په افغانستان کې میشتو پرسونلو د پوستې د پیسو فرمایش بیا کتنه او تحلیل وکړ، و یې موندل چې ده او یوه بل سرتیري د پیسو په مشکوکه معامله کې لاس درلود. لومړی پرک مشر موریسیو ایسپینوزا او پرک مشر فیلیپ ستیفن ووتن په شمالي کارولینا کې د ۷ ځانګړو ځواکونو ډله چې په فورټ برګ کې پایګاه لري، په دنده ګمارل شوي و، او پر دوی تور دی چې دوی د امریکا د بیا رغونې د هڅو د بسپنې څخه ۲۲۵،۰۰۰ ډالره غلا کړي. د ده د صورت دعوه پر بنسټ، ایسپینوزا په افغانستان کې د تادیاتو اجنټ دنده لرله، او ووتن د کورنیو قراردادیانو د قرارداد مسولیت درلود. د ۲۰۰۹ کال له جولای څخه د ۲۰۱۰ کال تر اپریل پورې، دواړو توطیه جوړه کړې وه چې د افغان قراردادیانو لپاره بسپنې غلا کړي او د تادیاتو بیلونه یې بدل کړي و تر څو خپله کړنه پټه کړي. په ځینو بیلګو کې، دوی د ملکي کارونو پروژو داوطلبی زیاتې کړې وې چې مالي دفتر ته د تایید لپاره وړاندې شوي و. کله چې داوطلبی تایید شوې وې، ایسپینوزا او ووتن قراردادیانو ته د تایید شویو پیسو څخه لږې پیسې ورکولې او پاتې به یې په خپلو جیبونو کې اچولې. وروسته بیا دوی پیسې په امریکایي ډالرو بدلې کړې او یو څه یې د پوستې د پیسو فرمایش له لارې بیرته امریکا ته لیږلې. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۱۳ ووتن د حکومت د ملکیت د دوه توطیعو او غلا په تور اعتراف وکړ. د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۲۰ ایسپینوزا د ورته خطا په تور ونیول شو.

## دوه افغان قراردادیان په رشوت ورکولو ونیول شول.

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۳، د سیګار اجنټانو د ICCTF له غړو ادارو او د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره په کابل کې دوه افغان قراردادیان هغه وخت ونیول چې دوی غوښتل USACE قراردادي افسر ته رشوت ورکړي. وحیدالله متون او نویدالله متون هغه وخت ونیول شول کله چې دوی ۵،۰۰۰ ډالر نغدې پیسې یې د USACE قراردادي افسر په بڼه سیګار خفیه اجنټ ته ورکولې. شکمنو د ایمیل له لارې USACE کارکونکو ته د قراردادونو په وړاندې د رشوتونو وړاندیز کړی و. دوی وویل چې دوی د نوید بصیر د ساختماني شرکت استازیتوب کاوه. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د سیګار له اجنټانو سره پدې قضیې باندې یو ځای کار کړی و، او دا له سیمیزو قانون پلي کونکو سره د سیګار د ملګرتیا نښه ده.



**يوه امريکايي** پرک مشر هڅه کړې وه تر څو ۲۳،۰۰۰ ډالره د کوچنيانو د لوبې په يوه ييګه کې قاچاق کړي. (د امريکا د اردو CID، کابل عکس)

## د يوه ماهره قاچاق تخنيک مخه ونيول شوه

د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۲ سيګار اجنټانو او د ICCTF نورو غړو د تيلو د غلا تحقيق کاوه،۲۳،۰۰۰ ډالر يې چې د کوچنيانو د لوبې په ييګه کې ګنډلی شوي و ونيول. يوه پرک مشر د امريکا د اردو د ۷ ځانګړې ځواکونو له ډلې سره په کندهار کې پلان درلود چې له پيسو ډکه ييګه د پوست له لارې امريکا ته وليږي. پرک مشر ادعا کوله چې هغه پيسې بيرته ليږي چې په افغانستان کې د غاليو د اخيستلو لپاره ورته ورکړل شوې وې، مګر د دې توضيح يې نشوه ورکولای چې ولې يې په ييګه کې پټې کړې وې. د ۲۰۱۲ کال په جون کې پرک مشر امريکا ته وليږل شو، سيګار د بسپنو د سرچينې تحقيق کوي.

## له دښمن سره قرارداد کول


د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۱۷ سيګار د امريکا د اردو او سياسي لوړپوړو چارواکو پشمول د بهرنيو چارو وزيره، هيلاري کلينټن او د USAID مدير راجيو شاه ته وليکل، تر څو خبر شي چې هغو ۲۰ قرارداديانو ته قراردادونه، نغدې پيسې او يا د همکاری قراردادونه ورنکړي چې په افغانستان کې د ياغيانو ملاتړ کوي. سيګار ليکلي و چې د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۲۴ او د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر د ۱۷ په مکتوب کې د CENTCOM قوماندان جنرال جيمز اين متيس، DoD چارواکو ته مشوره ورکړې وه چې د ۲۰۱۲ مالي کال د ملي دفاع د صلاحيت د قانون د ۸۴۱ برخې په بنسټ د هغو ۲۰ انفرادي قراردادیانو او شرکتونو سره قرارداد ونکړي چې په "فعاله توګه" د بغاوت ملاتړ کوي. پداسې حال کې چې DoS، USAID، او DoD، له زياتو ورته قراردادیانو سره کار کوي، مګر دوی ته دا لست نه و ليږل شوی. سيګار ګامونه پورته کړي تر څو په ټول حکومت کې د ۲۰ قراردادیانو او شرکتونو بنديز پيل کړي، مګر تر څو چې اداره د عملي ګام په تمه وه، هڅه يې وکړه تر څو نورې ادارې له خطر څخه خبر کړي. سيګار سپارښتنه کړې چې په افغانستان کې د امريکا سفير او په کابل کې د USAID ريس، بيړني ګامونه پورته کړي ترڅو خپلو ټول قراردادي افسرانو ته د جنرال متيس مکتوب توزيع کړي. سيګار دا وړانديز هم کړی چې CENTCM دې د ۸۴۱ برخې تر حکم لاندې يوه پروسه جوړه کړي تر څو خپل ټول ملکي او اردو مشران، او په افغانستان کې قراردادي افسران له نويو موندنو خبر کړي.

## سيګار په فعاله توګه مفسد قراردادیان تعليق او بنديز ته راجع کوي

پدې ربع کې، د سيګار تعليق او بنديز پروګرام ۶۰ انفرادي کسان او شرکتونه تعليق او بنديز ته راجع کړل، چې ټولټال ۲۰۶ تعليقونه او بنديزونه کيږي، ۱۰۱ انفرادي کسان او ۱۰۵ شرکتونه دي. (دا شکل وګورى 2.3) پدې کې ۴۳ هغه انفرادي کسان او شرکتونه دي چې د تروريستي ډلو په ملاتړ پيژندل شوي دي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په پای کې، د سيګار راجع کولو پايله ټولټال ۴۱ تعليقونه، ۸۵ د بنديزونو لپاره وړانديزونه، او ۴۶ د انفرادي کسانو او شرکتونو نهايي بنديزونه و چې د امريکا بيارغونې په پروژه کې يې کار کاوه.

انځور ۲.۳

**د سیګار تحقیقات: د ځنډولو او ګوښه کولو لپاره ټولې شوې مراجعې**
**د 2011 مالي کال 2یمه ربع- د 2012 مالي کال 4مه ربع**




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست، 10/8/2012.

تعلیقونه او بندیزونه د امریکا د ادارو له خوا عملي ګامونه دي تر څو شرکتونه او انفرادي کسان د فیدرال له قراردادونو او مرستو څخه د غلطو کارونو له کبله وباسي. سیګار د بشپړو تحقیقونو پر بنسټ تطبیق کونکو ادارو ته اشخاص او شرکتونه راجع کوي. سیګار پر دغو ایجنسیو تکیه کوي تر څو نهایی پریکړه وکړي او انفرادي کسان او شرکتونه تعلیق یا بند کړي.

لکه څنګه چې ځانګړي عمومي مفتش جان اف ساپکو د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په میاشت کې کانګرس ته شهادت ورکړی، سیګار د تعلیق او بندیز لپاره خپلواک صلاحیت غواړي، پدې دلیل چې د راجع کیدلو او نهایي پریکړو تر منځ ډیر وخت ضایع کیږي. (د لا ډیرو معلوماتو لپاره دا پاڼې وګورئ 23–24) د سیګار ارزونې موندل چې د سیګار د قضیې له راجع کولو او تر هغه وخته چې تطبیق کونکې ادارې نهایي پریکړه کوي عموماً ۳۲۳ ورځې نیسي. یوواځی د قضیو ارزونه وخت ته اړتیا لري: د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۴، سیګار ۱۹ قضیې تعلیق ته، او ۵۵ قضیې بندیز ته راجع کړې وې او د اردو د ادارې د عملي ګام په انتظار و. ټولې قضیې د ۳۰ ورځو څخه ډیر د ارزونې په تمه وې. درې قضیې د ۹۰ ورځو څخه ډیر د عملي ګام په تمه وې. د سیګار له خوا د ۲۹ نورو اضافي قضیو راجع کولو د USAID د بندیز لپاره د عملي ګامونو تمه کوله. ټولې قضیې له ۹۰ ورځو څخه ډیر د ارزونې په تمه وې.

## د سیګار پروګرام د افغان ځانګړي قراردادي چاپيريال په نښه کوي

د سیګار تعلیق او بندیز پروګرام په افغانستان کې د امریکا د پالیسی او بیړني قراردادي چاپیریال د ننګونو ځواب ورکوي: د چټکو عملي ګامونو اړتیا، پر افغان وګړو او شرکتونو د امریکا محدود قانوني صلاحیت، او د مختلفو فرعي قراردادیانو د ارزونې ننګونې دي. سیګار هڅه کوي چې هغه لارې پیدا کړي تر څو د دغو ننګونو پر وړاندې د امریکا حکومت ځوابونو ته په افغانستان او امریکا کې د تحقیقاتي موادو او د اطلاعاتو د سرچینو څخه په نوې توګه ګټه اخیستلو ته وده ورکړي.

(دا لست وګورئ 2.1) پخوا د تعلیق او بندیز افسرانو داسې راجع کول نشو کولای، څکه دوی به مجبوره کړای شوي و چې په محرمو اسنادو تکیه وکړي. مګر اوس چې د امریکا د افغانستان ځواکونو عملیاتي ځواک ۲۰۱۰ او د سوداګرۍ وزارت د صنعت او امنیت اداره کولای شي، چې د سیګار د موندنو غیر محرم اسناد له بغاوت کونکو سره د ملاتړ د عزم په اړه د ۲۰۱۲ کال د کورنۍ دفاع د صلاحیت د قانون او د سوداګرۍ وزارت د افرادو لست تر لاندې خپور کړي، سیګار کولا شي له دې موندنو څخه د بندیزونو د وړاندیز لپاره ګټه واخلي.

شکل ۲.۳

**۴۳ کسان له دې کبله راجع شوي و چې د افغان بغاوت کونکو ملاتړ یې کاوه***

| نوم | نوم |
|---|---|
| خلیل خدران | اسدالله مجید |
| افغان جرمن ساختماني شرکت | کاروان انټر نیشنل |
| حاجي خلیل ساختماني شرکت | فضل رحیم فرید |
| هایم جرمن افغان خلیل شرکت | فرزاد فاضل کریم |
| هایم جرمن افغان جوینت وینچر | حنیف کمپیوټر زون |
| جرمن افغان او خلیل ساختماني جوینت وینچر | حبیب الرحمن |
| خلیل خدران شرکت | ایقرا کمپیوټر سامانونه |
| حاجي خلیل خدران پرایویټ لمټډ | خورشید غوره |
| ګرین لند ستار ساختماني شرکت | فروشګاه لېکام کمپیوټر |
| د سروې او ډیزاین شرکت | محمد حلیم غوره |
| د اونکس ساختماني شرکت | الوغ بیګ انټرنشنل فارورډز لمټډ |
| ټراینکل ټیکنالوجیز | قاضي عبدالله |
| فیروز خان | سید جان عبدالسلام |
| د المسکه مستعمل موټرونه او سپیرپارټ یا پرزې | د آروین کام ګروپ شرکت |
| د زرمت ساختماني شرکت | د آروین کام ساختماني شرکت |
| د زرمت بنیاد | د آروین کام ګروپ امنیت |
| د زرمت ګروپ شرکتونه | د آروین نړیوال لوجیستیکي خدماتو شرکت |
| د زرمت د موادو د آزموینې لابرتوار | د آروین کام ګروپ بنیاد |
| زرمت جنرال ټریډینګ | وکیل سادات |
| ابراهیم حقاني | حاجي محمد الماس خان |
| جلال الدین حقاني | حاجي خلیل فیروزي |
| عبدالستار غوره | |

* په لست کې ډیرې انفرادي کسان او شرکتونه د ډیرو نورو نومونو څخه ګټه اخلي.

عملیاتي ځواک او اداره د بندیز چارواکو ته محرم اسناد ورکوي، چې د دې موندونو اساسي شواهد دي، تر څو چارواکي په ډاډ سره وړاندیز وکړي، څکه د راجع شویو انفرادي کسانو او شرکتونو ارزونه شوې او په رښتیا د بغاوت کونکو عناصرو ملاتړ کوي.
ځانګړي عمومي مفتش په تیرو دریو میاشتو کې کانګرس ته د دې وړاندیزونو په اړه شهادت ورکړی او سیګار غواړي په راتلونکي کې د ۸۴۱ برخې او افرادو د لست پر بنسټ نور ډیر وړاندیزونه وکړي.
پدې دریو میاشتو کې دوه لوی او د ضعیف فعالیت قراردادیان، آل پاینټ اینټرنیشنل دیستریبیوتر (API) او هیر کولیس نړیول لوجیستیک شرکت تعلیق شول. د API خاوندان رابرت شرودر او جیمز سیپولا هم تعلیق شوي.
API یوه فرعي افغان قراردادي ته ۱۵۵،۰۰۰ ډالره ندي ورکړي، سره له دې چې ۶۱۷،۰۰۰ ډالر یې د امریکا حکومت څخه اخیستي و. دې شرکت ونشو کولای چې د افغانستان د ګډو ځانګړو عملیاتي ځواکونو(JSOTF-A) لپاره د طیارو د معاینې هنګر جوړ کړي. سیګار له API څخه څو ځلې وغوښتل چې خپل مکلفیتونه دې پر ځای کړي، مګر هیڅ ونشو، تر څو چې د اردو ادارې ته د تعلیق وړاندیز ورکړ شو. د ۲۰۱۲ کال د اګست میاشتې په ۳ کې، د نیو جرسي لوی څارنوال دفتر شرودر پدې تور ونیو، چې له خپل او د API له تجارتي حسابونو څخه یې د ۴۰۰،۰۰۰ ډالرو خراب چکونه سوداګرو ته د تقلبي کارونو په بڼه لیکلي و. د سیګار د هڅو پر بنسټ چې API، شرودر او د دوی ملګري تعلیق کړي، د سیګار تحقیق کونکي په فعاله توګه د نیو جرسي له ولایتي پولیسو سره همکاري کوي تر څو څارنوالانو ته هغه اسناد ورکړي چې د شرودر په وړاندې د جرمي قضیې ملاتړ وکړي.

## د سیګار بودجه

کله چې سیګار په ۲۰۰۸ کال کې تاسیس شو، کانګرس د ادارې د ۲۰۱۲ مالي کال د عملیاتي لګښتونو لپاره ۱۱۶،۱ میلیونه ډالر تخصیص ورکړي و. (دا لست وګورئ 2.2) اوس سیګار خپل کارونه د صلاحیت د فرمان پر اساس د ۲۰۱۳ کال تر ۲۷ مارچ پورې پر مخ وړي. ۲۰۱۳ مالي کال لپاره د دوامداره تخصیص قانون (P.L. 112-115) سیګار ته د ۲۰۱۲ مالي کال په اندازه ۴۴،۴ میلیونه ډالره عملیاتي بودجه ورکوي. پدې نږدې وختونو کې سیګار د خپلې ۲۰۱۴ مالي کال بودجې لپاره OMB ته وړاندیز کړی چې ریس یې ارزونه او تایید کړي.

لست ۲.۲

| **د سیګار د بسپنې لنډیز** (ملیون ډالر) | | |
|---|---|---|
| **تخصیص** | **عامه قانون** | **مقدار** |
| H.R. ۲۶۴۲، د اضافي تخصیصونو قانون، ۲۰۰۸ | ۲۵۲_P.L. ۱۱۰ | ۲.۰ |
| H.R. ۲۶۴۲، د اضافي تخصیصونو قانون، ۲۰۰۸ | P.L. ۱۱۰-۲۵۲ | ۵.۰ |
| H.R. ۲۶۳۸، د مستحکم امنیت، بهران سره مرسته او دوامداره تخصیصونو قانون، ۲۰۰۹ | P.L. ۱۱۰-۳۲۹ | ۹.۰ |
| H.R. ۲۳۴۶ د اضافي تخصیصونو قانون، ۲۰۰۹ | P.L. ۱۱۱.۳۲ | ۷.۲ |
| H.R. ۲۳۴۶ د اضافي تخصیصونو قانون، ۲۰۰۹ | P.L. ۱۱۱-۳۲ | [a](7.2) |
| H.R. ۳۲۸۸، د مستحکم تخصیصونو قانون، ۲۰۱۰ | P.L. ۱۱۱-۱۱۷ | ۲۳.۰ |
| H.R. ۴۸۹۹، د اضافي تخصیصونو قانون، ۲۰۱۰ | P.L. ۱۱۱-۲۱۲ | ۷.۲ |
| H.R. ۱۴۷۳، د دفاع وزارت او د ټول کال دوامداره تخصیصونو قانون، ۲۰۱۱ | P.L. ۱۱۲-۱۰ | ۲۵.۵ |
| H.R. ۲۰۵۵، د مستحکم او دوامداره زیات تخصیصونو قانون، ۲۰۱۲ | P.L. ۱۱۲-۷۴ | ۴۴،۴ |
| **ټولټال** | | **۱۱۶.۱** |

یاددښت:

[a] کانګرس د سیګار ۷،۲ میلیونه ډالر د ۲۰۰۹ بسپنې مسترد کړې (Title XI in P.L 111-32.) او بیا یی بیرته ورکړې – د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۳۰، په P.L. ۱۱۱.۲۱۲ په ۲۰۱۰.

## د سیګار کارکونکي

پدې دریو میاشتو کې، ځانګړي عمومي مفتش ساپکو، د جین الویز عمومي معاون مفتش او جان آرلینګتن د سیګار د نوي عمومي مشاور د راتلو اعلان وکړ. الویز سیګار ته د حکومت د حساب ورکونې (OMB) له دفتر څخه راغی، چیرته چې هغه ۳۸ کاله خدمت کړی، او پدې نږدې وختونو کې یې د امریکا د نړیوال اتمي امنیت او پاک کاری د ټیم د ریس په توګه کار کړی. آرلینګتن قانون پوه دی، هغه په لویو تجارتي قضیو کې د امریکا استازیتوب کړی، د ګانګرس کمیټو مشاور و، او ۱۰ کاله یې د ملکیتونو او تاوان د بیمې په برخه کې کار کړی. په ټولیزه توګه، په ۲۰۱۲ مالي کال کې سیګار خپل فیدرالي کارکونکي ۱۷۵ کسانو ته ډېر کړل. سیګار د کارکونکو د استخدام وړاندیز هم کړی، چې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په پای کې به د دایمي کارکونکو شمیره ۱۸۵ کسانو ته ورسیږي.

ځکه چې اضافي نظارت ته اړتیا ده، پدې ربع کې DoS د سیګار په کابل کې د امریکا سفارت لپاره د اته اضافي پوستونو وړاندیز تایید کړ، چې ټولټال ۴۱ ته ورسید. سیګار د امریکا د کابل سفارت د باندې ۱۶ کارکونکي هم لري. سیګار د کندهار او بګرام په هوایي ډګرونو، لیتر نیک کمپ، د سولیرنو مخکنی عملیاتي اډې، په کابل کې د افغانستان د امریکا د ځواکونو په قرارګاه، او د امریکا د هرات په قونسلګرۍ کې کارکونکي لري. سیګار د کابل په دفتر کې ځلور افغان کارکونکي لري تر څو د تحقیقونو او پلټنو ملاتړ وکړي. پردې برسیره، سیګار په افغانستان کې د لنډ وخت لپاره ګمارل شوي کارکونکو څخه د خپل کار ملاتړ کوي. پدې ربع کې سیګار کارکونکو افغانستان ته ۲۷ لنډ محاله سفرونه کړي، چې ټولټال ۳۰۱ کسان-ورځې کیږي.

”له يوي لسيزې زياته موده کيږي چې امريکايانو او افغان ملګرو يې څنګ په څنګ د يوه لا ډاډمن او باثباته راتلونکي لپاره سره کار کړيدی... دا يوه ستره ګڼه هڅه وه. او په عين حال کښې ډيره ننګوونکې وه“.

— د بهرنيو چارو وزيره هيلري رودام کلنټن

منبع: د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې هيلرى کلنټن څرګندونې، د امريکا او افغانستان د دوه اړخيز کميسيون په پرانيستې غونډه کې، د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر ۳مه.

# ۳
# د بیارغونې
# تازه حالات



# منځپانګه


| | |
|---|---|
| **د بيارغونې تازه حالات** | **57** |
| **د بسپنو وضعيت** | **60** |
| **درى مياشتنۍ مهمې پيښې** | **74** |
| **امنيت** | **74** |
| **حکومتداري** | **100** |
| **اقتصادي او ټولنيزه وده** | **126** |


**انځور په تيره پاڼه کښې**
باميانو ته په يوه نږدې کلي کښې افغان ماشومان
ملي سرود وايي. (د متحده ايالاتو د پوځ انځور)

# بیاکتنه

دریمه برخه د ځارنې د زمینې برابرولو په موخه د افغانستان د بیارغونې لومړیتوبونه، ننګونې او بشپړیدنې روښانه کوي. په څنډې لیکو کښې د سیګار د روانو او بشپړو شویو څېړنو ښودنه شویده چې له دغو هڅو سره تړلي دي. د لومړني برخې ماخذونه نور جزییات روښانه کوي.

سیګار د 181-110 قانون په پیروي په دغه برخه کښې دغه اسناد په ګوته کوي، چې پکښې امر شویدی کانګرس ته په هر دری میاشتني راپور کښې چې د افغانستان د بیارغونې په تړاو دي، د نورو موادو ترڅنګ باید لاندې موارد شامل وي:

- د تخصیص شویو بسپنو لګول او اړتیاوې
- د هغو تړونونو، مرستو او هوکړه لیکونو توضیح چې متحده ایالات پکښې شامل دي.
- د متحده ایالاتو له لوري بسپنه شوي پروګرامونو او پروژو ته د نړیوالو ادارو او بهرنیو ملکونو له لوري چمتو شوې مرستې

## موضوعات

دغه برخه څلور نورې فرعي برخې لري: د بسپنو، امنیت، حکومتدارۍ، او اقتصادي ټولنیزې ودې وضعیت

**د بسپنو د وضعیت** په برخه کښې هغه پیسې روښانه کیږي چې د افغانستان بیارغونې ته تخصیص شوي، ژمنه یې شویده او لګول شویدي، د بیلګې په توګه د متحده ایالاتو بسپنې او د نړوالو مرستې.

د دریو نورو فرعي برخو په جوړښت کښې د لومړیتوب ورکولو او تطبیقولو د پلان د هغو دریو اساسي برخو روښانولو ته توجه شویده چې د ۲۰۱۰ کال په جولای کښې په یوه نړیوال کانفرانس کښې رامنځ ته شو او د افغان حکومت له لوري اعلان شو.

**د امینت** برخه کښې د متحده ایالاتو د هغو هڅو توضیح شویده چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا په موخه یې کوي،( اردو او پولیس)، د شخصي امنیتي تړونونو د پرېښودو بهیر، او د مخدره توکو د تجارت پر وړاندې مبارزه په ګوته کوي.

**د حکومتدارۍ** په برخه کښې د افغان حکومت د هغو پرمختګونو بهیر ته چې د ښې حکومتدارۍ په لور یې کوي بیاکتنه شویده، د بیلګې په توګه د ظرفیتونو جوړونه، د قانون د پلې کولو لومړیتوبونه، او د بشري حقونو پیژندنه. په دغه برخه کښې همداراز د بیا یوځای کیدو او پخلاینې بهیر روښانه شوی دی، او په بیلابیلو ولایتونو کښې د افغان حکومت د واک کچه، او له فساد سره د مبارزې لومړیتوبونه په ګوته شویدي.

**د اقتصادي او ټولنیزې ودې** برخه کښې د کانونو، روغتیا او انرژۍ په برخه کښې بیارغنیزو هڅو ته کتنه شویده. دغه برخه د اقتصادي وضعیت د څرګندولو او د مالي شبکو تنظیم، د مالي استقرار لاس ته راتلو، او بنسټیزو خدمتونو د رسولو د بهیر وده او نوي خبرونه تر پوښښ لاندې راولي.

## میتودولوژې

دریمه برخه له آزادو منابعو او د متحده ایالاتو له اسنادو راغونډه شوې ده. په پایلیکونو او له جدولونو او انځورونو سره یي منسوب منابع یاد شویدي. معلومات د بیلابیلو ادارو له لوري چمتو شویدي نو کیدی شي اعداد سره توپیر ولري. سیګار دغه اسناد نه تصدیقوي او یواځې د هغو مواردو ننګه کوي چې د دوی په پلټنو او څیړنو کښې راغلي دي. له نورو سرچینو لاس ته راغلي معلومات د سیګار نظر نه روښانوي. په دغو دریو میاشتو کښې د سیګار د پلټنو او څیړنو د جزییاتو د کتلو لپاره دوهمې برخې ته مراجعه وکړئ.

## معلومات غوښتنه

معلومات غوښتنه د پوښتنو هغه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو ادارو ته متوجه ده او د بیارغونې په پروګرامونو کښې د هغو ونډه او ګډون پلټي او په افغانستان کښې د کارونو وضعیت روښانوي. د معلومات غوښتنې وروستۍ لړۍ ته د متحده ایالاتو لاندینو ادارو ځوابونه ویلي دي لکه د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، د متحده ایالاتو د خزانې وزارت او نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره. ځواب ورکونکو ادارو د دغې برخې په تړاو لومړنۍ مسوده لاس ته راوړې ده، له دې سره دوی کولای شي چې دغه درې میاشتني راپور ته د ځانګړیو شویو معلوماتو په تړاو توضیحات چمتو کړي او تایید یې کړي.

## د آزادو سرچینو تحقیق


د آزادو سرچینو تحقیق له معتبرو سرچینو ټول هغه وروستي او په عامه کچه د لاس رسي وړ معلومات څرګندوي. په کاریدلیو سرچینو کښې د متحده ایالاتو هغه ادارې هم شاملې دي چې د معلوماتو د غوښتلو په پروسه کښې ونډه لري، نړیوال سوله ساتي ځواکونه، ملګري ملتونه ( او مربوطه څانګې)، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، افغان وزارتونه او نورې دولتي ادارې هم د هغو یوه برخه وه.

# د ګرافونو او په معلوماتو کښې د کاریدونکو اصطلاحاتو پیژندنه

ټول شکلونه او جدولونه د دغو دریو میاشتو په تړاو معلومات ورکوي، پواخې د هغو برخو څخه، چې په عنوانونو یا نوټونو کښې روښانه شویده.

## بار چارټونه

په دغه راپور کښې ډیرې بسپنې او پروژې په ډالري ارزښت روښانه شویدي چې له میلیونو تر میلیاردو ارزښت لري. د دغو شمیرو د پوې سمې ګرافیکې څرګندونې لپاره ځینې بارګرافونه له پوې قطع شوې برخې سره (یوې موجې لیکې سره) د دې په موخه راغلي دي چې د صفر او پوې غټې شمیرې تر منځ توپیر وښیې.





په اندازې کې وقفه نه درلودونکی بار چارټ

په اندازې کې وقفه درلودونکی بار چارټ


## د بسپنو مارکرونه

د بسپنو مارکرونه په دغه متن کښې توضیح شوې انفرادي بسپنې روښانوي. د بسپنو د تنظیم لپاره مسولې اداري د بسپنو تر نومونو لاندې په باکس کښې د نوملړ په توګه روښانه شویدي.




## واحدونه په میلیون او میلیارد توضیح شویدي

د دې لپاره چې دغه راپور د بسپنو جزییات په میلیون او میلیارد ښیې، نو د دغو دوو اندازه کوونکو واحدونو د تفکیک په موخه د لیدنې ور اشارې راغلې دي. په میلیون ښودل شوي ډالر په آسماني رنګ روښانه شویدي او په میلیارد ښودل شوي ډالر په شنه رنګ روښانه شویدي.




بې ترتیبه چارټ په میلیاردو

بې ترتیبه چارټ په میلیونو

## کلیزه او لمریز کلونه

افغانستان کښې د کلیزې لیږدیز لمریز سیستم کارول کیږي، چې د عیسوي کلیزې په بنسټ له ۶۲۲ میلادي کال څخه پیل شوی دی. سیګار نیټې له لمریز څخه عیسوي تاریخ ته اړوي. اوسنی افغان لمریز کال ۱۳۹۱ دی. د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲۱ پیل شوی او د ۲۰۱۳ کال د مارچ په شلمه به پای ته ورسیږي. د افغان حکومت مالي کال له لمریز هغه سره برابر وو، خو روان مالي کال به د ۲۰۱۲ کال د مارچ له ۲۱ د دسمبر تر ۲۰ پورې وي. دغه به پواځنی مالي کال وي چې نه میاشتي وو، له دې وروسته به مالي کال د دسمبر له ۲۱ د بل کال د دسمبر تر ۲۰ پورې وي.



# منځپانګه


متحده ایالات د افغانستان
بیارغونې ته بسپنې 62

د افغانستان د امنيتي ځواکونو بسپنه 64

ASFF بوديجوي فعاليتونه 65

د قومندان د بيړني ځواب پروګرام 66

د افغانستان د زيربناوو بسپنه 67

د ثبات او سوداګرۍ د عملياتو
لپاره کاري ځواک 68

د DoD د مخدره توکو مخنيوی
او د مخدره توکو پر ضد فعاليتونو 69

اقتصادي ملاتړ بسپنه 70

د مخدره توکو د کنترول او
قانون پياوړتيا نړيواله اداره 71

د افغانستان لپاره د بيارغونې نړيواله بسپنه 72

# د بسپنو وضعيت


د سيګار د قانوني حکمونو د تطبيق په موخه، په دغه برخه کښې د متحده ايالاتو د ژمنه شويو، تخصيص شويو او لګول شويو بسپنو څرګندوني کيږي چې په افغانستان کښې د بيارغوني د فعاليتونو په موخه کارول کيږي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، له ۲۰۰۲ مالي کال څخه متحده ايالاتو شاوخوا 88.56 ميليارد ډالره د بيارغوني او بدلون په موخه په افغانستان کښې لګولي دي. دغه مجموعه په لاندې ډول تخصيص شوې ده:

- 51.15 ميليارد ډالر د امنيت لپاره
- 22.33 ميليارد ډالر د حکومتدارۍ او پرمختيا لپاره
- 6.01 ميليارد ډالر د مخدره توکو سره مبارزې لپاره
- 2.45 ميليارد ډالر د بشري مرستو لپاره
- 6.62 ميليارد ډالر د عملياتو او څارنو لپاره

3.1 شکل د متحده ايالاتو لويي بسپنې چې دغو برخو ته ځانګړې شويدي روښانه کوي.

3.1 شکل

**د متحده ايالاتو بسپنې د افغانستان د بيارغنيزو هڅو څخه ملاتړ کوي** (په ميلياردو ډالرو)




يادونه: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي.

[a] په ګڼ شمير ادارو کې DoJ, DoS, DoD, USAID, Treasury، او USDA شاميليږي.


سرچينې: د سيګار 10/22/2012، 10/19/2012، 10/18/2012، 10/17/2012، 10/3/2012، 7/18/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځوابونه؛ د سيګار 10/19/2012، 10/11/2012، 10/5/2012 او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځوابونه؛ د سيګار 10/10/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سيګار 7/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سيګار 1/15/2010، 10/2/2012، 10/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځوابونه؛ د سيګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سيګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 112-74، 12/23/2011، P.L. 112-10, 4/15/2011، P.L. 111-212، 10/29/2010، P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 کال د دفاع تشريحي وينا.

**ASFF:** د افغان امنيتي ځواکونو صندوق
**CERP:** د قوماندان د بيړني خواب پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زيربناوو صندوق
**TFBSO:** د افغانستان د سوداګرۍ او ثبات عملياتو کاري ځواک
**DoD CN:** د DoDد مخدره توکو مخنيوی او له مخدره توکو سره مبارزې فعاليتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ صندوق
**INCLE:** د مخدره توکو کنټرول او د قانون د پياوړتيا نړيواله اداره
**نور:** نورې مونډنې

## د متحده ایالاتو د افغانستان بیارغونې ته بسپنه

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د افغانستان بیارغونې او هوساینې لپاره ټولیزه ځانګړې شوې بسپنه شاوخوا 88.56 میلیارد ډالر وو—له دغې ټولیزې شمیرې شاوخوا د 910 میلیونو ډالرو کمښت په تیرو دریو میاشتو کښې په ګوته شوی دی،چې علت یې په ۲۰۱۱ مالي کال کښې د DoD له لوري د یو میلیارد ډالرو د بسپنې اړول وو چې د افغانستان امنیتي ځواکونو صندوق یا ASFF څخه سترو دفاعي کارونو ته ورغله. د بیارغونې بسپنې په پنځو کټګوریو ویشل کیږي: امنیت، حکومتداري او پرمختیا، د مخدره توکو پر ضد مبارزه، بشري مرستې او څارنه او عملیات. شکل 3.2 له ۲۰۰۲ مالي کال څخه تر ۲۰۱۲ مالي کال پورې ټولیز تخصیصات د بسپنو له کټه ګورۍ سره توضیح کوي د متحده ایالاتو د تخصیصاتو په تړاو د لا زیاتو معلوماتو لپاره B ضمیمه وګورۍ.


د ۲۰۱۲ کال د سپمبر تر ۳۰، د افغانستان بیارغونې او هوساینې ته تخصیصات په ۲۰۱۲ مالي کال کښې 16.51 میلیارد ډالرو ته رسیږي. دغه شکلونه هغه شمیرې ښیې چې د




**د متحده ایالاتو اوو سترو بسپنو ته چمتو شوې شمیرې نږدې 85% (شاوخوا 75.26 میلیارد ډالر) هغه ټولې مرستې ښیي چې د افغانستان د بیارغنیزو فعالیتونو لپاره له ۲۰۰۲مالي کال را په دیخوا سرته رسیږي. له دغې شمیر تر 84.5% زیاته چې (نږدې 63.62 میلیارد ډالره کیږي) ژمنه شویدي او له هغې جملې نږدې 72.2% چې (نږدې 54.33 میلیارد ډالره کیږي) لګول شویدي. په راتلونکې پاڼې کښې د دغو بسپنو نور جزییات روښانه شویدي.**

3.2 شکل

**د 2012 کال د سپتمبر تر30 پورې مجموعي تخصیصات د بودیجو د کټګورۍ په اساس** (په میلیاردو ډالرو)




یادونه: شمیرې په ګردې کولو اغیزمنې شوې.

سرچینې: د سیګار 10/22/2012، 10/19/2012، 10/18/2012، 10/17/2012، 10/3/2012، 7/18/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځوابونه؛ د سیګار 10/19/2012، 10/11/2012، 10/5/2012 او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځوابونه؛ د سیګار 10/10/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 7/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 1/15/2010، 10/2/2012، 10/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 کال د دفاع تشریحي وینا.

مربوطه ادارو له لوري راپور شويدي، او هغه شميرې چې په قانون جوړونو کښې راغلي دي.
له ۲۰۰۲ مالي کال راهيسې د بيارغونې او هوساينې په موخه د تخصيص شويو 88.56 ميليارد ډالرو له جملې نږدې 55.3٪ يې د تيرو دريو مالي کلونو لپاره ټاکل شوې وه. په دغو مالي کلونو کښې د تخصيصاتو حدود له 15.81 ميليارد ډالرو څخه تر 16.65 ميليارد ډالرو پورې شودل شويدي لکه په 3.3 شکل کښې چې راغلي دي.

اوس چې ۲۰۱۲ مالي کال په خلاصيدو دی، يواځې 29٪ هغه بسپنې چې په ۲۰۱۲ مالي کال کښې د بيارغونې په موخه تخصيص شوي وې، منل شويدي. په دغو بسپنو کښې تر 14.16 ميليارد ډالرو ډيرې تخصيص شوې مرستې شاملې دي. له دغې جملې يواځې 4.10 ميليارد ډالره منل شويدي، لکه په 3.1 جدول کښې چې شودل کيږي. .

3.1 جدول

**د ۲۰۱۲ مالي کال له پاره تخصيص شوې او ژمنه شوې پيسې، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰،** (په ميليون ډالر)


| | تخصيص شوې | ژمنه شوې |
|---|---|---|
| ASFF | $11,200 | $3,810 |
| CERP | $400 | $117 |
| AIF | $400 | $163 |
| ESF | $1,837 | $0 |
| INCLE | $324 | $12 |
| **جمله** | **$14,161** | **$4,102** |

يادونه: شميرې د غونډولو له امله اغيزمنې شويدي.

سرچينه: د سيګار د 10/22/2012, 10/19/2012 او 10/18/2012 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب، د سيګار د 10/11/2012 معلوماتي غوښتنې ته د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځواب، د سيګار د 10/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب، P.L. 112-74, 12/23/2011.

3.3شکل

**د کتګوريو په اساس تخصيصونه** (په ميليارو ډالرو او سلنه)




يادونه: شميرې په ګردې کولو اغيزمنې شوي.


سرچينې: د سيګار 10/22/2012، 10/19/2012، 10/18/2012، 10/17/2012، 10/3/2012، 7/18/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځوابونه؛ د سيګار 10/19/2012، 10/11/2012، 10/5/2012 او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځوابونه؛ د سيګار 10/10/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سيګار 7/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سيګار 1/15/2010، 10/2/2012، 10/15/2010 او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځوابونه؛ د سيګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سيګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011; P.L. 111-212, 10/29/2010; P.L. 111-118, 12/19/2009؛ د 2010 کال د دفاع تشريحي وينا.

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو صندوق

کانګرس د افغانستان د امنيتي ځواکونو صندوق يا ASFF د دې په موخه رامنځ ته کړ چې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته وسايل، اکمالات، خدمات، او روزنې چمتو کړي، همداراز ورته د آسانتياوو او زيربناوو بيارغونه، نوې رغوونه او جوړښت برابر کړي.[20] د افغان ملي امنيتي ځواکونو جوړولو ته لومړنۍ مسوله اداره په افغانستان کښې د شمالي اتلانتيک د تړون ماموريت دی چې د افغانستان د ګډ امنيتي ليږد قومنداني هم پکښې شامله ده (NTM-A/CSTC-A).[21]

په دې ربع کښې، DoD د ASFF د بسپنو يو ميليارد ډالره د دفاعي سترې کاريدونکې بسپنې لپاره تنظيم کړل، تر څو د هغه 1.10 ميليارد ډالري پيسو کمښت پرې جبران کړې چې د DoD له هغو احتمالي عملياتو سره تړاو لري چې په لړې پرتو سيمو کښې ترسره کيږي. د ASFF لپاره د بسپنو دغه راټيټيدنه ټوليزه تخصيص شوې بسپنه شاوخوا 49.63 ميليارد ډالرو ته را کموي.[22] د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ له دغې شميرې د شاوخوا 42.04 ميلياردو ډالرو ژمنه شويده چې له جملې يې شاوخوا 36.51 ميليارد ډالر لګول شويدي.[23] 3.4 شکل هغه شميرې را په ګوته کوي چې په مالي کال کښې د ASFF لپاره وکارول شوې او 3.5 شکل د هغو ټوليزه مقايسه کوي.

DoD راپور ورکړ چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې ټوليزې ژمنه شوې بسپنې د ۲۰۱۲ کال د جون تر ۳۰ پورې له ټوليزې ژمنه شوې شميرې نږدې 4.24 ميليارد ډالره زياتې شويدي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې ټوليز لګښتونه درې ميليارد ډالر تر هغو لګښتونو زيات وو چې د ۲۰۱۲ کال د جون تر ۳۰ مه ښودل شوي وو.[24]




### د ASFF د بسپنو ترمينالوژي

د DoD د راپور په بنسټ د ASFF موجودې، ژمنه شوې، او لګول شوې بسپنې

**موجودې:** د ژمنو لپاره د موجودې مجموعي پيسې


**ژمنې:** د پيسو د ورکړې لپاره ژمنې

**لګول شوې:** هغه شميرې چې لګول شويدي

سرچينه: د سيګار د 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

3.4 شکل

**د ASFF تخصيص شوې بوديجې د مالي کال په اساس** (ميليارد ډالر)





يادونه: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي. DoD د ASFF له 2011 مالي کال څخه 1 ميليارد ډالر د دفاعي برخې مرکزي بوديجې لپاره بيا پروګرام کړې ده.

سرچينې: د سيګار د 10/18/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ P.L. 112-74 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011.

3.5 شکل

**د ASFF بوديجې، مجموعي پرتله** (ميليار ډالر)




يادونې: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي دي. DoD د ASFF له 2011 مالي کال څخه 1 ميليارد ډالر د دفاعي برخې مرکزي بوديجې لپاره بيا پروګرام کړي دي.

سرچينې: د سيګار 10/18/2012 او 7/16/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ P.L. 112-74 12/23/2011; P.L. 112-10, 4/15/2011.

## د ASFF بوديجوي فعاليتونه

DoD په ASFF کښې د بوديجوي فعاليتونو په دريو ډلو کښې بسپنې برابروي.

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو،ANA ).
- داخلي ځواکونه (افغان ملي پوليس، ANP).
- ورسره تړلي فعاليتونه (لومړني توقيفي عمليات).

د هر بوديجوي فعاليت لپاره بسپنه په لا ځانګړې توګه په څلورو فرعي فعاليتي ګروپونو تمرکز کوي. زيربناوې، وسايل او ترانسپورت، روزنه او عمليات او پايښت.[25]

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، DoD شاوخوا 36.51 ميليارد ډالر د ANSF لپاره لګولي دي. له دغې شميرې 23.93 ميليارد ډالر د افغان ملي اردو لپاره لګول شويدي، تر 12.32 ميليارد ډالرو زيات د افغان ملي پوليسو لپاره لګول شويدي،پاتې 0.26 ميليارد ډالر په نورو تړلو فعاليتونو لګيدلي دي.[26]

لکه په 3.6 شکل کښې چې ښودل شويدي، تر ټولو لويه برخه مرستې د افغان ملي اردو لپاره لګول شويدي— شاوخوا 9.67 ميليارد ډالر –په حمايوي تجهيزاتو او ترانسپورت باندې لګول شويدي. افغان ملي پوليسو ته د لګول شويو بسپنو له جملې ، تر ټولو لويه برخه – شاوخوا 4.27 ميليارد ډالر –د پايښت د ملاتړ په موخه لکه په 3.7 شکل کښې چې ښودل شويدي.[27] مصرف ته رسيدلي دي.


**د بوديجوي فعاليتونو ډلې:** د بسپنو د تخصيص د ټولو حسابونو دننه کټګورۍ کښې د تخصيص شويو بسپنو له لوري د موخو پيژندلو، پروژو او د فعاليتونو ډولونه څيرې.

**د فعاليت فرعي ډلې:** هغه محاسبوي ډلې دي چې په وظيفوي ساحاتو کښې د لګول شويو پيسو جاج اخلي

سرچينې: د امريکا د دفاع وزارت،"7110.1-M منول، د دفاع وزارت د بودجه د لارښوونې منول،" په 9/28/2009 لاس رسى ورته شوى؛ د سمندري ځواکونو ځانګه، "د روغتيايى اسانتياو د مدير لاسي کتاب"، ۵مه پاڼه،په 10/2/2009 لاس رسى ورته شوى دى.

3.6 شکل

**د ANA لپاره د ASFF مصارف**
**د فرعي فعاليت ډلې لخوا**
**د 2005 مالي کال – د 2012 کال د سپتمبر**
**تر 30 پورې** (ميليارد ډالر)





يادونه: شميرې په ګردې کولو اغيزمنې شوې دي.

سرچينه: د سيګار 10/18/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.


3.7 شکل

**د ANP لپاره د ASFF مصارف**
**د فرعي فعاليت ډلې لخوا**
**د 2005 مالي کال – د 2012 کال د سپتمبر**
**تر 30 پورې** (ميليارد ډالر)




يادونه: شميرې په ګردې کولو اغيزمنې شوې دي.

سرچينه: د سيګار 10/18/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.




**د CERP بسپنې ټرمینولوجي**

د OMB په وینا د CERP بسپنې د ژمنه شویو بسپنو په ډله کښې شمیرې.

**تخصیصونه:** د ژمنې لپاره د پیسو مجموعي موجودیت

د DoD په وینا د CERP بسپنې تخصیص شوې، ژمنه یې شویده او یا لګول شویدي.

**تخصیصونه:** د ژمنې لپاره د مجموعي پیسو موجودیت

**ژمنې:** د پیسو ورکړې ته ژمنې

**د پیسو لګول:** هغه پیسې چې په مصرف رسیدلي دي

سرچینې: د سیګار د 4/19/2010 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار د 4/14/2010 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

## د قومندان د بیړنې ځواب پروګرام

د قومندان د بیړني ځواب پروګرام یا CERP په افغانستان کښې امریکایي قوماندانان په دې توانوي چې په خپلو تر مسولیت لاندې سیمو کښې بیړنیو بشري مرستو او بیارغنیزو غوښتنو ته ځواب ووایي او دا کار د هغو پروګرامونو له لارې وکړي چې به بیړنۍ توګه سیمه ایزو وګړو سره مرسته کولای شي. د دغه پروګرام لپاره بسپنه د هر امریکایي قوماندان لپاره تر 500,000 لږ امریکایي ډالر د وړو پروژو لپاره ځانګړې کوي.[28] هغه پروژې چې تر یو میلیون ډالر ډیر لګښت غواړي باید د مرکزي قوماندې له لوري تصویب شي، او تر پنځه میلیون ډالرو ډیرلګښت لرونکې د CERP پروژې باید د مرستیال دفاع وزیر له لوري تصویب شي. د CERP له لوري بسپنه شوې انفرادي بودیجې باید تر 20 میلیون ډالرو زیات نه شي.[29]


د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، د CERP لپاره مجموعي بسپنه نږدې 3.44 میلیارد ډالره وه.[30] DoD راپور ورکړی چې له دغې شمیرې د شاوخوا 2.28 میلیارد ډالرو ژمنه شویده، او تر 2.13 میلیارد ډالر ډیرې یې لګول شویدي.[31] په 3.8 شکل کښې د مالي کال په بنسټ د CERP لپاره تخصیصات روښانه شویدي.

DoD روښانه کړیده چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې د بسپنو په ژمنه کښې نږدې 59.68 میلیون ډالر د ۲۰۱۲ کال د جون د ۳۰ تر هغې لوړه شویده. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، لګول شوې بسپنه شاوخوا 55.96 میلیون ډالره د ۲۰۱۲ کال د جون د ۳۰ ټولیز لګښت په پرتله لوړه شویده.[32] 3.9 شکل د CERP پروژې لپاره د تخصیص شویو، ژمنه شویو او لګول شویو پیسو یوه ټولیزه مقایسه په ګوته کوي.

3.8 شکل

**د مالي کال په اساس د CERP تخصیصات**

(میلیون ډالر)





یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي.

سرچینې: د سیګار د 10/19/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ 4/15/2011، P.L. 112-10؛ OMB، 12/23/2011، P.L. 112-74.

3.9 شکل

**د CERP د بودیجو مجموعي پرتله**

(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي.

سرچینې: د سیګار د 10/19/2012 او 7/16/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځوابونه؛ 12/23/2011، P.L. 112-74؛ د سیګار 5/30/2011 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ 4/15/2011، P.L. 112-10.

## د افغانستان د زيربناوو بسپنه

د۲۰۱۱ مالي کال لپاره د ملي دفاع د واک قانون د افغانستان د زيربناوو بسپنه تاسيس کړه تر څو لوړ لومړيتوبونه په نظر کښې ونيسي، او ورسره په لويه کچه هغه زيربنايي پروژې چې د متحده ايالاتو د فوځ له ملکي مرستو ملاتړ کوي پياوړې کړي. کانګرس پريکړه کړېده چې هغه پروژې چې د افغانستان د زيربناوو له بسپنې سره تړلې دي، بايد د DoD او DoS له لوري په ګډه اداره او انتخاب شي. د افغانستان د زيربناوو د بسپنې له پروژې سره د لا زياتو مرستو د ژمنې کولو او غځولو څخه مخکې، د بهرنيو چارو او دفاع وزيران غوښتل کيږي تر څو د وړانديز شوي پروژې په جزيياتو کانګرس ته خبر ورکړي، په هغې کښې بايد د پايښت لپاره يو پلان او يوه داسې توضيح چې له ياغيانو سره د مبارزې په وړاندې د دغې پروژې ارزښت روښانه شوی وي،شامل وي.[33]


د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د افغانستان د زيربناوو بسپنې ته د 800 ميليون ډالرو ټوليزه بسپنه تخصيص شويده. له دغې شميرې، د شاوخوا 458.47 ميليون ډالرو ژمنه شويده او له هغې جملې شاوخوا 56 ميليون ډالر لګول شويدي. په دغو شميرو کښې د AIF هغه بسپنې هم شاملې دي چې په ۲۰۱۱ مالي کال کښې USAID ته د AIF د پروژو د تطبيق په موخه ورکړل شويدي.[34] 3.10 شکل د مالي کال په بنسټ د AIF ټول تخصيصات روښانوي.

DoD راپور ورکړ چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ ټوليزه ژمنه شاوخوا 105.30 ميليون ډالر د هغه څه په پرتله چې د ۲۰۱۲ کال د جون تر ۳۰ د ټوليزې ګټې په ډول راغلي وو لوړ دي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، ټوليزې لګول شوې پيسې شاوخوا 14.72 ميليون ډالر لوړوالی د هغه څه په پرتله چې د ۲۰۱۲ کال د جون تر ۳۰ شودل شوي وو په ګوته کوي3.11 شکل.[35]

3.10شکل

**د مالي کال په اساس د AIF تخصيصات**

(ميليون ډالر)





يادونې: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي دي. د 2011 مالي کال په رقم کې هغه 101 ميليونه ډالر شامل دي کوم چې د AIF پروژې په لاره اچولو لپاره USAID ته ليږدول شوي وو.

سرچينې: د سيګار 10/22/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ 12/23/2011، P.L. 112-74؛ 4/15/2011، P.L. 112-10.

3.11 شکل


**د AIF بوديجو مجموعي پرتله**

(ميليون ډالر)




يادونې: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي دي. د 2011 مالي کال په رقم کې هغه 101 ميليونه ډالر شامل دي کوم چې د AIF پروژې په لاره اچولو لپاره USAID ته ليږدول شوي وو.

سرچينې: د سيګار 10/22/2012، 7/20/2012 او 7/18/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ P.L. 112-10؛ 12/23/2011، P.L. 112-74، 4/15/2011.




### د AIF د بسپنو ټرمينالوژي


DoD د AIF د بسپنو په تړاو د تخصيص شويو، ژمنه شويو او لګول شويو په بڼه راپور ورکړی دی

**تخصيصونه:** د ژمنې لپاره د پيسو مجموعي موجوديت

**ژمنې:** د پيسو ورکړې ته ژمنې

**د پيسو لګول:** هغه پيسې چې په مصرف رسيدلي دي

سرچينې: د سيګار د 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.




**د TFBSO د بسپنو ټرمینالوژي**

DoD د AIF د بسپنو په تړاو د تخصیص شویو، ژمنه شویو او لګول شویو په بڼه راپور ورکړی دی

**تخصیصونه:** د ژمنې لپاره د پیسو مجموعي موجودیت

**ژمنې:** د پیسو ورکړې ته ژمنې

**د پیسو لګول:** هغه پیسې چې په مصرف رسیدلي دي

سرچینې: د سیګار د 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

## د ثبات او سوداګرۍ د عملیاتو لپاره کاري ځواک


د ثبات او سوداګرۍ د عملیاتو لپاره کاري ځواک یا TFBSO د ۲۰۰۶ کال په جون کښې رامنځ ته شو او د ځو کلونو لپاره یې په عراق کښې کار کړی دی. په ۲۰۱۰ کال کښې، TFBSO په افغانستان کښې د یوه پروګرام په پلې کولو لاس پورې کړ تر څو په هیواد کې د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو له لارې ثبات ته لاره هواره کړې. TFBSO هغه فعالیتونه رانغاړي چې خصوصي پانګونې ته آسانتیا برابروي، صنعتي وده رامنځ ته کوي، بانکي او مالي سیستم ته وده ورکوي،په کرهنیز سیستم کښې بدلون او پرمختیا ته زمینه برابروي او د انرژي ودې ته لار هواروي.[36]

د ۲۰۱۲ مالي کال لپاره TFBSO نږدې 241.82 میلیون ډالر بسپنه لاس ته راوړه چې د کاري ځواک لپاره یې ټولیزه بسپنه نږدې 555.31 میلیون ډالرو ته لوړه کړه.[37] د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ له دغې شمیرې نږدې د523.79 میلیون ډالرو ژمنه وشوه، چې له هغې جملې نږدې 264.13 میلیون ډالره ولګول شول.[38] ۳.۱۲ انځور په مالي کال کې د TFBSO پروژو لپاره ټاکل شوی مقدار ښیې. DoD راپور ورکړ چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، ژمنه شوې پیسې نږدې 94.70 میلیون ډالر د ۲۰۱۲ د جون تر هغې لوړ شویدي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ لګول شوې پیسې تر 68.15 میلیون ډالرو له هغې ټولیزې ژمنې چې د ۲۰۱۲ د جون تر ۳۰ شوې وه لوړې وې،[39] 3.13 شکل هغه تولیزه پرتله روښانوي چې د TFBSO پروژو لپاره برابرشوې، ژمنه یې شویده او لګول شویدي.

3.12 شکل

**د مالي کال په اساس د TFBSO تخصیصات**

(میلیون ډالر)





یادونې: شمیرې په کردې کولو اغیزمنې شوې دي.

سرچینې: د سیګار د 10/03/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ 4/15/2011، P.L. 112-10؛ 12/23/2011، P.L. 112-74.

3.13 شکل

**د TFBSO بودیجو مجموعي پرتله**

(میلیون ډالر)




یادونې: شمیرې په کردې کولو اغیزمنې شوې دي.

سرچینې: د سیګار د 10/02/2012 او 7/02/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه؛ 4/15/2011، P.L. 112-10؛ 12/23/2011، P.L. 112-74.

## د DoD د مخدره توکو مخنیوی او د مخدره توکو پر ضد مبارزه

د DoD د مخدره توکو مخنیوی او د مخدره توکو پر ضد مبارزې لپاره فعالیتونو ته بسپنه یا DoD CN له هغو هڅو ملاتړ کوي چې له مخدره توکو سره د مبارزې له لارې په افغانستان کښې د ثبات راوستل غواړي. DoD له DoD CN څخه د مخدره توکو د قاچاقچیانو پر وړاندې د پوځي عملیاتو د ملاتړ په برخه کښې کار اخلي، د مخدره توکو ضد افغان عملیات پیاوړي کوي، او د تخصصي روزنو ، تجهیزاتو او آسانتیاوو له لارې غواړي د افغاستان د قانوني مراجعو پیاوړتیا ډاډمنه کړي او ظرفیتونو ته یې وده ورکړي.[40]


کانګرس DoD CN ته د دې په موخه بسپنه تخصیص کړیده چې د یوې ځانګړې کرښې په توګه په ټولو پوځي برخو کښځ عمل وکړي. DoD د مخدره توکو ضد د مرکزي انتقال حساب یا CTA لپاره د بسپنو په برابرولو کار کوي تر څو د هغو لیږدول شویو حسابونو جاج واخلي چې د پوځي خدمتونو او دفاعي ادارو له لوري لګول کیږي. DoD د هر مالي کال لپاره په افغانستان کښې د DoD CN له حسابونو څخه یوه واحده بنه راپور کړیده.[41]

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، DoD راپور ورکړی چې DoD CN د افغانستان لپاره په ۲۰۱۲ مالي کال کښې تر 420.47 میلیون ډالرو پورې پیسې لاس ته راوړي دي—دا شمیره د تیرې ربع په پرتله د 4.51 میلیون ډالرو کموالی په ګوته کوي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، DoD CN له ۲۰۰۴ مالي کال راهیسې نږدې 2.31 میلیارد ډالره بسپنه لاس ته راوړې ده.[42] په 3.14 شکل کښې د مالي کلونو په بنسټ د DoD CN تخصیصونه روښانه شویدي ، او 3.15 شکل د DoD CN د پروژو له لارې د تخصیص شویو، ژمنه شویو او لګول شویو پیسو ټولیزه پرتله روښانوي.

3.14 شکل

**د مالي کال په اساس د DOD CN تخصیصات**

(میلیون ډالر)




یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي.


a تازه معلومات د دې لامل شو چې د 2012 مالي کال د تخصیص رقم راټیټ شي.

سرچینه: د سیګار 10/17/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

3.15 شکل

**د DOD CN بودیجو مجموعي پرتله**


(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي.

a د پوځي خدمتونو او دفاعي ادارو ټولې بودیجې د ضروري ګرځولو او مصرف کولو پروګرام د DoD لخوا ترسره کیږي.

سرچینه: د سیګار 10/17/2012 او 6/26/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoD ځوابونه.




**د DOD CN د بسپنو ټرمینالوژي**


DoD د AIF د بسپنو په تړاو د تخصیص شویو، ژمنه شویو او لګول شویو په بنه راپور ورکړی دی

**تخصیصونه:** د ژمنې لپاره د پیسو مجموعي موجودیت

**ژمنې:** د پیسو ورکړې ته ژمنې

**د پیسو لګول:** هغه پیسې چې په مصرف رسیدلي دي

سرچینې: د سیګار د 4/13/2010 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.




**د ESF د بسپنو ټرمینالوژي**

DoD د AIF د بسپنو په تړاو د تخصیص شویو، ژمنه شویو او لګول شویو په بڼه راپور ورکړی دی

**تخصیصونه:** د ژمنې لپاره د پیسو مجموعي موجودیت

**ژمنې:** د پیسو ورکړې ته ژمنې

**د پیسو لګول:** هغه پیسې چې په مصرف رسیدلي دي

سرچینې: د سیګار د 4/19/2010 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب، د سیګار د 4/15/2010 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.

## د اقتصادي ملاتړ بسپنه


د اقتصادي ملاتړ بسپنه یا ESF د هغو پروګرامونو تنظیم په غاړه لري چې په بیلابیلو هیوادونو کښې د لنډمهاله او اوږدمهاله اقتصادي، امنیتي او سیاسي اړتیاوو د بشپړولو له لارې د متحده ایالاتو ګټې ساتي. ESF د هغو پروګرامونو تنظیم په غاړه لري چې د تروریسم ضد فعالیتونو ملاتړ وکړي، او له دې لارې د یوه لا حساب ورکوونکي او راڼه حکومت لپاره د یوه اغیزمن، خپلواک قانوني سیستم په پراختیا کښې مرسته وکړي.[43]

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د USAID په وینا د ESF لپاره ټولیزه بسپنه تر 14.95 میلیارد ډالرو واوښته. له دغې شمیرې، تر 12.80 میلیارد ډالرو ژمنه وشوه چې له هغې جملې یې 10.16 میلیارد ډالر ولګول شول.[44] 3.16 شکل د مالي کلونو په بنسټ د ESF لپاره ځانګړې شوې مرستې په ګوته کوي.

د USAID په وینا د ۲۰۱۲ سپتمبر تر ۳۰، ټولیزه ژمنه نږدې 1.10 میلیارد ډالره د ۲۰۱۲ کال د جون د ۳۰ تر ژمنه شوې شمیرې لوړه وه. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، ټولیزه لګول شوې شمیره 661.31 میلیون ډالره د ۲۰۱۲ کال د جون د ۳۰ له شمیرې اوچته وه.[45] 3.17 شکل هغه ټولیزه پرتله روښانوي چې د ESF پروګرامونو له لارې ژمنه شوې، لګول شوې او تخصیص شوې مقدارونه په ګوته کوي.

3.16 شکل

**د مالي کال په اساس د ESF تخصیصات**
(میلیارد ډالر)





یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي.

سرچینې: د سیګار د 10/2/2012 معلوماتي غوښتنېته د USAID ځواب.

3.17 شکل

**د ESF بودیجو مجموعي پرتله**
(میلیارد ډالر)




یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي.


سرچینې: د سیګار د 10/2/2012 او 6/28/2012 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه.

## د مخدره توکو د کنټرول او د قانون پياوړتيا نړيواله اداره

د متحده ايالاتو د مخدره توکو د کنټرول او د قانون پياوړتيا د چارو نړيواله اداره يا INL د مخدره توکو د کنټرول او قانون د پياوړتيا د خپلواکې نړيوالې اداري حساب تنظيموي چې له مخې به يې د قانون حاکميت پياوړی کيږي. او د مخدره توکو له توليد او قاچاق څخه مخنيوی کيږي. INCLE د INL له بيلابيلو پروګرامونو ملاتړ کوي، لکه پوليس، د مخدره توکو ضد فعاليتونه، عدالت او د قانون حاکميت.[46]

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، DoS راپور ورکړ چې د INCLE لپاره ټوليزه بسپنه نږدې 3.58 ميليارد ډالرو ته رسيدلې ده. 3.18 شکل د مالي کال په بنسټ د INCLE تخصيصونه روښانوي. له دغې شميرې د نږدې 3.21 ميليارد ډالرو ژمنه شويده چې له هغې جملې 2.40 ميليارد ډالر لګول شويدي.[47]

د DoS په وينا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ ټوليزې ژمنه شوې بسپنې 190.23 ميليون ډالر د ۲۰۱۲ کال د جون د ۳۰ تر هغې زياتې شويدي. د ۲۰۱۲ کا د سپتمبر تر ۳۰، د ټوليزو لګول شويو بسپنو شميره شاوخوا 167.73 ميليون ډالر له هغې شميرې چې د ۲۰۱۲ کال د جون تر ۳۰ لګول شوې وې اوچته ده.[48] 3.19 شکل د INCLE له لارې د تخصيص شويو، ژمنه شويو او لګول شويو بسپنو يوه ټوليزه پرتله څرګندوي.




**د INL د بسپنو ټرمينالوژي**

INL راپور ورکوي چې INCLE او د INL نورې بسپنې د ټاکل شويو، ژمنه شويو او تصفيه شويو په ډول وراندې کيږي.

**تخصيصونه:** د ژمنې لپاره د پيسو مجموعي موجوديت

**ژمنې:** د پيسو ورکړې ته ژمنې


**د پيسو لګول:** هغه پيسې چې په مصرف رسيدلې دي

سرچينې: د سيګار د 4/9/2010 معلوماتي غوښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب

3.18 شکل

**د مالي کال په اساس د INCLE تخصيصات**

(ميليون ډالر)





يادونې: شميرې په ګردې کولو اغيزمنې شوې دي.

سرچينه: د سيګار د 10/11/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځواب.

3.19 شکل

**د INCLE بوديجو مجموعي پرتله**

(ميليارد ډالر)




يادونې: شميرې په ګردې کولو اغيزمنې شوې دي.

سرچينې: د سيګار د 6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځواب.

## د افغانستان لپاره د بیارغونې په برخه کښې نړیواله بسپنه


د متحده ایالاتو له لوري د چمتو شویو مرستو برسیره، نړیواله ټولنه په افغانستان کښې د بیارغونې او هوساینې هڅو د ملاتړ په موخه د بسپنو لویې سرچینې برابروي. لکه د سیګار په تیر راپور کښې چې روښانه شویده، د نړیوالو بسپنو ډیری برخه د خیریه صندوقونو په چوکاټ کښې اداره کیږي. هغه مرستې چې د خیریه ادارو له لوري برابریږي، له ټولو وروسته د بیارغنیزو فعالیتونو په برخه کښې لګول کیږي. دوه مهم خیریه صندوقونه ،د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق یا ARTF او د افغانستان لپاره د نظم او قانون صندوق یا LOTFA دي.[49]

## د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق یا ARTF

د افغانستان د عملیاتي او انکشافي بودیجي تر ټولوستره نړیواله ونډه د ARTF له لارې راځي. د نړیوال بانک په وینا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، ۳۳ بسپنه ورکونکو هیوادونو د شاوخوا 6.13 میلیارد ډالرو ژمنه کړې چې له هغې جملې نږدې 5.75 میلیارد ډالر ورکول شویدي.[50] نړیوال بانک وایي بسپنه ورکوونکو د روان ۱۳۹۱ افغان مالي کال په اوږدو کښې ARTF ته د 956.16 میلیون ډالرو ژمنه کړېده—چې د ۲۰۱۲ کال د مې له ۲۱ د ۲۰۱۲ کال د دسمبر تر ۲۰ پورې ( په دې نیته کښې به افغان مالي کال میلادي سیستم ته اوړي او د دسمبر له ۲۱ پیلیږي.)[51] 3.20 شکل په ۱۳۹۱ مالي کال کښې ARTF ته لس ستر بسپنه ورکونکې په ګوته کوي.

3.20 شکل

**د بسپنه ورکونکي په اساس د 1391 مالي کال لپاره د ARTF مرستې، د 2012 کال د سپتمبر تر 21 پورې** (میلیون ډالر)




یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي. 1391 لمریز کال د 3/21/2012 څخه تر 12/20/2012 پورې دوام درلود، چې له دې نیټې څخه به ورسته افغان مالي کال د دسمبر له 21 نه د راتلونکې کال د دسمبر تر 20 پورې وي.

سرچینه: "نړیوال بانک، ARTF": د 2012 کال د سپتمبر تر 21 پورې د مالي وضعیت په هکله د رییس رپوټ، 1 مخ.

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، متحده ایالاتو تر 1.74 میلیارد ډالرو ډیرې پیسې ورکړې دي.[52] متحده ایالات او بریتانیا د ARTF دوه ستر بسپنه ورکونکي دي او لکه په 3.21 شکل کښې چې ښودل شویدي . دغه دواړه هیوادونه په ګډه د ټولې بسپنې تر ٪47.6 زیاته برخه ورکوي.

د ARTF سره مرستې په دوو چینلونو ویشل کیږي یوه – د دوامداره لګښتونو یا RC کړکۍ او دوهمه د پانګونې کړکۍ.[53] د نړیوال بانک په وینا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۲۱ د ARTF شاوخوا 2.60 میلیارد ډالره بسپنه د دوامداره لګښتونو د کړکۍ له لارې د افغان حکومت له لوري د ملکي کارکونکو په معاشونو لګول شوي دي او[54] د دوامداره لګښتونو کړکۍ د افغان حکومت د عملیاتي لګښتونو ملاتړ په موخه ورکول کیږي، ځکه د افغان حکومت داخلي عواید لاهم د دغو لګښتونو لپاره کافي نه دي. د دې لپاره چې په دې ډاډ تر لاسه شي چې د دوامداره لګښتونو کړکۍ کافي بسپنه لاس ته راوړي، ARTF ته بسپنه ورکوونکي هیوادونه نشي کولای تر نیمی ډیره ونډه هغو پروژه ته بیله کړي چې په خپله خوښه یې ټاکي.[55]


د پانګونې کړکۍ د پرمختیایي پروګرامونو د لګښتونو په موخه ملاتړ چمتو کوي. د نړیوال بانک په وینا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۲۱، د پانګونې د کړکۍ له لارې پلي کیدونکو پروژو ته د 2.50 میلیارد ډالرو ژمنه شویده چې له دغې شمیرې نږدې 1.72 میلیارد ډالر لګول شویدي. د نړیوال بانک د راپور له مخې ۲۰ روانې پروژې چې د ژمنې له مخې یې ګډ ارزښت تر 1.45 میلیارد ډالرو اوړي په دغه برخه کښې تر کار لاندې دي او په هغو کښې 668.54 میلیون ډالر لا له مخکې لګیدلي دي.[56]

## د افغانستان لپاره د نظم او قانون د بسپنې صندوق یا LOTFA

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره د کورنیو چارو وزارت د ظرفیتونو د لوړولو او د ملي پولیسو د معاشونو د ورکړې په موخه د LOTFA اداري مسولیت په غاړه لري.[57] LOTFA ته له ۲۰۰۲ کال راهیسې بسپنه ورکونکو د 2.64 میلیارد ډالرو ژمنه کړیده چې له هغې جملې 2.56 میلیارد ډالر ورکړل شویدي. د نویو اسنادو مطابق.[58] د LOTFA شپږمه حمایوي مرحله د ۲۰۱۱ کال د جنوري په لومړۍ نیټه پیل شوه او د ۲۰۱۳ کال د مارچ تر ۳۱ پورې به روانه وي. له دغې شمیرې متحده ایالاتو نږدې د 420.92 میلیون ډالرو ژمنه کړیده، همدا راز جاپان ژمنه کړیده چې نږدې 476.62 میلیون ډالر به ورکړي.[59] دغه ګډې ژمنې د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر ۳۱ د LOTFA د شپږمې مرحلې نږدې ٪81 برابروي.[60] د دغه صندوق له پیل راهیسې متحده ایالاتو شاوخوا 892.74 میلیون ډالر ونډه درلودلې ده.[61] د 3.22 شکل د تازه اسنادو پر بنسټ له ۲۰۰۲ کال راهیسې د LOTFA څلور ستر بسپنه ورکونکي په ګوته کوي.

3.21 شکل

**د 1381 لمریز کال څخه د 2012 کال د سپتمبر تر 21 پورې، د بسپنه ورکوونکو په اساس هغه مرستې چې د ARTF لخوا ورکړ شوي دي** (سلنه)





یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي. د 1381 مالي کال=3/20/2003–3/21/2002. د "نورو" په لست کې 28 بسپنه ورکوونکي شامل دي.

سرچینه: "نړیوال بانک، ARTF" د 2012 کال د سپتمبر تر 21 پورې د مالي وضعیت په هکله د رییس رپوټ، 4 مخ.

3.22 شکل

**د 2002 کال څخه د 2012 کال د مارچ تر 31 پورې د LOTFA سره د بسپنه ورکوونکو مرسته** (سلنه)




یادونې: شمیرې په ګردي کولو اغیزمنې شوي دي. EC/EU = اروپایي کمیسیون/اروپایي ټولنه. په "نورو" کې 16 بسپنه ورکوونکي شامل دي.

سرچینې: UNDP، "د LOTFA څلورم پړاو د پرمختګ درې میاشتنۍ رپوټ Q1/2012، "6/26/2012؛ د UNDP لخوا د LOTFA درې میاشتنۍ او کلنۍ رپوټ په اړه د سیګار تحلیل، 10/18/2012.

# د افغانستان د ملي لومړیتوبونو پروګرام

د ۲۰۱۲کال دجولای په ۸ د ټوکیو په اعلامیه کې نړیوالې ټولنې پرځپلو ژمنو یو وارې بیا تاکید وکړ چې له مخې به یې د افغانستان د ملي اولویتونو پروګرام سره د خپلو مرستو ۸۰٪ ترسره کړي او همدارنګه لږترلږه د خپلو پراختیایي مرستو ۵۰٪ د افغان حکومت د ملي بودیجې له لارې برابرکړي. د ۲۲ ملي لومړیتوبونو پروګرام مفکوره په ۲۰۱۰ کال د کابل په کنفرانس کې تصویب شوې وه. دا د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ په نتیجه کې رامینځته شوې، چې په ۲۰۰۸ کال کې د فقر کمولو لپاره ترکارلاندې نیول شوی ؤ. د NPP موخه داده چې په سلهاو افغانان، دوه اړخیزه او څو اړخیزه پراختیایي پروژې داسې سره یوځای کړي چې د افغان بودیجې په چوکاټ کې په ترتیب سره جذب شي او پدې سره یې پایښت ډاډه شي. د ملي اولویتونو هر پروګرام د وزارتونو له شپږو ډلو څخه په یوه ډله ګروپ شوی دي ترڅو د دولتي ادارو او نړیوالو موسسو ترمینځ همغږي پیاوړې کړي: امنیت، حکومتولي، د بشري منابعو پرمختیا، کرهنه او کلیوالي پراختیا، د زیربناپرمختیا، او دخصوصي سکټور پراختیا.

داسې انګیرل کیږي چې د ملي لومړیتوبونو پروګرام به بریالي نوښتونه رامینځته کړي، د ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۴ کلونو ترمینځ خپلې پایلې وښیي، او د پلي کولو په ترڅ کې ۱۰۰ورځنۍ ریوټ ورکولو سیسټم ولري. د تیرکال په ترڅ کې، افغان حکومت پدې اړه کار وکړ چې د ملي لومړیتوبونو درې کلن پروګر ام د ترلو کارونو زماني مهال ویش او بودیجې رامینځته کړي. تردې ربعې پورې، د همغږۍ او څارنې ګډې کمیټې، یو ځګ پوړي پریکړه نیونکي چارواکي چې د افغان مالیې وزارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستي ماموریت لخوا یې په ګډه مشري کیږي، د ملي لومړیتوبونو له ۲۲ پروګرامونو څخه ۱۶ یې تصویب کړي دي. نړیواله ټولنه او افغان حکومت لا تراوسه پدې هڅه کوي چې څنګه د پاتې شپږو پروګرامونو دپلي کولو په اړه یوبل سره موافقې ته ورسیږي. دا پروګرامونه د افغان حکومتولۍ ځینې ستونزمنې برخې په بر کې نیسي، لکه روڼوالی او حساب ورکونه او همدارنګه حقوقي سیسټم.

د ملي لومړیتوبونو هیڅ پروګرام ته په بشپړه توګه بودیجه نه ده برابره شوې، او افغان حکومت هڅه کوي ترڅو د ټولو پروګرامونو لپاره بسپنې ترلاسه کړي. د ملي لومړیتوبونو ډیر لګښت درلودونکی پروګرام د ملي او سیمه ییزو سرچینو د کوریډور پروګرام دی. د دې پروګرام موخه داده چې افغانستان د سړکونو، ریل لارو، او هوایي ډګرونو له لارې د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره ونښلوي. دا پروګرام په درېو کلونو کې 7،3 میلیارده ډالر بودیجه لري، چې له دې څخه لاتراوسه پورې داسې نړیوالو بسپنه ورکوونکو ته اړتیا لري چې ۲ میلیارده ډالر ورته چمتوکړي. د ښاري اداري څخه د ملاتړ کولو پروګرام دویم ډیر لګښت درلودونکی پروګرام دی. دا پروګرام د دې لپاره طرحه شوی چې د ښار حکومتولي پیاوړې کړي او په ښار کې د رامینځته شوي چاپیریال، په خاصه بیا په پلازمینه کابل کې، کیفیت ته وده ورکړي. درې کلنه بودیجه یې له 6،1میلیارده ډالرو څخه زیاته ده چې افغان حکومت له دې شمیر څخه شاوخوا 4،1 میلیارده ډالرو ته اړتیالري. د ملي لومړیتوبونو ډیر لږ لګښت درلودونکی پروګرام د افغانستان د ښځو لپاره د ملي تګلارې د پلي کولو لپاره د ظرفیت زیاتولو پروګرام دی. (NAPWA) د دې پروګرام موخه داده چې ددولت ظرفیت پیاوړی کړي ترڅو د خپل پالیسي جوړولو، پلان کولو، پروګرام جوړولو، بودیجه ورکولو، پلي کولو، څارلو، ریپوټ ورکولو، او ارزولو په پروسو کې NAPWA پلي کړي. حکومت د دې پروګرام له ۲۹،۷ میلیونه ډالر مجموعي بودیجې څخه تراوسه پورې ۲۰۰۰۰۰ډالر تیارکړي دي.

د ملي لومړیتوبونو په پروګرامونو کې د افغانستان د سولې او بیایوځای کیدلو پروګرام، امنیت پورې تړلې یواځینی پروګرام دی. په عملیاتي کچه، د بیایوځای کیدلو پروګرام د پلي پوځ، وړو ګروپونو، او محلي مشرانو، چې د جنګیالیو ډلو زیاته برخه جوړوي، سره د کارکولو په مرسته د سولې بهیر پیاوړی کوي. په ستراتیژیکه او سیاسي کچه، دا هڅې د جنګیالیو ډلو پر مشرتابه تمرکز کوي. د پنځو کلونو لپاره د دې پروګرام مجموعي بودیجه ۷۷۳میلیونه ډالر کیږي.

**د افغانستان د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه (NPPs)**

| امنیت | حکومتولي | د بشري سرچینو پرمختیا | کرهنیزه او کلیوالي پرمختیا | د زیربنا پرمختیا | د خصوصي سکټور پرمختیا |
|---|---|---|---|---|---|
| سوله او بیایوځای کیدنه | مالي او اقتصادي سمونونه | د ورتوبونو د پرمختیا په مرسته د پایداره بنو کرنو اسانول | کلیوالیو سیمو ته د لاسرسۍ موندلو ملي پروګرام | د سیمه ییزو سرچینو د کوریډور ملي نوښت | د سوداګریزو او SME مرستو په جامع ډول اسانول |
| | محلي حکومتولي | زده کړه د ټولو لپاره | د محلي تاسیساتو پیاوړی کول | د ملي استخراجي صنعت د وده کولو پروګرام | E - افغانستان |
| | د بشري حقونو او مدني پوهني مسولیتونه | د لورو زده کړو فرصتونو پراخول | د اوبو او طبیعي زیرمو د پراختیا ملي پروګرام | د ښارونو د ازادلو ملي پروګرام | |
| | د رونوالي او حساب ورکولو ملي پروګرام | د افغانستان د ښځو په اړه د ملي تګلاري پلي کولو ګرندی کولو لپاره د ظرفیت زیاتول | د جامع کرهنیز تولید او بازار موندلو ته پراختیا ورکولو ملي پروګرام | د انرژي رسولو ملي پروګرام | |
| | موثر او ګټوره حکومتولي | د روغتیا لپاره بشري سرچینې | | | |
| | قانون او عدالت د ټولو لپاره | | | تصویب شوی | ندی تصویب شوی |

# منځپانګه


| | |
|---|---|
| د امنیت په وړاندې ننګونې | 77 |
| د امنیت چاپیریال | 78 |
| داخلي بریدونه | 79 |
| د افغان ملي امنیتي ځواکونو ارزونه | 80 |
| د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې | 83 |
| د لیږد بهیر | 84 |
| افغان عامه ساتونکي پوځ د مهال ویش څخه وروسته | 87 |
| افغان ملي پوځ | 87 |
| افغان ملي پولیس | 91 |
| د ANSF طبي/روغتیایي پاملرنه | 94 |
| د متحده ایالاتو ځواکونه | 95 |
| د نه چاودیدلو مهماتو له مینځه وړل | 96 |
| د مخدره موادو ضد مبارزه کول | 96 |

# امنيت

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر۳۰ مې پورې د متحده ايالاتو کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه د ملاتړ لپاره 1،51 ميلیارده ډالرو څخه زیاتې پیسې تخصیص ورکړی. د دې بسپنو زياته برخه ( 6،49 ميلیارده ډالر) د افغان امنيتي ځواکونو د بوديجې له لارې تخصیص شوي ول چې په افغانستان کې د امنيتي ليږد ګډې قوماندې لخوا چمتو شو. د دوی موخه د افغان ملي امنيتي ځواکونو جوړول، تجهيز، روزنه ورکول، او پايښت ده، چې پدې کې افغان ملي پوځ او افغان ملي پوليس دواړه شامليږي. د 6،49 ميلیارده ډالرو له جملې څخه چې ASFF ته تخصیص شوي ؤ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې نږدې ۴۲ ميلیارده ډالر يې وسپارل شو چې له هغې نه 5،36 ميلیارده ډالر مصرف شوي ول.[62]

پدې برخه کې افغان ملي امنيتي ځواکونه او د دفاع او داخلي چارو وزارتونه ارزول کيږي؛ د ANSF دجوړولو، تجهيزاتو، روزلو، او پايښت لپاره د متحده ايالاتو بسپنو ته يوه عمومي کتنه کيږي؛ او په افغانستان کې د مخدره توکو د توليد او سوداګرۍ په وړاندې د مبارزو په هکله تازه خبرې وړاندې کوي.

## د امنيت په وړاندې ننګونې

افغانستان، متحده ايالات، او د افغانستان په بيارغونه کې نور ښکيل نړيوالې ټولنې پدې هڅه کې دي ترڅو په تيزۍ سره خپل يو مهم هدف ته ورسيږي ــ په ۲۰۱۴ کال کې افغان ځواکونو ته د امنيتي مسوليتونو ليږد. د نړيوال سوله ساتي ځواکونو ګډې قوماندې ويلي دي چې افغان ملي امنيتي ځواکونه به په ۲۰۱۳ کال کې د ټاکل شوو ولايتونو بشپړ امنيتي مسوليت په غاړه واخلي.[63] په هرصورت، داچې آيا ANSF به د دې مسوليت منلو ته اماده وي که نه ګڼ شمير ننګونې شته دي.

د داخلي يا "شين په نيلي" بريدونو زياتوالی کيدای شي د ANSF او د ناټو په مشرۍ د ايتلافي ځواکونو مورال ته ضربه ورسوي، او د دوی ترمينځ بې اعتباري زياته کړي. دا بريدونه د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو د هغو هڅو مخنيوی کوي چې د ANSF په واحدونو کې د سرتيري يا هم د قوماندان په توګه د ماموريتونو سرته رسولو لپاره برخه واخلي.[64]

برسيره پردې، د متحده ايالاتو حکومتي سرچينې رپوټ ورکوي چې د ANSF ځواکونو خپلې موخې ته چې د ۳۵۲۰۰۰ غړو درلودل ؤ، نږدې شوي دي. مګر د ريښتونې ځواک معلومول ګران دي، او په رپوټ کې ځينې کمزورتياوې ښيي چې د افغان ځواکونو موجوده شمير ښايي په بشپړه توګه دقيق نه وي(په همدې برخه کې د "ANA پياوړتيا" موضوع وګورئ، 87–88 مخونه). سيګار د ANSF پياوړتيا معاينه کوي ترڅو معلومه کړي چې ايا کومې پلټنې ته اړتيا شته که نه. پرته له دې چې د ANSF پياوړتيا په څرګند ډول معلومه

### د سيګار پلټنه

سيګار داسې يوه پلټنه پيل کړې ده چې معلوموي آيا DoD او قراردادکوونکو يې داسې کړنلارې مينځته راوړي دي چې دښمن ته د قرارداد له ورکولو څخه مخنيوی وکړي. د لازياتو معلوماتو لپاره، د ۲ برخې ۳۳مخ وګورئ.

شي، د اوږد مهاله پایښت د لګښت(په خاصه بیا د معاشونو او مصرفیاتو لپاره، لکه خواړه او مهماتو) تعینول به ګران کار وي. داسې ټاکل شوې ده چې د ANSF پرسونل به تر ۲۰۱۷ کال پورې ۲۲۸۵۰۰ کسانو ته ټیټ کړای شي. دا ځواکونه به د شمیر له کمولو څخه وروسته هرکال د پایښت لپاره 1،4 میلیارده ډالر لګښت ولري.[65]

یوه بله اندیښنه د ANSF او د دفاع (چې افغان پوځ ځاري) او د داخلې (چې افغان پولیس ځاري) وزارتونو وړتیا ده. که څه هم افغانانو او ایتلافي ځواکونو د ANSF په جوړولو کې کافي پرمختګونه کړي دي ـــ په پیل کې موخه د ۱۳۲۰۰۰غښتلي ANSF درلودل ؤ چې وروسته یې شمیر ۳۵۲۰۰۰ ته ورسول شو ـــ خو ګروپونو ته د نمرو ورکولو په معیارونو کې بدلون راوستل ددې لامل شو چې د لوړو واحدونو د وړتیا په اړوند ځینې پوښتنې راولاړې شي. د ۲۰۱۱ کال په مارچ کې، لوړ ګروپ د "خپلواک" څخه "د [غیرافغاني] مشاورینو څخه خپلواک" ته بدل کړای شو. IJC ویلي چې کوم واحدونه چې په دې سطحه کې وي "د دې وړتیا لري ترڅو یواځې یو ماموریت پلان او پلي کړي او هم د ضرورت په وخت کې د ایتلافي ځواکونو څخه د مرستې غوښتنه وکړي."[66] پهرصورت، د دولت د حساب ورکوونې دفتر په وینا، د "خپلواک" اصلي کټګورۍ مطلب داؤ چې "یو واحد وکولی شي د ایتلافي ځواکونو د مرستې څخه پرته د یو ماموریت پلان جوړول، پلي کول او پایښت سرته ورسوي." بله داچې، GAO یادونه کړې ده چې "د کټګورۍ بدلون د دې لامل ګرځیدلی دی چې د واحد د پرسونل او تجهیزاتو سویې د صلاحیت لرونکو کچو د سلنې له ’۸۵ څخه کم نه وي‘ څخه ’د ۷۵ څخه کم نه وي‘ کچې ته راټیټ شي."[67] په بل عبارت، د کټګورۍ له بدلولو څخه مخکې، یو واحد ته یواځې هغه وخت لوړ نمبر ورکول کیده چې په لوړه کچه یې کړنه درلوده، او ۸۵٪ ستاف درلودل او پرسونل او تجهیزات یې د مجاز تر سطحې وای. د بدلون څخه وروسته، یو واحد په هغه صورت کې کولی شي لوړ نمبر واخلي چې په لوړه کچه کړنه ولري، او ۷۵٪ سټاف او تجهیزاتو درلودونکی وي.

برخلاف د دې، د وزارتونو د وړتیا ارزونې سیسټم د "خپلواک عملیاتو ترسره کولو وړتیا درلودل" نمبر ورکولو ته اجازه ورکوي. په هرصورت، د رپوټ ورکولو پدې دور کې د امنیتي مسولیت په غاړه درلودونکی هیڅ کوم دفتر پدې ندی توانیدلی چې لوړ نمبر واخلي، او یواځې څو دفترونه توانیدلي چې دویم نمبرخپل کړي، "پدې معنا چې یواځې د ایتلافي ځواکونو ترڅارنې لاندې کولی شي اجرایي کارونه ترسره کړي" (په همدې برخه کې د ANSF "ارزونې" او د "داخلې او دفاع چارو وزارتونو ارزونې" وګورئ، 83 مخ).[68]

**مرسته کوونکي:** ځانګړي واحدونه دي چې د جګړه کوونکو واحدونو سره په بیلابیلو برخو کې لکه انجینري، ملکي چارې، پوځي استخبارات، هیلي کوپټر، پوځي پولیس، څارنه، او د لومړنی سروې شتمنی په برابرولو کې مرسته کوي.

سرچینه: DoD، "په افغانستان کې د مخو سنګرونو کې د مولن سیاحت،" 4/22/2009، په 1/4/2012 نیټه کې لاس ته راغلی.

## د امنیت چاپیریال

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۰ جان کوبیس، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي، په کابل کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورۍ په یوه غونډه کې وویل چې امنیت په افغانستان کې لاتراوسه ثابت وضعیت نلري. ده رپوټ ورکړچې، په عمومي ډول، په روان کال کې د مې میاشت څخه تر جولای پورې امنیتي پیښې د تیر کال ۲۰۱۱ په پرتله ټیټې وې، خو د ۲۰۱۲ کال د اګست میاشت د ۲۰۰۷ کال څخه راهیسې، چې د افغانستان سره د ملګرو ملتونو مرستندویه څانګه دا پیښې څاري، د ملکي وګړو لپاره دویم ډیر وژونکی میاشت ګڼل شوې ده. همدارنګه کوبیس اشاره وکړه چې د "دولت پلوه" ډلو د هوایي بریدونو له کبله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه ـــ د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې عمده لامل چې د ملګرو ځواکونو له خوا مینځ ته راځي ـــ د ۲۰۱۱ کال د ورته دورې په پرتله یې ۶۲٪ کمښت موندلی دی.[69] د دفاع وزارت ویلي دي "چې د[ملکي وګړو مرګ ژوبله] تر ډیره حده د جنګیالیو له امله رامینځته شوې ده."[70]

د دفاع وزارت په وینا، د ۲۰۱۱ کال په پرتله په روان کال کې امنیت په ګڼ شمیر مشهورو ولسوالیو کې د پام وړ ښه شوی دی: د دښمن لخوا پیل شوي بریدونه په کندهار کې ۶۳٪، په کابل کې ۲۲٪، په جلال آباد کې ۳۳٪، په مارجې کې ۶۰٪، په مزارشریف کې ۸۸٪، او په هرات کې ۱۳٪ کم شوي دي. د دښمن لخوا پیل شوي بریدونه په عمومي توګه د ۲۰۱۰ کال په پرتله په ۲۰۱۱ کال کې ۹٪ او په ۲۰۱۲ کال کې ۳٪ کم شویدي. د جنګیالیو بریدونه ـــ په ځانګړي توګه په سهیلي او سهیل لویدیځو سیمو کې ـــ د تهاجمي شکل څخه چې د افغان خلکو د تراکم په مرکزونو کې پیښیدلې، په دفاعي بڼه بدل شوي دي چې د جنګیالیو په خوندیو ځایونو کې ترسره کیږي؛ ۸۰٪ بریدونه په داسې ولسوالیو کې شوي دي چې یواځې ۲۰٪ نفوس پکې ؤ، او نږدې نیمايي بریدونه په ټول هیواد کې په ۱۷ ولسوالیو کې ترسره شوي دي چې یواځې ۵٪ نفوس پکې استوګن ؤ.[71]

## داخلي بریدونه

داخلي یا "شین په نیلي" بریدونه ـ داسې کسان چې د ANSF یونیفارم یې اغوستي وي او پر ایتلافي ملګرو برید وکړي ـ د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د هڅو مخنیوی کوي ترڅو افغانان تر ۲۰۱۴ کال پورې د امنیتي مسولیت په غاړه اخیستلو ته چمتو نشي. دې بریدونه د ایتلافي ملګرو او افغان لورې په اړیکو کې ستونزې پیدا کړي دي. د روان کال له پیل څخه په رسنیو کې د دې رپوټ تر خپریدو پورې ۳۷ داخلي بریدونه پیښ شوي چې له امله یې د ایتلافي ځواکونو ۵۱ سرتیري له مینځه تللي دي (د متحده ایالاتو د ۳۲ پرسونل په شمول).[72] د ناټو/ایساف د رسمي چارواکو په وینا، د دې بریدونو ۲۵٪ کې "دښمن په مستقیم ډول د برید پلان جوړ کړی ؤ." دوی وایي چې ځینې داخلي بریدونه د کلتوري ټکرونو یا خپګان له امله رامینځته شوي ؤ.[73] افغان حکومت د داخلي بریدونو پړه د ترهګرو پر نفوذ او بهرنیو استخباراتو اچوي.[74]

ایساف په راتلونکي کې د داخلي بریدونو څخه د مخنیوی لپاره لاس په کار شوی. دا غبرګون د دې لامل شو چې ګڼ شمیر معیارونه رامینځته شي. په اګست میاشت کې، ایساف د ټولو ایتلافي ځواکونو څخه غوښتنه وکړه چې خپلې وسلې دې په هر وخت کې له ځان سره ډکې وساتي.[75] برسیره پردې، د ساتونکې فرشتې پروګرام یې هم پلي کړ چې له مخه یې د ANSF له لورو سره د کتنې پرمهال به د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو یو یاڅو سرتیري به په وسلو سمبال او چمتو وي.[76] د سپتمبر څخه دیخوا، ایساف او افغان حکومت نور معیارونه هم په کار اچولي دي، چې د اخطار ورکولو نوی سیستم، د استخباراتو تبادلې وده، د رپوټ ورکولو نوم نه لرونکی سیستم، د تحقیقاتو یو ګډ کمیسیون جوړول، او کلتوري روزنې ته وده ورکول پکې شامل دي.[77]

ایساف د دفاع او کورنیو چارو له وزارتونو سره مرسته کوي ترڅو د سرتیرو د ګومارنې کړنلارې له سره معاینه کړي او هغه جنګیالي په نښه کړي چې د اردو او پولیسو په لیکو کې یې ځای نیولی دی. نور دا چې، افغان حکومت د استخباراتو ضد یو فعالیت پیل کړی او د ANSFپه لیکو کې داسې کسان ځای په ځای کوي چې د داخلي بریدونو احتمالي ګواښونه تشخیص او مخنیوی یې وکړي.

خو یوازې د "داخلي" بریدونو ګواښ د اندیښنې وړ ندی. په یوبل باندې د ANSF د غړو بریدونو راتلونکې کې د افغان ځواکونو د ثبات په اړه اندیښنې زیاتې کړي دي.[79] په ځینو پیښو کې، پر افغانانو باندې د افغانانو بریدونه داسې دي چې د یو قوم وګړي پر بل قوم باندې برید کوي. د افغان اردو او پولیسو په لیکو کې د داخلي بریدونو جزییات څوځلي تصنیف شوي دي. په هرصورت، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وینا، پدې ربع کې ۹

تنه پښتانه د اوازو پربنسټ د هزاره ګانو لخوا وژل شوي دي چې ځان يې د محلي دفاعي ځواکونو په شکل جوړ کړی و. وروسته بيا طالبانو دوه هزاره ګان ووژل. برسيره پردې، د اګست په ۱۱ د نيمروز په ولايت کې د اردو يوه سرتيرى خپل ۱۰ تنه ملګري ووژل. عمومي منشي همدارنګه هغه رپوټ ته اشاره وکړه چې پدې ربع کې افغان امنيتي ځواکونو خپلې دندې پريښې؛ د جون په ۲۴ د محلي پوليسو ۱۷ تنه او د جولاى په ۳ نور ۹۳ کسان له طالبانو سره يوځاى شول.[80]

داخلي بريدونو د محلي پوليسو ليکې هم اغيزمنې کړې دي، کوم چې د ۲۰۱۴ کال د ليږد ځخه وړاندې په کليوالي سيمو کې د امنيت راوستو لپاره د افغان حکومت او ايتلافي ځواکونو لخوا رامينځته شوي دي. د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې، د ايساف قوماندان جنرال جان آر. آلن د سنايوې کميټې په مخکې د هغو پوځي خدماتو ترسره کول ومنل چې "د افغان محلي پوليسو د بريالیتوب" په نوم يې هڅولې ؤ او دايې په نښه کړه چې، "تر اوسه لاهم د دې امکان شته چې زمونږ د شنو خولو، نښو، او سمندري ځواکونو باندې" چې د محلي پوليسو سره ښکيل دي او روزنه ورکوي، بريد وشي.[81] په هرصورت، د متحده ايالاتو د سپيشل فورس دوه غړي په فراه کې د محلي پوليسو يو عسکر لخوا وژل شوي ول.[82] د متحده ايالاتو ځواکونو د سپتمبر په مياشت کې د محلي پوليسو ۱۰۰۰کسانو ته د روزنې ورکولو بهير د داخلي بريدونو د ګواښ له امله وځنډول. د ځنډولو په موده کې، د ANSF له روزل شوو کسانو سره ګډ عملياتونو دوام درلود پداسې حال کې چې د ۱۶۳۰۰ ALP غړي له سرنه "تر بيا کتنې" لاندې ونيول شول.[83] د متحده ايالاتو سپيشل فورس د اکتوبر په مياشت کې د محلي پوليسو روزنه بيرته پيل کړه.[84] د دفاع وزارت وايي چې "د محلي پوليسو داخلي بريدونه د ټولو داخلي بريدونو يوه کمه سلنه جوړوي."[85]

جنرال آلن غوښتنه کړې وه چې دې بريدونو ته جدي پاملرنه وشي. ده وويل چې په داخلي بريدونو باندې تمرکز "د جنګياليو لخوا د افغان ملکي وګړو وحشيانه وژنې کمرنګه کوي." ده همدارنګه وويل چې، "ډير امريکايان دې ته چمتو ندي چې خپل هيواد او د امنيت ودې موندلو ته چې زمونږ د ګډو هڅو پايله ده، د افغانانو ژمنتيا وګوري. خو زه چمتو يم."[86]

## د ANSF ارزونه

د ۲۰۱۲ کال د جولاى په ۲۴، د متحده ايالاتو حکومت د حساب ورکونې د فتر يو رسمي چارواکي د پارلمان د پوځي خدماتو کميټې د څارنې او تحقيقاتو فرعي کميټې ته په خپلو خبرو کې وويل چې د دفاع وزارت او ناټو د ANSF ارزونې لپاره خپل اسباب بدل کړي دي. ده اشاره وکړه چې د ۲۰۱۱ کال څخه ديخوا، د واحدونو د کټګورۍ ورکولو پورتنى معيار له "خپلواک" څخه "د مشاروينو سره خپلواک" ته بدل شوي او دا چې "د دې بدلونونو په څنګ کې د ارزښت ورکولو ځينې شرطونو لرې کول د دې لامل شو چې د ANSF ډير واحدونه د ارزونې اعلى نمبر واخلي."[87]

سيګار ته په يوه ځواب کې، IJC د GAO رپوټ "ناسم او ګمراه کوونکى" وباله او زياته يې کړه چې په نمبر کولو کې بدلون راوستل "په خپل تعريف کې له بدلون سره مساوي ندی." برسيره پردې، دوی ويل چې د ۲۰۱۱ په اګست کې د "خپلواک" څخه"د مشاورينو سره خپلواک" بدلوونې د نمبر ورکولو په تعريف کې کوم توپير ندی راوستی، "بلکه د دې بدلون مطلب د دې خبرې روښانه کول ؤ چې که چيرې يو واحد خپلواکۍ ته رسيږي نو پدې معنا نده چې د ايتلافي ځواکونو له پوښښ څخه لرې پريښودل شي." IJC همدارنګه وويل چې دې تغير "[کټګوريو ته په نمبر ورکولو کې]د عملياتي موثريت پر معيارونو د واحد د پرسونل او تجهيزاتو معيار کمولو سربيره،کوم توپير ندی راوستی."[88] DoD ويلي چې د نمبر

ورکولو روان سیستم، د واحد لپاره د قوماندان د ارزونې اسباب ”په یواځې سره د ANSF پراخه ارزونه نشي کولی او اړینه ده چې د نورو شاخصونو په وړاندې کې وکارول شي لکه د ANSF عملیاتونه، د کورنیو او دفاع چارو وزارتونو وړتیاوې، او د امنیتي لیږد روان بهیر.“[89]


سیګار د ۲۰۱۰ کال څخه دیخوا د ANSF ارزونه له نږدې نه څارله، په هغه وخت کې چې سیګار پخواني د ارزونې اسباب د لومړي ځل لپاره تر پلټنې لاندې نیولي ؤ ـــ د وړتیا موخې ته د نمبر ورکولو سیستم ـــ او دایې ومونده چې د ارزولو دا سیستم د ANSF د وړتیاو په اړه ډاډه او ګټور معلومات نشي چمتو کولی. د یادې پلټنې په ترڅ کې DoD او ناټو ANSF ته د نمبر ورکولو لپاره د یو نوي سیستم ،د CUAT په نوم، په کارولو پیل کړ.

پدې ربع کې، د افغان ملي پوځ له ۲۶۷ واحدونو څخه ۲۱۶ یې ـــ کنډکونه، حمایتي واحدونه، جلا ټولي، او مرکزي واحدونه ـــ وارزول شول. د ارزول شوو واحدونو له جملې څخه، ۱۴٪ ته ”د مشاورینو سره خپلواک“، ۶۳٪ ته ”د مشاورینو سره اغیزمن“، ۱۸٪ ته ”د ملګرو سره اغیزمن“، او ۵٪ ته ”له ملګرو سره وده کوونکي“ نمرې ورکړ شوې (د نمبر ورکولو تعریفونه په راتلونکې پاڼه کې وګورئ).[90] پدې ربع کې د هغو واحدونو شمیرچې اعلی نمرې ورکړ شوي دي د تیرې ربع د ارزونې په پرتله ۳۳٪ زیاتې وې لکه څنګه چې په 3.23 شکل کې ښودل شوي دي.

پدې ربع کې د افغان پولیسو له ۴۰۸ واحدونو څخه ۲۷۷ یې وارزول شول. د دوی له جملې څخه، ۱۸٪ ته ”د مشاورینو سره خپلواک“، ۴۷٪ ته ”د مشاورینو سره اغیزمن“، ۲۲٪ ته ”د ملګرو سره اغیزمن“، او ۱۱٪ ته ”د ملګرو سره وده کوونکي“ نمرې ورکړ شوې. د CUAT

3.23 شکل

**ANSF ته د CUATنمبرورکول، دري میاشتنی بدلون**




سرچینې: د سیګار 9/26/2012 او 7/2/2012 معلوماتي غوښتنتو ته د CSTC-A ځوابونه.

په وروستي تازه رپوټ کې اشاره شوې ده چې د وروستۍ ربعې څخه دېخوا د افغان پوليسو د واحدونو په شمير کې کافي کموالی راغلی، "ځکه نو په دقيقه توګه د پرمختګ ارزونه ګرانه ده."[91]

د DoD په وينا، ANSF په زياتيدونکې توګه د مشرۍ خواته روان دی او ډېر يو اړخيز عملياتونه پرمخ بيايي. د روان کال تر دوبې پورې، په شمالي سيمو کې به د امنيتي مسوليت ډيری برخه د ANSF په غاړه وي. DoD ويلي چې ANSF تر اوسه دا ښودلې ده چې په ناامنو سيمو کې د پيچلو، او څو ورځنيو عملياتونو پرمخ بيولو جوګه دي. همدارنګه DoD اشاره وکړه چې، پدې ربع کې افغان ملي امنيتي ځواکونو په سهيل او ختيځه سيمه کې نه يواځې ګڼ شمير عملياتونه پلان، مشري، او په برياليۍ توګه پلي کړل، بلکې داېې هم وښودل چې کولی شي په خپلو مينځو کې ، او په يوه پيښه کې له پاکستاني پوځ سره، همغږي رامينځته کړي[92]. سربيره پردې، DoD په نښه کړه چې د ANSF تر مشرۍ لاندې په ځينو عملياتونو کې د افغان پوځ، پوليس، د ملی امنيت عمومي رياست، او ايساف ګڼ شمير برخو هم ګډون درلود، او همدارنګه عملياتونه پراخ ؤ چې څو هفتې دوام يې درلود. په يوه پيښه کې ۱۱۰۰۰پرسونل ګډون درلود. په يوه بله کې، ANSF د افغان ملاتړ کوونکي چينل لخوا حمايت شو.[93]

### د واحدونو لپاره د قوماندان د ارزونې اسبابو نمبر ورکول

ايساف د افغان ملي پوځ او ملي پوليسو د وړتياوو ارزولو لپاره د واحدونو د ارزولو لپاره د قوماندان د ارزونې له اسبابو څخه کار اخلي، چې پنځه نمرې لري:[94]

- **د مشاورينو په شتون کې خپلواک:** دا واحد وړتيا لري چې د خپلو ماموريتونو پلان جوړ او پلي کړي، د مادونانو قومانده او کنټرول ترسره کړي، د بيړني غبرګون ځواکونو او طبي تشونې راوغواړي او ورسره همغږي شي، استخبارات تحليل او تجزيه، او په يوه پراخ استخباراتي سيستم کې عمليات ترسره کړي.
- **د مشاورينو په شتون کې اغيزمن:** دا واحد کولی شي د وضعيت او عملياتو په اړه موثر پلان جوړول، برابرول، لارښوونه، او رپوټ ورکول سرته ورسوي. ايتلافي ځواکونه د واحد پرسونل ته يواځې محدود، او ضمني لارښونې کوي او د اړتيا په وخت کې مرستندويه ځواک ورليږي. ايتلافي ځواکونه يواځې د ضرورت په وخت کې خپل ملاتړ زياتوي.
- **د ملګرو په شتون کې اغيزمن:** دا واحد د عملياتونو او يو وضعيت د پلان جوړولو، برابرولو، لارښوولو، او رپوټ ورکولو په اړه؛ د نورو واحدونو سره د همغږۍ او اړيکې ټينګولو کې؛ او د اغيزمنې امادګۍ د رپوټ چمتو کولو په برخو کې معمولو مشورو ته اړتيالري. د ANSF "کومکي ډلې" د دې واحد لپاره مرستې چمتو کوي؛ په هرصورت، ايتلافي ځواکونه هم د دغو مرستو څخه د ملاتړ لپاره مرستې برابروي.
- **د ملګرو په شتون کې وده کوونکي:** دا واحد د عملياتونو او د يو وضعيت د پلان جوړولو، برابرولو، لارښوولو، او رپوټ ورکولو په برخه کې؛ د نورو واحدونو سره د همغږۍ او اړيکې ټينګولو کې؛ او د اغيزمنې امادګۍ رپوټ چمتو کولو کې مرستې او ملګرتيا ته اړتيا لري. ځينې کومکي ډلې په موثر ډول شتون لري، او د مرستو يوه برخه چمتو کوي. د کومکي ډلو او مرستو ډيره برخه د ايتلافي ځواکونو لخوا چمتو کيږي.

- **تاسیس شوی:** دا واحد نوی تنظیم شوی او ان د یو ملګري واحد د مرستو سربیره هم په ډیره سختۍ سره کولی شي د عملیاتونو او یو وضعیت پلان جوړول، برابرول، لارښوول، یا رپوټ ورکول ترسره کړي. دا واحد ډیر لږ کولی شي د نورو واحدونو سره همغږي او اړیکه ټینګه کړي. د واحد د کومکي ډلې ډیره برخه اکثرا شتون نلري یاهم ډیر لږ موثریت لري. یاده کومکي ډله د واحد لپاره ډیر لږ ملاتړ چمتو کوي یاهم بالکل نه کوي. د ملاتړ ډیره برخه د ایتلافي ځواکونو لخوا برابریږي.

## د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې

پدې ربع کې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې محدود پرمختګ ښودلی دی. د دې وزارتونو د عملیاتي وړتوبونو د ارزولو لپاره، په افغانستان کې د ناټو روزونکی ماموریت (NTM-A) د وړتیا د موخې (CM) درجه بندۍ له سیستم څخه کار اخلي. دا سیستم د څلور ابتدایي او دوه ثانوي درجه بندیو په مرسته د سټاف برخې (لکه هغه دفترونه چې د وزیرانو د مرستیال یا معین لخوا یې مشري کیږي) او متقابل کاري سیمې (لکه د عمومي سټاف دفترونه) ارزوي:[95]


- CM-1A: د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لري
- CM-1B: یوازې د ایتلاف ترڅارنې لاندې کارونه ترسره کولی شي
- CM-2A: د ایتلاف په لږه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: خپل کارونه سرته رسولی شي خو د ایتلاف لږې مرستې ته اړتیا لري
- CM-3: د ایتلاف د پام وړ مرستې څخه پرته خپل ماموریت سرته نشي رسولی
- CM-4: شتون لري خو خپل ماموریت سرته نشي رسولی

پدې ربع کې د دفاع وزارت له ۴۵ د سټاف برخو او متقابلو کاري سیمو څخه ۴۲ یې وارزول شوې. له هغو څخه یو دفتر پرمخ ولاړ او بل یې پرشا تلی، لکه څنګه راتلونکې پاڼې په 3.24 شکل کې ښودل شوی. دوه دفترونه چې په تیره ربعه کې د متقابل کاري ساحې په لست کې وو (خو ارزول شوي نه و) پدې ربع کې شاملې ندي: د ځمکنۍ قواوو قومانده او د مرکزي اداري د حمایتي خدماتو لیوا. له دوو دفترونو څخه چې پایلې یې له وروستۍ ربعې سره توپیر درلودې، د ANA د روزولو قومانداني ؤ د CM-2B څخه CM-2A ته پرمختګ وکړ؛ او د ANA د ځانګړو عملیاتونو قومانداني ؤ د CM-2B څخه CM-3 ته ټیټ کړای شو (له آخري خوا څخه دویمه درجه).[96]

د کورنیو چارو وزارت ټول ۳۱د سټاف برخې وارزول شوې؛ د تیرې ربع څخه دیخوا په څلورو دفترونو کې پرمختګ په نښه شوی. د حقوقي چارو او د حقوقي مشاور دفتر ـ چې په تیره ربعه کې د یو دفتر په توګه ارزول شوي ول ـ پدې ربع کې بیل بیل وارزول شو. د حقوقي چارو دفتر خپله پخوانۍ درجه CM-2B خوندي کړه، پداسې حال کې چې د حقوقي مشاور دفتر یوه درجه پورته CM-2A خپله کړه. هغه څلور دفترونه چې پرمختګ یې کړی ؤ د عمومي پلټونکي دفتر(CM-2B)، د مالي او بودیجې دفتر(CM-2B)، د ځواک اداره کولو دفتر، او د سړک د غاړې ماینونو په وړاندې د مبارزې (د IED په وړاندې د مبارزې) دفتر(CM-3) دي.[97]

3.24 شکل

**د داخلې او دفاع وزارتونو د وړتیا پراو ته د نمبر ورکولو درې میاشتنی بدلون**




سرچینې: د سیګار 10/1/2012 او 7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځوابونه.

## د سیګار پلټنه

سیګار یوه پلټنه پیل کړې ده ترڅو معلومه کړي چې ایا د ANSF لخوا NTM-A/CSTC-A ته د مرکز جوړولو شرطونه او د لیږد کړنلارې د قرارداد له منل شوو کړنلارو څخه پیروي کوي که نه. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ۲ برخې، ۳۴ مخ وګورئ.

## د لیږد پرمختګ


افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو لیږد چې د ۲۰۱۴ کال ترپایه پورې باید بشپړ شي، تراوسه دوام لري. درې برخې ــ چې هره یوه برخه یې د افغانستان نږدې ٪۲۵ نفوس پکې دی او ګڼ شمیر ښارونه، ولسوالۍ، او ولایتونه پکې شامل دي ـــ به په روان بهیر کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي لکه چې په 3.25 شکل کې ښودل شوي دي.[98] تراوسه لا په هیڅ یوه برخه کې بهیر ندی بشپړ شوی. د لومړۍ سیمې لیږد د ۲۰۱۱ کال په جولای کې، د ۲ برخې لیږد د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې، او د ۳ برخې لیږد د ۲۰۱۲ کال په جولای کې پیل شو (چې پدې سره نږدې ٪۷۵ نفوس په لیږد کې شامل شویو سیمو کې اوسیږي).

پدې ربع کې، DoD رپوټ ورکړ چې په ۱ او ۳ برخو کې د دښمن لخوا پیل شو بریدونو کچې ٪۸-۷ کم شوي او په ۲ برخه کې ٪۴ زیات شوي دي. په هرصورت، DoD ویلي چې "د واقعي معیارونو او د خلکو د احساساتو له مخې ۱ او ۲برخې په ټول افغانستان کې ډیرو خوندیو سیمو په توګه پیژندل شوي دي." په هغو سیمو کې چې لاتراوسه په لیږد کې شامل ندي، د دښمن لخوا پیل شوي بریدونو کچه په مجموعي ډول ٪۶ زیاته شوې.[99]

DoD ویلي چې راتلونکې موخه به په ځینو سیمو کې د لیږد بشپړ کول وي. د یوولسو ولایتونو ټولې ولسوالۍ په لیږد کې شاملې دي؛ چې له دې څخه به په اتو ولسوالیو کې د روان کال ترپایه پورې لیږد بشپړ کړای شي. په کومو سیمو کې چې لیږد ندی پیل شوی، توقع کیږي چې د ۲۰۱۳ کال تر مینځه پورې به د لیږد لومړی پړاو تیر کړي.[100]

3.25 شکل

**د افغانانو په مشرۍ امنیت ته په لیږد کې شاملې سیمې**




یادونه: په دې برخو کې ښارونه، ولسوالۍ، او ولایتونه (یا د دوی برخې). 1 برخه د 2011 په جولای کې، 2 برخه د 2011 په نومبر کې، او 3 برخه د 2012 کال په جولای کې پیل شوې ده.

سرچینه: ناټو، "افغان مشرۍ ته لیږد: انتقال،" 5/16/2012؛ د سیګار 10/4/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.

د DoD په وینا، د متحده ایالاتو د اضافي پوځ او د ځینو ایتلافي ځواکونو له وتلو څخه وروسته به دې ته زمینه برابره شي چې افغان ملي امنیتي ځواکونه په راتلونکي کال کې د امنیت په ټینګولو، او د هغو سیمو په ساتلو کې خپله وړتیا ثابته کړي کوم چې د اضافي ځواک په شتون کې نیول شوي ول.[101]

## د کورنیو او دفاع چارو وزارتونو او د ملي امنیت عمومي ریاست په مشرتابه کې بدلون

د رپوټ ورکولو پدې دوره کې، ولسمشر کرزي د افغان امنیت درې لوړ پوړي چارواکي تبدیل کړل. رپوټونه داسې وایي چې د امنیتي لوړپوړو چارواکو تبدیلول د دې لپاره ترسره شو ترڅو د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په درشل کې یو قومي توازن رامینځته کړي.

د اګست په ۴، افغان پارلمان د کورنیو او دفاع چارو وزیرانو ته وروسته له هغې څخه د عدم اعتماد رایې ورکړې چې د وژونکو بریدونو په مخنیوي کې او د افغانستان – پاکستان په پوله کې د امنیت له راوستو نه د وزیرانو له پاتې راتلو څخه یې نیوکه وکړه ــــ په خاصه توګه

د پاکستاني پوځ لخوا د کنړ پر پولې باندې راکټي بریدونه.[102] د دفاع وزیر عبدالرحیم وردګ د اګست په ۷ استعفا ورکړه او وروسته بیا د ولسمشر کرزي د تجربه لرونکي امنیتي سلاکار په توګه وټاکل شو. د اګست په ۱۲، ولسمشر کرزي د غازي امان الله خان ارزښتمن مډال عبدالرحیم وردګ او د کورنیو چارو وزارت لرې شوي وزیر بسم الله محمدي ته ورکړ.[103] د اګست په ۲۹، ولسمشر کرزي د افغانستان استخباراتي ادارې، د ملي امنیت عمومي ریاست مشر رحمت الله نبیل له دندې ګوښه کړ.[104] د سپتمبر په ۱۶ ټول پوستونه بیرته ډک کړای شول داسې چې دوه نوي وزیرانو لوړې وکړې او د ملي امنیت لپاره نوی رییس وټاکل شو.[105]

کرزي بسم الله محمدي چې د کورنیو چارو وزارت څخه ګوښه کړای شوی ؤ، د عبدالرحیم وردګ په ځای د دفاع وزیر په توګه وټاکه، لکه چې په 3.26 شکل کې ښودل شوي. وزیر محمدی ـ د ولسمشر لومړي مرستیال محمد فهیم په څیر ــ په قوم تاجک دی، او د کرزي دا حرکت کیدای شي د دې لپاره وي چې په راتلونکي ټاکنو کې د تاجکانو ملاتړ له ځانه سره ملګری کړي. د داخلې وزارت دمګړۍ د پخواني مرستیال وزیر غلام مجتبی پتنګ له لوري اداره کیږي، چې په قوم پښتون دی، او د پخواني وزیر محمدي په څیر پیاوړی قومي یا سیاسي نفوذ نلري. د وزیر پتنګ نومول شایي د دې لپاره وي ترڅو کرزی په راتلونکي ټاکنو کې د استثنا منلو له تور څخه ځان وژغوري. د ملي امنیت نوی عمومي رییس، اسدالله خالد، د پولو او قبایلي چارو پخوانی وزیر ؤ؛ دی هم د امنیت پخواني عمومي رییس په څیر به قوم پښتون دی.[106]

3.26 شکل

**د افغانستان په کلیدي امنیتي پوستونو کې نوې مشرتابه**




سرچینه: GIRoA، ”د ملي امنیت شورا د پارلمان د هغې پریکړې درناوی کوي ”کوم چې د اساسي قانون له مخې یې وزیرانو ته“ د عدم اعتماد رایې ورکړې دي“ 8/5/2012؛ GIRoA، ”د داخلې او دفاع وزیرانو او د ملي امنیت عمومي رییس ته د ولسمشر په دفتر کې لوړه ورکړشو،“ 9/18/2012.

## د افغان عامه محافظت ځواک د مهال ویش نه وروسته

سیګار د افغان عامه محافظت ځواک پرمختګ له جوړیدو څخه تراوسنۍ ونډې پورې له نږدې نه څاري ځکه چې دا د افغانستان دولت- خپل امنیتي ځواک دی. په ۲۰۱۰ کال کې د ټولو ملي او نړیوالو خصوصي امنیتي شرکتونو د انحلال په اړه د ولسمشر کرزي له فرمان څخه وروسته، افغان حکومت د لیږد بهیر د مرحلو لپاره د پلبندۍ ستراتیژي پلي کړه. د لیږد د یوې برخې په توګه، د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې د کورنیو چارو وزارت تر کنټرول لاندې د APPF په نوم یو دولتي ځواک تاسیس شو ترڅو د پراختیایي او بشردوستانه پروژو امنیتي مسولیت په غاړه واخلي. پهرصورت، IJC ویلي چې، "د دې ربعې ترپایه پورې دوی د ۱۴۵سیمو څخه د ۵۱ سیمو امنیتي مسولیت په غاړه اخیستی، او ۹۲ سیمې د لیږد په بهیر کې دي، او ۲سیمې لیږد ته سترګې په لار دي." برسیره پردې، CSTC-A اشاره وکړه چې، "طمع کیده ترڅو دوی د قطار امنیتي مسولیت هم د ۲۰۱۲ کال د مارچ څخه په غاړه واخلي خو تراوسه د قطار د امنیت ساتلو لپاره چمتووالی نیسي."[107] د APPF لپاره داسې مهال ویش ټاکل شوی دی چې د ۲۰۱۳ په مارچ کې د پوځي تاسیساتو امنیتي مسولیت په غاړه واخلي. د IJC په وینا، "دا کومه پیښه نده چې کیدای شي په مارچ کې پیل شي بلکې یو بهیر دی چې طمع کیږي په مارچ کې بشپړ شي" خو "کیدای شي وختي په نومبر کې پیل شي." IJC ویلي چې "دا ډیره ګرانه ښکاري چې د مهال ویش سره سم دا کارونه ترسره شي."[108]

د تیرې ربع څخه تراوسه پورې د APPF د پرسونل شمیر نږدې دوه چنده شوی. پدې ربع کې، CSTC-A ویلي چې د ۱۱۳۰۹ APPF پرسونل ۱۵۶۲۷ قانوني پوستونو ته ټاکل شوي دي.[109] IJC اشاره وکړه چې پدې شمیرو کې هغه ساتونکي شامل دي "چې په موقتي ډول د پروژو د امنیت ساتلو لپاره منل شوي دي"، مګر "کوم پرسونل چې د APPF په مرکزونو کې دایمي پرسونل دي نه شامليږي".[110] په تیره ربعه کې CSTC-A رپوټ ورکړ چې ۶۱۳۱ پرسونل ۶۸۵۸ قانوني پوستونو کې ټاکل شوي دي.

داسې طمع کیده چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۱۲ APPF د بشري حقونو او پراختیایي ساحو او هم د قطارونو امنیتي مسولیت په غاړه واخلي. IJC رپوټ ورکړی چې داسې ونشوه. APPF یواځې د ٪۳۵ ساحو امنیت د قطار له امنیت څخه پرته په غاړه اخیستې دی. داسې طمع کیږي چې APPF د ۲۰۱۳ کال په مارچ کې د پوځي تاسیساتو امنیت چمتو کړي، خو IJC پدې کې شک لري چې په ټاکل شوې نیټه کې داسې وشي. لکه څنګه چې د پروژې امنیت د متحده ایالاتو بیارغنیزې هڅې په مستقیمه توګه اغیزمنې کوي، سیګار دا موضوع له نږدې څاري. د ۲۰۱۲ کال د جون په یوه پلټنه کې، سیګار وموندله چې د APPF ترسانتې لاندې به امنیتي لګښتونه زیات شي، او USAID ته یې ګوانښ ورکړی چې د لګښتونو څخه څارنه وکړي او دا ډاډه کړي چې جوازنلرونکي امنیتي شرکتونه ندي کارول شوي.

## افغان ملي پوځ

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه د افغان ملي پوځ د جوړولو، روزلو، او پایښت لپاره 4،27 میلیارده ډالر تخصیص کړي ؤ چې 9،23 میلیارده ډالر یې مصرف شوي.[111]

### د افغان ملي پوځ قوت

د افغان پوځ قوت یو اساسي معیار دی چې له مخه یې افغان حکومت په ۲۰۱۴ کال کې د امنیت مشري په غاړه اخلي. د CSTC-A په وینا، د افغان ملي پوځ عمومي قوت د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۶ پورې ۱۸۴۶۷۶ پرسونل دي. له دې څخه ۱۶۳۹۱۶ پرسونل رسمي پوستونه لري او ۲۰۷۶۰ پرسونل یې "ترینی، موقتي، نیوونکي، یا شاګردان دي" یا هم "رسمي پوستونو ته د ټاکل کیدو انتظار باسي." برسیره پردې، ۶۱۷۲ پرسونل په افغان هوایي ځواک کې ګومارل شوي دي. په مجموعي ډول ۱۹۰۸۴۸پرسونل افغان ملي پوځ او هوایي ځواک کې استخدام شوي دي ــ چې د تیرې ربعې څخه ۷۴۴ کسان کم دي. ضروري نده چې د ګومارل شوي پرسونل شمیر د هغو سرتیرو له شمیر سره برابروي چې په دندو کې حاضر دي. د جنګیالیو ځواکونو په مینځ کې (شپږ قل اردوګانې، ۱۱۱م مرکزي فرقه، او د خاصو عملیاتونو قوا) یواځې ۸۱-۷۴٪ پرسونل په دندو کې حاضر ول. د AAF پرسونل له ۹۴٪ څخه زیات کسان په دندو کې حاضر وو.[113]

د ۲۰۱۲ کال په جولای کې د سیګار څلور میاشتني رپوټ د معلوماتو په رپوټ کې داسې نیمګړتیاوو ته اشاره وکړه چې له امله یې د افغان ملي پوځ د شمیر د دقیقوالي په اړه او هم د تصنیف بندیو د میتودولوژۍ په اړه ځینې پوښتنې راولاړې شوې. د مثال په توګه، په تیره ربعه کې، CSTC-A رپوټ ورکړ چې د پوځ په قوت کې ملکي وګړي هم شمیرل شوي دي. پدې ربع کې، CSTC-A ویلي چې د پوځ د عمومي قوت له شمیر څخه یې ملکي وګړي لرې کړي دي.

برسیره پردې، په تیره ربعه کې، سیګار ومونده چې د افغان ملي پوځ د "نور پوځ" کټګورې په غیر مستقیم ډول شمیرل شوي وو، داسې چې د اصلي جنګیالیو پوځونو شمیر یې د پوځ له عمومي هدف ۱۸۷۰۰۰ څخه منفي کړی ؤ ترڅو د "نور پوځ" شمیر لاسته راشي.[114] د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۲ مه سیګار دا موضوع د متحده ایالاتو مرکزي قوماندې ته ورسوله. CSTC-A د CENTCOM له لارې د جولای په ۳۰ ځواب ورکړ، په همهغه ورځ کې چې د سیګار څلور میاشتنی رپوټ خپور شو. CSTC-A د افغان ملي پوځ د قوت په اړه نوې شمیرې چمتو کړې، خو دایې په سمه توګه روښانه نکړه چې د "نور پوځ" شمیر یې د کوم فورمول په اساس کړی. CSTC-A په خپل ځواب کې اشاره کړې ده چې ځینې مسایل "ځکه ناځرګنده پاتې شوي چې د معلوماتو کمبود چې د ANA د پرسونل دفتر لخوا چمتو شوي و، وو."[115]

که چیرې د هغو کسانو شمیر چې په تیره ربعه او روانه ربعه کې په رسمي کارونو ګومارل شوي ول، سره مقایسه کړو ځینې تغیرات لیدل کیږي. پهرصورت، د "نورپوځ" کوم شمیر چې په دې ربعه کې ویل شوی و د تیرې ربعې له شمیر سره یې د پام وړ کمښت درلود، لکه چې په 3.2 جدول کې ښودل شوي. د CSTC-A په وینا، د "نورپوځ" په شمیر کې د دفاع وزارت عمومي سټاف، او د مینځنۍ قوماندې پرسونل شامل دي.[116]

3.2 جدول

**د افغان پوځ قوت، څلور میاشتنی بدلون**

| | رسمي | | | ګومارل شوی | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د ANA برخه** | **Q3** | **Q4** | **څلور میاشتنی بدلون** | **Q3** | **Q4** | **څلور میاشتنی بدلون** |
| ۲۰۱ قل اردو | ۱۴۹۳۵ | ۱۸۴۲۱ | ۳۴۸۶+ | ۱۷۲۶۲ | ۱۹۶۱۳ | ۲۳۵۱+ |
| ۲۰۳مه قل اردو | ۱۹۳۶۶ | ۲۰۶۱۴ | ۱۲۴۸+ | ۲۱۸۴۰ | ۲۱۳۳۰ | ۵۱۰- |
| ۲۰۵مه قل اردو | ۱۹۳۹۳ | ۱۹۰۷۵ | ۳۱۸- | ۱۹۶۹۶ | ۲۰۱۴۴ | ۴۴۸+ |
| ۲۰۷مه قل اردو | ۱۳۰۲۶ | ۱۴۷۰۶ | ۱۶۸۰+ | ۱۵۰۸۶ | ۱۳۸۲۴ | ۱۲۶۲- |
| ۲۰۹مه قل اردو | ۱۲۷۳۲ | ۱۴۸۵۲ | ۲۱۲۰+ | ۱۶۰۹۱ | ۱۵۱۹۴ | ۸۹۷- |
| ۲۱۵مه قل اردو | ۱۴۶۰۴ | ۱۷۵۴۲ | ۲۹۳۸+ | ۱۶۱۹۰ | ۱۶۹۴۲ | ۷۵۲+ |
| ۱۱۱م مرکزي فرقه | ۸۹۰۱ | ۹۶۰۸ | ۷۰۷+ | ۱۰۶۱۲ | ۱۰۲۳۸ | ۳۷۴- |
| د ځانګړو عملیاتونو ځواک | ۸۲۲۴ | ۱۲۵۲۵ | ۴۳۰۱+ | ۱۰۶۱۷ | ۱۰۱۹۳ | ۴۲۴- |
| نور ANA | ۷۵۸۱۹ | ۴۴۷۱۲ | ۳۱۱۰۷- | ۵۹۶۰۶ | ۳۶۴۳۸ | ۲۳۱۶۸- |
| **ټول ټال** | **۱۸۷۰۰۰** | **۱۷۲۰۵۵** | **۱۴۹۴۵-** | **۱۸۶۰۱۲ [a]** | **۱۸۴۶۷۶ [b]** | **۲۳۰۸۴-** |

یادونې: د Q3 معلومات تر 5/20/2012 نیټې پورې دي. د Q4 معلومات تر 9/6/2012 نیټې پورې دي.

[a] دا شمیره هغه مجموعه ده چې په یوه جدول کې د CSTC-A لخوا چمتو شوې وه؛ پهرصورت، دا د Q3 ستون مجموعه نه ده. د هغه فورمول په اساس چې د "نور ANA "شمیرلو لپاره کارول شوی ؤ، د ستون مجموعه ۱۸۷۰۰۰ شوې، چې هغې شمیرې ته ورته ده چې د Q3 په رسمي ستون کې دي.

[b] دا شمیره هغه مجموعه ده چې په یوه جدول کې د CSTC-A لخوا چمتو شوې وه؛ پهرصورت، دا د Q3 ستون مجموعه نه ده. پدې شمیره کې ۲۰۷۶۰ پرسونل "د روزنې په حال، موقتي، نیول شوي، او زده کوونکي شمیره د اګست تر ۱۲ پورې ښیي چې په افغانستان کې یاهم بهر ګومارل شوي دي او یا کوم رسمي پوست ته د ګومارل کیدو انتظارکوي" شامليږي کوم چې په پورتنۍ ستون کې ندي نیول شوي.

سرچینه: د سیګار 10/1/2012 او 7/2/2012 معلوماتي غوښتنو ته د CSTC-A ځوابونه.

## د افغان ملي پوځ پايښت

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ايالاتو د افغان پوځ د پايښت لپاره د ASFF له بسپنو څخه ۹ ميليارده ډالر تعين کړي و چې 4،8 ميلياره ډالر يې مصرف شول.[117] دا بسپنې ANSF ته د تيلو، پطرول، او ګريس (POL) په اخيستلو کې لګول کيدې. د POL په اسنادو او د اړتياو په اټکل کولو کې د نمګړتياو په اړه پدې رپوټ کې د "سيګار د څارنې" برخه وګورئ.

## د ANA معاشونه

د CSTC-Aپه وينا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۶ پورې، د متحده ايالاتو حکومت د ANA د معاشونو او جايزو لپاره 28،1 ميلياره ډالر د ASFF له لارې تخصيص کړي چې پدې کې 5،152 ميليونه ډالر يې د دې ربعې لپاره وو. د معاشونو سربيره، د AAF په شمول د ANA ټول پرسونل ځينې جايزې هم ترلاسه کوي (پرسونل ته په جګړو يا خصوصي برخو کې د ګډون لپاره اضافي معاش ورکول کيږي).[118]پدې اړه چې څنګه متحده ايالات د ANA پرسونل ته معاش ورکوي، د ۲۰۱۲ کال د جولای په مياشت کې د سيګار څلور مياشتني رپوټ، ۷۴ مخ وګورئ.

## د ANA تجهيزات او ترانسپورتيشن

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ايالاتو د افغان پوځ د تجهيزاتو او ترانسپورتيشن لپاره د ASFF له بسپنو څخه 7،9 ميلياره ډالر ټاکلي او مصرف کړي دي.[119] CSTC-A دا بسپنې د وسلو، نقليه وسايط، راډيوګانو، مهمات، الوتکو، او اړوندو وسايلو په اخيستلو لګولې دي. پدې کټګورۍ کې د متحده ايالاتو ډيرې بسپنې د نقليه وسايطو او ترانسپورتيشن پورې اړوندو وسايلو اخيستلو لپاره مصرف شوي دي.[120]

د CSTC-A په وينا، متحده ايالات افغان ملي پوځ ته د وسايلو چمتوکولو لپاره خپلې موخې ته رسيدلي او يادو ځواکونو ته يې سبارلي دي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، CSTC-A د خپلې موخې په مقايسه ۱۰۵٪ وسلې او وسلو پورې تړلي وسايل، ۱۱۰٪ نقليه وسايط او د ترانسپورتيشن تجهيزات، ۱۰۲٪ مخابراتي وسايل چمتوکړي دي.[121] NTM-A ويلي چې د وخت په تيريدلو سره د سم شمير او جوړښت د معلومولو لپاره د CSTC-A پرله پسې هڅو په نتيجه کې د تجهيزاتو په اړتياو کې تغيرات رامينځته شوي او په ګڼ شمير پيښو کې، د تجهيزاتو ترلاسه کولو څخه وروسته اړتياوې کمې شوي دي.[122] CSTC-A د تجهيزاتو څارلو لپاره ګڼ شمير کټګورۍ کاروي: "ويشتل" (وسلې او تړلي اسباب)، "حرکت" (نقليه وسايط او تړلي وسايل)، "کومو" (مخابراتي وسايل)، "امو" (مهمات)، او "الوتل" (الوتکه او هوانوردۍ پورې اړوند وسايل).[123]

په ۲۰۱۳ مالي کال کې د دفاع وزارت غوښتنه کوي چې يوازې 5،241 ميليونه ډالر د ASFF له لارې د ANA تجهيزاتو او ترانسپورت ته ځانګړي شي ــ د هغه شمير څخه چې په ۲۰۱۲ مالي کال کې تخصيص شوی ؤ ۸۳٪ کم دی. د وړانديز شوې بسپنې څخه به (8،169 ميليونه) ډالر يې د AAF په ملاتړ کې، (7،1 ميليونه) ډالر يې د مخابراتي او استخباراتي وسايلو په اخيستلو کې، (۷۰ ميليونه) ډالر يې د هوايي عملياتونو څخه په ملاتړ کې لګول کيږي. پدې وړانديز کې د وسلو او نقليه وسايطو په اړه څه ندي راغلي، کوم چې کارونه يې د موخې کچې ته رسيدلې ده.[124]

### د سيګار پلټنه

سيګار د ASFF په بوديجه د افغان ملي پوځ لپاره د اخيستل شوو نفتي محصولاتو په يوه پلټنه کې ومونده چې CSTC-A نشي کولی د نفتي مصارفو ۱.۱ ميلياره ډالرو حساب ورکړي او داسې يو ميتود هم نلري چې د نفتي اړتياو اټکل وکړي چې پربنسټ يې بوديجې وړانديز کيږي. د لازياتو معلوماتو لپاره، د ۲ برخې ۳۰-۲۸مخونه وګورئ.

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۸، د ایساف قوماندان د سلاکارۍ او مرستو ډلې (CAAT) د متحده ایالاتو پورې اړوندو ترمیمي پرزو د ورکیدو په اړه یو ځانګړی رپوټ خپورکړ چې د ANSF تجهیزاتو لپاره یې ورکړې وې. CAAT وموندل چې د ترمیمي پرزو له ۵۰۰ کانتینرونو څخه ۴۷۴ یې چې ۲۳۰ میلیونه ډالر ارزښت یې درلود، ندي حساب شوي. د CAAT په وینا، ورک شوي تجهیزات د دې لامل شو چې په ترمیمي پرزو باندې ۱۳۶۹۱۰۸۹۹ډالر اضافي لګښت راشي، چې پدې سره د دې برخو عمومي مصرف ۳۶۷ میلیونه ډالرو ته ورسید. CAAT دا هم ویلي چې دا ترمیمي پرزې په داسې وخت کې د "چل ول درلودونکي افغاني لوجیستیک سیستم" لخوا اخیستل شوي ؤ چې د افغانانو ګډون درلودل د خپل وسایلو او لوجیستیک په اخیستلو کې اړین ؤ. CAAT د ایساف دا "شخصي رپوټ" سیګار ته وړاندې کړ او غوښتنه یې وکړه ترڅو "د ترمیمي پرزو د ناشمیرل شوي برخو د حساب ورکونې او بالقوه ناوړه ګټه اخیستنې یا احتمالي اداري فساد معلوم کولو په اړه یوه پلټنه په لاره واچوي."[125] سیګار غوښتل شوې پلټنه پیل کړې ده( د "سیګار څارنه"، ۳۵ مخ وګورئ35).

### د ANA زیر بنا

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر۳۰ پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه 3،6 میلیارده ډالر د افغان پوځ د زیربناو لپاره لکه بارکونه، دفترې، او د ګودامونو تسهیلاتو جوړولو لپاره ځانګړي کړې ؤ چې 5،3 میلیارده ډالر یې مصرف شول.[126] د CSTC-A په وینا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر۳۰ پورې، متحده ایالاتو ۲۰۵ زیربنایي پروژې پای ته رسولي (د 51،2 میلیارده دالرو په ارزښت)، ۹۹ نورې پروژې د کار لاندې دي (د 53،2 میلیارده ډالرو په ارزښت) او ۷۳ پروژې پلان شوي دي(د 06،1 میلیارده ډالرو په ارزښت). پدې ربع کې، اووه قراردادونه لاسلیک شوي (۴،۱۵۰میلیونه ډالر)، یو یې پای ته رسیدلی ( 7،35 میلیونه ډالر)، او یو بل یې افغان ملي پوځ ته ورسپارل شوی دی(۱۴میلیونه ډالر).[127]

په ۲۰۱۳ مالي کال کې کومه بودیجه چې د دفاع وزارت لخوا د افغان پوځ د زیربناو لپاره وړاندیز شوې وه د ۲۰۱۲ مالي کال په پرتله ۸۵٪ لږه وه. د ۲۰۱۳ مالي کال بودیجه د رغونیزو پروژو لپاره نده وړاندیز شوې، بلکه دا تخصیص به د قشلو په مدرن کولو او د ځواک ساتونکي سیستمونو کې مصرفیږي، همدارنګه د ایتلافي ځواکونو په تسهیلاتو باندې لګول کیږي ترڅو د متحده ایالاتو د ځواکونو له بیرته وتلو څخه وروسته ANSF ته وسپارل شي.

### د افغان ملي پوځ او د دفاع وزارت روزنه او عملیاتونه

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه د افغان پوځ او دفاع وزارت د عملیاتونو او روزنو لپاره 4،2 میلیارده ډالر ټاکلي ؤ چې د دې له جملې څخه 3،2 میلیارده ډالر مصرف شوي دي. د رپوټ ورکولو پدې دوره کې، NTM-A/CSTC-A د 5،114 میلیونه ډالرو په ارزښت د روزنې ۱۸ پروګرامونه په لاره اچولي چې د دې له جملې څخه ۲۷ میلیونه ډالر یې د سواد زده کولو په روزنه کې لګول شوي دي. د ۱۸پروګرامونو څخه د څوارلسو بودیجې د ASFF له لارې چمتو شوې وې؛ د سواد زده کړې پروګرام بودیجه په مشترک ډول د ASFF او NATO مرستندویه بسپنې لخوا ورکړ شوې وه.[130]

### د افغان ملي پوځ د سواد زده کړه

د ANA د سواد زده کړې پروګرام د ۳۱۲ درسي ساعتونو درلودونکي کریکولم په اساس چمتو شوی. د CSTC-A په وینا، د دې لپاره چې یو شاګرد له بشپړ بې سوادۍ څخه تر ګټور سواد درلودلو پورې مزل ووهي، باید تر وه پورې ازموینې تیرې کړي. د شاګر کړنلاره ښیي چې ایا راتلونکي پړاو ته پرمختګ کولی شي که نه. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۱پورې، پدې ازموینو

### د سیګار پلټنه

سیګار پدې اړه یوه پلټنه پیل کړې ده ترڅو معلومه کړي چې ایا DoD کولی شي د متحده ایالاتو هغې بسپنې اداره او حساب واخلي چې د ANSF لپاره د ترمیمي پرزو اخیستلو ته ورکول کیږي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ۲ برخې ۳۵مخ وګورئ.

### د سیګار تحقیق

د کندز ولایت د ANA یوې قشلې په پلټلو کې سیګار وموندل چې د پوځي انجینرانو قطعې ډاین کورپ د کمزورو کړنو او رغنیزو ناکامیو په شتون کې د ټولو قراردادي مسولیتونو څخه پرېښې دی. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ۲برخې ۳۸-۳۹مخونه وګورئ.

## د سیګار تحقیق

په ګمبیري کې د یوې قشلې د پلټلو په ترڅ کې سیګار موندلې ده چې په درجه بندۍ او د زیربنا په ساتلو کې د ستونزو شتون تسهیلات له خطرسره مخ کړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ۲برخې ۴۰-۳۹ مخونه وګورئ.

کې د افغان ملي پولیسو د بریالیتوب کچه په لاندې ډول وه: ۹۵٪ د ۱سویې سواد لپاره، ۹۸٪ د ۲سویې سواد لپاره، او ۹۷٪ د ۳ سویې سواد لپاره. د CSTC-A په وینا، د ۱سویې په سواد کې زده کوونکی کولی شي یوازې لغتونه ولولي یا ولیکي، تر ۱۰۰۰ پورې وشمیري او ټولې شمیرې سره جمع او منفي کړي. په دویمه سویه کې یو زده کوونکی کولی شي جملې ولولي یا ولیکي، اساسي ضرب او ویش ترسره کړي او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په ۳ سویه کې یو کس کولی شي وظیفوي سواد زده کړي او د "لیکل شوي یا چاپ شوي مواد پیژندنه، پوهه، تعبیر، جوړول، اړیکه نیول، شمیرل او کارونه ترسره کړي."[131]

د ۲۰۱۰ کال څخه دیخوا، متحدو ایالاتو د ANSF د سواد زده کولو لپاره د دریو قراردادونو بودیجې ورکړې دي. هر قرارداد د پنځه کلن خدمت حدود ــ د یوکلن انتخاب په توګه چې د هرکال په اګست کې ازمویل کیده ــ لري او اعظمي لګښت یې ۲۰۰ میلیون ډالرو ته رسیږي. د CSTC-A په وینا، دا قرارداد کوونکي به ۱۴۳۴ د سواد زده کولو روزونکي د ANA لپاره چمتو کوي:[132]

- OT ټریننګ سولوشن(یو امریکایي شرکت) ۵۲۸ روزونکي برابروي.
- انسایټ ګروپ (یو افغاني شرکت) ۳۰۳ روزونکي برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیټیوټ (یو افغاني شرکت) ۶۰۳ روزونکي برابروي.

CSTC-A ویلي چې د افغان پوځ لپاره د سواد زده کولو د ټریننګ مسولیت د ۲۰۱۳ کال د جنوري له اولې څخه د جون تر ۳۰ پورې افغان ملي بوځ ته سپارل کیږي. د سواد زده کولو ټریننګ به د ۲۰۱۴ کال په اپریل کې د افغان پوځ د ټریننګ مرکزونو ته لیږدول کیږي.[133]

### ښځې په افغان ملي پوځ کې

د CSTC-A په وینا، د ۲۰۱۲ کال د اګست تر ۲۱ پورې، ۳۷۹ ښځې ــ ۲۶۸ افسرانې، ۱۰۴ بریدمن، او ۷ سرتیرې ــ د افغان پوځ په پرسونل کې شاملې وې. د تیرې ربع څخه راهیسې د بریدمنانو او سرتیرو په شمیر کې توپیر ندی راغلی، خو د افسرانو په شمیر کې ۴۴ کسان زیات شوي دي. CSTC-A اشاره وکړه چې پدې شمیر کې د AAF ۲۷ پرسونل شامل دي؛ خو دا نده روښانه چې ایا د تیرې ربعې په شمیر کې هم د AAFپرسونل شامل و که نه. روانه موخه داده چې د ښځو شمیر د افغان پوځ او هوایي ځواک په ۱۹۵۰۰۰ پیاوړو سرتیرو کې ۱۰٪ ته ورسیږي.[134]

د CSTC-A په وینا، د افغان پوځ په لیکو کې د ښځو ګومارل لاتراوسه هم ټیټ لومړیتوب لري. افغان ملي پوځ د ښځو د غوښتنو کتلو، ازمویلو، او پروسس کولو لپاره یو مرکزي او جوړ شوی بهیر نلري. پهرصورت، افغان ملي پوځ په ځینو برخو کې لکه استخبارات او حقوق، ښځو ته خپله اړتیا مني، او د داسې پوستونو د ډکولو لپاره د ښځو له استخدام څخه ملاتړ کوي.[135]

NTM-A د افغان پوځ په لیکو کې د ښځو د ګومارنې او انسجام څخه د ملاتړ لپاره دوه لومړیتوبونه لري: د دفاع وزارت په چوکاټ کې د بشري حقونو، او قومي توازن درلودونکی، او د جندر انسجام درلودونکي دفتر تاسیس کول، او په استخباراتي ځانګه کې د ښځو له استخدام څخه د ملاتړ لپاره یو پروګرام جوړول.[136]

## افغان ملي پولیس

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بودیجې څخه 3،14 میلیارده ډالر د افغان پولیسو د جوړولو، ټریننګ، او پاینښت لپاره ځانګړي کړي ؤ چې له دې څخه 3،12 میلیارده ډالر یې مصرف شو.[137]

## د افغان ملي پوليسو ځواک

لکه د افغان ملي پوځ په شان، د افغان ملي پوليسو قوت په افغانستان کې د بيارغونې هڅو د برياليتوب په لاره کې يو عمده رول لري او همدارنګه په راتلونکي کې د امنيتي مسوليت په منلو کې د افغانستان وړتيا روښانه کوي. د CSTC-A په وينا پدې ربع کې، د افغان پوليسو عمومي ځواک ۱۴۶۳۹۹ کسان ؤ. له دې جملې څخه، ۱۰۶۵۳۸ پرسونل افغان يونيفارم پوليس (AUP)، ۲۲۲۴۳ پرسونل افغان سرحدي پوليسو (ABP)، او ۱۴۵۸۵ د عامه نظم افغان ملي پوليسو (ANCOP) پورې اړه لري. پدې ربع کې، د افغان يونيفارم پوليسو ـــ د افغان ملي پوليسو زيات او د ليدو وړ برخې ـــ شمير د پام وړ زيات شوی دی.[138]

د افغان ملي پوليسو د دې ربعې په شمير کې ۲۴۳۷ تر روزنې لاندې پرسونل او ۵۳۶ افسران هم شامل دي چې د ګومارل کيدو انتظار باسي.[139]

## د افغان ملي پوليسو پايښت

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر۳۰ پورې، متحدو ايالاتو د ASFF له بوديجو څخه 5،4 ميلياړده ډالر د افغان ملي پوليسو د پايښت لپاره ځانګړي کړي ؤ چې له دې څخه 3،4 ميلياړده ډالر يې مصرف شوي.[140]

## د افغان ملي پوليسو معاشونه

د CSTC-A د رپوټ په اساس، د ۲۰۰۵ کال څخه د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، د متحده ايالاتو حکومت د ASFF له لارې ۷۳۵ ميليونه ډالر د افغان ملي پوليسو د معاشونو او جوايزو لپاره برابر کړي ؤ (اضافي معاش د هغه پرسونل لپاره چې په جګړو او يا کومه ځانګړې برخه کې ګډون کوي). پهرصورت، په دغه شميره کې د ASFF پرته بوديجې شاملې ندي. د ۲۰۰۲ کال څخه ديخوا، متحده ايالاتو د افغان پوليسو څخه د ملاتړ لپاره د افغانستان لپاره د قانون او نظم ټرست د بوديجې (LOTFA) له لارې نږدې 5،927 ميليونه ډالر مرسته کړې ده. LOTFA يو څوـملېتي خيريه صندق دی چې د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام لخوا اداره کيږي، او د افغان حکومت لپاره بسپنې چمتو کوي. متحده ايالاتو د LOTFA د مرستو څخه پرته 5،51 ميليونه ډالر د افغان محلي پوليسو څخه د ملاتړ پروګرام ته چمتو کړي دي. د CSTC-A په وينا، کله چې افغان پوليس خپل ۱۵۷۰۰۰ پرسونلو ته ورسيږي، نو هرکال به نږدې 9،726 ميليونه ډالرو ته، د معاشونو لپاره ( ۴۷۱،۶ ميليونه ډالر)، د جايزو لپاره ( ۱۱۷،۸ ميليونه ډالر)، او خواړو لپاره ( ۱۳۷،۵ ميليونه ډالر) ته اړتيا ولري.[141]

## د افغان ملي پوليسو تجهيزات او ترانسپورتيشن

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحدو ايالاتو د ASFF له بوديجو څخه ۳.۳ ميلياړده ډالر د افغان پوليسو د تجهيزاتو او ترانسپورتيشن لپاره ځانګړي کړي ؤ چې ټول يې مصرف شو.[142] د دې بوديجې ډيری برخه د وسلو او اړوندو وسايلو، نقليه وسايط، مخابراتي وسايلو او مهماتو په اخستلو کې مصرف شوه.[143]

د CSTC-A په وينا، متحده ايالاتو افغان ملي پوليسو ته د تجهيزاتو په اخيستلو کې له دريو موخو څخه خپلې دوه موخې ترلاسه کړي او د دغو تجهيزاتو ډيری برخې يې سپارلي دي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، CSTC-A د خپلې موخې په مقايسې سره ۹۹٪ وسلې او وسلو پورې تړلي وسايل، ۱۰۴٪ د نقليې او ترانسپورتيشن وسايط، او ۱۰۹٪ مخابراتي وسايل چمتو کړي دي.[144] CSTC-A د تجهيزاتو د څارلو لپاره لاندې کتګوری کاروي:

### د سيګار پلټنه

سيګار د ANSF تسهيلاتو لپاره د عملياتي او ساتونکو قراردادونو په اړه په يوه پلټنه کې ومونده چې د ITT ايګزليس سيستمونو کارپوريشن سره د متحده ايالاتو د پوځي قطعې د انجينرانو له قرارداد څخه متغيره ځارنه شوې ده ځکه چې د کيفيت ډاډه کولو معيارونه، او د کنټرول کړنلارې د USACE او ايګزيليس لخوا په سمه توګه نه وې پلي شوي. همدارنګه د قرارداد له پای ته رسيدلو څخه وروسته د ANSF تسهيلاتو په ساتنه کې د افغان حکومت ظرفيت يې تريوښتنې لاندې راوستې دی. د لازياتو معلوماتو لپاره، د ۲برخې ۳۰-۳۲ مخونه وګورئ.

”ویشتل“ (وسلې او اړوند وسایل)، ”حرکت“ (نقلیه وسایل او اړوند تجهیزات)، او ”کومو“ (مخابراتي وسایل).[145]

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه 6،3 میلیارده ډالر د افغان ملي پولیسو د زیربنا لپاره ځانګړي کړي ؤ چې ۲ میلیارده ډالر یې مصرف شوي.[146]

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو د زیربنا ۴۴۵پروژې چې په ټولیزه توګه د 3،1 میلیارده ډالرو په ارزښت وې، بشپړې کړې. نورې ۲۱۲ پروژې د کار لاندې دي ( 2،1 میلیارده ډالر)، او ۳۰۸ پروژې نوې پلان شوې یا ”په جریان کې“ دي (7،1 میلیارده ډالر). کوم معلومات چې CSTC-A وړاندې کړي، دا نه روښانه کوي چې په کومو پروژو کې ”د کار لاندې“ او ”په جریان“ کې سره تداخل کړي. په تیره ربعه کې، CSTC-A د ۱۶۴پلان شوو پروژو رپوټ ورکړی ؤ (۱.۱ میلیارده ډالر). پدې ربع کې، ۱۳پروژې بشپړې شوې(3،38 میلیونه ډالر) او ۴۵ نوې قراردادونه لاسلیک شوي دي (۱۹۷میلیونه ډالر).[147]

## د افغان ملي پولیسو ټرینګ او عملیاتونه

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحدو ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه 8،2 میلیارده ډالر د افغان ملي پولیسو او د کورنیو چارو وزارت د ټرینګ او عملیاتونو لپاره ځانګړي کړي ؤ چې له دې څخه 7،2 میلیارده ډالر یې مصرف شوي.[148]

## د افغان ملي پولیسو د سواد زده کولو ټرینګ

د ANP د سواد زده کولو پروګرام لکه د ۳۱۲ ،ANA درسي ساعتونو درلودونکی کوریکولم لري. د CSTC-A په وینا، ترڅو چې یو کس له بشپړ بې سوادۍ څخه ظیفوي سواد زده کړي اړینه ده چې اووه ازمویني سرته ورسوي. د زده کوونکي کرنه دا روښانه کوي چې ایا راتلونکي پړاو ته د تلو وړتیا لري که نه. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۱ پورې، د ANP د بریالیتوب کچې پدې ډول وې: ۸۹٪ د سواد زده کولو د ۱سویې لپاره، ۹۰٪ د ۲ سویې لپاره، او ۸۶٪ ۳ سویې لپاره. د CSTC-A په وینا، د ۱سویې زده کوونکی کولی شي یوازې لغاتونه ولیکي او ولولي، تر ۱۰۰۰ پورې وشمیري او ټولې شمیرې سره جمع او منفي کړي. په ۲ سویه کې یو کس کولی شي جملې ولولي او ولیکي، اساسي ضرب او ویش ترسره کړي او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په ۳ سویه کې یو کس وظیفوي سواد زده کوي چې په مرسته یې ”لیکلي او چاپ شوي مواد په نښه کوي، پرې پوهیږي، تعبیر او جوړوي یې، شمیرې او کارولی یې شي.“[149]

د ۲۰۱۰ کال څخه دیخوا، متحده ایالاتو د ANSF د سواد زده کولو لپاره د دریو پروژو بودیجه ورکړې ده. هره پروژه ۵ کاله حد لري ــ د یو کلن انتخاب په توګه چې د هر کال په اګست میاشت کې تمرین ترسره کیږي ــ او اعظمي لګښت یې ۲۰۰ میلیونه ډالرو ته رسیږي. د CSTC-A په وینا، لاندې قرارداد کوونکي ۱۷۷۹ روزونکي د ANP لپاره چمتو کوي:[150]

- OT ټرینګ سولوشن (یو امریکایي شرکت) ۴۸۲ روزونکي چمتوکوي.
- انسایټ ګروپ (یو افغاني شرکت) ۳۵۳روزونکي برابروي.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیټیوټ (یو افغاني شرکت) ۹۴۴ روزونکي برابروي.

### د سیګار پلټنه

سیګار یوه پلټنه پیل کړې ده ترڅو معلومه کړي چې ایا CSTC-A او ANP کولی شي د متحده ایالاتو په مرسته د اخیستل شوو نفتو اداره وکړي او حساب ورکړي که نه. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ۲برخې ۳۴ مخونه وګورئ.

### د سیګار تحقیق

د وردګو ولایت د ملي پولیسو د روزنې له یو مرکز څخه د سیګار تحقیق وښوده چې د قرارداد شرطونه په عمومي توګه پلي شوي دي، خو نیمګړتیاوې او د خارلو مسایل رسیدنې ته اړتیا لري. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ۲ برخې۴۱-۴۰ مخونه وګورئ.

CSTC-A ویلي چې د ANP د پرسونل د سواد زده کولو روزنې مسولیت به د ۲۰۱۳ کال د جنوري له ۱څخه د جون تر۳۰ پورې ANP ته سپارل کیږي. د سواد زده کولو روزنه به د ANP د روزنې مرکزونو ته د ۲۰۱۴ کال په اپریل کې سپارل کیږي.

## ښځې د ANP په لیکو کې

د CSTC-Aپه وینا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۱۸ پورې، ۱۴۶۲ تنه ښځې ــ ۲۳۸ افسرانې، ۵۹۷ بریدمن افسرانې، او ۶۲۷ لست شوي پرسونل ــ د ANP په لیکو کې وې. موخه داده چې د ۲۰۱۴ کال تر مارچ پورې ۵۰۰۰ ښځې د ANP لیکو ته جذبې شي. ANP د یوه پروګرام له لارې چې د LOTFA په مرسته ترسره کیږي، په فعاله توګه خپلو لیکو ته ښځې راجذبوي. متحده ایالاتو د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو، جندر، او د ماشومانو د حقونو ریاست لپاره ۳ د جندر سلاکاران چمتو کړي دي. دا سلاکاران د ANP مشرانو سره کارکوي، د پولیس په لیکو کې د ښځو د شتون ګټو ته وده ورکوي، او د ANP له هغو واحدونو څخه لیدنه کوي چې ښځې پکې ګومارل شوي دي ترڅو د جندر پورې تړلي مسایل په نښه او رسیدنه ورته وکړي.[152]

## د ANSF طبي/روغتیایي پاملرنه

د CSTC-A په وینا، پدې ربع کې د ANP روغتیایي سیستم په څو برخو کې پرمختک کړی دی. د عمومي جراح دفتر د طبي مرستو د فرمایش ورکولو او ویشلو بهیر کې بدلون راوستی چې پدې سره به مراجعینو ته اداري فشارونه کم کړي، او د خدماتو د ژر وړاندې کولو لامل وګرځي. د ANP طبي لوجیستیک هم د ودې په حال کې دی؛ طمع کیږي چې د وردګ د لوجیستیک په ملي مرکز کې یو نوی طبي ګودام پرانستل شي. د OTSG او MoI تعرضي



**په قندهار کې د افغان ملي** پوځ سیمه ییز طبي روغتون په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموریت له خوا روزنه او سلامشورې ترلاسه کوي. (د متحده ایالاتو د پوځ تصویر)

استخدام د دې لامل شو چې د طبي پوستونو ډېری برخې ډکې شي (نږدې ۹۲٪). پهرصورت، CSTC-A ویلي چې OTSG دا منلې ده چې په محلي کچو کې لاتراوسه هم ځینې نیمګړتیاوې شته دي؛ OTSG پلان لري ترڅو دا نیمګړتیاوې سمې کړي.[153]

په ۲۰۱۱ کال کې د شدید کلینیکي مشورو له امله د ANP په روغتون کې په ځانګړې توګه د انتان کنترول، د تېپ پاملرنه، اورتوپیدي، بیړني خدمتونو، او جراحي خدمتونو په برخو کې د پام وړ وده موندلې ده. د ANPH لخوا د دې مهارتونو کاروونه، CSTC-A ته دا موقع ورکوي ترڅو د چمتو شوي خدمت د کیفیت دقیقه ارزولو او څارلو لپاره سیستمونه او کړنلارې جوړې کړي او ویې ساتي.[154]

همدارنګه CSTC-A ویلي چې پدې ربع کې د ANA روغتیایي پاملرنې سیستم د مسلکي کولو لپاره ځینې ګامونه پورته شوي او په بنیادي او وزارتي سطحه د یو شه روغتیایي سیستم درلودلو په لوري پرمختګ شوې دی. د ټولو سیمه ییزو پوځي روغتونونو، او د ملي پوځي روغتون د بیومیډیکل تجهیزاتو سمول، اعتبار ورکول، او ترمیمي کارونه بشپړ شوي دي. برسیره پردې، په دغو روغتونونو کې د ایتلافي ملګرو په څنګ کې د پوځي ځواکونو د طبي علومو انستیټیوت ۳۲ تنه فارغین هم د بیو میډیکل پرزو د ترمیم کورس کې روزل کیږي. دا فارغین اوس کولی شي د ایتلاف له مرستې څخه پرته د ANA ځینې طبي تجهیزات ترمیم کړي. نور دا چې د طب فارغینو ته د تخصص پروګرام برابرول د دې وروستی پړاو دی؛ CSTC-A طمع لري ترڅو د پیلیدو نیټه یې ژر اعلان شي. درې سیمه ییز پوځي روغتونونه دې ته چمتو کیږي ترڅو د ANA's صحیه قوماندانۍ ته وسپارل شي.[155]

CSTC-A اشاره کړې ده چې د ناروغیو په اړه د ANSF رپوټ ورکول اصلاح شوي دي. په کابل کې د اپریل په مینځنیو ورځو کې له برید څخه وروسته د ANSF د روغتیا پاملرنې سیستم پدې وتوانیده ترڅو د ایتلاف له مرستې پرته ټول ژوبل شوي کسان درمل کړي.[156] د دې ربعې ترپایه پورې، د ANSF ۱۷۴روغتونونه او روغتیایي کلینیکونه جوړ شوي او ۱۰نور هم په پلان کې نیول شوي دي. د ANSF د روغتیا پاملرنې سیستم له ۱۰۰۱ډاکټرانو له جملې څخه چې ورته اړتیا لیدل کیږي ۸۸۵ ډاکټران ــ ۷۰۶ په ANA کې او ۱۷۹ په ANP کې لري. برسیره پردې، د ۱۱۱۸۶ کسه طبي پرسونل څخه چې ورته اړتیا لیدل کیږي(د نرسانو او میډیک پرسونل په شمول) ۸۵۲۷ پرسونل لري.[157]

## د متحده ایالاتو ځواکونه

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو (USFOR-A) په وینا، د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر تر ۳۰ پورې ۷۶۰۰۰ امریکایي سرتیري په هیواد کې په خدمت بوخت ؤ. له دغه شمیرې څخه نږدې ۵۴۰۰۰ په ایساف کې، ۲۰۰۰ په NTM-A/CSTC-A (د ANSF د روزنې، تجهیز، او پاینښت د مسولیت لپاره د ناټو/متحده ایالاتو ګډ ماموریت) کې، او ۷۸۰۰ په USFOR-A کې ګومارل شوي، پداسې حال کې چې ۱۲۲۰۰ کسان د "نور امریکایي سرتیرو" په نوم کتګوري شوي دي.[158] د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۲۱ د دفاع وزیر لیون پنیټا اعلان کړ چې د ۳۰۰۰۰ اضافي امریکایي ځواکونو بیرته وتل بشپړ شو.[159]

## د ناچاودېدلو مهماتو لرې کول

د بهرنيو چارو وزارت د سياسي او پوځي چارو د وسلو لرې کولو او کمولو دفتر(PM/WRA) په وينا د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د ۲۰۰۲ کال څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پورې د وسلو لرې کولو او کمولو لپاره 2،253 ميليونه ډالر چمتو کړي ؤ. د دې بوديجو له جملې څخه، 6،207 ميليونه ډالر د ۲۰۰۶ کال څخه وروسته دې ته ځانګړي شوي ؤ چې د اوو نړيوالو غيردولتي موسسو، پنځه افغاني انجيوګانو، درې عامه بنيادونو، دوه شرکتونو، او د لندن يو پوهنتون د کارونو لپاره بوديجه برابره کړي.[160] د PM/WRA په وينا د ۲۰۰۲ کال څخه تراوسه پورې د بوديجې له ۵۷٪ څخه زياته برخه د پاکونې عملياتونو ته ورکړ شوې؛ او پاتې برخه يې د اضافي يا ناثبته وسلو د خوندي کولو، د قربانيانو سره د مرستې پروژو، د ماين د خطر په اړه پوهاوي، او د افغانانو ظرفيت لوړولو لپاره مصرف شويدي.[161]

په يوه تازه رپوټ کې چې د PM/WRA څخه لاسته راغلي داسي وايي چې د ۲۰۱۱ کال د جولای له ۱ څخه د ۲۰۱۲ کال د جون تر ۳۰ پورې د بهرنيو چارو وزارت په بوديجه پلي کوونکو ملګرو د 6،42 ميليون متر مربع څخه زياته ځمکه له ماين څخه پاکه کړې ده.[162] لکه څنګه چې په 3.3 جدول کې ښودل شوي شاوخوا ۵۶۳ ميليون متر مربع ځمکې لا اوس هم په ماينو ککړ ې دي او پاکولو ته اړتيا لري. PM/WRA د "ماين سيمه" هغې سيمې ته وايي چې په ځمکنيو ماينونو ککړه شوې وي، او "ککړه شوې سيمه" هغې سيمې ته وايي چې ځمکنۍ ماين او د جګړې نور چاودېدونکي بقايا پکې وي.

## د مخدره توکو ضد

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، متحده ايالاتو د ۲۰۰۲ کال څخه ديخوا په افغانستان کې د مخدره توکو ضد کړنو لپاره ۶ ميلیارده ډالر تخصيص ورکړي. د دې بسپنو ډېره برخه د دوو سرچينو له لارې تخصيص شوې: د بهرنيو چارو وزارت په نړيواله کچه د مخدره توکو کنټرول او د قانون پلي کولو بانکي حساب ( 6،3 ميلیارده ډالر)، او د دفاع وزارت د مخدره توکو مخه نيولو او د مخدره توکو ضد کارونو بوديجه ( 3،2 ميلیارده ډالر).[163]

د INL په وينا، د متحده ايالاتو د بهرنيو او دفاعي چارو وزارت په همغږۍ سره د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان د داخلې وزارت او د مخدره توکو ضد پوليسو څخه ملاتړ کوي. د بيلګې په توګه، په ځينو ولايتونو کې د دفاع وزارت د هغو عملياتي مرکزونو د

3.3 جدول

**د قراردادي وسلو ويجاړولو پروګرام شميرې، د ۲۰۱۱ کال د جولای له ۱ څخه د ۲۰۱۲ کال د جون تر۳۰ پورې.**

| د نيټې لړۍ | ويجاړ شوي AT/AP | ويجاړ شوي UXO | ويجاړ شوي SAA | پاکې شوي ټوټې | د ماين څخه پاکې شوي سيمې (په متر مربع) | د پاتې شوي ککړې سيمې اټکل (په متر مربع) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 9/30/2011–7/1 | ۲۰۷۱ | ۱۲۰۶۱۶ | ۶۲۷۶۵۶ | ۶۲۵۸۴۰۸ | ۷۷۳۵۸۹۷ | ۶۰۲۰۰۰۰۰۰ |
| 12/31/2011–10/1 | ۲۶۱۶ | ۸۸۹۹۸ | ۴۴۹۵۸۹ | ۱۳۳۷۶۷۳۸ | ۱۳۰۹۷۵۷۴ | ۵۸۸۰۰۰۰۰۰ |
| 3/31/2012–1/1 | ۲۱۱۳ | ۶۲۰۴۳ | ۴۶۷۰۷۱ | ۳۳۶۴۸۸۵ | ۱۴۶۰۴۳۶۱ | ۵۸۵۰۰۰۰۰۰ |
| 6/30/2012–4/1 | ۱۵۵۹ | ۲۸۲۲۲ | ۲۰۵۸۰ | ۳۶۰۱۳۷۸ | ۷۲۵۱۲۵۷ | ۵۶۳۰۰۰۰۰۰ |
| **ټول ټال** | **۸۳۵۹** | **۲۹۹۸۷۹** | **۱۵۶۴۸۹۶** | **۲۶۶۰۱۴۰۹** | **۴۲۶۸۹۰۸۹** | **پاتې شوي ۵۶۳۰۰۰۰۰۰** |

يادونې: AT/AP = د ټانک ضد/د پرسونل ضد مهمات UXO = ناچاودېدلي مهمات SAA = د سپکو وسلو مهمات ټوټې د هڅو د معيار په توګه رپوټ ورکول کيږي، ځکه چې ترڅو پورې د دوی طبيعت له مينځه نه وي تلی لکه ژونديو مهماتو غوندې د موندلو او اداره کولو پاملرنې ته اړتيالري.

سرچينه: د سيګار 9/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS، PM/WRA ځواب.

رغونې بوديجه ورکړې ده چې د CNPA د مخنيولو ملي واحد (NIU) لخوا کارول کيږي؛ INL د دغو مرکزونو د څارنې بوديجه په غاړه اخيستې ده. همدارنګه، د دفاع وزارت د NIU د روزنې بوديجه ورکړې ده او د بهرنيو چارو وزارت يې معاشونه په غاړه اخيستې دي.[164]

پدې ربع کې، د پنځو پروګرامونو بوديجې د INCLE بانکي حساب له لارې ورکول کيدې:[165]

- د زيرمو کمولو په اړه يو پروګرام چې د والي په مشرۍ له مينځه وړلو پروګرام لخوا پلي کيده (يا GLE، کلنۍ لګښت يې 8،4 ميليونه ډالر)
- د بديل پراختيا په اړه يو پروګرام چې د ښه کړنې نوښت له لارې پلي کيده (۲۳ ميليونه ډالر)
- د مخدره توکو څخه مخنيوی په اړه يو پروګرام د CNPA ظرفيت لوړولو لپاره چې د CNPA او د متحده ايالاتو د مخدره توکو پلي کولو اداري څخه د ملاتړ لپاره په لاره اچول شوی ؤ (۵۵ ميليونه ډالر)
- د غوښتنې کمولو او عامه پوهاوي په اړه يو پروګرام ترڅو د مخدره توکو کاروونکو له درملنې څخه ملاتړ وکړي(۱۲ ميليونه ډالر) او د افغانستان د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې وزارت د عامه پوهاوي له چاراوکو سره مرسته وکړي ترڅو د خلکو د پوهاوي کمپاينونه په لاره واچوي ( 7،3 ميليونه ډالر)
- د MCN څخه د ملاتړ لپاره د وزارت د ظرفيت لوړولو په اړه يو پروګرام (7،18 ميليونه ډالر)

## د کوکنارو له مينځه وړل

INL د افغان حکومت GLE پروګرام ته مالي مرسته چمتو کوي. INL ويلي چې په ۲۰۱۲ کال کې د GLE پروګرام له لارې ۹۶۷۲ هکتاره ځمکې له کوکنارو څخه پاکې شوي دي.[166]

INL د افغان MCN سره يوځای کار کوي ترڅو له کوکنارو څخه پاک ولايتونه رامينځته کړي او ويې ساتي. د بيلګې په توګه، INL د MCN's د ښو کارکوونکو نوښت (GPI) ته بوديجه ورکوي چې د واليانو سره مرسته کوي ترڅو د جايزو له لارې خپلو خلکو ته د کوکنارو نه کرلو ګټې وښيي. د INL په وينا، د GPI پراختيايي پروژو کې يو ولايت ته هغه وخت ۱ ميليون ډالر ورکول کيږي چې د کوکنارو کښت پکې په بشپړ ډول بند شوی وي (يا هم په هماغه کال کې له ۱۰۰ هکتارو څخه لږو ځمکو کې کوکنار کرل شوي وي). INL اشاره وکړه چې، له ۲۰۰۷ کال څخه راهيسې چې د GPI پروګرام پيل شوی له ۹۰ څخه زياتې پراختيايي پروژې ــ د ښوونځيو، سړکونو، پلونو، کرهنيزو، او طبي تاسيساتو جوړولو په شمول ــ په ۳۲ ولايتونو کې يا بشپړې شوي يا هم تر کار لاندې دي.[167]

همدارنګه INL د مخدره توکو په ضد د عامه پوهاوي پروګرام ته بوديجه ورکوي ترڅو له کوکنارو څخه خلاص شوو ولايتونو سره مرسته وکړي چې د عامه پوهاوي او رسنيو له لارې خپل وضعيت خوندي وساتي. برسيره پردې، INL د اغا خان بنياد سره مرسته کوي ترڅو په شپږو کليدي ولايتونو کې چې له کوکنارو څخه په خلاصيدو دي، د ټولنو او انجيوګانو سره يو ځای کار وکړي او خلکو ته د داسې کارونو موقعې زياتې کړي چې له کوکنارو سره تړاو ونلري.[168]

## د افغانستان د مخدره توکو پرضد پوليس

د CSTC-A په وينا،پدې ربع کې ۲۶۲۲ پرسونل د CNPA په ليکو کې ګومارل شوي دي. دا شمير د تيرې ربعې څخه ۲۷۴ کم دی.[169]

### د سيګار پلټنه

سيګار په يوه روانه پلټنه کې دا معلوموي چې د متحده ايالاتو مرستې ترکومه حده د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې لپاره د افغان قانون پلي کوونکو ته ملاتړ برابروي او په راتلونکي کې د دې ملاتړ ترلاسه کولو لپاره د افغانانو وړتياو ته پرمختيا ورکوي. د لازياتو معلوماتو لپاره، د ۲برخې ۳۷-۳۶ مخونه وګورئ.

د ۲۰۱۲ د سپتمبر په ۱۲، CNPA په کندز کې د INL په ملاتړ د قانون پلي کولو له سیمه ییز دفتر څخه یو خپلواک عملیات ــ د DEA استازو تر نظر لاندې ــ پیل کړ. دا بریالي عملیات د دې لامل شو چې له ۱۸۰ کیلو څخه زیات هیرویین، ۱۲۰۰کیلو تریاک، ۷۰۰ کیلو د کوکنارو پوري اړوند کیمیاوي توکي لاسته راشي، او د مخدره توکو شپږ لابرتوارونه ویجاړ شي.[170]

## د مخنیوي ملي واحد

د رپوټ ورکولو دورې په ترځ کې، د INL هوایي څانګې د تکتیکي او عملیاتي ملاتړ په څنګ کې ۴۲۸ د الوتنې ساعتونه د CNPA له مخنیونکي عملیاتونو څخه د ملاتړ لپاره چمتو کړ. د DEA په ملاتړ CNPA له دوو برخو جوړشوی، د مخنیوي ملي واحد (NIU)، او د تحقیقاتو حساس واحد (SIU). دې الوتنو د ۸۰ ماموریتونو سره مرسته کړې ده چې په ترځ کې یې ۱۲۲۰کسان او ۱۰۶۳۹۳پونډه وزن له ځانه سره وړي دي.[171]

INL د ځانګړو ماموریتونو له څانګې سره مرسته نکوي (مخکې د AIU په نوم یادیده)، خو د NIU له افسرانو سره یوځای د DEA ډلو او د کاري ځواکونو له مخنیونکو ماموریتونو څخه ملاتړ کوي. INL همدارنګه د DEA له هغو هڅو څخه ملاتړ کوي چې د CNPA سره یې کوي ترڅو استخباراتي کولیکسونونو ته شتمني برابر کړي، د افغانستان بیلابیلو سیمو ته ډلګۍ او تجهیزات ولیږي، او په کابل کې د NIU/SIU اصلي مرکز ته، او په کندز او هرات کې د قانون پلي کولو سیمه ییزو مرکزونو ته عملیاتونه او تعقیبي مرستې ورسوي.

## د مخنیوي عملیاتونه

د DoD په وینا، د ۲۰۱۲ کال د جولای له ۱څخه د سپتمبر تر ۲۶ پورې، ANSF د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو سره په ۳۸ مخنیونکو عملیاتونو کې ــ په ګزمه او پیره کولو، او پلټونکو عملیاتونو کې او همداسې د توقیف ځای د عملیات په سنجولو کې ګډون درلود. دا عملیاتونه د ۴۱ کسانو بندي کیدلو او د لاندې قاچاق شوو موادو لاسته راتلو لامل شو:[173]

- ۱۷۷۷۴ کیلو حشیش یا چرس
- ۱۵۷۸۵ کیلو تریاک
- ۴۸ کیلو مورفین
- ۱۴۸۴ کیلو هیرویین
- ۲۷۶۵ کیلو تریاکو پورې تړلې کیمیاوي توکي

د DoD په وینا، د متحده ایالاتو پوځ په یادو عملیاتونو کې د ځمکنۍ بیړنیو مرستو سربیره عمومي لوجیستیکي او استخباراتي مرستې چمتو کړې دي. DEA په ټول هیواد کې ځانګړو واحدونو ته سلا مشورې ورکړې ترڅو د تحقیقاتو او د قانون پلي کولو په اړه یو اساسي ظرفیت رامینځته کړي. برسیره پردې، د متحده ایالاتو استخباراتي ټولنې د افغان پوځ او د قانون پلي کونکو ادارو سره په ستراتیژیک، عملیاتي، او تکتیکي سطوحو کې خپل هدف نیولو او تحلیلي مرستو ته دوام ورکړی.[174]

د مخنیولو ډیر عملیاتونه د افغانستان په سهیل او سهیل لویدیځو سیمو کې ترسره کیږي، په کوم ځای کې چې د کوکنارو ډیری برخه کرل، پروسس کیږي او له افغانستان څخه بهرته په قاچاقي ډول وړل کیږي. د DoD په وینا، لکه څنګه چې د ایساف واحدونه د لیږد بهیر په لړکې له دې سیمو څخه وتلي دي افغان ځواکونو په زیاتیدونکې بڼه د دې سیمو د پیرې او معمولي پوځي عملیاتونو پړه پرغاړه اخیستې ده. DoD اشاره وکړه چې افغان ځانګړي واحدونه پرله پسې ښیي چې د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لري، او یوازې په لوجیستیکي او استخباراتي برخو کې له ایساف څخه مرسته لاسته راوړي. بله داچې، د مخدره توکو ضد افغان تحقیق کوونکو د خپل استخباراتو راټولولو لومړیتوبونو په سمولو پیل کړی ترڅو د پیژندل شوو مخدره توکو د قاچاق شبکو سره په جګړه او د مخدره توکو پروسس کولو لابرتوار، د زیرمو ځایونه، او د قاچاقي لارو په پیژندلو کې ښه تکړه شي. د دې کار پایله دا وه چې پیاوړې دوسیې رامینځته شي او د شواهدو پر بنا کسان بندي کړای شي.[175]

د افغان معمولي او ځانګړو واحدونو هم یو شمیر عملیاتونه د بین الاداري عناصرو په ملاتړ ترسره کړي دي لکه ګډ بین الاداري کاري ځواک – نیکزس(CJIATF-N) او د بین الاداري عملیاتونو د همغږۍ مرکز (IOCC). CJIATF-N او IOCC د بیلابیلو پوځي او د قانون پلي کوونکو سرچینو څخه ترلاسه شوي معلومات سره یوځای کوي ترڅو د تریاکو – اورپکو په ضد عملیاتونو کې ترې کار واخیستل شي. د DoD په وینا، ټولو عملیاتونو د متحده ایالاتو او ایتلافي پوځ د قوماندانانو لخوا همغږي او ملاتړ ترلاسه کول.[176]

# منځپانګې


| | |
|---|---|
| کليدي حوادث | 101 |
| پخلاینه او بیا یو ځای کیدل | 103 |
| ملي او سیمیزه حکومتداري | 107 |
| قضايي اصلاحات او د قانون حاکمیت | 114 |
| د فساد پروړاندې مبارزه | 119 |
| بشري حقونه | 123 |

# حکومتداري

د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر تر ۳۰، امریکا 33،22 میلیارده ډالر د افغانستان حکومتداری او اقتصادي پراختیا ملاتړ لپاره ورکړي دي.[177] په هیواد کې پراخ اداري فساد، کمزوری قضایي سکټور، د حکومت د حاکمیت د تاسیسولو او د حکومت د حاکمیت د دوام په برخو کې ستونزې، او له بشري حقونو څخه پرله پسې سرغړونه، د امریکا د هڅو پر وړاندې هغه خنډونه دي تر څو یو با ثباته او با تجربه حکومت تاسیس کړي.

## کلیدي حوادث

پدې ربع کې، د افغانستان حکومت د حکومتداری او پراخ فساد لپاره څو اصلاحي ګامونه اعلان کړل. اوس لا ډېر وختي دی تر څو دا وویل شي چې د دې اصلاحاتو د تطبیق لپاره حقیقي سیاسي عزم شتون لري. ولسمشر کرزي په ملي او سیمییزې رهبرۍ کې هم څو بدلونونه راوستل، مګر دا لا روښانه نده چې دا بدلونونه به حکومتداري ښه کړي. سوله او پخلاینه لا تر اوسه د افغانستان د حکومت ډېره مهمه موخه ده، مګر پدې ربع کې د طالبانو سره خبرو هیڅ پرمختګ نه درلود.

### د کرزي د حکومتداری او اداري فساد فرمان

د ۲۰۱۲ کال په جولای کې، ولسمشر حامد کرزي د ولسمشری یو فرمان صادر کړ تر څو د افغانستان حکومت و هڅوي چې د خپلو ادارو وړتیا ښه کړي او پراخ فساد کم کړي. په فرمان کې د وزیرانو لپاره څو حکمونو شتون درلود، ځینو یې د پر وخت عملي ګامونو غوښته کوله او نورو حکمونو دا نه درلودل. د کلیدي حکمونو څخه:

- د ۲۰۱۳ کال تر مارچ پورې، ستره محکمه باید ټولې محکمې فعاله کړي او کارکونکي په دندو وګماري.
- لوړ پوړي چارواکي باید ځانونه له مجرمینو او مفسدو اشخاصو څخه لرې کړي.
- قضایي او د قانون پلي کونکي اداري باید د هغو چارواکو پر وړاندې کلک قانوني اقدام وکړي، چې خپل رسمي موقف ته پام نکوي او د قضا پر وړاندې خنډ جوړوي.
- هیڅ څوک باید پرته له قانوني منطق څخه و نه نیول شي، تر تحقیق لاندې و نه نیول شي، او یا د اوږدې مودې لپاره تر خپل بند زیات په زندان کې پاتې شي.

- د ۲۰۱۲ کال تر دسمبر، د فساد پر وړاندې عالي اداره باید د ټولو شخصي سازمانونو او حکومتي چاروا‌کو "مشکوکو" سرمايو ارزونه وکړي، او پايلې يې ولسمشر ته ولېږي.
- د ۲۰۱۲ کال تر اګست، د مالیې وزارت دې يو وړانديز جوړ کړي او د توکيو کنفرانس تعهدات دې تعقيب کړي او کابينه دې د تطبيقولو د پرمختګ څخه خبر کړي.

څکه چې ډيری حکمونه د افغانستان د حکومت د ۲۰۱۲ کال د جولای د ۸ د توکيو د دوو اړخيزو حساب ورکولو د چوکاټ له ژمنو سره تړلي دي، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت چاروا‌کو ويلي چې فرمان د اصلاحاتو اجندا ته د تمرکز او چټکی منطق ورکړی. د توکيو د ژمنو لپاره د افغانستان کارونه ډېر اړين دي تر څو د اوږده وخت لپاره د دونرانو ملاتړ وساتل شي. د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې د افغانستان حکومت د فرمان ځينې برخې تطبيق کړي دي. راپور ويلي چې د فرمان د تطبيق مسوليتونه، لکه د بسپنې ورکول، نظارت، او راپور ورکول د افغانستان د حکومت مسوليتونه دي.[178]

## د ولايتونو په رهبری کې تغيرات



**د هلمند ولايت پخوانی والي منګل،** د انځور په مرکز کې، چې په ۲۰۱۲ کې د افغانستان حکومت په تبديليو کې له دندې لرې شو، په ۲۰۰۹ کال کې د امريکا له سفير، آيکن بيري سره د بست ملکي هوايي ډګر پرانيزي. (په کابل کې د امريکا د سفارت انځور)

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۹، ولسمشر کرزي د ۱۰ ولايتونو واليان يا له کارونو څخه لرې او يا بل ولايت ته تبديل کړل. ګلاب منګل د هلمند ولايت والي د هغو واليانو په منځ کې و چې خپله دنده يې له لاسه ورکړې. ګلاب منګل د امريکا مهم ملګری و او تر ډېرې اندازې په جنوبي ولايت کې يو فعاله والي و. ځينو افغان تحليل کونکو د کرزي دا حرکت داسې وليد چې دی هڅه کوي تر څو د ۲۰۱۴ کال ولسمشری ټولټاکنو لپاره خپل ملګري په مهمو پوستونو کې وګماري. نورو بيا ويلي چې پدې سيمو کې دا د کمزورې ادارې او زياتې بې امنيتی څواب و.[179]

## د افغانستان او پاکستان اړيکي

پدې ربع کې، د سرحد په شاوخوا کې پيښو د افغانستان او پاکستان اړيکې خرابې کړي، او د دې هيوادونو تر منځ يې ديپلوماتيکي فعاليتونه ډير کړي. په نورو پيښو کې، د پاکستان اردو ځواکونو د کنړ پر ولايت انداخت کړی او افغان ياغيان له سرحد څخه پاکستان ته تير شوي، او شپږ پاکستاني عسکر او ۱۱ مليشه يې وژلي. د افغانستان ملي شورا د سرحد دواړو غړو پيښو ته اشاره کړې، چې په منظمه توګه واقع کيږي، او پدې ربع کې دا د افغانستان د دفاع او کورنيو چارو د وزيرانو د لرې کولو دليل و. (د وزيرانو د لرې کولو د معلوماتو لپاره امنيتي برخه وګوری) د ۲۰۱۲ کال د اګست په مياشت کې، د افغانستان او پاکستان ولسمشرانو د اسلامي هيوادونو د څلورمې فوق العاده غونډې په ترڅ کې د سعودي عربستان په مکه کې سره وليدل، او موافقه يې وکړه چې د اردو يو ګډ هيت جوړ کړي تر څو د پيښو تحقيق وکړي.[180] د امريکا دفاع وزارت په سرحد کې د همغږۍ او همکاری د هڅو او د ګډو عملياتو راپور ورکړی.[181]

د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې، د مطبو عاتو د راپورونو پر اساس، افغانستان د پاکستاني اخبارونو توزيع په ټول افغانستان کې د دې لپاره بند کړل، چې د پاکستان په ډېرو ښی لاسو اخبارونو کې د طالبانو د ملاتړ او د افغان حکومت پر وړاندې خبرې کيدلې. د پاکستان د اخبارونو په پوښښ کې د طالبانو ويناوي خپريدلې، چې د "ګوډاګي" حکومت د اهدافو پر وړاندې انتحاري حملو ته يې "د شهادت عملياتو" بڼه ورکوله. ځينو مضمونونو دا هم

ویلي و چې افغانستان یهودانو او عیسویانو ته ورکړ شوی. د افغانستان سرحدي پولیسو د افغانستان او پاکستان د سرحد په دروازو کې د دې اخبارونو نسخې ونیولې. د پاکستان د مطبوعاتو غړو پر دې بندیز د اضافي عکس العمل انتقاد کړی و.[182]

## پخلاینه او بیا یوځای کیدل

د افغانستان سیاسي او اقتصادي ستراتیژي، لکه څنګه چې په ړومبنیو ملي پروګرامونو کې راغلي او له ۲۰۱۰ کال څخه د جوړیدو په حال کې دي، پخلاینه او بیا یوځای کیدل یوه اصلي موخه ده (د NPP د نورو معلوماتو لپاره دا پاڼې 74–75 وګورئ) . پدې ربع کې، د طالبانو او د افغانستان د حکومت تر منځ د سولې جدي خبرو د پیل لپاره هڅو دوام درلود، مګر کوم مهم پرمختګ یې نه درلود. د انګلستان د بهرنیو او ګډو موخو وزارت راپور ورکړی، چې د افغانستان په راتلونکي کې د خپلې دندې په اړه او دا چې دوی باید جدي خبرې پیل کړي طالبانو په خپل منځ کې خبرې کړې دي. مګر، دې دفتر ویلي چې یاغیان یو مغلق او توپیر لرونکی سازمان لري، او ځینې عناصر یې نه غواړي له لویدیځ او افغان حکومت سره خبرې وکړي. د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبره، طالبانو لا هم هغه خبرې چې په مارچ کې ناتمامه پای ته ورسیدې، بیرته نوې پیل کړې.[183]

د ملګرو ملتونو شورا ځینې ګامونه اخیستي او د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۱۹ یې د طالبانو یو کلیدي مشر، د دوی د مالیې پخوانی وزیر د ملګرو ملتونو د بندیز له لست څخه ایستلې، تر څو خبرو ته لاره هواره شي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۱۳، د ۲۰۱۱ له جون څخه ټول ۲۰ انفرادي کسان له لست څخه ایستل شوي دي.[184] ولسمشر حامد کرزي په خپله وینا کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا وهڅوله چې د طالبانو ډیر مشران د بندیز له لست څخه وباسي تر څو د خبرو امید ته لاره هواره شي.[185]

## د سولې عالي شورا

د افغانستان حکومت د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۲۶-۱۹ د "سولې او ملي یووالي د اونی" په نوم غوره کړه. پدې دوره کې، د سولې عالي شورا او د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدو پروګرام (APRP) په ټول افغانستان کې تر ۲۰۰ څخه زیاتې غونډې جوړې کړې، تر څو په ملي او سیمیزه کچه د سولې د پروسې په اړه عامه پوهاوی زیات کړي. په دریو ملي غونډو کې یو د ملي سولې کنفرانس و، چې د ۱،۵۰۰ څخه ډیرو خلکو په کې ګډون کړی و، او بل له ۳۰ څخه د ډیرو هیوادونو د سولې نړیوال کنفرانس، او د اسلامي لوړ پوړو عالمانو کنفرانس و. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، امریکا له دې غونډو سره مرسته کړې.[186]

## د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام


پدې ربع کې، د یوځای کیدلو کموالي دوام درلود. یوواځې ۳۷۲ یاغیان له APRP سره رسماً یو ځای شول، دا شمیره د پخوانیو ۱۲ میاشتو ۷۰۶ یو ځای کیدونکو اوسط څخه په یوه ربع کې ټیټه وه، لکه څنګه چې پدې پاڼو انځور 3.27 کې وړاندې شوي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۲۵، پدې پروګرام کې ۵،۰۴۶ یو ځای کیدونکي و.[187] د آیساف د یو ځای کیدلو دفتر (F-RIC) ویلي چې د ۱،۰۰۰ نورو کسانو ارزونه کیږي، تر څو په پروګرام ته راشي. په سویلي او ختیځو ولایتونو کې یوواځې ۱۶،۵٪ یو ځای کیدنه شوې ده، لکه څنګه چې پدې انځور 3.28 [188] پاڼو کې راغلي دي.

**د افغانستا د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام د افغانستان د حکومت مهم پروګرام دی،** تر څو یا غیان و هڅوي چې بیا یو ځای شي. دا پروګرام د طالبانو د غړو او د حکومت پر وړاندې د نورو عناصرو لپاره یوه لار ده چې له تاوتریخوالي لاس واخلي او د افغانستان د ټولنې ګټور غړي شي. پروګرام دا هڅه هم کوي چې یو ځای کیدونکي له پرمختیایي فرصتونو سره اړیکې پیدا کړي تر څو د پروګرام اغیزه ډیره شي. دا پروګرام د یوې ګډې دارالنشا لخوا اداره کیږي، دا د یو څو ادارو ګډ دفتر دی چې د نړیوال امنیتي همکارۍ ځواک (ISAF) نماینده هم پکې شته.

سرچینې: UNDP، "د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام سره د UNDP ملاتړ"، د ISAF، او د "APRP" معلومات له انټرنېټ څخه ۷/۷/۲۰۱۲

شکل ۳.۲۷

**د پروګرام لاندې بيرته يوځای شوي کسان، 2010–2012**




يادونه: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي دي.


سرچينې: د سيګار 3/30/2012، 7/5/2012، 4/15/2011، 10/2/2012، 7/1/2011، 12/30/2011، 10/6/2011، او1/12/2011 معلوماتي غوښتنو ته د DoS ځوابونه.

## د يو ځای کيدلو لپاره د امريکا ملاتړ

د ۲۰۱۲ د سپتمبر تر ۳۰، امريکا USAID ته ۵۰ مليونه ډالر ورکړي دي چې د APRP ملاتړ وکړي. دا مرستې مستقيماً د نړيوال بانک د افغانستان د بيا رغونې وجهي صندق ته تللي، چې د کليو د پراختيا وزارت ملاتړ وکړي او د ملي يووالي پروګرام ته وده ورکړي. مګر، د USAID ونډه د APRP ټولو فعاليتونو ته چې د APRP سره معمولاً تړلي دي بسپنه نه ورکوي، لکه د سولې ادارو ته عملياتي لګښت، يو ځای کيدل، عامه پوهاوی، او يا د وزارت د ملي يووالي د پروګرام تر څنګ په ټولنه کې کارونه دي. امريکا ۵۰ ميليونه اضافي ډالر د امريکا د دفاع وزارت د افغانستان د بيا يو ځای کيدلو پروګرام (ARP) د ملاتړ لپاره ورکړي، چې دا د امريکا د دفاع وزارت مهم پروګرام دی تر څو د APRP ملاتړ وکړي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۲۳، د تاييد او سپارلو د بيوروکراتيکو ننګونو له کبله، د امريکا اردو له خپلو بسپنو څخه يوواځې ۱،۲ ميليونه ډالر ورکړي. د اکتوبر په پيل کې، د امريکا حکومت په ۲۰۱۳ مالي کال کې د ARP لپاره د دفاع وزارت د ۳۵ ميليونو نورو اضافي ډالرو له ورانديز سره موافقه وکړه، وړانديز د کانګرس د تاييد په تمه دی.[189]

شکل ۳.۲۸

**د سيمه ييزې قوماندې په واسطه بيا يوځای شوي، د 2011 له دسمبرځخه د 2012 تر سپتمبر پورې**




يادونه: د RC - مرکز په اړه معلومات د 2012 تر جون پورې نه وو ورکړشوي. د 2012 کال په مارچ کې د شمال RC – شمير ځکه کم شوی چې ګډ دارالانشا د خپل د سرپل لست نږدې 250 کسانو ځخه صلاحيت لرې کړ.

سرچينه: د سيګار 3/30/2012، 7/5/2012، 10/2/2012، او 12/30/2011 معلوماتي غوښتنو ته د DoS ځوابونه.

## د سيميزې بيا يو ځای کيدلو پر مختګ

د امريکا د دفاع وزارت راپور ورکړی، ځکه چې امنيت ښه نه و او د ولايتي چاراوکو حساسيت چې دوی ته له دې پروګرامه ډېره کمه ګټه رسيږي، له دې کبله د افغانستان په ختيځ، جنوب لويديځ او جنوبي برخو کې بيا يوځای کيدل په ځنډ سره پيل شو. ځينو هغو ياغيانو چې له يو ځای کيدلو سره ليواله دي، يا يو ځای شوي دي، د طالبانو له خوا تهديد شوي يا وژل شوي دي.[190] په ځينو ټولنو کې لکه غزني هيڅ يو ځای کيدونکي مخ ته ندي راغلي. له دې کبله دا سيمې د ټولنيزو بيا رغونو کارونو لکه د ټولنې اساسي زير بنا، کرنه، روغتيايي روزنه، اوبه او تنظيف مستحق ندي، چې کولای شي د پروګرام لپاره مثبتې پايلې ولري. مګر، په ځينو سيمو کې خلک د طالبانو پر وړاندې را پورته شوي چې اميد کيږي په راتلونکي کې به د پروګرام علاقمندان ډير شي.[191]

## د بيا يو ځای کيدلو د ظرفيت وده

د ولايت په کچه د ياغيانو د يو ځای کيدلو لپاره د APRP ظرفيت اوس هم ډير توپير لري. د ځينو ولايتونو د سولې شوراګانې (PPCs) او د ولايتونو د دارالنشا ګډ ټيمونه (PJSTs) کولای شي پخپله عملي اقدام وکړي، او د APRP ګډې دارالنشا ته د يو ځای کيدلو مالي اړتياو لپاره وړانديز وکړي. د سولې نورې ولايتي شوراګانې او د ولايتونو د دارالنشا ګډ ټيمونه هغه اړتيا وړ د محاسبې او تخنيکې مهارتونه نلري، چې په مناسبه توګه خپله بودجه اداره کړي. د سولې عالي شورا پريکړه کړې، چې د سولې ولايتي کمزورو شوراګانو ارزونه وکړي او اداره يې اصلاح کړي. کله چې د بيا يو ځای کيدلو هڅې ګړندۍ شي، د ولايتونو د دارالنشا ګډ ټيمونه

به د ننګونو سره مخ شي، چې خپل ټول مسولیتونه په غاړه واخلي. د ولایتونو د دارالنشا د ګډو ټیمونو، والیانو او اړوندو امنیتي ادارو تر منځ ډېره همغږي به د یوه بریالي یو ځای کیدلو او د ټول پروګرام اداره کولو لپاره یو مهم عنصر وي.[192]

## د یوځای کیدونکو بیرته شا تګ او ارزونه

د ۲۰۱۱ کال له اپریل څخه د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبره، د امریکا د بهرنیو او دفاع وزارتونو په وینا، د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو د پروګرام د ارزونې طرزالعملونه ډېر ښه شوي. د دې لپاره چې د هر یو ځای کیدونکي تایید وشي چې په حقیقت کې یاغي دی، د ارزونې طرزالعملونه له ملي او ولایتي سیاسي، د اردو، او امنیتي ادارو څخه غواړي، چې د هر یاغي تصدیق وکړي، چې په رښتیا یو خطر ګڼل کیږي.[193] پدې ربع کې، آیساف ویلي چې هره میاشت تر ۱۰۰ پورې بیا یو ځای کیدونکي د افغانستان د سولې او یو ځای کیدلو له پروګرام څخه ګرځول شوي دي، او دا د ارزونې د اوسني طرزالعمل د اغیزمنتیا څرګندونه کوي.[194] پدې ربع کې د امریکا د دفاع وزارت راپور ورکړی، چې په یوه بیلګه کې ۱۵۵ احتمالي یو ځای کیدونکي د هرات په ولایت کې ګرځول شوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۲۰، یوواځې ۱۵ یو ځای کیدونکي چې له پروګرام سره یو ځای شوي و، یا یې تایید شوی او یا ګنګوسه ده چې بیرته له یاغیانو سره یو ځای شوي. مګر، د ارزونې قوي پروسې له کبله، ډېر یو ځای کیدونکي په پروګرام کې په تمه دي، تر څو چې د دوی بشپړه ارزونه نه وي شوي، دوی نشي کولای د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو مرستې تر لاسه کړي.[195]

## د بیا یو ځای کیدلو د پروګرام مالي اداره

د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام د خپلې ۱۶۱ میلیونه ډالره بودجې اداره کولو ستونزې لري. د افغانستان د ۱۳۹۱ مالي کال څخه څلور میاشتي تیرې شوي، دې پروګرام نږدې ۱۱٪ خپله بودجه لګولې ده. که څه هم د مالي کال په پای کې لګښتونه ډېریږي، که پروګرام په اوسنی اندازه لګښت وکړي، دا به یوواځې وکولای شي چې د خپلې بودجې ۳۳٪ د افغانستان د ۱۳۹۱ لنډ مالي کال، چې د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په ۲۰ پای ته رسیږي ولګوي. د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام د ۲۰۱۱ له مارچ څخه د ۲۰۱۲ تر مارچ پورې د خپلې بودجې یوواځې ۱۴٪ لګولي.[196]

د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو د پروګرام ګډه دارالنشا هڅه کوي تر څو هر ولایت ته ورته سرچینې برابرې کړي. د بیلګې په توګه، بې له دې چې د یو ځای کیدونکو شمیره او د ولایت ساحه په نظر کې ونیول شي، د هر ولایت لپاره ځینې مالي حسابونه ورته دي. په لویدیځ او شمال کې ولایتي چارواکي وایي چې دا یو عادلانه کار ندی، ځکه چې د دوی د یو ځای کیدونکو نفوس ډېر دی.[197]

## د ټولنې بیا رغونې پروګرامونه

د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام د ټولنې بیا رغولو د پروګرام د تطبیق لپاره خپله وړتیا ښه کړې، تر څو د بیا یو ځای کیدونکو او د دوی د ټولنو لپاره اقتصادي او ټولنیز فرصتونه تیار کړي. د ۲۰۱۲ کال له اپریل څخه تر سپتمبر، د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام د وړو پروژو بسپنه له ۴۸ څخه ۱۰۲ زیات کړی، چې د امریکا د دفاع وزارت په وینا، ۱۲ یې بشپړې شوي دي. د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام د ۲۰۱۲ کال له ۱۶۱ میلیونو ډالرو بودجې څخه ۸۷،۴ میلیونه ډالر د ټولنې بیا رغولو بودجې ته تخصیص ورکړي. اړوند وزارتونه چې د ټولنې د بیا رغونې د پروژو د تطبیق مسولیت لري،

# حکومتداري

پدې تیرو دوه ربعو کې یې خپل ظرفیتونه ډېر کړي دي. د ۲۰۱۳ مالي کال لپاره وزارتونو خپل پلانونه جوړ کړي، او د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو د پروګرام تخنیکي کمیټې ته یې د تایید لپاره وړاندي کړي. دې وزارتونو د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام مشرتابه ته ویلي دي، چې د پروګرام او د تاوتریخوالې د کمیدو د اړیکو په اړه باید افغانانو ته عامه پوهاوی ورکړ شي.[198]

د دې پروګرام ګډې دارالنشا راپور ورکړی، چې د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر له ۵،۰۴۶ بیا یوځای کیدونکو څخه ۳،۲۰۶ یې (۶۴٪) مستقیماً د ټولنې له بیا رغونې څخه ګټه اخیستي ده. پردې برسیره، له ۱۰۰،۰۰۰ څخه ډېرو ملکي افغانانو هم د ټولنې د بیا رغونې له فعالیتونو څخه ګټه اخیستې ده.[199] د ملګرو ملتونو سر منشي راپور ورکړی، چې ۱۰٪ یو ځای کیدونکي د مین پاکولو په پروژو کې کار کوي، چې د ملګرو ملتونو د مین پاکۍ د خدماتو له خوا یې ملاتړ کیږي.[200] او د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې د امنیتي اوضاع له کبله په جنوب، جنوب لویدیځ او ختیځ سیمو کې د ټولنې بیا رغونې چارې تر سره کول ستونزمن دي.[201]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د یو ځای کیدلو ځینو سیمیزو ادارو شکایت کړی، چې له نویو یو ځای کیدونکو سره د ۳۶۰ ډالرو مرسته د دریو میاشتو لپاره کافي نده، تر څو دوی ته قناعت ورکړ شي چې له جنګ څخه لاس واخلي، ځکه دا د هغو پیسو نه کمې دي چې دوی یې په یاغیتوب کې پیدا کوي.[202] د امریکا د دفاع وزارت دا مني چې په جنوب کې د یاغیانو لپاره ۳۶۰ ډالره کافي ندي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د دې لپاره چې دا ستونزې حل شي، ګډه دارالنشا هڅه کوي تر څو د مرستو اندازه ډېره کړي، او د انتقال د مرستو وخت هم ډېر کړي.[203] پدې ربع کې د قوماندانو لپاره مرسته ډېره شوې، او دا د یاغیانو د هغو مشرانو لپاره ده چې ۵۰ جنګیالي بیرته یو ځای کړي.[204]

## د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا یو ځای کیدلو ملاتړ

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، پدې ربع کې افغان ملي امنیتي ځواکونو په ځانګړې توګه د افغانستان د سولې او یو ځای کیدلو پروګرام سره په ختیځ کې ډېره مرسته کړې. د امریکا د دفاع وزارت حکم چې د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې تطبیق شو، د پروګرام لپاره یې د افغان ملي اردو ملاتړ ډېر کړ. پدې ربع کې، افغان ملي اردو خپلو ټولو قول اردوګانو ته (پرته له ۲۰۵ قول اردو په کندهار کې) د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام په اړه روزنه ورکړې. که څه هم پرمختګ عموماً لږ و، بیا هم د افغان ملي اردو قطعات د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو له پروګرام څخه او د ملي اردو له دندو څخه ډېر خبر دي. مګر، ځینې ولایتي چارواکي باور لري چې په ټول افغانستان کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ اندازه توپیر لري. د دې ربع په پای کې، ګډې دارالنشا د کورنیو چارو له وزارت سره کار کړی، تر څو لکه د ملي اردو لپاره د یوه ورته حکم مسوده بشپړه کړي، تر څو یې د دې پروګرام څخه ملاتړ ښه شي. آیساف په افغانستان کې د ناټو د روزنې له ماموریت (NTM-A) سره خپلو کارونو ته دوام ورکوي، تر څو د افغانستان د سولې او یو ځای کیدلو پروګرام روزنې د ملي اردو او ملي پولیسو د روزنې په کورسونو کې ګډ شي.[205]

## ملي او سیمیزه حکومتداري

امریکا د څو هڅو ملاتړ کوي تر څو په افغانستان کې د ملي او سیمیزې حکومتدارۍ وړتیا، سیمیزه حکومتداري او د ملکي خدماتو روزنه ښه شي. د دې ربع تر پایه پورې، افغانستان ډېرې ستونزې درلودې، تر څو په ټول افغانستان کې یو مجرب او ځواکمن حکومت تاسیس کړي، چې ټول هیواد تر کنترول لاندې ونیسي.

## ملي شورا

پدې ربع کې ولسي جرګه فعاله وه. د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۴، ولسي جرګې د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو ته د نه اعتماد رایه ورکړه. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۵، د دوه وزیرانو پر ځای یې نور دوه وزیران تایید کړل، او د ملي امنیت لپاره یې یوه بل نوي ریس ته رای ورکړه. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۴، ولسي جرګې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د تشکیلاتو قانون تایید کړ، چې د کمیسیون د کمیشرانو د ټاکلو او د ټولټاکنو د شکایت د یوه دایمي کمیسیون پروسه یې تشریح کړي. پردې برسیره، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۵، ولسي جرګې د ملکی هوایې چلند قانون تایید کړ، چې د ترانسپورت او هوایي چلند په وزارت کې یې د ملکي هوایي چلند یوه خپلواکه اداره جوړه کړه. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې دا قانون به د هوایي چلند د نړیوالو ستندردونو تطبیقولو سره مرسته وکړي، تر څو د هوایي چلند پر سیستم ښه نظارت تر سره شي.[206]

## د ټولټاکنو وړاندیز شوی قانون

د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر، د وزیرانو شورا قانوني کمیټې د ټولټاکنو د قانون پر مسودې کار کاوه.[207] د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون په وینا، مسودې د ټولټاکنو په اداره او د ټولټاکنو د سیستم په تخنیکي او عملیاتي تشکیلاتو کې بدلون راوړي. مسودې د ټولټاکنو د شکایتونو لپاره د حکمیت یو میکانیزم هم جوړ کړی.[208] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا یو ښه پیل ګڼي، تر څو په ټولټاکنو کې اړین اصلاحات راوستل شي.[209]

پدې ربع کې، نړیوالې ټولنې د افغانستان له چارواکو سره د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ ولسمشرۍ ټولټاکنو په اړه خپلې خبرې ډیرې کړې دي. چارواکې هیله مند دي چې د یوه څواکمن قانوني او تخنیکي چوکاټ جوړولو سره د افغانستان د پخوانیو ټولټاکنو تقلب او د ډیرو رای ورکونکو نه ګډون ستونزې کمې کړي. د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۰، د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالنشا ریس، عبدالله احمد زي استعفا ورکړه. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر میاشت، کرزي لا د ده ځای ناستی نه و ټاکلی.[210]


د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۷، د وزیرانو شورا پریکړه وکړه، چې د څو موخو لپاره د ملي پیژندنې کارت کارونه پیل کړي، چې د تذکیرې په نوم هم پیژندل کیږي، او د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون یې د رای ورکونکو د ثبتولو د پروګرام پر ځای وړاندیز کړي و.[211] امریکا او نړیوالې ټولنې د رای ورکونکو د ثبتولو پر پروګرام اندیښنه ښودلې وه، چې د ملګرو ملتونو د پراختیا د پروګرام (UNDP) او د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا یې ملاتړ شوی و.[212]

## د ملکي ادارې خالي بستونه

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د USAID په وینا، په ۱۴ بې امنه ولایتونو کې نږدې ۸۶٪ ملکي خالي بستونه ډک شوي و. دا د خالي بستونو په ډکولو کې منظم ډیروالی ښیې، لکه څنګه چې پدې پاڼو کې لیدل کیږي انځور 3.29. په نا امنه ولایتونو کې، د ناامنۍ، د سواد او تجربې ټیټې کچې له کبله، حکومت و نشو کړای چې په ملکي اداره کې ټول بستونه ډک کړي. USAID پلان لري چې د خپلې بودجې د ملکي خدمتونو له بسپنو څخه په نا امنه اوو (۷) ولایتونو کې د کارونو نندارتون جوړ کړي. د کارونو دا نندارتون به د بستونو ډکولو ته لومړیتوب ورکړي او د نویو کارکونکو لپاره به د آشنا کولو او روزنې کورسونه برابر کړي. USAID ویلي چې په څو نا امنه خطرناکو ولایتونو کې لکه کندهار، هلمند، زابل، ارزګان، نیمروز، خوست او غزني، د نا امنو ولایتونو لپاره د استخدام نوې ستراتیژي د تطبیق په حال کې ده.[213]

شکل ۳.۲۹

**د ملکي خدماتو پوستونه ډک شول**




سرچینه: د سیګار 4/3/2012، 10/4/2012 ، او 4/1/2011 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه.

## د پاسپورت اجراکول

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د پاسپورت دفتر د پاسپورتونو د اجراکولو لپاره اوس هم محدود توان لري. دا اداره یوواځې په کابل کې پاسپورتونه ورکوي. له کابله دباندې، دا اداره ولایتي دفترونو ته خالي پاسپورتونه ورکوي او بیایې دوی خلکو ته ورکوي. د کورنیو چارو وزارت نظارت و نشو کړای چې د دې ادارې وړتیا ښه کړي، فساد ورک کړي یا په تور مارکیت کې د پاسپورتونو د خرڅولو مخه ونیسي. د ۲۰۱۲ کال په فبروري کې، راپورونو ویلي چې د ۱ میلیونو څخه ډیر افغانان د پاسپورتونو په تمه و. د دې د ځواب لپاره د مالیې وزارت د ۱.۴ میلیونو نوي پاسپورتونو فرمایش ورکړ. د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې ۳۵،۰۰۰ نوي پاسپورتونه راغلل. مګر، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د پاسپورت دفتر دا نوي پاسپورتونه په مناسبه توګه نه و توزیع کړي.[214]

## په نښه شوې وژنې

یاغیانو د لوړ پوړو چارواکو، ملکي کارکونکو، سیمیزو مشرانو او دیني عالمانو د وژلو هڅې ګړندۍ کړي، تر څو د افغانستان حکومت له ننګونو سره مخ کړي. د ۲۰۱۲ کال د می له ۱ څخه د جولای تر ۳۱ پورې، ۲۳۱ تنه وژل شوي او ۱۳۹ تنه پدې وژنو کې زخمي دي. او دا د تیر کال د ورته وخت په پرتله ۸۸٪ ډیروالی ښیې، چې تیر کال ۱۶۲ تنه وژل شوي او ۳۵ تنه زخمي و. د ملګرو ملتونو عمومي منشي ویلي چې تر پخوا د سړک د غاړې مینونو پدې وژنو کې ډیره ونډه درلوده.[215] د انګلستان د بهرنیو او ګډو موخو وزارت ویلي، چې د یاغیانو له خوا پر لوړ پوړو کسانو حملې او وژنې د دې لپاره دي، چې دوی د ښارونو په مخامخ جنګونو کې له ستونزو سره مخ دي، بیا هم دوی هڅه کوي ځان مطرح وساتي.[216]

# حکومتداري

## د امریکا له خوا په ملکي ادارو کې د ظرفیت لوړول

د افغانستان بشري سرچینو ته وده ورکول د امریکا د بیا رغونې کلیدي موخه ده. امریکا څو پروګرامونه تطبیقوي تر څو د افغانستان د حکومتدارۍ وړتیا په ملي، ولایتي او سیمیزه کچه لوړه کړي. دا لاندې برخه د دې هڅو بیا کتنه کوي.

## د USAID رمپ اپ (RAMP-UP) او کا سی آی (KCI) پروګرامونه

د USAID د افغانستان د سیمیزو ښاروالیو ښاري نفوس پروګرام (RAMP-UP) او د کابل ښار د نوښت (KCI) پروګرام، د خدماتو د رسولو او د خلکو او ښاروالیو تر منځ د اړیکو په برخه کې پرمختګ کوي، مګر د یوه ښه سیمیزه حکومتدارۍ د جوړلو لپاره لا ډیرې ننګونې شتون لري. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، USAID نږدې ۲۳۵،۷۲ میلویونه ډالر د RAMP-UP او KCI پروګرامونو ته ورکړي دي.[217]

پدې نوې ربع کې، RAMP-UP او KCI هڅه کړې ده چې د سیمیزو ښاروالیو لپاره یوه دوامداره، مجربه، ځواب ویونکې او شفافه اداره جوړه کړي. د دې لپاره چې دا موخې تر لاسه شي، دا پروګرامونه د عوایدو پر ډیریدو، د پروګرام پر یوه ساحه کار کول، د وګړو لپاره یو میکانیزم جوړول تر څو د سیمیزې حکومتدارۍ پر پریکړو باندې اغیزه ولري، او دا چې د انتقال څخه وروسته د حکومت کارکونکي د فعالیت لپاره مهارت او پوهه ولري، کار کوي.[218]

USAID د پروګرام د څو مثبتو پایلو په اړه راپور ورکړی چې دا دي:[219]

- د هرات د ښاروالۍ عواید ۲۲۶٪، د کابل عواید د ۱۰۰٪ څخه ډیر، کندز ۷۱٪، فراه ۱۰۹٪ او د مزار شریف عواید ۲۰٪ ډیر شوي دي.
- په کابل کې د کثافاتو لرې کولو خدمات ۸٪ ډیر شوي او له پارکونو څخه ګټه اخیستنه ۱۱٪ ډیره شوې ده.
- په جنوب کې د خدماتو برابرولو ۵۰ پروژې د RAMP-UP South په مرسته بشپړې شوي دي.

د سیمیزې حکومتدارۍ ملاتړ پروګرام د تطبیق مخه څو عمومي ستونزو نیولې ده:[220]

- **د ښاروالۍ د چارواکو مسولیتونه:** ځکه د ښاروالۍ چارواکي په ټولټاکنو کې د سیمیزو خلکو له خوا ندي ټاکل شوي، دوی د خلکو پر وړاندې ځانونه مسول نه ګڼي او هڅه کوي چې مرکزي حکومت خوشهاله وساتي. USAID راپور ورکړی چې د کابل د خوشهاله ساتلو لپاره ډیری وختونه رشوت ورکول تر ښه فعالیت یوه ښه لاره ده.
- **له پورته و کښته ته د حکومتدارۍ بنسټونه:** پر ښاروالیو باندې دکابل کنټرول دا مانا لري چې کابل پر ډیرو پریکړو کنټرول لري او که داسې نه وای دا پریکړې به د ښاروالیو سیمیزو ادارو کولای.
- **د بودجې کموالی او د پروګارم بې ثباتي:** د سیمیزو پروګرامونو بودجه تر ۶۶٪ را ټیټه شوې ده، او د راتلونکو کلونو لپاره د مالي بودجې انځور روښانه نه ښکاري، ځکه دا کار په پلانونو کې بې ثباتي او ستونزې را منځته کوي.

# حکومتداري

- **همغږي او پروګرامي تمرکز:** د افغانستان د حکومت د ښاروالیو د چارو عمومي ریاست (GDMA) چې د دونرانو او تطبیقونکو ملګرو همغږې کول، د پالیسیو جوړول، د ادارې توقعات، او د ستراتیژیکو مداخلو جوړولو مسولیت لري، ډېری وختونه یې بې پلانه وړاندیزونه کړي دي، چې د پروګرامونو تعقیقبول یې ستونزمن کړي دي. پر دې برسیره، دا ریاست هغه ظرفیت نلري چې په فعاله توګه وکولای شي فعالیتونه همغږې کړي، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام د سیمیزې حکومتداری د پروګرام تکرار مخه ونیسي، چې د پروګرام ډېری برخې یې RAM-UP ته ورته دي.

## د سیمیزې حکومتداری پروګرام څخه د USAID ملاتړ

USAID وایي چې د سیمیزې حکومتدارۍ پروګرام یې د ولایتونو د شوراګانو ظرفیت ښه کړی تر څو خپل کارونه وکړي، مدیریت وکړي او د سیمې له خلکو سره اړیکې ونیسي، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، دې پروګرام د ولایتي شوراګانو له ۴۲۰ عامه مشورتي مجلسونو سره، ۱۶۲ سیمیزو پروژو څخه لیدنه، او ۱۳۰ عامه معلوماتي غونډې چې د خلکو نظر واخیستل شي، مرسته کړې. USAID ویلي چې د شوراګانو ظرفیت ښه شوی، مګر نور کارونه باید تر سره شي تر څو کارونه دوام پیدا کړي، او له مرکزي او د ولسوالیو له حکومتونو سره ونښلول شي. نا امني، کمزوري مقرارتي اصول، د عملیاتي سرچینو کموالی، او د مرکزي سیستم حکومتداری، د شوراګانو پر وړاندې ستونزې دي. د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر، USAID دې پروګرام ته ۱۷ میلیونه ډالر ورکړي دي.[221]

## د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون (IARCSC) سره مرسته

د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو له خپلواک کمیسیون سره د USAID مرستو وکولای شول، چې دا کمیسیون له خپلو ۲۳ موخو څخه ۱۴ موخې بشپړې کړي. USAID ویلي چې د دې ربع په پای کې به د پروګرام اوه نورې موخې بشپړې شي، مګر کمیسیون USAID ته د دې کار د ترسره کیدلو تصدیق ندی کړی. IARCSC د دې لپاره جوړ شوی چې په ټول حکومت کې افغان ملکي خدمت معیاري کړي. USAID د ۱۵ میلیونو ډالرو بودجې څخه ۷،۷۵ میلیونه ډالر توزیع کړي. USAID ویلي چې دې کمیسیون دا کارونه تر سره کړي:[222]

- د پالیسیو، لارښونو، د خپلې حکومتدارۍ او اداري د ښه کولو لپاره د اړینو سیستمونو جوړول، تر څو په ملکي او عامه ادارو کې یوې ځواکمنې رهبرۍ ته لار پرانیستل شي.
- د تخنیکي ظرفیتونو خپلواکه ارزونه او د وزیرانو د فعالیتونو ارزونه کول.
- ۲۵ وزارتونو ته د بشري سرچینو د معلوماتو د اداري سیستم غزول، د اسنادو اداره ښه کول، تر څو وزارتونه وکولای شي د خپلو کارکونکو شمیره وپیژني او د استخدام لپاره ښه پلان او بودجه جوړه کړي.
- د کمیسیون د تشکیلاتو او داخلي ظرفیت لوړولو لپاره د پنځو کلونو لپاره د ستراتیژیک پلان مسوده جوړل.

# حکومتداري

## د ولایاتو او ولسوالیو حکومتداري

په جنوب کې د امنیت د ښه والي له کبله د افغانستان حکومت ډیر کنترول په لاس کې نیولی دی، مګر په لرو پرتو سیمو کې حکومت او د یاغیانو ډلې د خلکو د کنترول لپاره له یو بل سره سیالي کوي. په امنه شمال کې، حکومت ډیر ځواکمن دی، مګر بشپړ کنترول نلري، لکه څنګه چې پدې پاڼو کې ښکاره کیږي انځور 3.30. د ولایتي بیا رغونې ټیمونه (PRTs) او د ولسوالیو ملاتړ ټیمونه (DSTs) چې تر اوسه په شمال او جنوب کې کار کوي، هڅه کوي د انتقال د کارونو ملاتړ وکړي، او پلای لري تر څو حکومتداری، د قانون حاکمیت، روغتیا او روزنه، زیربنا، کرهنه، اقتصادي وده او پرمختګ، د مخدره توکو له منځه وړل، او د بیا یو ځای کیدلو او پخلاینې کارونه ښه کړي.[223]

## د هلمند ولایت

په هلمند ولایت کې د ښاري ځایونو په اداره او حکومتدارۍ کې د افغانستان ولایتي او د ولسوالیو حکومتونو پرمختګ کړی دی. مګر په لرو پرتو سیمو کې لږه اغیزه لري، چیرته چې مرکزي حکومت ځواکمن ملاتړ ندی برابر کړی. د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د ولایت او ولسوالیو فعاله مشرتوب په هلمند ولایت کې د حکومت اغیز ډیروي. طالبان د هلمند ولایت په ډیرو سیمو کې نور بشپړ کنترول نلري، مګر په ځینو سیمو کې اوس هم بې کاره حکومتداري برابروي. طالبان خپل اغیز له تاوتریخوالي او د سیمې د خلکو له تهدیدولو څخه اخلي. مرکزي حکومت باید هلمند ته اضافي ملاتړ برابر کړي تر څو پرمختګونه دوام ومومي.[224]

پدې ربع کې د هلمند حکومت د چاروکو پر حرکتونو د ایتلافي ځواکونو کموالی او په دوبې کې موسمي جنګونو تر ډیرې کچې اغیز ندی کړی. د امنیت د ښه والي له کبله حکومتي چارواکو، ملکي کارکونکو او اوسیدونکو وکولای شول چې د هلمند له مرکز لشکرګاه څخه نورو ولسوالیو لکه موسی کلا، سنګین، کجکي، خانشین او نوزاد ته سفرونه وکړي. له کجکي ولسوالۍ پرته، سیمیز چارواکي کولای شي د آیساف له ملاتړه پرته خپلو کاري ځایونو ته سفر وکړي.[225]


په هلمند کې د حکومتدارۍ ښه والی له ننګونو سره مخ دی. لوړ پوړي چارواکي د کارکونکو د استخدام لپاره له سیاسي اړیکو او ملاتړ کونکو شبکو څخه کار اخلي. له خرابو لارو کارکونکي استخدامول ډیرو هغو بې کارو ریسانو ته لار پرانیستې تر څو د ولایتونو او ولسوالیو دندې په لاس کې واخلي. او دې کارونو په کجکي او ګریشک کې د ښې حکومتدارۍ د هڅو مخه نیولې ده.[226]

## د کندهار ولایت

د افغانستان حکومت او د طالبانو یو بې کاره حکومت د طالبانو د پیدا کیدو ځای کندهار د کنترول لپاره یو بل سره سیالي کوي، مګر د امریکا د دفاع وزارت وایي، چې پدې ولایت کې د افغانستان د حکومت اغیزې د ډیریدو په حال کې دي. په هغو ځایونو کې چې د افغانستان حکومت کنترول لري، کارونه په ښه توګه تر سره کیږي. د افغانستان حکومت د کندهار په ښار کې او نورو لویو ښارونو کې فعاله دی. مګر، له مرکز څخه د لرې پرتو ولسوالیو ساتل ستونزمن کار دی، او طالبان د زارې، پنجوایي او میوند ولسوالیو ډیری سیمي تر کنترول لاندې لري.[227]

شکل ۳.۳۰

**د شمالي ولايتونو په ولسواليو کې د طالبانو شتون**




يادونه: هغه ولسوالۍ چې نيلي سيورى ورکړ شوي د DoS لخوا د طالبانو د ملاحظې وړ شتون پکې ندى په نښه شوى. د طالبانو شتون له يوې ولسوالۍ څخه تر بلې توپيرکوي.

سرچينه: د سيګار 10/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/SCA ځواب.

په کندهار کې د امنيت د ښه والي له کبله د حکومت چارواکي کولاى شي پدې ولايت کې په خپلواکه توګه سفر وکړي. د امريکا دفاع وزارت ويلي چې د دې ولايت والي کولاى شي په ولايت کې سفر وکړي، مګر د ۲۰۱۲ کال په مى کى يې دا کار نشو کولاى. د حکومت چارواکي کولاى شي د آيساف له ملاتړ څخه پرته سفر وکړي. د اوږدې مودې د سفر کولو لپاره د ولايت ډيرى مشران اوس پر خپل امنيتي معلوماتو اعتماد کوي.[228]

که څه هم د استخدامولو د ستندرد په تطبيقولو او د حکومت د کارکونکو په روزلو کې پر مختګونه شوي دي، مګر سياسي اړيکې او ملاتړ کونکي شبکې اوس هم پر استخدامولو اغيزه لري. امريکا د کندهار له حکومت سره کار کوي تر څو د ولايت او ولسواليو بستونه له متخصصو او خپلواکو ملکي کاروکونکو څخه ډک شي او مناسبو خلکو ته معاشونه ورکړ شي.[229]

## د بلخ ولايت

د بلخ ولايت په مرکز مزارشريف کې تر ډيرى کچې امنيت ښه دى او ولايتي چارواکي کولاى شي ښه حکومت وکړي. امريکا د ولايت د لرو پرتو ولسواليو له حکومتونو سره لږ کار کوي، او دا له دې کبله ده چې پدې سيمو کې د ولسواليو د ملاتړ ټيمونه نور شتون نلري. او په همدې دليل د امريکا چاراوکي ډير معلومات نلري چې سيمیز حکومتونه فعاله دي او که

ندي. که څه هم د طالبانو بې کاره حکومت په ولايت کې لږ کنترول لري، مګر په ځينو ولسواليو لکه چمتال، شولګره، چاربولک او بلخ کې شتون لري.[230]

## د کندز ولايت

د چاردرې په ولسوالۍ کې د طالبانو اغيزه ډېره قوي ده او د علی آباد، امام صاحب او دشت ارچي ولسواليو کې مهم اغيز لري، چيرته چې د حکومت اغيز کمزوری دی. مګر، والي وکولای شو چې پدې وروستيو کې دې سيمو ته سفر وکړي. د امريکا دفاع وزارت ويلي چې د وروستي تاوتريخوالي په وړاندې چې ۱۶ ملکيان پکې ووژل شول، د والي بريالی ځواب د فعاله مشرتوب بيلګه وه. د دې پيښې په وخت کې، والي د دوه مخالفو ډلو لپاره د سولې شورا او د منځګريتوب مجلس جوړ کړ او د مخالفت د له منځه وړلو لپاره يې عادلانه منځګريتوب وکړ. مګر، حکومت و نشو کړای چې د بې ثباتۍ د اساسي ستونزو لکه چې د غير قانوني وسله والو ډلو لخوا په ولايت کې منځ ته راځي، د حل لار پيدا کړي.[231]

## د تخار ولايت

د تخار ولايت تر ډېرې کچې با امنه دی او د طالبانو بې کاره حکومت لږ شتون لري. مګر، د خواجه غار، درقد او ايشکاشم په ولسواليو کې د ځينو ياغيانو شتون ليدل کيږي. د ولايت پخواني والي چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر د ولايتونو د رهبرۍ په بدلون کې له کاره لرې شو، د خپل کار په دوره کې ډېر وخت په ولايت کې نه و، او ولسواليو ته يې لږ سفر کاوه. د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر، د ده ځای ناستي د ولايت چارې په لاس کې نه وې نيولي.[232]

# قضايي اصلاحات او د قانون حاکميت

د افغانستان او امريکا هڅې د قضا د سيستم د ودې لپاره، د قوانينو پر نوی کولو، د افغان قانون پوهانو روزنه او تربيه، د رسمي او غير رسمي سيستمونو اړيکې مضبوطول، او د محبس او توقيف مرکزونو د چارو پر ښه کولو کار کوي.

که څه هم د افغانستان حکومت او نړيوالې ټولنې "قانون او قضا د ټولو لپاره" د ملي لومړيتوبونو له پروګرامونو څخه پيژندلې ده، مګر دوی لا تر اوسه په يوه مشخص پروګرام موافقه نده کړې، چې ده يوه روښانه او د تاييد وړ د لارې د نقشې اساس جوړ کړي، تر څو د افغانستان د قضا سيستم اصلاح کړي. پدې ربع کې، هغه هڅې بيا ناکامه شوې، تر څو د قانون وروستۍ نسخه او قضا د ټولو لپاره پروګرام د ګډې همغږۍ او نظارت بورډ ته د تاييد لپاره وړاندې کړي.[233]

پدې ربع کې، د ملګرو ملتونو سر منشي راپور ورکړی، چې د افغانستان حکومت د قضا سکتور د قوانينو د اصلاح په برخه کې پشمول د څو کاري ګروپونو جوړول تر څو د جزا قانون تعديل کړي يو څه پرمختګ کړی.[234]

پدې برخه کې د امريکا د قضا اصلاح او د قانون حاکميت ملاتړ پروګرامونه راغلي دي.

# حکومتداري

## د توقیف مرکزونو کاروونه او سپارل

پدې تیر شوي ربع کې، لکه څنګه چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان او امریکا تر منځ یوه موافقتنامه لاس لیک شوې وه، د دغې موافقتنامې پر اساس امریکا د پروان په توقیف مرکز کې له ۳،۰۰۰ څخه ډیر بندیان د افغانستان حکومت چارواکو ته وسپارل. مګر، یو څه لږ بندیان د امریکا تر کنترول لاندې پاتې دي.[235] د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۱۰، امریکا د بندیانو سپارل وځنډول تر څو د موافقتنامې ځینې ستونزې حل شي.[236] د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د افغانستان حکومت د توقیف د ادارې په اړه ځینې سوالونه کړې دي. د لوړ پوړو چارواکو تر خبرو وروسته، داسې ښکاري چې د افغانستان حکومت به د امریکا له حکومت سره کار وکړي تر څو یو قانوني چوکاټ جوړ شي، او د افغانستان ملي حاکمیت احترام پر ځای شوی وي، او د بندیانو لخوا امنیت ته جدي تهدید مخه یې هم نیولې وي.[237]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، وروسته له دې چې د امریکا د بندیانو د بررسۍ بورد دا پریکړه کړې وي چې بندي د امریکا د توقیف معیارونو سره برابر وي، بیا یې امریکا د افغانستان حکومت ته سپارلي دي.[238] د راتلونکو توقیفونو لپاره، د بندیانو د ادارې لپاره د افغانستان حکومت یوه پروسه جوړه کړې ده. دا پروسه د یو څو بررسیو او کنترولونو او له امریکا سره مشورې کولو څخه جوړه شوې ده، لکه څنګه چې پدې پاڼې انځور 3.31 کې راغلې دي.[239]

نږدې ۵۰ اضافي بهرني بندیان چې ډیری یې پاکستاني دي تر دې موافقتنامې لاندې ندي راغلي، او د افغانستان حکومت کنترول ته هم ندي سپارل شوي.[240]

**د ۲۰۱۲ کال د مارچ د میاشتې د دوه اړخیزې موافقتنامې پر اساس، امریکا موافقه وکړه چې بندیان د افغانستان د حکومت کنترول ته وسپاري. د افغانستان حکومت دې سپارلو ته ډیر لومړیتوب ورکړی دی، او دا وایي چې امریکا د افغانستان د بندیانو د ساتلو قانوني صلاحیت نلري.**

سرچینه: سیګار، "کانګرس ته درې میاشتنی راپور،" ۴/۳۰/۲۰۱۲

## زندانونه

د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر پورې، د افغانستان په زندانونو کې ۱۷۶٪ ډیر بندیان بند و. مګر، دا د ۲۰۱۲ کال د مارچ په پرتله یو پرمختګ ګڼل کیدای شي، کله چې په هغه وخت کې دا شمیره دوه برابره (۲۰۲٪) وه. د افغانستان د حکومت په زندانونو کې ۱۶،۰۰۰ نارینه بندیان او ۴۷۱ ښځینه بندیان شته. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د توقیف مراکزو او زندانونو د جوړولو لپاره ۷۰،۴۷ میلیونه ډالر ورکړې دي.[241]

## د جزایې اجراتو قانون


که څه هم د افغانستان حکومت دوه کاله وړاندې ژمنه کړې چې د جزایي اجراتو نوی قانون به پلې کوي، مګر د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، ملي شورا د دې قانون مسوده لا نه وه تایید کړې.[242] د عدلیې وزارت د تقنین ریاست د ۲۰۱۲ کال د جون په ۳۰ د قانون تعدیل شوې نسخه ملي شورا ته وړاندې کړې. د ملګرو ملتونو د سر منشي په وینا، تمه کیده چې دا مسوده به د قانون جوړولو په اجندا کې ژر راشي.[243] د تعدیل کولو په ډیر وخت کې، امریکا د افغانستان د عدلیې وزارت له چارواکو، د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره او سترې محکمې سره خبرې کړې تر څو مسوده ښه شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وایي چې اوسنی قانون د قانون د حاکمیت لپاره یو ښه اساس ندی، او مسوده ډیرې ستونزې لري چې شورا به ونشي کړای د تعدیل د پروسې په وخت کې یې حل کړي.[244]

**تقنین:** د عدلیې وزارت په وینا، په افغانستان کې د ټولو قوانینو مسودې باید د تقنین د ریاست لخوا وارزول شي تر څو د اساسي قانون، اسلامي قانون، او نړیوالو تړونونو چې افغانستان امضا کړي اطاعت وکړي.

سرچینه: د عدلیې وزارت "د تقنین ریاست" معلومات د انټرنټ له لارې ترلاسه شوي ۷/۱۷/۲۰۱۲.

شکل ۳.۳۱

**د جنايي بنديانو د ساتلو بهير**




يادونه: هر خوشې شوی بندي دا موقع لري چې د افغان سولې او بيا يوځای کيدلو له پروګرام سره يوځای شي. (APRP)

سرچينه: د سيګار 10/12/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD/OSD ځواب.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا ستونزې موندلې:[245]

- صوتي، ویډیو، لیکل شوی او انځوریز شواهد (چې د محکمه کول د برخې لپاره مهم دي) اجازه نلري.
- پټ نظارت محدود دی او د فساد، تقلب، وسلو قاچاق او تهدید لپاره شتون نلري. د ملګرو ملتونو تر تړونونو لاندې افغانستان مکلفیت لري تر څو د فساد او نړیوالو تنظیم شویو جرمونو پر وړاندې د بریښنایي نظارت قانوني اجازه ورکړي.
- که د تورن پر وړاندې کافي شواهد شتون ونلري، څارنوالان صلاحیت نلري تر څو قضیه فسخه کړي. او له دې کبله به کمزورې قضیې محاکمو ته راجع شي او د قضا سیستم باندې به کار ډېر شي.
- د جنسي تیریو محکومیتونه کیدای شي معاف او یا بدل شي.

## څنډنې اجرات او د افغانستان د قضیو اداره کولو سیستم

د افغانستان د قضیو اداره کولو سیستم (CMS)، هغه معلومات دي چې قضیې له تحقیق څخه تر محکومیت او استیناف پورې تعقیبوي، او د ۲۰۱۱ کال له مارچ څخه د ۲۰۱۲ کال تر مارچ پورې په کابل کې ۲۱،۰۰۰ نوې جرمي قضیې ثبت کړې دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د قضا سکتور ملاتړ پروګرام (JSSP) د انټرنټ له لارې یې په کابل کې د CMS مرکزي دفتر د لوی څارنوال دفتر او د هرات او مزار شریف ابتدایي محکمو سره وصل کړي. JSSP د افغانستان له چارواکو سره کار کوي تر څو د CMS د معلوماتو تحلیلونو لپاره د حل لارې پیدا کړي. کیدای شي دا تحلیلونه قانوني سیستم ډېر شفافه کړي او اداره ښه کړي، او کیدای شي د فساد مخه به هم ونیول شي. پردې برسیره، کیدای شي CMS به د څنډنې پروسې ستونزې پیدا کړي چې د قضا په اجراتو کې منځ ته راځي.[246]

## د امریکا د قضا سکتور ملاتړ پروګرام

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو او قانون پلي کونکی دفترّ (INL) د JSSP مدیریت کوي تر څو څارنوالان، مدافع وکیلان، تحقیق کونکي، او قاضیانو ته روزنه ورکړي او د ټول قضا سیستم ظرفیت لوړ کړي. د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر تر ۳۰، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت JSSP له ۲۱۲،۷۱ میلیونو ډالرو څخه ډېر ورکړي، چې ۱۸۱،۱ میلیونه ډالر یې لګول شوي دي. JSSP ۱۵۴ وکیلان، پشمول دې ۱۰۸ افغانان، ۴۶ امریکایان او د دریمې درجې هیوادونو قانوني مشاورین کارکونکي لري. په راتلونکو دوه کلونو کې، د ۲۰۱۲ کال له اکتوبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر اکتوبر، INL به JSSP له فنډ اخیستونکي پروګرام څخه د افغانستان د حکومت پروګرام په اداره بدله کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د روزنې لپاره تر ډېرې کچې د امریکایي مشاورینو پر ځای له افغان قانون پوهانو څخه کار اخلي. پروګرام به دا کاره هم پیل کړي، تر څو افغانان د روزنې پروګرامونه جوړ کړي او مدیریت یې کوي.[247]

د ۲۰۱۲ کال د جولای تر ۲۷، د قضا د ۵۸۰۰ متخصصینو په یوه سروی کې، د قانون د حاکمیت د بنسټ په پروګرام کې، JSSP ۴۴٪ څارنوالانو، ۳۹٪ مدافع وکیلانو، ۲۸٪ پولیس تحقیق کونکو، او ۱۹٪ قاضیانو ته روزنه ورکړی ده. پر دې برسیره، JSSP د جندر، د قضیې پرمخ وړل، اخلاق او د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د استادی او لنډ کورسونه برابروي.

د امریکا د دفاع وزارت پدې ربع کې ځینو هغو قضیو ته اشاره کړې چې د JSSP له خوا د قضا روزل شویو متخصصانو ښودلي چې د JSSP روزنې مثبتې اغیزې درلودې:[248]

- د هرات په ولایت کې، د JSSP لخوا یوه روزل شوي څارنوال له شاهد څخه د سوالونو او د جرم د ساحې د بررسۍ له پوهې څخه کار اخیستی، او یو خاوند یې چې خپله میرمن یې د دریو میاشتو واده په وخت کې څو ځلې وهلې وه د ۲۰۱۰ کال د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو (EVAW) د قانون پر بنسټ په بریا محاکمه کړي.
- په کندز کې، د یوې کونډې ښځې خپلوانو هڅه کړې تر څو د خپل د مړه خاوند له ورور سره واده وکړي. هغې نده منلې او د ولایت د حقوقو دفتر ته تللې تر څو د JSSP لخوا روزل شوي افسر ته شکایت وکړي. هغه د EVAW قانون او پر اجباري ودونو د دې قانون بندیز یې د کلي مشرانو او ښځې خپلوانو ته تشریح کړی. مشرانو او خپلوانو بیا ویلي چې دا ښځه اړ نده چې واده وکړي.
- په کابل کې، قاضیانو ویلي چې په طرزالعملي قوانینو او د وخت د محدودیت په پام کې نیول روزنو څخه دوی وکولای شول چې ډیری پخوانۍ قضیې اجرا کړي.
- په بامیان کې، د JSSP یوه روزل شوي پولیس افسر وکولای شول له خپلې پوهې ګټه واخلي چې له "کوره تیښته" د قانون پر وړاندې جرم ندی، او یو سړی او ښځه یې وروسته له دې خلاص کړل چې دوی د خپلو کورنیو له اجازې پرته دې ولایت ته تللي و تر څو واده وکړي.
- په بامیان کې، د JSSP له خوا روزل شوي قاضي د محکمې جریان عامو خلکو ته پرانیست او د مدافع حقوقو خوندیکول یې ډیر کړي او له مدافع وکیل څخه ګټه اخیستل یې هڅولي دي.

## د اصلاح له سیستم څخه د امریکا ملاتړ

د اصلاح له سیستم څخه د INL ملاتړ پروګرام (CSSP) د افغانستان حکومت د توقیف مراکزو مرکزي ریاست (CPD) ته مرسته برابروي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، دې مرستې د زندان د اسنادو ساتل ښه کړي او د بندیانو د اصلاحي پروګرامونو د جوړولو سره یې مرسته کړې. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، په ټول هیواد کې د نږدې ۲۸،۰۰۰ بندیانو اسناد تنظیم شوي دي. چیرته چې تاسیسات اجازه ورکوي، د تنظیم سیستم د زندان قومندانانو ته اجازه ورکوي چې خطرناکه او ملي امنیت ته تهدید بندیان له غیر خطرناکو بندیانو څخه بیل کړي.[249]

پردې برسیره، دا سیستم چارواکو ته دا اجازه ورکوي چې په ښه توګه بندیان د سواد د زده کړې، حرفوي زده کړې او په زندان کې د نورو پروګرامونو لپاره وپیژني. په ۲۰۱۲ مالی کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي، د افغانستان د زندان له چارواکو سره د CSSP ملګرتیا د افغانستان د پلچرخي په مرکزي زندان کې د قالینو اوبدل، آهنګري، خیاطي، او کرنې په پروګرامونو کې د بندیانو بوختیا ډیره کړې. CSSP په ۱۰ ولایتونو کې دې پروګرامونو لپاره مواد هم برابروي، او د ۸ ولایتونو په زندانونو کې د ښځو د ښځو زندانونو او دریو دارالتادیبونو لپاره ابتدایي تعلیمات، سواد زده کړې او حرفوي زده کړو پروګرامونو لپاره ملاتړ برابروي.[250]

# حکومتداري

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، INL د افغانستان د زندان د سیستم د ښه کولو لپاره ۱۸۴،۵۷ میلیون ډالر لګولي دي. INL پلان لري چې په راتلونکي کې د خپلو مرستو ډېره برخه د افغانستان د زندانونو لپاره د بلاعوضه مرستو او سیمیزو تطبیق کونکو له لارې ورکړي ترڅو لګښت لږ شي او کارونه دوام ومومي.[251]

## د فساد پر وړاندې مبارزه

د فساد دوام د بیا رغونې ټولې هڅې له خطر سره مخ کړې. که څه هم د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې ژمنه کړې تر څو له عامه دفترونو څخه د شخصي ګټې اخیستلو پر وړاندې مبارزه وکړي، مګر د نظارت او ارزونې کمیټې (MEC) په وینا پدې برخه کې لږ پرمختګ شوی دی. (د توضیح لپاره لاندې وګورئ). MEC وموندل چې د افغانستان حکومت اراده نلري چې د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي او مفسد کسان محاکمه کړي. د هیواد کمزوری او لږ معاش ملکي خدمات، کمزورې قانوني او اداري تشکیلات، او د نړیوالې ټولنې پر کمکونو محدود نظارت او حساب ورکونه ټولو د معافیت منطق ته وده ورکړې ده.[252] د سپټمبر په میاشت کې د کرزي فرمان د فساد پر وړاندې اصلاحات درلودل، مګر اوس لا ډېر وختي دی تر څو پوه شو چې اغیزه به یې څه وي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د خپلواکو او څواکمنو تحقیقونو او محاکمه کولو د ودې په برخه کې لږ پرمختګ شوی دی. پدې ربع کې د افغانستان د حکومت د څنډ په دوام کې کوم بدلون ندی لیدل شوی، چې د لوړ پوړو او کښته چارواکو تحقیق او محاکمه تر سره کړي، تر څو د هیواد پراخ فساد تر ډېرې کچې را ټیټ شي.[253]

### د نظارت او ارزونې کمیټه

د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې په ۲۰۱۰ کال کې د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې ګډه کمیټه (MEC) جوړه کړه تر څو د فساد پر وړاندې معیارونو ته وده ورکړي. د MEC په ترکیب کې درې افغان او درې نړیوال استازي ګډون لري. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، دې کمیټې ۷۳ معیارونه جوړ کړي دي، او پدې ربع کې ۱۷ تایید شوي.[254] په معیارونو کې د خطر ارزونه او د افغانستان د قانون او نظم د وجهي صندوق (LOTFA) د خطر د کمولو پلان، د کابل بانک د قضیې په اړه عامه معلومات کول، د فساد پر وړاندې د هڅو یو ځای او همغږې کول، د شتمنۍ ارزونه، او د عامه تدارکاتو اصلاح کول شامل دي.[255] MEC راپور ورکړی چې تر ۸۰٪ ډېر پخواني معیارونه تر یوه حده یا په بشپړه توګه تطبیق شوي دي.[256]

په سپارښتنو کې د مدني ټولنې د نظارت، ونډې، د سرحد د کنټرولولو نظارت پراخول، عامه پوهاوی چې تمرکز یې د دیني عالمانو مبارزه د فساد پر وړاندې وي، د فرعي قراردادیانو اطاعت تطبیقول او د سازمانونو او پروژو حسابونو پلټنه کول راغلي دي.[257]

پدې ربع کې، MEC پر UNDP انتقاد کړی چې کافي ګامونه یې ندي اخیستي چې د LOTFA په ناسمې اداره کولو کې د تقلب د اندیښنو په اړه ګامونه پورته کړي. د MEC ملګرو ملتونو د پراختیا اداري (UNDP) ته سپارښتنه کړې چې د LOTFA د خطر رسمي ارزونه وکړي او د خطر د کمولو په عملي ګامونو یې تعقیب کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې UNDP ځینې اصلاحي کارونه کړي، مګر دا روښانه نده چې دا تغیرات به کافي وي.[258]

**لتفا (LOTFA):** د څو هیوادونو وجهي صندق چې د UNDP لخوا اداره کیږي، د ملي پولیسو معاشونه ورکوي او د کورنیو چارو وزارت ظرفیت لوړوي. د LOTFA بسپنې د افغانستان حکومت ته چمتو شوي. له ۲۰۰۲ کال څخه، د وروستیو معلوماتو پر اساس، دونرانو نږدې 64،3 میلیارده ډالر LOTFA ته ورکړي دي. د بسپنې له پیل څخه، امریکا پدې کې نږدې ۸۹۲،۷۴ میلیونه ډالر ونډه اخیستې ده. د نظارت او تادیاتو سیستم له کبله LOTFA تر انتقاد لاندې راغلې، چې ځینې وایي ډېر ضایعات او تقلب پکې کیدای شي.

سرچینه: د سیګار د بسپنو ورکولو تحلیل.

## د افغانستان د لوی څارنوال دفتر

د امریکا د دفاع وزارت په نظر، د افغانستان اداري لا تر اوسه د فساد پر وړاندې مبارزه کې کمزوري ملګري دي. لوی څارنوال اراده نلري تر څو لوړ پوړي چارواکي محاکمه کړي او دې کار ځو ځلې د تحقیقاتو مخه نیولې ده. د بیلګې په توګه، سره له دې چې په ۲۰۱۱ کال کې د داود خان د ملي اردو په شفاخانه کې لویه رسوایي را منځ ته شوه، مګر د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، هیڅ لوړ پوړی چارواکی محاکمه شوی ندی.[259] د پراخ فساد له کبله د امریکا بسپنې ضایع شوي او د شفاخانې لپاره طبي سامانونه غلا شوي دي. پردې برسیره، ډیری وختونه مریضانو ته خدمات ندي وړاندې شوي، ځکه دوی یا د کورنی غړو یې د شفاخانې کار کونکو ته رشوت ندی ورکړی. د افغانستان د دفاع وزارت او ملي اردو چارواکو پشمول د ملي اردو سر طبیب، جنرال یفتلي پدې رسوایې کې تورن دي. د امریکا کانګرس پدې اړه څو اوریدنې تر سره کړې دي.

که څه هم د افغانستان د حکومت اداري د فساد قضیو پر وړاندې د خپلو هڅو ډیرې لوړې خبرې کوي، د امریکا دفاع وزارت وایي چې د فساد پر وړاندې اداره (ACU) او د اردو د فساد پر وړاندې قطعه سم کار نکوي، او دواړه د افغانستان حکومت ته راپور ورکوي. پدې ربع کې، لوی څارنوال د پښتنې بانک په رسوایی کې د انفرادي کسانو د محاکمه کولو مسول څارنوالان له کار څخه لرې کړل. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د ACU څارنوالان پدې پوه شول چې د لوړ پوړو چارواکو په محاکمه کولو کې باید ډیر فعاله او خپلواکه حرکت ونکړي.[260]

سره له دې چې د افغانستان حکومت د لوړ پوړو چارواکو د فساد د قضیو د محاکمه کولو اراده نلري، سیګار د افغانستان حکومت سره د افغان قراردادیانو په محاکمه کولو ځینې بریاوې تر لاسه کړې دي. د سیګار د هڅو د معلوماتو په اړه تر څو د افغانستان د قانون پلي کونکو چارواکو سره کار وکړي دا پاڼې 44–45 وګورې.

## د ځانګړو قضیو کمیټه

پدې ربع کې، د ځانګړو قضیو کمیټې (SCC) د فساد د لوړ پوړو قضیو د تحقیق په برخه کې یو څه پرمختګ کړی. او د داود خان د ملي اردو شفاخانې د قضیې په تحقیق کې ډیره ونډه اخیستې. د تحقیقاتو پایله د دریو ټیټ پوړو اردو چارواکو محاکمه کول او په بند کې اچول و. د افغانستان حکومت ادارو پدې محاکمو کې برخه نده اخیستې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي دا قضیې باید د داود خان د ملي اردو شفاخانې د تحقیقاتو پیل وي او د SCC له تحقیقاتو، تنظیم کولو او لومړیتوبونو پرته په دا کار نه و ترسره شوی. امریکا او نړیوالې ټولنې له دواړو SCC او ACU سره مرسته کړې ده.[261]

## د فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداره (HOO)

HOO په ۲۰۰۸ کال کې تاسیس شوه، او صلاحیت لري چې د قضیو تحقیق وکړي او بهرنی شتمنی مستند کړي، مګر د دې اداري کارونه لا تر اوسه اغیزه نلري. د دې لپاره چې د افغانستان د فساد ستونزو پر وړاندې اقدام وشي، د HOO لوړ پوړي چارواکي باید سیاسي اراده پیدا کړي، مګر تر اوسه یې دا کار ندی کړی.[262] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې HOO عمومي ریس لا تر اوسه بې اغیزه دی، سره له دې چې په مطبوعاتو کې یې د ځینو لوړ پوړو حکومتي چارواکو فساد په کلکه غندلی دی. HOO بیا ادعا کوي چې د افغانستان حکومت ادارو ته یې تر ۱۰۰ ډیرې قضیې لیږلي، مګر تر اوسه هیڅ یوه قضیه نده محاکمه شوې.[263]

---

**د ځانګړو قضیو کمیټه (SCC):**

وروسته لدې چې د افغانستان حکومت ونشو کړای چې د فساد مهمې پخوانی عامه قضیې په مناسبه توګه محاکمه کړي، د ۲۰۱۲ کال د جنوری په میاشت کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې د یوه ګډ میکانیزم په توګه جوړه شوه تر څو د افغانستان د حکومت د هڅو ملاتړ وکړي. د نړیوالو مشاورینو او امریکایې کارکونکو دنده، د افغانستان له حکومت سره مرسته کول دي، تر څو د ځانګړې پاملرنې لپاره هغه قضیې غوره کړي چې ملاتړي اسناد ولري، او د تحقیق او محاکمې لپاره یې سرچینې برابرې کړي. پردې برسیره، نړیوال مشاورین د افغانستان له حکومت سره د تحقیق او محاکمې د ستراتیژیو له جوړولو سره مرسته کوي. د نړیوالو ونډه دا مرسته هم کوي چې د افغانستان حکومت هغه معلومات او شواهد ترلاسه کړي چې نړیواله ټولنه یې په اختیار کې لري او د مهمو قضیو له پرمختګ سره مرسته کوي.

سرچینه: د سیګار معلوماتو ته د امریکا دفاع وزارت ځواب، ۷/۵/۲۰۱۲

# حکومتداري

له دې کبله چې HOO له مدني ټولنې سره ښې اړیکې نلري، د عامه اړیکو کارونه یې هم تر اوسه بې اغیزه و. پردې برسیره، سره له دې چې USAID د افغانستان د فساد پر وړاندې اداري (4A) پروګرام سره مرسته کړې تر څو HOO وهڅوي چې د حکومتي چارواکو کورنۍ شتمنۍ اعلانول تطبیق کړي، مګر HOO لا تر وسه دا اراده نده ښودلې چې عملي اقدام وکړي.[264]

HOO لا تر اوسه هغه ظرفیت نلري چې په فعاله توګه د افغانستان د حکومت نظارت، ارزونه او پلټنه وکړي، مګر د 4A پروګرام د دې اداري له وړتیا سره دا مرسته کړې چې د فساد مخه ونیسي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر میاشت، 4A ته ۷،۹ USAID میلیونه ډالر ورکړي دي. پدې ربع کې، د USAID د 4A پروګرام له HOO سره مرسته کړې چې دا کارونه سرته ورسوي:[265]

- د کارونو تحلیل وکړي او ورکشاپونه بیا ډیزاین کړي، چې پدې ترڅ کې د HOO د شکایتونو د اداري او قضیو تعقیبولو د ریاست د کارونو د وظیفو لایحې بیا جوړې شوې.
- د HOO د کورنۍ پلټنې د ریاست د وظیفو تحلیل ورکشاپ بشپړ کول.
- د HOO د استخدام او غوره کولو د پالیسی د مسودې بیا لیکل بشپړ کیدل.
- HOO ته د شتمنۍ د ثبتولو د لارښونې ۵۴ ډې وي ډې سپارل تر څو ملکي کارکونکي او د حکومت چارواکي په لرو پرتو سیمو کې لکه ولایتونه او په بهر کې ور څخه ګټه واخلي.
- د HOO او د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون تر منځ او د HOO او د ملکي خدماتو د خپلواک کمیسیون تر منځ د موافقه لیکونو د مسودو بشپړول.
- د ملکي کارکونکو لپاره په انټرنټ کې د شتمنۍ د اعلانولو د فورمې ډکول.
- د HOO د فساد د مخنیوي ریاست د ۲۱ کارکونکو روزنه تر څو د حکومت په ادارو کې د فساد ارزونه وکړي.

HOO عموماً دا اراده نده ښودلې چې له MEC سره کار وکړي، او د دې ځواک هم په پوره توګه نه پیژني. د MEC په وینا، HOO د MEC د نظارت او ارزونې هیڅ کار ته ځواب ندی ورکړی، او دا اراده یې نده ښودلې چې له HOO څخه د MEC استقلالیت وپیژني. MEC ویلي چې د HOO مقاومت د فساد پر وړاندې د هر احتمالي پرمختګ مخه نیسي.[266]

## د کنترول او پلټنې اداره

پدې ربع کې، ملي شورا یوه مسوده له مهمو احکامو سره تایید کړه چې پر اساس به یې د کنترول او پلټنې د اداري خپلواکي ډیره شي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، دا قانون د ولسمشر کرزي د لاسلیک په تمه و.[267]

## د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې فساد

د افغانستان د کورنیو او دفاع وزارتونو د امریکا د دفاع وزارت د ادارو تر منځ د ګډ عملیاتي ځواک (CJIATF) – "شفافیت" له لارښونو سره د کورنیو اصلاحاتو او کمیسیونونو له کبله د فساد پر وړاندې یو څه پرمختګ کړی دی. مګر، دوی لا تر اوسه مناسب طرزالعملونه نلري تر څو مجرم او مفسد لوړ پوړي مشران له کار څخه لرې کړي. ځینې لوړ پوړي چارواکي چې

**د افغانستان د فساد پروړاندې اداري سره مرسته (4A): د USAID**
دا پروژه د افغانستان حکومت د فساد پر وړاندې د ادارو د ستراتیژیو، تخنیکي چارو، او اداري ظرفیتونو لوړولو سره مرسته کوي، د فساد پر وړاندې عالي اداره (HOO) او وزارتونه د افغانستان عامو خلکو ته مهم خدمات او د مدني ټولنې سازمانونه چې د فساد پر وړاندې مبارزه کوي عامه پوهاوی وړاندې کوي.

سرچنیه: د USAID "د افغانستان د فساد پر وړاندې اداري سره مرسته."

له خپلې دندې لرې کېږي، "بیرته" په بله وظیفه کې راولېږل کېږي. پردې برسیره، په ځانګړې توګه په ملي پولیسو کې ملاتړې شبکې اوس هم د ټاکلو له پروسې سره په کلکه تړاو لري.[268]

پدې ربع کې، د افغانستان دفاع وزارت راپور ورکړی چې د شفافیت او حساب ورکونې کاري ګروپ د فساد پر وړاندې ۴۱ عملي کارونه د تدارکاتو او قراردادونو په اړه یا بشپړ کړي او یا د پرمختګ په حال کې دي. د امریکا دفاع وزارت وویل چې دا لا ښکاره نده چې دا ګامونه به تر کومې کچې د فساد مخه ونیسي یا جزا ورکړي.[269]

پدې ربع کې د افغانستان دفاع وزارت د شفافیت او حساب ورکونې د ادارې ریس هم ټاکلی دی. دا اداره به په ټول دفاع وزارت کې د نورو دفترونو د مالیې، لوژستیک، تدارکاتو او کارکونکو د کارونو نظارت وکړي او د فساد پر وړاندې به مشخصې سپارښتنې وکړي.

د افغانستان د دفاع وزارت د فساد پر وړاندې کمیټې پدې هم پیل وکړ تر څو د وزارت چارواکي وهڅوي چې د خوراکي موادو د قراردادونو، د ملکیت حساب ورکونه او کمزورې پلټنې په برخو کې کلک ګامونه پورته کړي. د دفاع وزیر وردګ له تللو سره د کمیټې د کارونو دوام له ستونزو سره مخ شو.[270]

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د شفافیت او حساب ورکونې کمیټې (TAC) اغیز لا د دې ربع په پای کې روښانه نه و. د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې، د TAC دفتر په هملند کې تاسیس شو او خپل شتون یې د کورنیو چارو وزارت د پولیس ټولو اوو زونونو ته وغزاوه. مګر، دې کمیټې لا تر اوسه داسې کار ندی کړی چې پایله یې د مفسدو لوړ پوړو چارواکو تحقیق او محاکمه کول وي. د آیساف ګډې قوماندانۍ (IJC) پدې وروستیو کې خبلې سیمیزې قوماندانۍ ته هدایت ورکړی چې د کمیټې د پرمختګ او تطبیق په اړه راپور وړاندې کړي.[271] پردې برسیره، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۳۰، د افغان د کورنیو چارو وزارت او آیساف NTM-A لکه د افغانستان دفاع وزارت ته ورته د افغانستان د کورنیو چارو وزارت ته د فساد پر وړاندې د یو ملي پلان جوړولو ته نږدې شوي و.[272]

**د شفافیت او حساب ورکونې کمیټه (TAC):** د ۲۰۱۲ کال په فبروري کې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت TAC جوړه کړه تر څو له نړیوالې ټولنې سره کار وکړي او پدې وزارت کې فساد ورک کړي. دا کمیټه د کورنیو چارو وزارت د پولیسو په اوو زونونو کې شتون لري. هر زون او د ولایت په کچه د شفافیت کمیسیون باید د غیر مرکزي ملي شبکې په توګه کار وکړي، تحقیق ترسره کولای شي او د کورنیو چارو وزارت TAC ته باید حساب ورکړي.

سرچینه: آیساف، "د فساد پر وړاندې مبارزه اوس هم ځواکمنه ده،" ۹/۶/۲۰۱۲.

## په ګمرکي عایداتو کې فساد

په دریمې مرتب ربعې کې، د افغانستان حکومت و نشو کړای چې د ولسمشری اجراییوي کمیسیون (PEC) جوړ کړي، او داسې ویل کیږي چې دا به د ګمرکونو پیسې ټولولو کې د پراخ فساد مخه ونیسي. پدې ربع کې جنرال جان الن، ولسمشر کرزي او ډاکټر سپنتا، د افغانستان د ملي امنیت د شورا ریس یوه غونډه وکړه تر څو د سپنتا سپارښتنه بیا را ژوندۍ کړي. سپنتا وړاندیز کړی و چې سپارښتنه دې بیا ولیکل شي تر څو د ملي امنیت ادارې ته د ډېر نظارت اجازه ورکړ شي، تر څو وزارتونه سره یو ځای کړي چې په ګمرکونو کې د فساد مخه ونیسي.[273]

## د شفافیت عملیاتي ځواک

د امریکا د دفاع وزارت د شفافیت ځواک د افغانستان په دفاع او کورنیو چارو وزارتونو کې د فساد پر وړاندې د شفافیت او حساب ورکونې کاري ګروپ او شفافیت او حساب ورکونې کمیټې کارونه تر سره کړي دي. د شفافیت عملیاتي ځواک د آیساف د فساد پر وړاندې او تنظیم شویو جرمونو د ادارو تر منځ د اغیز ګروپ هم اداره کوي، چې نړیوالې او د امریکا ادارې سره یو ځای کوي تر څو د فساد پر وړاندې خپل ظرفیتونه سره همغږې کړي. د دې ربع پای کې، دې ګروپ د قضا په سکتور کې د فساد په اړه تمرکز کړی.[274]

د شفافیت عملیاتي څواک هڅه کوي تر څو د آیساف وړتیاوې هم وپیژني چې د نړیوالو جرمونو او فساد مخه نیسي، او د آیساف له پلان کونکو سره د فساد پر وړاندې د انتقال پلان جوړوي. د دې ربع په پای کې، د آیساف له خوا یوه رسمي پروسه د لاس لاندې وه تر څو تر ۲۰۱۵ کال پورې د افغانستان حکومت له ملګرو سره دوامداره فعالیتونه جوړ کړي.[275]

## د قراردادیانو ارزونه

د امریکا د دفاع وزارت پر وړاندې ستره ننګونه د قراردادیانو مناسبه ارزونه او نظارت ده، تر څو وکولای شي چې د ټولو نویو او فرعي قراردادیانو په اړه پر وخت معلومات ترلاسه کړي. ځینې قراردادیان تر اوسه د فرعي قراردادیانو په اړه معلومات نه ورکوي. د دې ربع په پای کې، د قراردادیانو ارزونې پروسې د قرارداد ورکولو افسرانو او اردو قوماندانانو اړتیاو ته ځواب نشو ویلای تر څو له هغو قراردادیانو سره ځنګه کار وکړي چې کیدای شي د ایتلاف پر پایګاو باندې د ډیر او یا بیخي ډیر حملې خطر وي. د ارزونې دا پروسې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په میاشت کې د بررسۍ لپاره مهال ویش شوې وې.[276]

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د قرارداد نظارت د تیلو، ترانسپورت او امنیتي قراردادونو چې د ضایعاتو او تقلب ډیر خطر پکې شته ارزونې ته دوام ورکوي. دا هڅې د دې سبب شوې تر څو د قراردادونو تعقیبول او ارزونې ته بدلون ورکړ شي او د قرارداد د ضایعاتو مخه ونیول شي. د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د فرمایشاتو، رسیدلو او د تیلو توزیع کولو پروسې ته، چې پدې پاړو کې د سیګار د پلټنې په راپور کې وړاندې شوي 28–30 تغیر ورکول کیږي تر څو د امریکا د بسپنو بشپړ حساب ورکړل شي او د ضایعاتو مخه ونیول شي. د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر، له ۲۶ څخه ۱۱ هغه عملي کارونه تر سره شوي چې د قرارداد نظارت او مدیریت د اصلاح کولو لپاره جوړ شوي و.[277]

## بشري حقونه

د افغانستان کړنې د بشري حقونو په برخه کې دوامداره ندي. پدې دریو میاشتو کې، راپور د ښځو حقونو، انسانانو قاچاق او مهاجرینو مسلو ته بیا کتنه کوي.

## د جندر مساوات

سره له دې چې پدې برخه کې لس کاله کار شوی، د ملګرو ملتونو د عمومي سر منشي په وینا، د افغانستان د ټولنې هغه رواجونه چې ښځو او انجونو ته ضرر رسوي تر اوسه هم ډیر دي. په افغانستان کې پر قضا برسیره په "ناموس" د ښځو وژنې دوام لري، او د مدني ټولنې ځینې ډلې اندیښنې لري، چې د نړیوالې ټولنې د ځواکونو له کمیدو وروسته به د افغانستان په ټولنه کې د ښځو لاسته راوړنې له منځه ولاړې شي.[278] د ملکي او اردو ګډ مرکز ویلي چې د ښځو د چارو وزارت (MoWA) د ۲۰۱۲ کال له جنوري تر سپتمبر د ښځو پر وړاندې د ۳۰۰۰ تاوتریخوالي قضیو راپور ورکړی، چې د تیر کال په پرتله ډیروالی ښیي.[279]

که څه هم له تاریخي پلوه افغان چارواکي د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د جرمونو محاکمه کولو کې په بیړه عمل نکوي، مګر پدې ربع کی یې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي لپاره څو چارواکي محاکمه کړل. پدې محاکمه کولو کې د لوګر ولایت د زندان رییس، چې پر یوې ۱۵ کلنې انجلی یې جنسي تیری کړی و ، او په ۱۶ کلونو بند محکوم شوی شامل و.[280]

# حکومتداري

د افغانستان د ټولنې په ډېره برخه کې، له کوره تښتېدل د ټولنې د رواج څخه سرغړونه ګڼل کیږي، که ښځه له اجباري واده او یا کورنۍ تاوتریخوالي څخه هم تیښتي. د بشري حقونو د نظارت په وینا، که څه هم د افغانستان په قوانینو کې له کوره تښتېدل جرم ندی، د افغانستان په زندانونو کې تر ۷۰٪ ښځې له کوره په تښتېدلو بندې دي. که څه هم ډېرو نړیوالو او مدني ټولنو افغان حکومت هڅولی تر څو پدې لار کې کار وکړي او د دې غیر قانوني کار مخه ونیسي، مګر د ښځو له کوره تښتېدلو په تور بندي کول دوام لري.[281]

د بشري حقونو د نظارت په وینا، د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې، د لومړي ځل لپاره د افغانستان په حکومت کې لوړ پوړو چارواکو په عامه توګه ویلي چې له کوره څخه تښتېدل جرم ندی، او پر دې اساس باید څوک محاکمه یا بندي نشي. د عدلیې وزارت هم ژمنه کړې چې د ښځو غیر قانوني نیول ختم کړي، او دې وزارت خپلو پولیسو ته ویلي چې له کوره تښتېدل جرم ندی. نړیوالو کتونکو پر کرزي باندې غږ کړی تر څو پدې تور په بند کې ښځې او انجونې پرېږدي.[282]

## د ښځو خوندي ځایونه

په افغانستان کې د ښځو لپاره خوندي ځایونه له ډېره وخته یوه ستونزمنه مسله ده. د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې، د عدلیې وزارت ویلي چې خوندي کورونه د "بد اخلاقی او فحشا کورونه" دي.[283] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې که څه هم دا خبرې ډېرې خوا بدوونکې وې، مګر پدې ربع کی یې د خوندي ځایونو پر کارونو باندې ډېر منفي اغیز نه درلود. د ښځو چارو وزارت اوسنۍ وړتیا چې له دې ځایونو نظارت وکړي روښانه نده، مګر دا وزارت د INL لخوا له مرسته شویو مدني ټولنو سره کار کوي تر څو په راتلونکي کې د خوندي ځایونو نظارت ښه کړي. غیر دولتي سازمانونو (NGO) راپور ورکړی دی چې د ښې روزنې او آګاهی له کبله، د ملي پولیسو غړو او د حکومت نورو چارواکو دې خوندي ځایونو ته ښځې لیږلي دي.[284]

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر میاشت تر ۳، په ۱۰ ولایتونو کې ۱۷ خوندي ځایونه او د نیمې لارې کورونه و، چې ټول تر ۵۰۰ ښځې ساتلای شي. د ۲۰۱۲ کال په اګست کې، INL په فراه او غور ولایتونو کې د دوه نورو خوندي ځایونو فنډ ورکړی، تر څو د ۲۰۱۲ په پای کې پرانیستل شي. په ۲۰۱۰ کال کې یوواځې شپږو ولایتونو خوندي ځایونه لرل.[285]

## د انسانانو قاچاق کول

د دې ربع د راپور ورکولو په پای کې، تر ۲،۷ میلیونو ډېر مهاجرو افغانانو په ایران او پاکستان کې ژوند کاوه. په ایران کی ۱ میلیون افغان مهاجرین او په پاکستان کې ۱،۷ میلونه افغان مهاجرین اوسیدل. د افغانستان حکومت د انسانانو د قاچاق کولو پر وړاندې د اصلاح پلان د تطبیق په برخه کې لږ پرمختګ کړی دی. په تیره شوې ربع کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت افغانستان ته د انسانانو د قاچاق کولو د جرمونو مخنیوي او محاکمه کولو لپاره دویمه ټیټه درجه ورکړې. په راپور کې، دې وزارت ویلي چې افغانستان ته به تر ټولو ډېره ټیټه درجه ورکړ شوې وای، مګر دایې ونکړل او دلیل یې دا و چې افغانستان ژمنه وکړه تر څو د قاچاق پر وړاندې یو پلان تطبیق کړي. که څه هم د افغانستان حکومت د ۲۰۰۸ کال د قاچاق پر وړاندې د قانون تطبیق کولو کې ډېر کمزوری ثبوت لري، مګر پدې وروستیو کې لوی څارنوالۍ د ۲۰۰۸ کال تر قانون لاندې د ځینو قاچاق کونکو په محاکمه کولو پیل کړی و. امریکا د افغانستان د انسانانو قاچاق کولو پر وړاندې له هڅو سره مرسته کوي او د خوندي ځایونو، د یوه غیر دولتي سازمان پروګرام او د JSSP فنډ ورکوي.[286]

## مهاجرين

د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې د دريو غاړو د کميسيون په غونډه کې پاکستان او افغانستان په پاکستان کې د افغان مهاجرينو په خپله رضا بيرته ستنيدنې په اړه خپله ژمنه تکرار کړه. د پاکستان حکومت موافقه کړې چې د دريو غاړو د غونډې موافقه چې په پاکستان کې افغان مهاجرينو په خپله رضا، په عزت او امن سره افغانستان ته بيرته ستنيدنې په اړه ده، خپلې کابينې ته وړاندې کړي تر څو يې موده ډيره شي. دا موافقه چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر له ۳۰ څخه پيل کيږي، ټاکل شوې ده چې د دې کال په پای کې د افغان مهاجرينو د قانوني ثبت د ثبوت له کارت سره ختمه شي.[287]

همدارنګه د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر کې، ايران د ملګرو ملتونو د مهاجرينو کميشنرۍ (UNHCR) ته ډاډ ورکړی چې افغان مهاجرين به خونديو وساتي او پخپلو سرحدونو کې به مرسته ورکړي، او هڅه به وکړي چې پخپله رضا بيرته افغانستان ته ستانه شي. پر دې برسيره، ايران د هغو مهاجرينو لپاره چې په هيواد کې سند نلري د يو قانوني پروګرام چوکاټ جوړ کړي. تر دې پروګرام لاندې، د ايران حکومت به مهاجرينو ته د لنډ وخت لپاره د اوسيدلو سند ورکړي تر څو چې افغان چارواکي ورته پاسپورټ ورکوي.[288] پداسې حال کې چې پدې تير کال کې له ايران څخه افغانستان ته د راستيدونکو شميره ډيره شوې، دا لدې کبله ده چې په ايران کې اقتصادي وضع ښه نده. که څه هم ايران د ډيرو مهاجرينو د ايستلو ګواښ کړی، اما دا کار ندی شوی او داسې نښې نه ليدل کيږي چې د ايران ژمنې چې د ثبت شوي مهاجرينو خونديتوب و،دې بدلون وکړي. د ۲۰۱۲ کال د اګست تر ۳۱، د ملګرو ملتونو د مهاجرينو کميشنرۍ نږدې ۱۰،۰۰۰ په خپله رضا بيرته ستنيدونو سره مرسته کړې ده.[289]

امريکا په پاکستان کې د افغانستان د مهاجرينو د قانوني او بشري مرستو اوضاع په اړه ډيره انديښنه ښودلې ده. امريکا په پاکستان کې د ثبت شويو مهاجرينو لپاره چې محافظت ته اړتيا لري د لنډ مهالي مودې د اوږدولو د ثبتولو د کارت مسلې لپاره هڅه کړې. ځکه د ايران حکومت سره اړيکې محدودې دي، امريکا نشي کولای چې د افغان مهاجرينو لپاره له ايران سره مستقيمې خبرې وکړي؛ مګر د ملګرو ملتونو د مهاجرينو عالي کميشنرۍ امريکا له اوضاع خبروي.[290]

## د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

د ۲۰۱۲ کال تر سپتمبر، ولسمشر کرزي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون (AIHRC) د نه کميشنرانو په بورډ کې يې څلور خالي بستونه لا نه و ډک کړي، چې د ۲۰۱۲ کال د جنوري له مياشتې څخه خالي دي.[291] د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په مياشت کې، دې کميسيون خپل يو کميشنر د دې لپاره له کاره لرې کړ چې بې له اجازه يې معلومات د باندې خپاره کړي و.[292] د بشري حقونو نظارت ويلي، AIHRC يوه ښه حکومتي وسيله ده تر څو د افغانانو ماتيدونکي بشري حقونه خوندي وساتي، مګر د ښځينه رهبرۍ نشتون کار له ستونزو سره مخ کړی.[293] د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا AIHRC خپلو کارونو ته دوام ورکوي.[294]

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون:** د افغانستان حکومت د بشري حقونو د ښه کولو د اصلي اداري په توګه د ۲۰۰۱ کال د بن د موافقتنامې پر اساس جوړ شوی. دا کميسيون په هيواد کې د بشري حقونو نظارت کوي، د مشخصو بشري حقونو سرغړونو تحقيق کوي، او له هغو افغانانو سره مرسته کوي چې حقونه يې تر پښو لاندې شوي. دې کميسيون له بنديانو سره د چلند، د ښځو او کوچنيانو د حقونو او ملکي تلفاتو د مسلو په اړه راپورونه ورکړي دي.

سرچينه: د بشري حقونو نظارت، افغانستان په کميسيون کې د ټاکنو بندښت مات کړی،۹/۵/۲۰۱۲.

# منځپانګه


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 127 |
| اقتصادي شاخصونه | 128 |
| د بسپنه ورکونکو مرسته | 129 |
| بانکداري او ماليه | 131 |
| کرهنه | 135 |
| انرژي | 139 |
| کان کيندنه | 142 |
| زده کړه | 144 |
| کارګران | 145 |
| روغتيا | 146 |
| سيمه ييزه همکاري او سوداګري | 147 |
| ترانسپورټيشن | 149 |
| مخابرات | 150 |
| د متحده ايالاتو د مرستو حساب ورکونه | 151 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر۳۰ پورې، متحده ايالاتو په افغانستان کې د حکومتولۍ او اقتصادي پراختيا څخه د ملاتړ لپاره نږدې 22.33 ميلیارده ډالر چمتو کړي دي. پدې اړه چې افغانستان به په ۲۰۱۴ کال کې د متحده ايالاتو د ځواکونو له پلان شوي وتنې څخه وروسته پداسې حال کې چې تمه کيږي نړيوالې مرستې هم کمښت مومي، خپله اقتصادي پراختيا څنګه روانه ساتي لاتراوسه هم اندېښنې پاتې دي.

پدې ربع کې، د متحده ايالاتو او نړيوالو هڅې دوام درلودې ترڅو له افغانستان سره مرسته وکړي چې د لیرد څخه وروسته د ملي امنيت بشپړ مسوليت په غاړه واخلي او د حالت بدليدنې په راتلونکې لسيزه کې د اقتصادي انقباض کچه ټيټه کړي.

## مهمې پيښې

د رپوټ ورکولو پدې ربع کې د افغانستان د اقتصادي ودې کچه ټيټه ارزول شوې ده، چې د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو له وتلو څخه وروسته د اقتصادي پراختيا د پايښت خوندي ساتلو کې د افغانستان د وړتيا په هکله يې ځينې اندېښنې راپارولي دي. نړيوالې ټولنې د افغان حکومت سره يوځای داسې ګامونه پورته کړي دي چې د اداري فساد مخه ونيسي او د لیرد د اقتصادي اغيزو کمولو لپاره له افغانستان سره خپلو اقتصادي مرستو ته لومړيتوب ورکړي. که څه هم ولسمشر کرزي د اداري فساد په وړاندې د مبارزې لپاره يو فرمان ورکړی، افغان حکومت د کابل بانک څخه د شتمنيو بيرته ترلاسه کولو په بهير کې ډيرلږ پرمختګ کړی، او د دې ربعې په ترڅ کې د دې غلا هيڅ کوم مسول کس ندی نيول شوی. په نورو پرمختګونو کې، د بهرنيو چارو وزارت د حقاني ډله يې، چې د افغانستان له قانوني او غيرقانوني اقتصاد سره دښمني لري، د بهرنيو ترورېستي ډلو په لست کې شامل کړه، چې د دې په نتيجه کې د جنګياليو ډلو له غړو سره هرډول اقتصادي تړون غيرقانوني بلل کيږي.

متحده ايالاتو د ثبات وده کولو او د دوامداره پراختيا رامينځته کولو لپاره د اساسي برخو لکه د بريښنا جوړول، زده کړه، روغتيا، او کرهنې سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړه. پدې ربع کې کرهنه په اقتصاد کې يو روڼ ټکی ؤ. داسې تمه کيږي چې د ښه اورښت او مناسبه اوبه کولو له امله د غنمو او نورو غله جاتو حاصل به ښه پريمانه وي. پهرصورت، پدې ربع کې د بريښنا جوړولو او کان کيندلو په برخو کې کوم نوی پرمختګ ندی شوی.

## اقتصادي شاخصونه

پدې ربع کې، د استخباراتو مرکزي اداري (CIA) په ۲۰۱۱ مالي کال کې د افغانستان د ريښتونی ملي ناخالصه توليداتو د ودې کچه يې د 7.1٪ څخه 5.7٪ اټکل کړې.[295] د آسيا پراختيايي بانک چې د ياد اټکل ته ورته د افغانستان وده په ۲۰۱۱ مالي کال کې 5.7٪ شميرلي، د کمښت لامل دوامداره وچکالۍ بولي چې د کرهنيزو توليداتو کچه يې کمه کړې. د اسيا پراختيايي بانک داسې ښيي چې په ۲۰۱۲ کال کې به د افغان GDP د درمندو د زياتوالي له امله 6.9٪ ته زياته شي خو بيرته په ۲۰۱۳ کال کې د نړيوالو امنيتي ځواکونو له وتلو څخه وروسته 6.5٪ ته راټيټيږي. د اسيا پراختيايي بانک اټکل کوي چې د پيسو تورم به له 11.8٪ څخه په ۲۰۱۱مالي کال کې 9.1٪ ته په ۲۰۱۲مالي کال کې او 6.7٪ ته په ۲۰۱۳مالي کال کې راټيټ شي او دليل يې دا ښودل شوی چې د نړيوالو اجناسو په قيمتونو کې اعتدال رامينځته کيږي او هم افغانستان پلان کړي ده چې خپله پولي پاليسي به ټينګه کړي. لکه څنګه چې په 3.32 شکل کې ښودل شوي.[296]

د کرهنيزو حاصلاتو په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره، ۱۳۵ مخ135 وګورئ.

## د عايداتو را ټولول

پدې ربع کې، د افغان ګمرکاتو رياست اعلان وکړ چې د ۱۳۹۱ لمريز کال (چې د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې پيل کيږي) په اولو څلورو مياشتو کې د هرات ولايت د ګمرکونو عايد د ۱۳۹۰ لمريز کال د ورته دورې په پرتله زيات شوی دی. د ترکمنستان سره په پوله کې د تورغنډۍ بندر ګمرکي عايداتو د تيرکال څخه چې 457.4 ميليونه افغانۍ وې، 717.9 ميليونه افغانيو ته زيات شوي دي، نږدې ۵۷٪ زيات شوي. د ايران سره په پوله کې د اسلام قلعې بندر، عايداتو د تيرکال په پرتله چې 857.2 ميليونه افغانۍ وې، 1.19 ميليارده افغانيو ته رسيدلي چې ۳۹٪ زياتوالی ښيي.[297] يو امريکايي ډالر شاوخوا په ۵۰ افغانيو بدليږي.

د USAID په وينا، د افغان حکومت نږدې ۵۰٪ عايدات له ګمرکي محصولاتو څخه لاسته راځي. که چيرې د خنډ څخه مخنيوی کولو او د بيو قبلولو په اړه د ګمرکونو کړنلارې سمې شي، د راکړې ورکړې بهير ګړندی شي، او ترانسبورټيشن په ښه توګه وده ومومي، کيدای شي دا عايدات زيات شي. د افغانستان لپاره د سوداګري او ترلاسه کولو اسانه کولو پروګرام له لارې USAID د افغان ګمرکاتو رياست سره مرسته کوي ترڅو د سوداګرۍ تيزولو، اداري فساد کمولو، او د ډيرو عايداتو جوړولو لپاره د ګمرکونو د تصفيې بهير اغيزمن کړي.[298] د سپتمبر تر ۳۰ پورې، TAFA د افغانستان په اوو ګمرکي ځايونو کې د اغيزمنې تصفيې کړنلارې پلي کړي دي. په مرسته کې د داسې قالبونو جوړول چې د موثرو کړنلارو سره يې قبلول چيک کړي، د نه قبليدو وړ په صورت کې ريوټ ورکول، او د کړنلارو د پلي کولو بياکتنه شامل ؤ. د TAFA پروګرام همدارنګه له افغان حکومت سره مرسته وکړه ترڅو د پيسو نړيوال صندق د کريډت پراخ تسهيلاتو يو معيارته غاړه کيږدي او د پولو اداري موډل جوړ کړي ــ د داخلې او ماليې وزارتونو لخوا د پولو کړنې په ګډه اداره کيږي ــ او په شمال کې د ازبکستان سره په پوله د حيرتان په بندر کې BMM ازمايښت کړي. TAFA همدارنګه د تاجکستان سره په پوله شيرخان بندرکې او د ايران سره په پوله اسلام قلعه کې BMM پلي کړه چې پدې سره يې د IMF ECF يو بل معيار هم پوره کړ.[299]


### د پراخ اعتبار آسانتياوې يا ECF:

هغو هيوادونو ته مالي مرستې برابروي چې د پيسو د تاديې پراخه ستونزې لري. دا به د IMF مالي ملاتړ نور هم د هغو هيوادونو لپاره چې ټيټ عايد لري اسان او انعطاف منونکی کړي. همداراز به لاسرسی پراخه کړي، په مالي قوانينو کې به امتيازات زيات کړي، د پروګرامونو د طرح ډولونه به نور هم آسانه کړي او ورسره ورسره به شرايط متمرکزه او اغيزمن کړي.

سرچينه IMF، "د ECF فکټ شيټ"، 4/2012، د لاسرسي نيټه 10/3/2012.

3.32 انځور

**اقتصادي شاخصونه**




يادونې: شميرې په ګردي کولو اغيزمنې شوي دي. مالي کلونه افغان مالي کلونو ته اشاره کوي.

*طرح شوي.

سرچينه: د آسيا پراختيايي بانک، ″د 2012 لرې ليد تازه خبرې: خدمتونه او د آسيا راتلونکې وده،" 10/2012، 98 مخ.

TAFA د ټولو هغو بار وړونکو موټرونو معاينه چې افغانستان ته داخليږي د تيروخت په پرتله چې د فيزيکي او د اسنادو معاينه ترسره کيده، د خطر په اساس يې معاينه کوي. پخوانی سيستم سوداګري ورو او لګښتونه يې زيات کړی ؤ. د خطر اداره کولو لپاره د TAFA سيستم د کارګو ګمرکي معلومات (ASYCUDA) د يوه خودکاره سيستم په مرسته معاينه کوي ترڅو د خطر پروفايل ته په کتلو سره د کارګو ګمرکي اعلانات د کره کتنې لپاره غوره کړي. د ASYCUDA کوم نقل چې په افغانستان کې کارول کيږي محصول او ماليه هم تعقيبوي.[300]

## د بسپنه ورکونکو مرسته

لکه څنګه چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې د ليږد بهير پای ته نږدې کيږي، د افغانستان راتلونکی اقتصاد نامعلومه پاتې کيږي. نړيوال بانک، متحده ايالات، او نور له ډيروخته راهيسې دا وايي چې افغانستان د پايداره ودې، او له نړيوالو مرستو څخه د خلاصيدو لپاره د خپلو زيرمو په کار اچولو ته اړتيا لري. د وړاندوينې وړ راتلونکې لاسته راوړو پورې به په دوامداره توګه د بسپنه ورکونکو لوړو مرستو ته اړتيا ولري. نړيوال بانک پدې اند دی چې په راتلونکې لسيزه کې او وروسته له هغې څخه د دې مرستو اندازه او د ورکړې دود د هيواد راتلونکې سياست او اقتصاد باندې اغيزه کولی شي.[301]

په جولای کې د افغانستان په اړه په ټوکيو کانفرانس کې، بسپنه ورکونکو ژمنه وکړه چې تر ۲۰۱۵ پورې به ۱۶ ميلياره ډالر مرسته کوي، چې له دې څخه ۸۰٪ د افغانستان د ملي لومړيتوبونو پروګرام له لارې پلې کيږي، کوم چې په ۷۴- ۷۵ مخونو کې تشريح شوي دي. پهرصورت، بسپنه ورکونکي دا مرسته پدې شرط افغان حکومت ته ورکوي چې د حکومتولۍ وده کولو لپاره سياسي او اقتصادي سمونونه راولي، د عامه ادارو څخه حساب واخلي، او د خپريدونکي اداري فساد مخه ونيسي.[302] د دوه اړخيزه حساب ورکونې په اړه د ټوکيو

چوکاټ، د کنفرانس د اعلامیې ضمیمه، په ډاګه کوي چې د بسپنه ورکونکو دوامداره ملاتړ ترلاسه کولو لپاره ارومرو باید حکومت د افغان لومړیتوبونو پروګرام او پراختیا، او همدارنګه د حساب ورکولو معیارونه پلي کړي.[303] د ټوکیو چوکاټ د هڅونې پربنسټ د مرستې موډل دی چې د دوامداره پرمختګ لپاره د افغانستان ظرفیت ته وده ورکوي.[304]

د متحده ایالاتو د سولې یو انسټیټیوټ چې د ټوکیو چوکاټ یې تحلیل کاوه د چوکاټ بریالی پلي کول یې ننګونکی بللی دی. نه یواځې دا چې نړیوال اقتصادي بحران د بسپنه ورکونکو پر ژمنو اغیزه کوي، بلکه مرسته کوونکې دحساب ورکونې جلا جلا شرطونه، معیارونه او غوښتنې لري. د افغانستان سیاسي او امنیتي وضعه د روان امنیتي لیږد او راتلونکې ولسمشري ټاکنې ته په کتو سره ثابته وضعه نلري. USIP همدارنګه دې ته اشاره کوي چې د ټوکیو چوکاټ پلي کول د سمون راوستونکو ډلو همغږو کارونو پورې اړه لري چې د یو حساب ورکوونکي حکومت رامینځته کولو په تکل په افغانستان کې کارکوي.[305]

دا ټول لاملونه کولی شي د سمون راوستلو په لوري د افغان حکومت ژمنه او وړتیا تر اغیزې لاندې راولي، په خاصه بیا که چیرته بسپنه ورکوونکي له خپلو ژمنو څخه پاتې راشي. برسیره پردې، د ټوکیو په چوکاټ کې د پلي کولو له بهیر څخه د ملاتړ او څارنې لپاره کوم لارښود ندی راغلی، پداسې حال کې چې افغان حکومت د نړیوالې ټولنې په سلامشورې سره د مرستو د اداره کولو پالیسي پر چمتو کولو کارکوي.[306]

د جولای په ۳۱، د مالیې وزیر د ټوکیو چوکاټ د پلي کولو لپاره د خپل پالیسي یوه ابتدايي مسوده بسپنه ورکوونکو ته وړاندې کړه. د ملګرو ملتونو عمومي منشي د یو رپوټ په وینا، دا پالیسي ښايي پدې اړه چې مرستې څنګه طرح او اداره شي د افغان حکومت او نړیوالو مرسته کوونکو ترمینځ د یوې موافقې غوښتنه وکړي. د همغږۍ او څارنې ګډ هییت، چې په ۲۰۰۶ کال کې د افغانستان او نړیواله ټولنې ترمینځ د ستراتیژیکه همغږۍ څخه د څارنې لپاره تاسیس شوی، د یو موافقت لیک جوړولو لپاره به وکارول شي.[307]

## د افغانستان د ملي لومړیتوبونو پروګرام

د ۲۰۱۰ کال څخه راهیسې، متحده ایالاتو او ایتلافي ملګرو یې له افغان حکومت سره کار کاوه ترڅو نړیوالې مرستې د ملی لومړیتوبونو په لیکه کې تنظیم کړي. د ۲۰۱۰ کال په جولای کې افغانستان خپل د ملي لومړیتوبونو ۲۲ پروګرامونه د کابل کنفرانس ته معرفي کړ. د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه د افغان پرمختګ ملي ستراتیژۍ له امله رامینځته شوي دي (ANDS) ـــ په افغانستان کې د فقر کمولو د ستراتیژۍ مقاله. د ملي لومړیتوبونو پروګرام سلهاو افغانان او د نړیوالې پرمختیا پروژې په یو منظم او د ادارې وړو ډلو کې داسې سره یوځای کړي ترڅو د افغان بودیجې په چوکاټ کې د جذب او پاتې کیدو وړ وي. د ملي لومړیتوبونو شپږ موضوعي ډلې د ANDS ستراتیژیک نظر او د سکتور ستراتیژۍ ښیي. داسې تمه کیږي چې د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه لږ تر لږه تر ۲۰۱۵ کال پورې پلي شي، او ګڼ شمیر یې کیدای شي له یادې نیټې څخه هاخوا وغزیږي.[308] د خپریدو څخه وروسته د ملي لومړیتوبونو له ۲۲ پروګرامونو څخه ۱۶ یې د JCMB لخوا تصویب شوي دي. تمه کیږي چې د ۲۰۱۲ کال په نومبرکې افغانستان او نړیواله ټولنه وروستي شپږ پروګرامونه د هییت منلو لپاره چمتو کړي.[309]

د ملي لومړیتوبونو شپږ عمده پروګرامونه پدې ډول دي:[310]

- د اوبو او طبیعي زیرمو د پراختیا ملي پروګرام (د کرهنې او کلو پراختیا)

- د کرهنې جامع توليد او د مارکيټ پراختيا ملي پروګرام (د کرهنې او کلو پراختيا)
- د بريښنا رسولو ملي پروګرام (د زيربنا پراختيا)
- د روڼوالي او حساب ورکولو ملي پروګرام (حکومتولي)
- موثر او ګټور حکومت (حکومتولي)
- قانون او عدالت د ټولو لپاره (حکومتولي)

## بانکداري او ماليه

د ټوکيو د حساب ورکونې دوه اړخيزه چوکاټ چې په جولای کې ترلاسه شوی له افغان دولت څخه غواړي ترڅو د IMF's ECF د هوکړه ليک په اساس پرخپلو مسوليتونو عملي ګام پورته کړي. پدې مسوليتونو کې د کابل بانک څخه د شتمنيو بيرته ترلاسه کول او د کابل بانک د بحران مسول کسانو څخه حساب اخيستل؛ د بانکي سمونونو پياوړي کول او د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک، له لارې د بانکونو څارل؛ د عامه بوديجو مديريت او روڼوالي ته وده ورکول؛ او د پيسو ناوړه اخيستلو او جنګياليو ته د پيسو رسيدلو په وړاندې مبارزه کول شامل دي.[311]

### تازه حالت: د کابل بانک د شتمنۍ بيرته لاسته راوړل

په ۲۰۱۰ کال کې د کابل بانک له مينځه تلو ته نږدې وضعيت دا روښانه کړه چې نږدې ۱ ميلياره ډالر له بانک څخه په غلااخيستل شوي دي. لکه څنګه چې د ECF په اساس د دولت څخه غوښتل شوي ؤ ترڅو بيا پانګونه وکړي، د افغانستان مرکزي بانک ياد تاوانونه پوره کړ.[312] د پيسو او شتمنيو بيرته ورکول د بيا پانګونې ځينې لګښتونه د توازن په حد کې ساتي. افغانستان په جون مياشت کې د ECF بياکتنې په ترڅ کې نړيوال صندق ته په وړاندې شوو اسنادو کې ويلي چې ۱۲۸ميليونه ډالر يې په نقده توګه، نږدې ۴۴ميليونه ډالرو په ارزښت يې د دوبۍ شتمني، او د ۱۴۶ ميليونه ډالرو په ارزښت يې په افغانستان کې شتمنۍ بيرته ترلاسه کړي دي.[313] ګڼ شمير نوي خبرونو په خپلو رپوټونو کې ويلي چې د کابل بانک د املاکو مديريت مشر پدې اړه خپل شک ښودلی چې دا مديريت به ضبط شوي شتمنۍ په لوړو بيو خرڅ کړي.[314] لکه څنګه چې سيګار مخکې اشاره کړې وه، IMF غيرمنقوله شتمنۍ ترڅو چې تصفيه شوي نه وي نه حسابوي.

د متحده ايالاتو د خزانې وزارت په اساس، پدې ربع کې د کابل بانک په جرم کې د مسولو کسانو په نيولو کې هيڅ کوم پرمختګ ندی شوی، او د پيسو او شمتنيو په بيرته اخيستلو کې هم ډير لږ پرمختګ شوی دی.[315] د DoS د رپوټ په اساس، پدې ربع کې يوازې ۱۰۰۰۰۰ډالره نقدي پيسې او د ۵-۳ ميليونه ډالرو په ارزښت يوه شتمنۍ په دوبۍ کې بيرته اخيستل شوي دي. همدارنګه DoS وايي چې له هغه وخت نه چې د مالي شخړې د حل لپاره يو کميسيون په رسمي ډول وټاکل شو او د کابل بانک د املاکو په اړوند يې ۹ دوسيې ترلاسه کړې، د سپتمبر تر ۳۰ پورې يې د پيسو بيرته ترلاسه کولو په اړه کومه لاسته راوړنه نه درلوده. تراوسه پورې د دوسيو د بشپړيدو لپاره کوم زماني وخت ندی ټاکل شوی.[316]

د رپوټ ورکولو پدې موده کې د IMF's ECF پروګرام په شرطونو کې کوم بدلون ندی راغلی. په تيره ربع کې IMF د ځينو شرطونو ابراءليک او د پيسو د خوشې کولو د اسانتيا لپاره يې د کرنې په ځينو معيارونو کې بدلون راوستی ؤ. د دې ربع څخه مخکې، IMF د رغښت يو معيار په پام کې نيولی ؤ چې د يوې تعقيبولو ستراتيژۍ په مرسته د کابل بانک په پيښه کې مسول کسان نيول کيدل، خو د IMF عمومي کونسل پريکړه وکړه چې پدې پيښه

کې د بوديجې له قانوني واک څخه تيروتنه شوې چې دا ښايي د يو جرم په توګه وپېژندل شي.[317] سره له دې، افغانستان کله چې د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې د ECF تړون له IMF سره لاسليک کاوو، ژمنه وکړه چې د شتمنيو بيرته ترلاسه کولو لپاره به هرډول قانوني، اصلاحي او اداري وسيلې وکاروي.[318] په همدغه بنسټ IMF پرله پسې پر افغانستان فشار راولي ترڅو د مدني او جنايي پروسو په شمول د کابل بانک دوسيه په قناعت بښونکي توګه حل کاندي.[319]

د DoS په وينا، د نوي کابل بانک خصوصي کول او د څارنې او ارزونې خپلواکه کميټې لخوا د کابل بانک بحران په اړوند د عامه ژور تحقيق پيل کول د ECF پاتې شوي معيارونه ؤ چې دواړه د پرمختګ په بهير کې دي.[320] نوی کابل بانک يو موقتي "پل بانک" دی چې منقوله شتمنۍ، قرضې، او د کابل بانک ذخيرې پکې دي. په عين وخت کې، متحده ايالات په پرله پسې توګه پر افغان حکومت فشار راولي ترڅو د کابل بانک بحران په قناعت بښونکي توګه حل او د شتمنيو بيرته اخيستل او د ښکيلو خواو تعقيب په روښانه توګه ترسره کړي.[321] په جولای کې سيګار رپوټ ورکړ چې د کسانو، شرکتونو او بانکي حساب درلودونکي ډلو په لست کې د کابل بانک موسس او رييس، د اجرايي رييس، د ولسمشر کرزي ورور، او د ولسمشر د لومړي مرستيال ورور هم شامل دي.[322]

## د نوي کابل بانک خرڅول

د ماليې وزارت ويلي دي چې هوډ لري ترڅو د ۲۰۱۳ کال ترپايه پورې نوی کابل بانک خصوصي پانګه اچوونکو ته خرڅ يا هم حساب يې تصفيه کړي.[323] لږ ځنډ څخه وروسته کابينې د سپټمبر په ۲۴ د خصوصي کولو پلان منظور کړ.[324] په داوطلبۍ کې د ګډون کولو اخري نيټه د ۲۰۱۲ کال د نومبر ۲۷ ټاکل شوې ده.

## تروريست ته مالي امکانات برابرول

په سپټمبر کې، د بهرنيو چارو وزارت د حقاني ډله د تروريستي تنظيمونو په لست کې شامله کړه او همدارنګه دې ډلې ته يې په نړيواله کچه د يوې ځانګړې تروريستي ډلې نوم ورکړ. اجرايي فرمانونه د متحده ايالاتو د قضايي قوانينو په اساس د حقاني ډلې ټولې شتمنۍ کنګلې کړې د متحده ايالاتو هر تبعه د حقاني ډلې سره د مرستې يا هم د هر ډول راکړه ورکړې څخه منع کوي.[325] د حقاني کورنۍ ډله، يوه لويه جنګيالۍ ډله ده چې د طالبانو او القاعدې سره تړاو لري، که څه هم د افغانستان په سهيل ختيځو سيمو کې عمليات کوي خو بياهم په کابل او نورو سيمو کې يې د ګن شمير ويجاړونکو حملو پړه په غاړه اخيستې ده.[326]

د خزانې او بهرنيو چارو وزارتونه، دواړو د حقاني ډلې پخواني مشران د تروريستانو په توګه پيژندلي دي. د حقاني ډلې په اړه پراخ معلومات هغه وخت لاسته راغلي چې د تنظيم په اړه د کانګرس انديښنې پورته شوې. په اګست کې، کانګرس په رسمي ډول د بهرنيو چارو له وزارت څخه وغوښته ترڅو د حقاني ډله د يوې تروريستي ډلې په توګه و پيژني. د متحده ايالاتو چارواکو او د کانګرس غړو په پرله پسې ډول خپل غږ پورته کړی چې د حقاني ډله د تروريستي عملياتونو څخه د ملاتړ لپاره پيسې ترلاسه کوي او ورته يې رسوي.[327]

په لويديځه ټکي کې د تروريزم په وړاندې د مبارزې مرکز د حقاني شبکې د مالي سرچينو په اړه د جولای په ۳۱ يو رپوټ خپور کړ. رپوټ ادعا کوي چې د حقاني شبکه د

متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو له شتون څخه په ځو طریقو ګټې پورته کوي، یوه یې دا چې د بار وړونکو او رغنیزو شرکتونو څخه د هغو د ساتنې په بدل کې په زوره پیسې اخلي، او هم له ځینو شرکتونو سره چې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو سره قرارداد کوي، په کارونو کې شراکتي برخه لري.[328] د بیلګې په توګه، رپوټ وایي چې د حقاني عملیاتي ډلې له هغو بار چلوونکو موټرونو څخه د ترانزیت پیسې اخلي چې د دوی تر ولکې لاندې پولو څخه تیریږي. همدارنګه دوی د غټو سوداګریو څخه لکه مخابراتي شرکتونه، غیردولتي موسسې، رغنیزه او بارچلوونکي شرکتونه، او هربل داسې موسسې څخه پریمانه روپۍ ترلاسه کوي چې په بیارغونه کې کارکوي. رپوټ داسې اټکل کوي چې د هرې پروژې څخه نږدې ۱۰٪ څخه تر ۲۵٪ پورې پیسې په زوره د اورپکو لخوا اخیستل کیږي.[329]

متحده ایالات دوه داسې موسسې لري چې اورپکو ته د متحده ایالاتو په بسپنو چلیدونکو پروژو څخه د ګټې له رسیدو نه مخنیوی کوي. د افغانستان مالي مسایلو ته د خطر شعبه له افغان او ایتلافي ملګرو سره کارکوي ترڅو اورپکو ته د بودیجې له رسیدو څخه مخنیوی وکړي. د DoD عملیاتي ځواک ۲۰۱۰ کار کوي ترڅو ډاډه شي چې له جنګیالیو سره تړلي ډلې او کسان د متحده ایالاتو د قراردادونو څخه ګټه نه پورته کوي.[330]

د ۲۰۱۱ کال د ملي دفاع واکمنۍ قانوني لایحه کې چې په ۲۰۱۲ کال کې د کانګرس لخوا تصویب شوې وه په ۸۴۱ برخه کې وایي ــ د متحده ایالاتو د عملیاتي تیاتر په مرکزي قوماندانۍ کې هر هغه ډول قرارداد منع دی چې ګټه یې دښمن ته ورسیږي. سیګار یوه پلټنه په لاره اچوي ترڅو معلومه کړي چې ایا د مرکزي قوماندې پروسې او قراردادکوونکي یې د ۸۴۱ برخې له شرطونو سره برابر دي که نه. همدارنګه پدې پلټنه کې ارزوي چې ایا مرکزي قومانده او قرارداد کوونکي یې د قراردادونو له تاسیس شوو پالیسیو او تګلارو څخه پیروي کوي که نه.

برسیره پردې، سیګار د متحده ایالاتو پوځ ته د ۴۳ هغو کسانو او شرکتونو نومونه ورکړي دي چې په فعال ډول د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو په ضد له جنګیالیو سره مرسته کوي ــ لکه طالبانو، د حقاني شبکې، او نور القاعده پورې تړلي ډلې ــ ترڅو له دندې ګوښه یاهم وځنډوي. همدارنګه سیګار پدې ربع کې د DoD څخه غوښتنه کړې ده چې چیرې د ۸۴۱ برخې په اساس د قرارداد کوونکو لخوا د جنګیالیو سره د مرستې په اړه کوم نوی خبر ترلاسه کوي نورو ادارو لکه DoS او USAID ته هم خبر ورکړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره ۳۳ مخ وګورئ.

## ایراني جریمې

افغانستان د ایران د ناقانونه کړنو یو بالقوه هدف دی، ځکه چې دواړو هیوادونه یوه ګډه پوله او اوږدمهاله سوداګریزه اړیکې لري. (د 3.33 شکل وګورئ). کانګرس پورې تړلې د څېړنو خدمتونه په یو رپوټ کې وایي چې ډالر په افغانستان کې د بسپنه ورکوونکو لخوا د دویم ملي پیسې په توګه کارول کیږي. په ایراني پیسو سوداګري کوونکي کیدای شي له افغانستان څخه د ایراني ریال په بدل کې امریکایي ډالر لاسته راوړي. خزانې افغاني سوداګرو ته ګواښ ورکړی ترڅو له ایران سره د پیسو په لیږدولو کې مرسته ونکړي.[331] د ۲۰۱۲ کال د مۍ په ۱ د ولسمشر اوباما په ۱۳۶۰۸ اجرایي فرمان کې راغلي، چې د خزانې وزارت واک لري ترڅو هر هغه څوک پر کړي چې د ایران او سوریې سره د پیسو په انتقال کې برخه واخلي، یا هڅه وکړي یا هم پلان جوړ کړي.[332]

3.33 انځور

**د ایران سره د افغانستان د پولې کلیدي نقاط**




سرچینه: د متحده ایالاتو جیولوجیکي سروې (USGS).

په پارلمان کې د بهرنیو چارو د کمیټې مشر پدې ربع کې د دفاع او خزانې وزیرانو ته په خپل یو لیک کې اندیښنه وښوده چې ایران هڅه کوي ترڅو په افغانستان کې په خاصه بیا د کابل او کندهار په ښارونو کې د متحده ایالاتو او نړیوالو له تصویبونو څخه ګټه پورته کړي. په لیک کې اشاره شوې ده چې ایران آرین بانک، چې په افغانستان کې دی خو شتمنۍ یې د ایران بانک ملي او بانک صادراتو پورې اړه لري، کاروي ترڅو په افغانستان او بهر کې پیسې ولیږدوي.[333] تراوسه پورې DoD داسې یوه مطالعه په لاره نده اچولې ترڅو معلومه کړي چې ایا د افغان مالي بنیادونو لخوا د پیسو راکړه ورکړه او ناقانونه پاروڼې په سیستماتیک ډول د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو تخصیص شوو بسپنو ته کوم ګواښ وړاندې کوي که څنګه.[334]

د ایران جامع جریمې، حساب ورکونې، او تشولو په اړه د متحده ایالاتو لخوا د ۲۰۱۰ قانوني لایحې جریمې کولی شي په افغانستان کې هغه مالي بنیادونه تر اغیزې لاندې راولي چې د ایران پورې تړلو بانکونو سره مهمې راکړې ورکړې کوي. آرین بانک په ۲۰۰۷ کال کې طرح شوی ؤ ترڅو د ایران بانک ملی لخوا کنترول او قبضه شي. همدارنګه بانک صادرت چې په آرین بانک کې سهمیه لري طرح شوی ؤ. د CISADA په اساس، هر هغه بهرنی مالي بنیاد چې په روښانه توګه آرین بانک ته مهمه راکړه ورکړه اسانوي د دې خطر سره مخ کیږي چې په متحده ایالاتو کې خپل برابر بانکي حساب یا د تادیې وړ حساب له لارې خپل بانکي حساب ته لاسرسي له لاسه ورکړي، چې دا کولی شي په اغیزمنه توګه دا بنیاد د متحده ایالاتو د مالي سیستم څخه جلا کړي.[335]

پدې ربع کې ولسمشر اوباما خپل ۱۳۶۲۲ اجرایي فرمان ورکړ، چې موخه یې پر بهرنیو مالي بنیادونو باندې د جریمې اېښودلو له لارې د ایران پترول او پترو کیمیاوي برخو باندې فشار راوستل ؤ، د دې فرمان پربنسټ هر هغه کس یا بنیاد چې د اخیستلو یا ترلاسه کولو له لارې د ایران پترول او پتروکیمیاوي محصولاتو ته د ښه راکړې او ورکړې زمینه چمتو کوي، پړ بلل کیږي. همدارنګه دا فرمان ټولې اداري یا کسان منع کوي چې د ایران حکومت، مرکزي بانک، د ایران د تیلو ملي شرکت، یا نفت ایران بین التجارتي شرکت ته د ګران قیمته فلزاتو یا امریکایي بانکنوټونو په اخیستلو کې مواد چمتو کړي.[336]

د رپوټ ورکولو پدې دوره کې، ولسمشر اوباما د ایران ګواښ کمول او د سوریې بشري حقونو ۲۰۱۲ قانوني لایحه لاسلیک کړه، چې د ۲۰۱۲ مالي کال NDAA په اساس جوړه شوې وه، او د هغو بهرنیو مالي بنیادونو د جریمه کولو غوښتنه کوي چې د ایران مرکزي بانک لپاره پترول سره اړیکه نه درلودونکي د پام وړ موادو په راکړه ورکړه کې مرسته کوي. دا جریمې د ایران د تیلو او طبیعي ګازو په برخه کې د هرډول مالي خدمتونو، بیمې، ټکنالوژۍ، ټرانسپورټ، او زیربنا کړنو باندې هم راځي.[337] دا جریمې کیدای شي د افغانستان مالي بنیادونه اغیزمن کړي ځکه چې افغانستان خپل ۵۰٪-۳۳٪ تیل له ایران څخه واردوي.[338]

## د موبایل پیسې

"د موبایل پیسې" د موبایل څخه د پیسو ساتلو، د اسبابو اخیستلو، او د بودیجو په اخیستلو او لیږلو کې کار اخیستلو ته ویل کیږي. پدې ربع کې، متحده ایالاتو په پرله پسې توګه افغانستان وهڅوو ترڅو د موبایل له لارې د پیسو لاسته راوړلو خدمتونو ته وده ورکړي، کوم چې د بانکي سکټور په برخه کې د پانګونې لپاره د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې لخوا مهم بلل کیږي.[339]

**مناسب حسابونه:** د متحده ایالاتو مالي سیستم ته د لاسرسي په موخه د دغه هیواد په بانکونو کې د بهرنیو مالي بنسټونو حسابونه ساتل او هغو ګټو، خدمتونو او محصولاتو ته لاسرسی چې په بهرنیو مالي اداراتو کې موندل کیدی نشي.

**د حسابونو له لارې ورکړه:** د متحده ایالاتو په بانکونو کې د بهرنیو مالي ادارو پرانیستل شوي حسابونه د هغوی پیرودونکو ته د متحده ایالاتو په حساب سیستم کې د پیسو د زیاتولو او ایستلو موقع برابروي.

سرچینه: د فدرالي مالي بنسټونو د ازموینو شورا د بانک د محرمیت قانون/د پیسو د ایستلو ضد انفو بس، "مناسب حسابونه( بهرني) – بیاکتنه،" د لاسرسي نیټه 10/4/2012.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت اټکل کوي چې نږدې ۵٪ افغانان بانکي حساب لري او تراوسه پورې نږدې ۶۰٪ افغانان موبایل ټیلیفون کاروي. لکه چې ویل شوي ده د هیواد ۸۳٪ خلک د شبکو تر پوښښ لاندې استوګن دي، ځکه نو د بانکي حساب لاسته راوړلو موقع په هیواد کې لیدل کیږي.[340]

د اګست په ۲۶، USAID او MCIT د موبایل پیسو په اړه یو جګ پوړی کنفرانس د دولتي چارواکو، صنعتي مدیرانو، او د رسنیو استازو ته جوړ کړی ؤ تر څو په افغانستان کې د موبایل پیسو عملي پلان په اړه سره خبرې وکړي. دا پلان به د افغان ټیلي کام صنعت ته وده ورکړي او په مالي سکټور کې به زیات روڼوالی، موثریت، او د پیرودونکي ډاډ رامینځته کړي.[341]

د جولای په ۱۷، د بریښنا ملي اداري، د افغانستان بریښنا شرکت، او اتصالات افغانستان چې په افغانستان کې له څلورو مخابراتي شرکتونو څخه یو دی، د افغانستان بریښنا شرکت د بریښنا بیل تادیه کول رامینځته کړ. دا خدمت چې د USAID ابتکاري بودیجې له لارې یې مصرف د موبایل شبکو ګرځونکو ته برابر شوی ؤ، د افغانستان بریښنا شرکت او د اتصالات پیرودونکو ته اجازه ورکوي ترڅو د برق بیلونه د خپلو موبایلو له لارې ورکړي. DABS داسې پلان لري چې دا خدمت ټول افغانستان ته وغزوي او د موبایل نورو ګرځوونکو شرکتونو ته هم د ګډون کولو اجازه ورکړي.[342]

د سیګار پلټنه

سیګار د متحده ایالاتو د هغو هڅو په تړاو پلټنه په لار اچوي چې غواړي په افغانستان کې د بریښنا ملي ګټو ته د افغانستان بریښنا شرکت یا DABS له لارې تجارتي بڼه ورکړي. 37 صفحه وګورئ.

## کرهنه

کرهنه د افغانستان په اقتصاد کې یوه روښانه ونډه لوبوي. یوازې ۱۲٪ ځمکې د کرهنې وړ دي او له ۶٪ څخه لږې ځمکې کرل کیږي، په همدې حال کې ۸۰٪ افغان خلک د کرهنې له لارې خپل ژوند پرمخ وړي.[343] د کارګر ځواک ته د دې د اهمیت په کتلو سره ویلی شو چې کرهنه کولی شي د GDP په وده کې، د خوارو امنیت پراخوالی، او د ګومارل کیدو د ثابتو فرصتونو په موندلو کې خورا اغیزمن رول ولوبوي.[344] متحده ایالات له دې برخې سره په بیلا بیل ډولونو مرسته کوي لکه د تجهیزاتو، وسایلو، او روزنې برابرول ترڅو د کرهنې سوداګرې او د کرهنې فرعي برخې وده وموي؛ د حکومت ظرفیت لوړول ترڅو د خوارو ستراتیژیکې ذخیرې جوړې کړي، وساتي او نیستمنو افغانانو ته یې ورسوي.[345]

## درمند د طبیعي پیښو په وړاندې مقاومت کوي

د ملګرو ملتونو عمومي منشي رپوټ ورکړی چې د ۲۰۱۲ کال د جون له ۱ څخه د جولای تر ۳۱ پورې ــ د سیلابونو، زلزلو، برفکوچونو، بحراني هوا، د ځمکې ښوییدنو، او د ختې تویدنو په شمول ــ ۵۸ طبیعي پیښې د افغانستان په ۵۷ ولسوالیو کې پیښ شوي دي. د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وینا دا طبیعي پیښې د ۱۱۶ افغانانو له مینځه تلو، د ۲۰۴۶ کورونو ویجاړیدو، او د ۳۱۷۸۳ کسانو اغیزمن کیدلو لامل شوې دي. د دې پیښو سربیره، د کرهنې، مالدارۍ، او اوبه لګونې وزارت اټکل کړی دی چې په ۲۰۱۲ کال کې د درمندو ملي تولید به د عادي کچې څخه پورته، د اوبو ټولیدلو او اوبه کیدلو په وجه د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۴۲٪ زیاتوالی ومومي.[346] په یاد کال کې 6.3 میلیون ټنه درمند به په ۳۵ کلونو کې دویم لوی تولید وي.[347]

په ۲۰۱۲ کال کې د ښتو درمندو تولید کیدو له امله د افغانستان د تولید او مصرف ترمينځ نیمګړتیا د ۲۰۱۱ کال په پرتله چې ۲ میلیونه ټن ؤ یوازې ۴۰۰۰۰۰ ټنه پاتې کیږي. تمه کیږي چې په راتلونکې بی حاصله موسم کې د خوراکي توکو بیې په خاصه بیا د غنمو او اوړو (د افغان خلکو د خواړو اساسي برخې) ارزانه شي او خلکو ته په اسانه لاس ته ورشي همدارنګه د دې توکو د واردولو اړتیا هم راټيټه شي.[348] د کرهنې کارونو د معاشونو زیاتوالی ښيي چې د درمند ګټور حاصل زیاتولو لپاره زیاتو کارګرانو ته اړتیا شته، او ټيټې بیې دا روښانه کوي چې تولید زیات شوی او له مصرف کوونکو سره مرسته کوي ترڅو په نومبر کې د بې حاصله موسم له رارسیدو څخه وړاندې خپل اساسي خواړه، دانې، او نور ضروريات پوره کړي.[349]

په ۲۰۱۱ کال کې د درمند لږ حاصلات د دې لامل شوي ؤ چې ځينې خلک خپل څاروي، او پس انداز کړي پیسې د خوراکي توکو په اخیستلو کې مصرف کړي. بیا یو سخت ژمی، مخصوصآ په شمالي سیمو کې، مالڅر ته لاسرسی کمه کړه، او د پسرلي په لومړیو ورځو کې د څارویو له مینځه تلو سبب شو؛ د دې تاوانونو بیرته پوره کول یو څه وخت نیسي. پداسې حال کې چې د ۲۰۱۲ کال د زیاتو درمندو له امله ډیرې کورنۍ د "خوړو حاد کمیدو څخه خوندي" شوي دي خو بیا هم ځینې استثناوې شته دي لکه د سیلاب ځپلو سیمو خلک، په هیواد کې دننه بیځایه شوي خلک، د ایران او پاکستان څخه ویستل شوي خلک، او هغه خلک چې د امو سیند په څنډه کې استوګن دي.[350]

## د خوراکي توکو بیې

غنم او اوړه د افغانستان دوه اساسي خوراکي توکي دي. پدې ربع کې د دواړو بیې جګې شوې وې. د خواړو نړیوال پروګرام رپوټ ورکړی چې د افغانستان په ښاري سیمو کې د غنمو بیې د اګست میاشتې په پرتله په اوسط ډول 4.5٪ لوړې شوي دي. دوی د بیو لوړوالي لامل د واردو شوو اوړو، د امریکايي ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ټیټیدل، او د عرضه او تقاضا پايلې وباله. پهرصورت، د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په پرتله، د درمندو زیاتو حاصلاتو او د اوړو رسولو له امله د غنمو بیه ۴،۴٪ ټيټه وه.[351]

په لویو ښارونو کې د اوړو بیه په سپتمبر کې 6.8٪ د اګست میاشتې څخه او 4.2٪ د تیرکال څخه زیاته وه. WFP دا زیاتوالی په نړیواله کچه د اوړو د بیې زیاتیدل او د درمند څخه وروسته د غله جاتو د بیې ګرانیدلو له امله بولي. په عمومي توګه، د خواړو بیې د ۲۰۰۷ د جنوري څخه تر اکتوبر پورې مودې په پرتله، او د ۲۰۰۸ کال د وچکالۍ او ورپسې د وارداتو بندیزونو له مودې څخه مخکې چې د خوړو بیې هسکې کړې وې، په کافي اندازه ګرانې دي. په روان وخت کې د غنمو بیې د بحران څخه وړاندې بیو په پرتله 41.6٪ او د اوړو بیې 63.7٪ زیاتې دي.[352]

## مارکیټ ته د کرهنیزو محصولاتو د راوړلو په وړاندې ننګونې

افغان بزګران له ګڼ شمیر ننګونو سره مخ دي ترڅو خپل کرهنیز محصولات نړیوال مارکیټ ته وړاندې کړي. د USAID په وینا، یو لوي خنډ دا دی چې دوی د نړیوال مارکیټ اړتیاوو او تمو په اړه پوهه نلري. بل داچې، ډیر بزګران نه دا اسانتیاوې لري او نه یې هم پوهه لري ترڅو د درجه بندۍ، ترتیب کولو، او بسته بندۍ له لیارې د خپلو محصولاتو ارزښت زیات کړي. نو په نتیجه کې، سیمه ییز ګاونډیان د افغان ناچاڼ شوي محصولات اخلي، ارزښت ورته زیاتوي،او د افغان کروند ګرو څخه یې په لوړه بیه (او زیاته ګټه) خرڅوي.[353]



**يو افغان بزګر** باميان ته نږدې رشقه ربيي د ولايتي بيارغونې يوې ډلې هڅه کړيده د کرهنې ميکانيزه کيدنې له لارې د محصولاتو کچه زياته کړي. (د متحده ايالاتو د پوځ عکس)

همدارنګه بزګران نشي کولی خپل خرابيدونکي محصولات په ګران قيمته مارکيټونو کې لکه کابل، يا د پاکستان يا هند ښارونو ته ورسوي، يو دليل يې د فارمونو او د ښارونو مرکز ترمينځ نازکه لاره ده. امنيتي مسايل او په عمومي ډول د سړکونو خراب وضعيت وخت او واټن زياتوي، چې د خرابې هوا په وسيله يې بدې اغيزې نورهم زياتيږي. د بسته بندۍ او سړو خونو ته لړه لاسرسي د دې لامل کيږي چې د محصولاتو زياته برخه خرابه او له مينځه ولاړه شي، په خاصه توګه کله چې بار وړونکي موټرونه په پاکستاني پوله کې مزل وکړي. په اړوندو ستونزو کې د ګمرک ورکولو د اسنادونو ډير ځورونکي شرطونه او د توليد کوونکو او سوداګرو ترمينځ کمزوري اړيکې هم شامل دي.[354] USAID هڅه کوي ترڅو د ګڼ شمير پروګرامونو له لارې دا ستونزې هوارې کړي، لکه په شمال، ختيځ او لويديځ کې د اقتصادي بديلونو د چلولو جايزې (IDEA-NEW)، او د باغ لرلو او کرهنې د مارکيټ موندلو تجارتي پروګرام (CHAMP).

## IDEA-NEW

د USAID په ملاتړ د IDEA-NEW پروګرام د افغانستان په ختيځه سيمه کې د کوکنار کرونکو سيمو ته، او هم د افغانستان په شمال او لويديځ کې د کوکنارو سيمو ته بديل اقتصادي او کرهنيزې مرستې چمتو کوي. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ پورې، د ۱۲۴ ميليونه ډالرو څخه لږ زيات د IDEA-NEW پروګرام لپاره ځانګړي شوي ؤ چې ۱۰۸ ميليونه ډالر يې مصرف شو.[355]

د IDEA-NEW پروګرام له کروند ګرو سره مرسته کوي ترڅو قانوني توليد خپل کړي، د کلو د پروژو او زيربنا په پراختيا کې مرسته کوي، مالي خدمتونو ته لاسرسي پراخه کوي،

د سیمه ییزه محصولاتو او سوداګریز کوریډور لپاره د محصولاتو د ارزښت زیاتولو ته وده ورکوي. د کوکنارو د کر څخه مخنیولو له لارې دا پروګرام غواړي ترڅو د جنګیالیو اصلي مالي سرچینه وچه کړي.[356]

پدې ربع کې د IDEA-NEW فعالیتونه پدې ډول وو ۱) په شمال کې د انګورو د باغونو سوداګري بندول، او ۲) د هیواد په ختیځه کې باغ لرونکو ته د ساحې د پراختیا نوي تخنیکونو، د درمند اخیستلو نه وروسته د ارزښت زیاتولو تجربو، د میوو پالنه، او د پایښت په برخه کې روزنه ورکول. په لویدیځه کې کومه نوې پروژه نده پیل شوې، خو د IDEA-NEW پروژې رییس د بادغیس ولایت له شته زیربنا څخه لیدنه وکړه.[357]

د ۲۰۱۲ کال په جولای او اګست کې، د IDEA-NEW له لارې د افغانستان ۶۰۰۰ کورنۍ برخمن شوي دي. ۳۰۰۰ ګډون کوونکو ته کرهنیزه روزنه ورکړ شوې ده، او نږدې ۵۵۰ بزګرانو د IDEA-NEW کرهنیز لګښت کارولی دی. همدارنګه دې پروګرام له کروند ګرو سره مرسته کړې ترڅو ۴۴ هکتاره ځمکې له ناقانونه کر څخه قانوني کرهنې ته واړوي. په دوو میاشتو کې د قانوني کرهنې او د غیر کښتي محصولاتو د خرڅولو ارزښت ۷۸۰۰۰۰ ډالره وو.[358]

## CHAMP

د USAID's لخوا د CHAMP څلور کلنه مرسته د ۲۰۱۰ کال په فبروري کې پیل شوه ترڅو د کروند ګرو سره مرسته وکړي چې د لړ ارزښت لرونکي کښت لکه غنم په ځای ګران بیه شیان لکه بادام، انګور او انار وکري. دا پروژه هڅه کوي د لاندې کارونو په مرسته د غلو حاصلات، د محصول کیفیت، او محصول ته د بازار موندلو، او هم د تولید کوونکي او سوداګر ګټې زیاتې کړي:[359]

- نوي باغونه جوړول او د شته باغونو بیا رغول
- د بازار موندلو او تجارتي ماموریتونو له لارې افغان سوداګرو او کروند ګرو ته د نړیوال مارکیټ اړتیاوې شودل.
- دا ډاډ ورکول چې د ترانسپورت شرکتونه د ترانزیت مسلې حل کولو وړتیا لري او په پوله کې به ډیر ځنډ نه کوي.
- په افغانستان کې د یوې سړې خونې خدمت تاسیس کول.
- افغان تاجرانو سره مالي مرسته کول ترڅو په مارکیټ کې ځانته سهمیې ولټوي.
- له افغان شرکتونو سره مرسته کول ترڅو د نړیوال G.A.P. (ښه کرهنیزه تجربه) غړي شي، د خصوصي سکټور یوه موسسه ده چې په داوطلبانه ډول د کرهنیزو محصولاتو پروسس کولو لپاره نړیوال معیارونه جوړوي.
- د ارزښت ورکولو د زنځیرپه هکله افغان تولید کوونکو ته روزنه ورکول
- د ځمکې لاندې سړې خونې جوړول ترڅو تولید کوونکو ته دا موقع برابره کړي چې په غیر موسم کې خپل محصولات خرڅ کړي.
- سوداګرو ته د صادراتو اسناد جوړولو د شرطونو په اړه روزنه
- ورکول ترڅو د ګران بیه محصولاتو د قرارداد فورمې ډکې کړي.

پدې ربع کې، USAID ۸۰۰۰ ډالر چمتو کړي ترڅو په میدان وردګو کې د منو محلي تولید کوونکو لپاره دوه سړې خونې جوړې کړي. د ۲۵ ټنه ظرفیت په درلودلو سره د دې

**د ارزښت کړی:** د هغو ټرلو فعالیتونو مجموعې ته ویل کیږي چې پخو محصولاتو ته د خامو محصولاتو د اړولو له لارې ګټه لوړوي او د کمپنۍ خالص عواید زیاتوي او سالم رقابت ته لار هواروي.

سرچینه: Businessdictionary.com، د لاسرسي نیټه 10/5/2012.

تسهيلاتو هريو به کروندګرو ته دا زمينه برابره کړي چې په غير د موسم کې خپل توليدات خرڅ کړي، د دې پرځای چې يو واري ټول مارکيټ ته راوړي او بيې راټيټې کړي.[360]

## انرژي

افغان حکومت او نړيوال بسپنه ورکونکي د انرژۍ سکتور ته د افغانستان د بنسټيزو زيربناوو د ودې لپاره د يوه لومړيتوب په سترګه ګوري. په دې ربع کې، DoS، USAID، DoD او نورو برخه والو د انرژۍ د توليد په موخه د بيلابيلو پروژو ملاتړ ته دوام ورکړی، همداراز د انرژۍ د ليږد ظرفيت او د بريښنا د توضيع د پايو رغول پکې شامل دي.[361]

### د انرژۍ سکتور پراختيا

د افغانستان د انرژۍ سکتور په تړاو د متحده ايالاتو د بيلابيلو ادارو ترمنځ د همغږۍ د پراختيا په موخه، USAID، DoS او د ګډ پروګرام د انسجام اداره / د متحده ايالاتو د پوځ د انجينرانو ډله هره اونۍ سره ناستې لري. دغه اداري له DoD او نړيوالو سوله ساتو ځواکونو سره په همغږۍ،د زيربناوو د کاري ډلې د يوې برخې په توګه هره مياشت سره ناستې لري. برسيره پردې، USAID د شبرغان د ګازو پراختيايي پروګرام ته دوه فعاله کاري ګروپونه لري، او موخه يې د ګازو صنعت د اداري په برخه کې د افغان حکومت د ظرفيت لوړول دي.[362] USAID همداراز، له اسيايي پراختيايي بانک يا ADB سره په لويه کچه ناستې لري موخه يې د انرژۍ د ليږد، پراختيا،او نښلونې په پروګرام يا PTEC خبرې اترې دي چې ورسره به د افغانستان د بريښنا توليد، د توضيح او ليږد سيستمونه په عصري بڼه ورغول شي. د PTEC په ناستو کې د ګډ پروګرام د انسجام اداره / د متحده ايالاتو د پوځ د انجينرانو ډله او د افغان حکومت ونډه لرونکي برخه اخلي.[363]

> **PTEC:** د متحده ايالاتو په بسپنه هغه پروګرام دی چې له ماليې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت او د افغانستان بريښنا شرکت له لوري پلی شوی دی کوم چې په هيواد کې د بريښنا ملي بنسټ دی او موخه يې دا ده چې د افغانانو په لاس له پايدونکو بريښنايي خدمتونو ملاتړ کوي.
>
> سرچينه: سيګار، کانګرس ته درې مياشتنی رپوټ، 4/2012، p. 116-117

### د شبرغان د ګازلرونکې ساحې د پراختيا پروژه

USAID او د خصوصي پانګونې بهرنی شرکت يا OPIC،د متحده ايالاتو د پراختيايي مالي بنسټ،له افغان حکومت، ADB او خصوصي سکتور سره په ګډه د شبرغان د ګازلرونکې ساحې د پراختيا پروژې په وده کار کوي. د 580 ميليون ډالرو په ارزښت د دغه عمومي- خصوصي ملګرتيا موخه داده چې د مزارشريف په ختيځ کې ګاز لرونکې سيمې بيا ورغوي او تر ۲۰۱۶ کال پورې د 200MW انرژۍ دستګا له ليږدونکو مزو سره جوړه کړي. USAID افغان حکومت ته بسپنه ورکړيده چې د ګاز څاګانې بيا ورغوي او نويو هغو ته د برمې وهلو کار پيل کړي. په دې ربع کې د متحده ايالاتو د کابل سفارت له USAID او OPIC سره د پروژې د همغږي کونکی بست اعلان کړ او د شبرغان د پروژې د کارونو پر وخت سرته رسولو لپاره يې وړ کس استخدام کړ.[364]

### د هايدروکاربن داوطلبی

د کانونو وزارت په دې ربع کې د هايدروکاربن داوطلبۍ ندي اعلان کړي. د ۲۰۱۲ کال د مارچ داوطلبي د هايدروکاربن شپږو سيمو ته د توليد، پراختيا او استخراج لپاره پرانيستې ده چې د افغانستان په شمال کې د افغان تاجک د سيمې په ختيځ کې په 14,760 کيلومتر مربع سيمه کې پرته ده.[365] د تجارت د ثبات عملياتو کاري ډلې يا TFBSO په دغه برخه کې د

کانونو له وزارت سره مرسته کړېده. د کانونو وزارت اټکل کوي چې په دغو سیمو کې د 700 څخه تر 900 میلیون بیلره تیل د لاسرسي وړ زیرمو کې شتون لري.[366] د ۲۰۱۲ کال دسمبر پورې به یې د پیسو اټکل شوی ارزښت هم اعلان شي او تر هغه مهاله به د داوطلبۍ پروسه هم بشپړه شي.[367] د کانونو وزارت تمه کوي چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې به ګټونکی اعلان کړي.[368]

د کانونو وزارت د اګست له 28 تر 30 د هغه معلوماتي کنفرانس کوربه توب په غاړه درلود چې په استانبول کې تر سره شو او د افغان تاجک د نفتي سیمې د لومړي مرحلې اته غوره شوي داوطلبینو پکې برخه درلوده.[369] په دغه داوطلبانه کنفرانس کې د سیمې لیدنه، د افغانستان مربوطه قوانین، او موډل قراردادونه شامل وو په دغو اتو غوره شویو داوطلبینو کې یو امریکا میشتی اکسون موبیل دی، چې د نړۍ تر ټولو غټ غیر دولتي شرکت بلل کیږي. خو په کنفرانس کې یې د خرابې هوا او الوتنې د ځنډیدو له کبله ګډون ونه کړ، او نه یې افغانستان ته د ساحاتو د کتنې په موخه سفرونه وکړل خو د TFBSO په وینا تر اوسه هم د داوطلبۍ د اسنادو په بیاکتنې لګیا دي.[370] د اکسون موبیل د لیوالتیا رسمي اعلان د افغان تاجک د سیمې داوطلبۍ ته نړیوال مشروعیت بښلی او داسې ویل کیږي چې د متحده ایالاتو نورې کمپنۍ به ژر دغو داوطلبیو ته په رقابت پیل وکړي.[371]

په دې ربع کې، TFBSO د کانونو د وزارت په غوښتنه دغه وزارت ته هغه سلامشورې ځنډولي دي،چې د افغانستان په ختیځ کې یې د ترېپول د هایدروکاربنونو د سیمې په اړه کولې. تمه کیده د داوطلبۍ رسمي اعلان به په اګست کې پیل شې، خو عملي نشوه. د کانونو وزارت به د ترېپول د ساحې داوطلبي د افغان تاجک د داوطلبۍ د لومړۍ مرحلې له بشپړیدا وروسته اعلان کړي.[372]

## د TAPI د بیې موافقتنامه

په تیره ربع کې، سیګار په هغو شل کلنو خبرو اترو کې د پرمختګ رپوټ ورکړ چې له مخې به یې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان،او هند ترمنځ د ګازو نل لیکه وغځول شي. TAPI د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ګازو د لیږد په موخه طرح شویده. د عملي کیدو په صورت کې به د افغانستان د انرژۍ امنیت پیاوړی کړي او دولتي عواید به زیات کړي.[373]

د ۲۰۱۲ کال په مې کې، ترکمنستان له هند او پاکستان سره د ګازو پر بیو هوکړه لیک لاسلیک کړ. په همدې حال کې، ترکمنستان او افغانستان د همکارۍ یاددښت لاسلیک کړ چې له پروژې سره یې د افغانستان ژمنه پیاوړې کړه، که څه هم افغانستان د ترنزیت ملک په توګه یواځې خپله خاوره ورکوي خو دا کار به د TAPI په پرمختګ کې مهمه ونډه ولري. د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ پربیو د هوکړې لپاره خبرې رواني دي. افغانستان کولای شي له دې لارې هر کال 400 میلیون ډالر عواید لاس ته راوړي. د DoS په وینا هند او پاکستان باور لري چې د افغانستان د ګډون له کچې پرته هم TAPI له سوداګریز پلوه ګټه وره ده.[374] DoS همداراز خبرداری ورکوي چې له نړیوال تخنیکي ملاتړ پرته به TAPI له سوداګریز پلوه ګټه وره نه وي، د پایپلاین د عملیاتو لپاره شاوخوا 7.6 میلیارد نړیوال مالي ملاتړ اړین بلل شویدی. تراوسه نده روښانه چې TAPI به کله په انلاین توګه د لاسرسي وړ شي.[375]

په دې ربع کې، TFBSO د افغانستان د کانونو وزارت ته لا له مخکې په هغې دورې کې د ګډون سلامشورې ورکړیدي چې د ADB په بسپنه به TAPI ته نړیوال پانګونکي تشویق

کړي. ADB هغه ناستې سپانسر کړي چې په سينګاپور، عشق آباد او لندن کې په دې اړه د اګست او سپټمبر په مياشتو کې تر سره شويدي.[376]

## په افغانستان د ايران د نفتو پر توليداتو د نړيوالو بنديزونو اغيزې

د متحده ايالتو هغه بنديزونه چې د ايران پر نفتي صادراتو او د هغو د محصولاتو پر صادراتو يې کړيدي دا دي:[377]

- د ۲۰۱۲ د NDAA 1245(d) بنديز، پر هغو بهرنيو مالي بنسټونو د بنديز اجازه ورکوي چې په قصدي توګه د ايران مرکزي بانک ته د پيسو د سترو ليږدونو اسانتيا برابروي،يا له هغو بانکونو سره چې د ايران د نفتو يا نفتي محصولاتو له پير او پلور سره ښکيل دي يادې اړيکې ولري: او
- E.O. 13622، پر هغو بهرنيو مالي بنسټونو د بنديز اجازه ورکوي چې په قصدي توګه د ايران د نفتو ملي کمپنۍ ته او يا د نفت ايران سوداګريزې کمپنۍ ته د پيسو د سترو ليږدونو اسانتيا برابروي، يا له ايران څخه د نفتو او نفتي محصولاتو په پيردونه کې لاس لري. په دې کې همداراز پر هغو بنسټونو د بنديزونو اجازه ورکړل شويده چې له ايران څخه د نفتو او نفتي محصولاتو په پيردونه کې لاس لري.

د افغانستان پر اقتصاد او سوداګرۍ د ايران د بنديزونو اغيزو ته عامه د اعتماد وړ اسناد په لاس کې نشته، د DoS په وينا، تراوسه هيڅ کوم افغان بنسټ د NDAA د 1245(d) بنديز پر اساس ندی محکوم شوی، همداشان چې د ايران د تهديداتو د کمولو او د سوريې د بشري حقوقو د 2012 کال په قانون کې روښانه شويده، E.O 13622، افغانستان تر اوسه هم له 33٪ تر 50٪ د اړتيا وړ تيل له ايران څخه واردوي. 25٪ نور له ازبکستان او 25٪ له ترکمنستان څخه واردوي همداراز يوه نامشخصه کچه له قرغزستان او پاکستان څخه واردوي.[378]

متحده ايالات د افغانستان او پاکستان د ترانزيت سوداګرۍ له موافقتنامې ملاتړ کوي او د مرکزي اسيا په مارکيټونو کې د افغانستان سوداګرۍ ته د پراختيا هڅه کوي. DoS موندلې ده چې افغان سوداګر له ايراني بنادرو خپلو وارداتو ته زياتوالی ورکوي او علت يې دا دی چې پر پاکستان له تيرو مياشتو راهيسې د هغو اعتماد مخ په کميدو دی.[379]

نړيوال بنديزونه چې له ايران څخه افغانستان ته د تيلو په وارداتو اغيز درلودلای شي دا دي:[380]

- د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پريکړه 1929، او مخکنۍ پريکړې چې د ټولوژنو پر وسلو يې تمرکز کاوه، خو د ايران د تيلو د عوايدو او د هغو ترمنځ اړيکو باندی ټينګارکوي. او
- د اروپايي اتحاد، استراليا، کاناډا، ناروې، جاپان، او جنوبي کوريا له لورې بيلابيل بنديزونه، لکه د ايران له نفتي يا نفت سره تړلو برخو او مرکزي بانک سره اروپايي اتحاديه خپل قراردادونه پای ته رسوي. دغو هيوادونو همداراز خپلې بانکي اړيکې، د انرژۍ پروژې،مالي تجارت له ايران سره محدود کړيدی او د خزانې د وزارت په وينا يې له يادو شويو ايراني بنسټونو سره اړيکې پرې کړيدي.

DoS افغان حکومت نور هم دې ته تشویقوي چې له ایران څخه د تیلو واردات راټیټ کړي، خو دا هم مني چې افغانستان ته دا ستونزمنه ده چې خپل د اړتیا وړ انرژي ته ډاډمنه سرچینه ومومي. افغانستان له ایران پرته د تیلو واردولو ته د ډاډ وړ ډیرې کمې سرچینې لري چې تکیه پرې وکړي.[381]

## کان کیندنه

د ۲۰۱۲ مالي کال په عملیاتي پلان کې USAID 14 میلیون ډالر دې ته ځانګړي کړیدي چې پر بنسټ به یې له استخراجي صنایعو ملاتړ وکړي. دا کار به د هغې پروژې له له لارې چې د افغانستان د ثبات لپاره د کانونو د پانګونې او پراختیا پروژه یا MIDAS نومیږي سرته رسیږي—په تیرې ربع کې دغه شمیره یو میلیون ډالر کم راپور ورکړل شوی وو. MIDAS پروګرام د اقتصاي فعالیتونو او کارموندلو له ودې سره غواړي له خصوصي سکتور څخه ملاتړ وکړي، همداراز د حکومت د عوایدو پیاوړتیا او په اقتصادي ډګر کې د ښځو پر ونډې ټینګار کوي. که څه هم په تیرو دوو ربعو کې هیڅ کومه بسپنه په دې تړاو نه ده لګول شوې.[382]

### داوطلبي

د ۲۰۱۱ کال د سپټمبر په ۶، TFBSO د متحده ایالاتو د جیولوژیکي سروې د اسنادو له بستې په کارونې سره د کانونو له وزارت سره مرسته وکړه چې د کانونو د استخراج بسته دې داوطلبۍ ته وړاندې کړي. د سپټمبر تر ۳۰، د څلورو سیمو لپاره د داوطلبینو غوښتنې لاس ته راغلې.[383]

- بلخاب ( سرپل): مس – ۲ غوښتې
- شیدا (هرات): مس او سره زر – ۴ غوښتنې
- زرکشان (غزني): مس او سره زر – ۴ غوښتنې
- بدخشان (بدخشان): سره زر - ۴ غوښتنې

د آزاد رقابت او روڼوالي د تامین په موخه، د هرې سیمې لپاره د داوطلبي پروسه په عامه توګه پرانیستې وه او د وزارت د مسولینو او داوطلبې کمپنې د استازې په شتون کې سر ته رسیده. د بلخاب، شیدا او زرکشان لپاره د ارزونې په شورا کې مسلکي سلاکارانو او د روڼوالي د ارزونې لپاره بې لوري سلاکارانو هم شتون درلود. د بدخشان لپاره څلور داوطلبۍ همدا اوس تر ارزونې لاندې دي. د هرې سیمې لپاره د لیوالو ګټونکو پایلې به د ۲۰۱۲ کال د دسیمبر تر پایه اعلان شي.[384]

## د کان کیندنې پر وړاندې ستونزې

په ۲۰۱۲ کال کې د افغانستان د اقتصادي ستراتیژۍ بین الاداره اې بیاکتنې چې د کانګرس له لوري یې حکم تر لاسه کړی وو په دې ټینګار وکړ چې د افغانستان د پایېدونکي اقتصادي ودې لپاره امنیت ځانګړې ونډه لري.[385] د CIA د بهرني سلا ورکونکي شورا د غړي په وینا په افغانستان کې روان تاوتریخوالي د پانګونې کچه راټیټه کړیده. د افغانستان GDP لپاره خصوصي پانګونه او په کان کیندنو کې ونډه تر اوسه د پام وړ نده، او لوی علت یې د ډاډمن امنیت نه شتون بلل کیږي.[386]

د DoS په وینا، د MCC یا د چین میتالورژیک ګروپ کارپوریشن، چې د افغانستان د عینک د مسو په کان کې په کار بوخت دي د ۲۰۱۱ کال له جون څخه تر اپریل میاشتې

پورې د خپلو کارکونکو په کمپ باندې د لسو راکټي حملو رپوټ ورکړی دی. د ۲۰۱۲ کال د جون تر میاشتې ویل کیږي چې په یوه یا دوو حملو کې توغندي د کمپ دننه لګیدلي دي. په دې ربع کې د کانونو وزير شهراني په ډاګه کړه چې د عينک په کان کې د ستونزو د رامنځ ته کولو په موخه څمکني ماينونه کارول شويدي. د اوکتوبر تر ۱، د دغو حملو له کبله د کارکونکو د ژوبليدلو يا د MCC ودانيو او تجهيزاتو ته د پام وړ وراني په هکله رپوټ خپور شوی ندی.[387]

د نورو استخراجي صنايعو پر وړاندې حملې يا د تاوتريخوالي جرمونه په دې ډول دي:[388]

- **د آمو سيند نفت:** د افغانستان د ملي امنيت شورا د چينايي انجينيرانو د تهديد پيښې تر پلټنې لاندې نيولې دي.
- **افغان- تاجک نفتي زيرمه:** يوه IED د افغان امنيتي قراردادیانو دوه هغه کارکونکي ووژل چې د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې يې د زلزله ايزي ليکې پر سروې ګزمه کوله.
- **د چشت شريف د مرمرو د کان مسولين:** د کان مسولينو رپوټ ورکړی چې کليوالو د دوی د لارېو چلونکي وهلي او اختطاف کړيدي. .
- **د قره زاغان د سرو زرو کان:** د ناڅرګندو حملو رپوټونه ورکړل شوي، خو په ځانګړې توګه يې عمليات تر بريد لاندې ندي راوستي. .
- **د باميان او بغلان د سکرو کان:** د ناڅرګندو حملو رپوټونه ورکړل شوي، خو په ځانګړې توګه يې عمليات تر بريد لاندې ندي راوستي. .

افغان حکومت د کان کيندنو د عملياتو امنيت خوندي کول په غاړه لري. د کانونو د وزارت محافظتي واحد د 1,500 پرسونل په درلودو سره د هيواد د کانيزو زيرمو د ساتنې مسوليت په غاړه لري.[389] د DoS په وينا دغه واحد څنګه چې تمه کيده وده ونکړه،له دې کبله د کان کيندلو صنايعو ته د امنيت برابرول د کورنيو چارو وزارت ملي پوليسو ته ورکړل شو.[390]

## د کان کيندلو نوی قانون تر بحث لاندې ونيول شو

داسې انديښنې موجودې وې چې د کان کيندلو موجود قانون د خصوصي سکتور د ودې مخه نيسي، له دې کبله وزير شهراني د جولای په ۱۸ افغان کابينې ته د کان کيندلو تعديل شوی قانون او د نفت او ګازو قانون وړاندې کړ.[391] دغه سمونونه د افغانستان د سرچينو د ښې ساتنې په موخه راوستل شويدي، همداراز هڅه شويده چې دغه قانون پانګونکو ته لا مناسب کړي او له نړيوالو غوره کارکولو سره يې په سمون کې رامنځ ته کړي.[392] د وزيرانو شورا دغه مسوده په دې علت ونه منله چې د مزايدې او داوطلبي د پروسې د پيل په تړاو يې انديښنې درلودې، همداراز د استخراج د حق اخيستلو او نړيوالو شرکتونو پر ونډه يې غوښتنې درلودې. د کانونو وزارت د دغې مسودې په تعديل بوخته ده او د ۲۰۱۲ کال تر پای پورې به يې پارلمان ته د تصويب لپاره وړاندې کړي.[393]

## د متحده ايالاتو مرسته

متحده ايالات په افغانستان کې د وزارتونو ظرفيت لوړولو ته خپلې مرستې روانې ساتلي دي. له دې سره به د نړيوالو مرستو له کميدو سره افغانستان وکولای شي د کانونو پروژې په سمه توګه اداره کړي. USAID د کانونو وزارت کې پنځه سلاکاران په کار ګمارلي دي چې د افغانستان د مدني تخنيکي مرستو له لوري يې پيسې ورکول کيږي. د متحده ايالاتو د سوداګرۍ وزارت د مرمرو سکتور ته د انساني پانګې د پراختيا پروژه رامنځ ته کړيده چې

په راتلونکې ربع کې به په لار واچول شي. همدا راز د سوداګرۍ قانون د پراختيا څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي.[394]

TFBSO د افغانستان د سرچينو داوطلبۍ ته د ملاتړ برابرولو په موخه USGS ته بسپنه ورکوي ترڅو د جيولوژيکو اسنادو تحليل او تفسير وکړي او قانوني بنه ورکړي. USGS له کانونو وزارت سره د هغه قرارداد پر سر خبرې اترې کوي چې له مخې يې د افغانستان د جيولوژيکي سروې يا AGS پر ظرفيت جوړونه کار کيږي او ورسره به د راتلونکو داوطلبيو لپاره د کانونو نورې برخې هم وپيژندل شي. TFBSO او USAID دواړه له افغان سوداګريزو ټولنو او عامه – خصوصي شرکتونو سره په ګډه کار کوي چې د غميو "له کان څخه تر ماركيټ" پورې د ارزښت کړۍ له مارکيټ سره د دغو پروسيژرونو د نښلولو له لارې لوړه کړي، همدا راز د روزنو او ټکنالوجيکو پرمختياوو پر مسلې هم کار کوي.[395]

په دې ربع کې TFBSO، 34.47 ميليون ډالر له مالیې وزارت څخه د سوداګريز، تخنيکي او قانوني ملاتړ په موخه ځانګړي کړل، ترڅو له دې لارې د روانو داوطلبيو مسله اجرايي پړاو ته ورسوي او نورو هغو ته تياری ونيسي. د بسپنو کمښت په لاندې ډول دی:[396]

- 3.5 ميليون ډالر د شمالي عينک د سيمو سپړلو په برخه کې
- 14.64 ميليون ډالر د کانونو له وزارت څخه د قانوني او تخنيکي ملاتړ د چمتو کولو په برخه کې.
- 10.28 د کليوال ثبات د عملياتو يا VSO د ملاتړ په برخه کې
- 4.14 ميليون ډالر له VSO او داوطلبۍ پروژو څخه د هليکوپټر ملاتړ ته.
- 910,000 ډالر د TFBSO او USGS د خپل منځۍ هوکړې په برخه کې چې د شمالي عينک او د افغانستان د جيولوژيکې سروې په برخه کې يې روزنو ته لري.

## د استخراجي صنايعو د روڼوالي د لومړيتوبونو يا EITI نوي خبرونه

افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼوالي د لومړيتوبونو غړيتوب ته هڅې کوي چې په نړيواله توګه پيژندل شوې اداره ده. دغه غړيتوب به په افغانستان کې د استخراج د سکتور روڼتوب او حساب ورکونه پياوړې کړي او ورسره به لويې بهرنۍ پانګې لاس ته راوړي.[397]
EITI سره د افغانستان د پيوستون پروګرام د هغو پريکړه شويو عوايدو راپور وړاندې کړ چې استخراجي صنعتي کمپنيو ورکړې وې او د افغانستان حکومت لاس ته راوړې وې. ټاکل شوې ده EITI ته د منل شوي هيواد په لست کې د افغاستان شاملولو په اړه د اکتوبر په ۱۵ غور وشي، او د ۲۰۱۲ کال تر پای پورې به تاييد شي.[398]

## زده کړه

د سپټمبر په ۵، مالیې وزارت د نړيوال بانک هغه 125 ميليون ډالري مرسته لاس ته راوړه چې د دولت د زده کړې د کيفيت د پياوړتيا په پروژه کې به ولګول شي، چې په ۲۰۰۶ کال کې پيل شوې ده. د افغانستان د بيارغونې د خيريه صندوق له لوری دغه تمويل شوې پروژه به له ښوونځيو سره مرستې کوي، ښوونکي او مديران به روزي او د ښوونځيو رغولو او ساتلو ته به د پيسو په برابرولو کې مرسته وکړي. موخه دا ده چې باکيفيته بنسټيزو زده کړو ته مساوي لاس رسی په ځانګړې توګه ښځو ته را منځ ته شي. د افغانستان د حکومت په وينا هر کال 500,000 نوي زده کوونکي ښوونځي ته شامليږي، او ورسره باکيفيته بنسټيزو زده کړو ته غوښتنه مخ په زياتيدو ده. د ماليې وزارت په وينا د ټول هيواد په کچه يواځې ٪57 ښوونځي کارنده ودانۍ لري.[399]



**هغه افغان ميرمنې** چې د غالۍ اوبدنې دنده لري باميان ته په يوه نږدې سيمه کې په اول ټولګي کې په لوست لګيا دي. دوی د هغه بيارغنيز پروګرام ګډونوال دي چې ماشومانو ته يې د ورځې له خوا خدمات او پاملرنه چمتو شويده. (د متحده ايالاتو د پوځ عکس)

په دې ربع کې، د متحده ايالاتو د پوځ له لوري څلور ميليونه چاپ شوي درسي کتابونه کابل ته راورسيدل، دغه کتابونه د يوه کال لپاره په پاکستان کې بند وو، علت يې د ناټو له لوري د ۲۴ پاکستاني سرتيرو اشتباهي وژل وو چې د ۲۰۱۱ کال په نومبر کې پيښه شوه، او پاکستان يې پر وړاندې غبرګون وښود.[400]

## کار

په افغانستان کې د بيکاري دقيقه شميره په لاس کې نشته،خو د USAID د رپوټ پر بنسټ سروې ګانو ښولې ده چې تر امنيت وروسته به په افغانستان کې همدا تر ټولو ستره ستونزه وي. له دې چې له باغيانو او جنايي کړيو او د کوکنارو په کښت کې ډيری بې روزګاره افغانان لاس لري، د کاري مواقعو برابرول د متحده ايالاتو د بيارغنيزو هڅو کې کليدي ارزښت لري. د USAID په وينا د دندې درلودل د سياسي ثبات،او همداراز د روغتيا او زده کړې په تړاو مهمې لاس ته راوړنې درلودلای شي.[401]

### د کار د مارکيټ سروې

سيګار لا له مخکې د افغانستان د لوړو زده کړو د نصاب ټيټ کيفيت روښانه کړی دی. د هيواد عامه تخنيکي ښونځي او مسلکي مرکزونه د ځانګړيو صنعتي او سوداګريزو غوښتنو سره په مطابقت کې ندي او په دې برخه کې د زده کوونکو شميرې ته په پام د هغو د مسلکي کارموندنې لپاره پروګرام شتون نلري.[402] له صنعتي اړتياوو سره د افغانستان د زده کړو د موخو همغږي کولو په تړاو، USAID په شپږو سترو ښاري سيمو کې د وړو او منځنيو تشبثاتو لپاره د کار – مارکيټ سروې په لار اچولې ده. په کابل، مزارشريف، جلال آباد، هرات ، کندهار او کندز کې.[403] دغه سروې د صنعت اړتياوې ارزوي. د سوداګريزو تشبثاتو لپاره له لاندنيو برخو بيلګې لاس ته راغلي دي: رغنيز، لوجستيک او زيربنايي شرکتونه، واردات/ صادرات، پرچون پلورونکي، کرهنيز او د خوراکي توکو توليدونکي، مخابرات، د ناخوراکي توکيو توليدونکي او د انرژۍ برابرونکي شرکتونه.[404] لومړنۍ سروې د ۲۰۱۲ کال په اپريل کې بشپړه شوه.[405]

لومړنۍ سروې وموندله چې 36٪ واړه او منځني متشبثين ماهرو کارګرانو ته اړتيا لري (د تخنيکي وړتياوو درلودونکي کارګر) همداراز 35٪ د مسلکي کارکونکو غوښتنه لرله ( د پرمختللو روزنو يا تحصيلي درجو درلودونکي). نساجي صنعت د ماهره کارګرانو تر ټولو لوړه فيصدي جذب کړې وه (د ځواب ورکونکو 27٪)، په داسې حال کې چې رغنيز صنعت تر ټولو ډير مسلکي کارکونکي په دنده ګمارلي وو. (23٪). نساجي صنعت همداراز د غير مسلکي کارګرانو تر ټولو لوړه شميره (22٪) په کار ګمارلې وه همداراز يې (33٪) نيمه ماهره کارګران جذب کړي وو. کرهنيزې سوداګرۍ په ترتيب 21٪ او 22٪.[406] تر ټولو ډير پنځه غوښتل شوي مهارتونه په راتلونکي پانې کې په 3.34 شکل کې ښودل شويدي.[407]


USAID وموندله چې دغه پايلې په وړو او منځينو تشبثاتو کې په عمومي مهارتونو کې د روزل شويو کارګرانو اړتيا روښانوي. له دغو پايلو به د کالو جوړولو/خياطۍ پرته په ټولو صنعتونو کې کار اخيستل کيدی شي. کيدی شي د دغو پنځو ډيرو غوښتل شويو کارګرانو علت دا وي چې ډيری ځواب ورکونکي د نساجي صنايعو له برخې وو.[408]

### د افغانستان د کاري ځواک د پراختيا پروګرام

د کار مارکيټ د سروې په بنسټ، USAID د افغانستان د کاري ځواک پراختيا پروګرام يا AWDP له لارې 25,000 افغان نارينه او ښځو لپاره د کار په مارکيټ کې ځای مومي. دا کار

3.34 شکل

**د کار د مارکيټ سروې: پنځه لوړ مهارتونه چې ډېر غوښتل کيږي**




سرچينه: د سيګار 10/14/2012 بررسی ته د USAID ځواب.

د مسلکي زده کړو او روزنو له لارې برابروي، همداراز د سوداګرۍ له ودې ملاتړ، د سوداګرې مديريت سره تړلي روزنيز پروګرامونه، مالي اعتبار او د کارموندلو خدمات يې په پروګرام کې شامل دي.[409] AWDP هڅه کوي له دې لارې بې روزګاري کمه کړي او له تخنيکي پلوه وړ کارکونکي وروزي او د سوداګرۍ مديريت ته د روزل شويو کسانو شمير لوړ کړي. د دغه پروګرام موخه دا ده چې د کار رامنځ ته کولو ته آسانتيا برابره کړي او ماهر او نيمه ماهر کاري ځواک برابر کړي او په افغانستان کې سوداګرۍ او اقتصادي ودې ته لار هواره کړي. دغه پروګرام هڅه کوي چې غيرقانوني اقتصاد او شورشي فعاليتونو ته بديل وړاندې کړي.[410]

AWDP همداشان له هغو هڅو ملاتړ کوي چې د تخنيکي او مسلکي ښونکو او روزونکو ظرفيتونه لوړوي. AWDP هڅه کوي چې هم د دغو روزنيزو پروګرامونو کيفيت د عامه او خصوصي ګډون له لارې اوچت کړي او هم يې د بکلوريا د دورې د درجې په چوکاټ کې يا له درجې پرته روزنو له لارې ټولو ته د لاسرسي وړ وګرځوي. AWDP د ښونې او روزنې د وزارت په نږدې همکارۍ پلي کيږي، همداراز د لوړو زده کړو وزارت، د کار، ټولنيزو چارو او شهيدانو او معلولينو وزارت هم پکې شامل دي. د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر تر ۱۶، AWDP ته د پنځه ميليون ډالرو ژمنه وشوه او له هغې شميرې 965,000 ډالر ولګول شول.[411]

## روغتيا

که څه هم د افغانستان لويه برخه له پوليو پاکه شوې ده خو د دغه مرض نښې په ديارلسو ولسواليو کې چې عموماً په سويل کې پرتې دي ليدل شوي دي.[412] په دې ربع کې، افغان حکومت، له نړيوال ملاتړ سره د پوليو د واکسين پروګرام ته دوام ورکړ. نړيوال بانک هم په افغانستان کې د HIV/AIDS د مخنيوي په موخه مطالعات په لاره اچولي دي.

## د پوليو له منځه وړل

د جولای په ۲۴-۲۳ افغان او پاکستاني چارواکو په کابل کې سره خبرې وکړې او د پوليو د منځه وړلو په تړاو يې د همغږۍ هڅې وارزولې، په هغو کې له سرحد څخه د تیرودونکو کسانو واکسين او په نا امنه سرحدي سيمو کې د پوليو کمپاين په لاره اچول هم شامل وو. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وينا سږکال تر دې مهاله لاس ته راغلي معلومات د پوليو ۱۷ پيښې په ګوته کوي چې ډيری يې په کندهار، هلمند او کنړ ولايتونو کې ليدل شويدي.[413] د سيګار د جون د راپور تر مهاله د پوليو لس پيښې ثبت شوې وې.

له پاکستان سره په همغږۍ افغانستان دريم سراسري کمپاين د پوليو د له منځه وړلو په موخه پلي کړ. د سپټمبر له ۱۶ تر ۱۸ شاوخوا اته ميليونه هغه افغان ماشومان چې تر پنځو کلونو يې عمر لږ وو واکسين شول. د خدماتو چمتو کونکو او رضاکارانو ۱۳ جنوبي ولايتونه تر پوښښ لاندې راوستي، همداشان کندهار او هلمند چيرته چې له ۱۷ نويو پيښو ۱۲ هغه پکې سږکال رپوټ شول. همداشان شاوخوا پنځه ميليونه هغه ماشومانو چې له ۲ تر ۵ کلونو عمر کې وو د چينجيو ضد تابليتونه لاس ته راوړل.[414]

د پوليو د واکسين څلورم کمپاين د اکتوبر له ۱۶-۱۴ په پام کې نيول شوی دی. په دغه کمپاين کې به تر پنځو کلونو نور اته ميليونه ماشومان تر پوښښ لاندې راوستل شي. شاوخوا 7.4 ميليونه هغه ماشومان چې له شپږو مياشتو تر پنځو کلونو عمر لري، کولای شي ويټامين اې په ضميموي ډول لاس ته راوړي. د دغه پروګرام اداره کوونکي له سيمه ايزو مخورو او قوماندانانو سره په دې خبرې کوي چې نا امنو سيمو ته سم لاسرسی ومومي.[415]

## د HIV خپراوی

لکه په تير راپور کې چې هم سيګار روښانه کړې ده، په افغانستان کې د HIV کچه تر اوسه ټيټه ده،خو دا هيواد له دې کبله چې پکې د وريدي نشه يي توکو کارونه زياته شويده او له HIV عامه پوهاوی ټيټ دی د خپريدو له خطر سره مخامخ دی[416] د نړيوال بانک په مرسته د 12 ميليونو ډالرو په لګښت د HIV/AIDS د مخنيوي په تړاو يوه پروژه د پلي کيدو په درشل کې ده. په هغې کې موخه دا ده چې د دولت د ظرفيتونو د لوړولو له لارې د HIV له پراختيا مخنيوی وکړي، تر خطر لاندې وګړو ته د کړو وړو بدلونونه وښيي او د HIV د مخنيوي په تړاو د خلکو پوهې ته وده ورکړي.[417]

اوس مهال مطالعاتو روښانه کړيده چې د HIV خپراوی تر 0.1٪ ټيټ دی.[418] په داسې حال کې چې د نشه يي موادو په وريدي کارونکو کې دغه شميره 7.11٪. ته رسيږي. تر ټولو لوړه شميره په هرات کې ده چيرته چې 18٪ د نشه اي موادو وريدي کارونکي په HIV اخته دي. خو په کابل کې يواځې 3٪ هغه کسان چې نشه اې مواد په وريدي توګه کاروي په HIV اخته دي. په بنديانو کې د HIV د خپريدو کچه په هرات کې 1.6٪ او په کابل کې 0.6٪ اټکل کيږي.[419]

## د سيګار پلټنه

سيګار په ارزونه بوخت دی خو روښانه کړي، د عامې روغتيا وزارت له لوري د متحده اياالاتو مستقيمه کاريدلې بسپنه په سمه توګه لګول شويده او قانع کونکې پايلې يې درلودلې که نه. د لا زياتو معلوماتو لپاره، 34 صفحه وګورئ.

"مونږ منو چې د افغانستان سرنوشت له هغې سيمې سره تړلی دی چې ترې چاپيره ده..."

افغان ولسمشر حامد کرزی

سرچينه: "د ملګرو ملتونو ۶۷ عمومي غونډې ته د ولسمشر حامد کرزي وينا" 9/25/2012، په 10/3/2012 نيټه لاس ته راغله.

# سيمه ايزه همغږی او سوداګري

## د وريښمو د نوې لارې نوښت

د بهرنيو چارو وزارت د "وريښمو د نوې لار" نوښت، په افغانستان کې د متحده اياالاتو د ستراتيژۍ يوه محوري مسله ده، چې پکې په لويه کچه اقتصادي انسجام رامنځ ته کيږي، او پر بنسټ به يې په آزاده توګه د خلکو، موادو، سرمايو او خدماتو تبادله د افغانستان او

**د افغانستان د زیربناوو پروګرام:** د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو یوه ګډه هڅه په لار اچول شویده څو په افغانستان کې هغه زیربنایي پروژې پلي کړي چې په روښانه توګه د متحده ایالاتو له باغیانو ضد هڅو یا COIN سره تړلي دي.

سرچینه: د سیګار پلټنه-12-12، د لاسرسي نیټه 10/11/2012

ګاونډیو هیوادونو تر منځ کیږي[420] د لویو لارو پراختیا، ریل پټلی، د بریښنایي شبکو لیږد، پایپلاین، او نورې زیربنایي مسلې پکې شاملې دي او ورسره هڅه کیږي چې خصوصي سکتور ته وده ورکړل شي او سیمه ایز انسجام پیاوړی کړي.[421] سیګار موندلې ده چې د وریښمو نوې لار به تر ماستر پلان مخکې د یو رغونکی بنسټ په توګه وکاریږي او متحده ایالات به د لویو پریکړو لپاره کار پرې وکړي. د کابل سفارت او د افغانستان د زیربناوو بین الاداره ای پروګرام.[422]

د ستراتیژیکو او نړیوالو مطالعاتو د مرکز CSIS یو رپوټ چې په دې ربع کې خپور شوی دی د وریښمو د نوې لارې د پراختیا په تړاو شکونه څرګندوي او د هغه د اغیزو په اړه یې پوښتنې راولاړې کړیدي. په دغه رپوټ کې ویل شویدي چې د افغانستان ډیری ګاونډیو او سیمه ایز ځواکونه په افغانستان کې له سترو پانګونو سره ډیره علاقه نه لري او له دغه هیواد سره د اقتصادي ګډو هڅو لیوالتیا ډیره کمه ده.[423] سره له دې چې هندي او چینایي شرکتونو په افغانستان کې د کان کیندنې ستر قراردادونه لاس ته راوړي دي چې په بلقوه توګه به افغان حکومت ته په میلیاردونو ډالر ګټه ورسوي خو هغه زیربنایي پانګونې چې د کان کیندلو ته په کار دي تر اوسه ندي شوي.[424] ډیری سیمه ایزې پانګونې به د افغانستان امنیتي پیاوړتیا، حکومتدارۍ او فساد ضد هڅو سره تړاو ولري.[425] په رپوټ کې د افغانستان د اقتصادي ودې احتمالات منل شویدي خو، په نږدې او منځ مهاله راتلونکې کې به ګرانه وي چې له زیاتیدونکې بیوزلۍ او بیروزګارۍ سره مقابله وکړي، او نه په هغه ډول چې د وریښمو د نوې لار په نوښت کې روښانه شویده.[426]

نړیوال بانک روښانه کړیده چې تر ۲۰۲۱/۲۰۲۲ کال پورې افغان حکومت د دې وړتیا نه لري چې د خپلو مصارفو لپاره کافي عواید لاس ته راوړي. بانک اټکل کوي چې د افغان حکومت عواید به په راتلونکي لسو کلونو کې د 17.5٪ GDP ته ورسیږي، او داسې انګیرې چې د دوو مهمو پانګونو، د عینک د مسو او حاجي ګک د اوسپنو کان عواید به له ۲۰۱۶/۲۰۱۷ کال سره د دولت لاس ته ورشي. بانک تمه کوي چې د حکومت مصارف به د 43٪ GDP ته په همدغو لسو کلونو کې ورسیږي.[427]


## سیمه ایزې ناستې او موافقتنامې

د افغانستان او ایران د بهرنیو چارو وزیرانو د افغانستان او ایران د ګډ کمیسیون ځلورمه ناسته د سپتمبر په ۵-۴ تر سره کړه. د هغې په پایله کې، دواړو وزیرانو د ۵۴ مادو یو تفاهم لیک لاسلیک کړ، چې په هغه کې د افغان سوداګرو پرمخ د چابهار بندر پرانیستل هم شامل وو. په تفاهم لیک کې د انرژۍ،ډیپلوماتیکو چارو، کان کیندنې، ټرانسپورټ،زده کړې، امنیت او سرحدو مسایل هم شامل وو.[428]

افغانستان د ناپیلو هیوادونو په ناسته کې چې د اګست په ۲۹-۲۸ په تهران کې جوړه شوه ګډون وکړ. په پای کې په ګډه اعلامیه کې د حکومتونو مشرانو سوله او امنیت د افغانستان بیارغونې، بشري هوساینې او پایدونکې پراختیا لپاره بنسټیزه وبلله. هغوی همداراز د افغانستان او ګاونډیو ترمنځ له سیمه ایز اقتصادي انسجام څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.[429] 3.35 شکل د افغانستان ستر سوداګریز ملګري روښانوي.

3.35 شکل

**په سیمه کې د افغانستان د صادراتو لوی ملګري**




سرچینه: په 2011 کال کې د CIA نړیوال فکټ بوک

## نوي خبرونه: د نړيوالې سوداګريزې اداري يا WTO غړيتوب

افغانستان د ۲۰۰۴ کال په نومبر کې د نړيوالې سوداګريزې اداري غړيتوب ته غوښتنه وړاندې کړه، او د ۲۰۱۴ کال تر پايه د يوځای کيدو په تمه دی. USAID د TAFA پروګرام له لارې د افغانستان له دغې هڅې ملاتړ کوي.[430] د ۲۰۱۲ کال په جون کې د کاري ډلې په دويمه ناسته کې، افغانستان د سوداګريزې خپلواکۍ لپاره د خدمتونو غوښتنليک وړاندې کړ. افغانستان د توکو په تړاو د خپل غوښتنليک د وړاندې کولو په درشل کې دی.[431]

په دې ربع کې، متحده ايالاتو، استراليا،هند، او د WTO نورو غړو هيوادونو له افغانستان څخه د نورو ژمنو غوښتنه وکړه، او د خدمتونو د غوښتنې په تړاو يې خپلې 142 روښانونکې پوښتنې طرح کړې. دغه غوښتنې مربوطه افغان وزارتونو ته د تحليل او تبصرې په موخه ليږل شويدي. د اکتوبر تر ۲۰ به رپوټونه، WTO ته وخت ورکړي چې د افغانستان د غړيتوب غوښتنې عريضه تر غور لاندې ونيسي او د نومبر تر ۹ يې د کاري ډلې غړو ته وړاندې کړي.[432]

د افغانستان د سوداګرۍ او کانونو وزارت په بنسټيزه توګه غوښتنه منلې ده، خو په کابينه کې دننه د اقتصادي کميسيون د تصويب په لټه کې ده. د تصويب په صورت کې، غوښتنه WTO ته وړاندې کيږي او د کاري ډلې دريمې ناستې ته چې په دسمبر کې به په ژنيوا کې جوړيږي فيصله پرې وشي.[433]

**د توکو غوښتنه:** نړيوالې سوداګرۍ اداري ته د يو راتلونکې خپلواکۍ په تړاو د يوه هيواد وړانديز، معمولاً مارکيټ ته د لاسرسي د پياوړتيا په موخه تر سره کيږي.

سرچينه: د نړيوالې سوداګرۍ اداري رساله، د لاسرسی نيټه 10/21/2012.

## ټرانسپورټ

په افغانستان کې په لويه کچه د ټرانسپورټي زيربناوو ستونزې، اقتصادي ودې او سوداګرۍ په وړاندې لوی خنډ دی او مارکيټ ته د صنايعو لاسرسي محدودوي.[434] ټرانسپورټي ستونزې د بيو د لوړولو لامل کيږي، د کارموندنې فرصتونه راټيټوي، د کورنيو او نړيوالو پراختيايي مرستو د خپريدو مخنيوی کوي، او د بشري مرستو رسونه له خنډ سره مخامخوي.[435] په دې ربع کې متحده ايالاتو د افغانستان د ټرانسپورټي سکتور له ودې سره خپلې مرستې روانې ساتلې دي، او د ټرانسپورټ قانون مسودې په برابرولو کې يې مرسته کړيده.[436]

## ريل پټلۍ

په افغانستان کې د ريل پټلۍ د اداري رامنځ ته کول د نړيوالې ټولنې له بنسټيزو موخو يوه ده څو له دې لارې د پټلۍ يو پايدونکی او اغيزمن سيستم رامنځ ته کړي.[437] په دې ربع کې متحده ايالاتو له ا فغان حکومت او نړيوالو ملګرو سره خپلې هڅې په دې موخه روانې ساتلې دي چې دا خبره ډاډمنه کړي چې دغه اداره د دې وړتيا لري چې مقررات پلي او پياوړي کړي. د متحده ايالاتو په مرستو کې ستراتيژيکه پلان جوړونه، روزنه، د کارکونکو د ګمارلو ستونزې او د بنسټيزو غوښتنو پيژندل شامل دي. همدارازپه دې ربع کې، په کابل کې د متحده ايالاتو سفارت په کابل کې مرسته وکړه څو د ريل پټلۍ د پراختيا او د خونديتوب غوښتنو معيارات وپيژني. او متحده ايالاتو د ټرانسپورټ وزارت يا DoT سلاکار د متحده ايالاتو د ريل ګاډي د ډلې له دريو غړو سره په ګډه کار کوي چې پراختيا ورکړي او د دغه اداري لپاره د بنسټ ډبره کيږدي. همدارازد کارکونکو روزنه هم پکې شامله ده.[438]

د ۲۰۱۲ کال له سپتمبر څخه تر مارچ پورې، د DoT د ريل ګاډي سلاکار د هغه ډلې چې د څو اداراتو له استازو جوړه وه مشري په غاړه درلوده، تر څو د ريل پټلۍ اداري ته بنسټ رامنځ ته کړي او دندې او مسوليتونه ورته ځانګړې کړي. دغه کاري پلان په تيره ربع



**د متحده ایالاتو** په بګرام کې د هوايي ځواک یوه فني ډله د راډیویې مخابرې د کچې د پراختيا په موخه د ۱۷۰ فوټ مخابراتي سکشنونه سره تړي. (د متحده ایالاتو د هوای پوځ عکس)

کې د کانونو وزارت، د ترانسپورت او هوای چلند وزارت، د کار وزارت، د مالیې وزارت او په اقتصادي چارو کې د ولسمشر سلاکار ته وړاندې شو. د وزیرانو په شورا کې، چې د دغې ادارې د رسمي تاسيس واک لري د ۲۰۱۲ کال په سپټمبر کې کاري پلان تصویب شو او قانون یې د ولسمشر لاسلیک ته وړاندې کړ.[439] په پلې کیدو کې ځنډ د ریل پټلۍ له ادارې سره د ADB او EU مرستې په خطر کې اچولی شي.[440]

## مخابرات

په افغانستان کې د خصوصي سکتور له لوري اداره کیدونکی مخابراتي سیسټم ګړندۍ وده کوي، او په اقتصادي ډګر کې د افغانستان یوه بریالۍ لاسته راوړنه ده.[441] په ۲۰۱۰/۲۰۱۱ کال کې مخابراتي مالیو د هیواد د مالیاتي عوایدو 45٪ جوړوله.[442] د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په وینا شاوخوا 30٪ افغانان انټرنټ کاروي او تر 300,000 زیات افغانان په فعاله توګه ټولنیزې شبکې لکه فیسبوک، ټویټر، یوټیوب او نور انټرنیټي سایټونه کاروي. د ټولنیزو شبکو د دغو کارونکو 10٪ له 15 کلونو کم عمرلري ، 80٪ د 15 تر 40 کلونو عمر درلودونکي دي، او 10٪ تر 40 زیات عمر لري. د ټولنیزو شبکو د کارونې پلویان دغه کار د بیان آزادي ته مهم ارزوي او د حکومت په اجراتو او ځواک یې د نظارت لپاره ګټور بولي.[443]

هیله کیږي په راتلونکو دوو کلونو کې به د انټرنټ کارونکو شمیر 50٪ ته وخیژي، په همدې موخه دولت د 3G انټرنټ دریمه موافقتنامه له روشن سره چې یوه ستره مخابراتي کمپنۍ ده د سپټمبر په ۲۲ لاسلیک کړه. دغه تړون د 25 میلیون ډالرو په ارزښت وو.[444] لومړنۍ دوه موافقتنامې له اتصالاتو او MTN شرکتونو سره لاسلیک شوې وې.

په دې ربع کې، اتصالاتو په هرات او کندز کې 4G خدمتونه په لاره واچول.[445] MCIT همداشان په هرات کې ډیجیټل مخابراتي سیسټم فعاله کړ چې 12,000 شخصي او سوداګریز ګډونوال به له ټیلیفوني او انټرنیټي خدمتونو ګټه اخلي.[446] برسیره پردې د مخابراتو وزیر سنګین په عشق آباد کې د ترکمن-ټیل په شپږم نړیوال کانفرانس کې ګډون وکړ، او له خپل ترکمن سیال ځخه یې د نوري فایبر مخابراتو او بانډویټ انټرنیټي سکتور په برخه کې د دوه اړخیزه همکاریو غوښتنه وکړه.[447] په پای کې MCIT د متحده ایالاتو د تجارت وزارت په مرسته خپل لومړنی ورکشاپ د افغانستان د سایبر سکیوریټي ملي ستراتیژۍ د ودې په موخه په لاره اچولی دی.[448]

دغه هڅې له ای-افغانستان سره په همغږۍ ترسره کیږي ، چې د هیواد په کچه د دغه پروګرام لومړیتوب تصویب شوی دی. او په افغانستان کې د خصوصي سکتور د ودې په موخه کار کوي. د دغه پروګرام موخه د هیواد په کچه مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی پیاوړي کول دي، همداراز غواړي د خدمتونو بیې راټیټې کړي، کاري فرصتونه زیات کړي او د مخابراتي سکتور له لارې د دولت عواید لوړ کړي (د لایسنس، مالیې او داسې نورو لارو ځخه). او د ای-ګورننس خدمتونو ته انلاین لاسرسی رامنځ ته کړي (ترڅو اغیزمنتوب، مثمریت او روڼوالی رامنځ ته شي)؛ او له ګاونډیو هیوادونو سره د نوري فایبر له لارې وتړل شي.[449]

## د متحده ایالاتو د مرستو حساب ورکونه

DoS او USAID سیګار ته روښانه کړیده چې دوی داسې ګامونه اخیستي دي چې ورسره به بیارغونې ته د متحده ایالاتو په بسپنو کې حساب ورکونه پیاوړې شي. د DoS په وینا دوی به هر هغه ګام پورته کړي چې د متحده ایالاتو د مرستو سمه کاریدنه ډاډمنه کوي. او په منظمه توګه قرادادیان او فرعي قراردادیان څیړي. دوی همداراز د دغې ادارې په قراردادونو کې د فساد ضد شرایطو له پلي کولو سره مرسته کوي. DoS همداراز د متحده ایالاتو له نورو اداراتو سره په همغږۍ د لګول شویو پیسو په اړه شکونه څیړي او له باغیانو او نورو جنایي شبکو سره یې د ممکنه تړاو څرک لګوي: هغه کمپنې چې د متحده ایالاتو یا افغانستان قوانین تر پښو لاندې کوي په تور لست کې راوړل کیږي.[450]

د USAID د رپوټ پر بنسټ دوی د افغانستان لومړیتوب ته حساب ورکونکې مرستې پلي کوي تر څو ډاډ لاسته راشي چې پراختیایي مرسته په خپلو ټاکل شویو موخو لګول کیږي. په دغو سمونونو کې پیاوړی مالي کنترول، د پروژې مناسبه څارنه،او د کوربه هیواد مسولو اداراتو ته د درغلیو رپوټ ورکول شامل دي. USAID همداراز غوښتنه کوي چې په ټولو قراردادونو کې باید تروریزم ته د ګټو د رسیدلو مخنیوی ډاډمن شوی وي ترڅو هغو کسانو او ډلو ته چې له تروریزم سره تړلي دي قراردادونه ورنه کړل شي.[451]

# ۴

# د بلې اداره نظارت



# منځپانګې


| | |
|---|---|
| د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه | 155 |
| د نظارت روان فعالیتونه | 164 |


**انځور په مخکنی پاڼه کې**
د امریکا د اردو CH-47F چینوک هلیکوپټر د افغانستان په ختیځ کی
د لوګر پر ولایت پرواز کوي. (د امریکا د اردو انځور)

# د بلې ادارې نظارت

د سیګار د هڅولو قانون پر اساس، سیګار باید د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع وزیران د بیا رغونې د پروګرامونو ادارې له ستونزو څخه په بشپړه توګه خبر وساتي، او سیګار باید د هر مالي کال په پای کې د ۳۰ ورځو په موده کې د بیا رغونې د هڅو په اړه د امریکا کانګرس ته یو راپور وړاندې کړي. په هر ربع کې، سیګار له نورو ادارو څخه د بشپړ شویو او روانو نظارتونو د نویو معلوماتو غوښتنه کوي. دا برخه د نویو معلوماتو په اړه ده.

مشخصات وړاندې شوي متن ته ورته دي، لږ بدلون پکې راغلی تر څو راپور له نورو برخو سره یو ډول وساتل شي: د بشپړو نومونو پر ځای اختصار، ستندرد لوی حرفونه، د ربط نښه، د تنقیط علامې، غوره شوي سپیلونه، او د لمړي شخص پر ځای د دریم شخص راوړل.

دا ادارې په افغانستان کې د نظارت فعالیتونه تر سره کوي او پایلې یې سیګار ته وړاندې کوي.

- د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر (DoS OIG)
- د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د امریکا د اردو د پلټنې اداره (USAAA)
- د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

په 4.1 جدول کې د بیا رغونې په اړه له ۱۰ څخه د اتو هغو بشپړ شوېو نظارتي پروژو راپورونه شته، چې پدې ربع کې برخه اخیستونکو ادارو وړاندې کړې دي. د GAO دوه مرتب راپورونه دلته په لست کې ندي راغلي.

جدول 4.1

**د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د امریکا د نورو ادارو د نظارت وروستني بشپړ شوي فعالیتونه**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدنې نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2012-141 | ۹/۲۸/۲۰۱۲ | د امریکا د حکومت او د ایتلاف د هڅو ارزونه، چې د افغانستان هوایي ځواک ته روزنه ورکړي، تجهیز یې کړي او په کار یې واچوي |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2012-135 | ۹/۲۷/۲۰۱۲ | د Mi-17 بیا رغول تر خپل تخصیص ډیر مصرف درلود او کارونه تر محال ویش په ځنډ تر سره شوي |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2012-128 | ۹/۱۹/۲۰۱۲ | فیسونه او اضافي مالیې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بسپنې فرمایشات د لګښت د محاسبې اصلاح ته اړتیا لري |

جدول 4.1 (دوام لري)

| د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر تر ۳۰، د امریکا د نورو ادارو وروستني بشپړ شوي نظارتي فعالیتونه | | | |
|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | DODIG-2012-109 | ۷/۹/۲۰۱۲ | د امریکا حکومت او ایتلاف د هڅو ارزونه تر څو د افغانستان سیمیز پولیس ته وده ورکړي |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | GAO-12-977R | ۹/۱۲/۲۰۱۲ | عراق او افغانستان: ادارو کامونه اخیستي تر څو د قرارداد کولو معلومات اصلاح کړي مګر راپور ورکول باید ستندرد کړي. |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | GAO-12-750 | ۸/۲/۲۰۱۲ | عراق او افغانستان: د بهرنیو او دفاع وزارتونه باید دا وګوري چې کله له یو بل څخه قراردادونه اخلي په اغیزناکه توګه اداره شي او د مالي قانون اطاعت وکړي. |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | GAO-12-854R | ۸/۱/۲۰۱۲ | په بیړني حالت کې قرارداد کول: په عراق او افغانستان کې د جنګ په وخت کې د قرارداد کولو د کمیسیون د سپارښتنو په ځواب کې د ادارو عملي اقدام |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | F-306-12-002-S | ۹/۲۶/۲۰۱۲ | په افغانستان کې د USAID د نظارت او ارزونې د سیستم کتنه |

سرچینې: د سیګار د معلوماتو په اړه د DoD OIG ځواب، ۹/۲۶/۲۰۱۲؛ د سیګا د معلوماتو په اړه د DoS OIG ځواب، ۹/۲۱/۲۰۱۲؛ د سیګار د معوماتو په اړه د GAO ځواب، ۹/۲۰/۲۰۱۲؛ د سیګار د معلوماتو په اړه د USAAA، ۹/۱۷/۲۰۱۲؛ د سیګار د معلوماتو په اړه د USAID OIG ځواب، ۹/۲۱/۲۰۱۲.

## د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

پدې ربع کې، DoD OIG د افغانستان د بیا رغونې په اړه څلور راپورونه خپاره کړي.

### د امریکا حکومت او ایتلاف هڅې تر څو د افغانستان هوایي ځواک ته روزنه ورکړي، تجهیز یې کړي او په کار یې واچوي

(راپور شمیره DODIG-2012-141 چې د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۲۸ خپور شوی)

دا راپور مرتب دی.

### د Mi-17 بیا رغول تر خپل تخصیص ډیر لګښت درلود او کارونه تر محال ویش په ځنډ تر سره شوي

(راپور شمیره DODIG-2012-135 چې د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۲۷ خپور شو)

دا د څو راپورونو له لړۍ څخه د مخدره توکو د تروریزم پر وړاندې د تکنالوجۍ د پروګرام د نا تمامیدونکې کمیت او ناتمامیدونکي توزیع د دفتر (IDIQ) د قراردادونو دویم راپور دی. پدې لړۍ کې لومړی خپور شوی راپور DODIG-2012-006 دا و، د "مخدره توکو د تروریزم پر وړاندې د تکنالوجۍ د پروګرام د دفتر د قرارداد فیسونه اضافي و، او اردو غلط بیل کړي و،" د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۱.

### د افغانستان د امنیتي ځواکونو د فنډ د فرمایشاتو فیسونه او اضافي مالیه د لګښت ښې محاسبې ته اړتیا لري

(راپور شمیره DODIG-2012-128 چې د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر به ۱۹ خپور شوی)

د امریکا د انجنیرانو قول اردو او د هوایي ځواکونو د انجنیرۍ او چاپیریال مرکز عموماً د لګښت د محاسبې مناسب طرزالعملونه درلودل، مګر، د دفاع د امنیتي همکاریو اداره (DSCA) د لګښتونو مناسب اسناد ندي ساتلي، تر څو دا وښيي چې آیا بهرته د اردو سامانونو د پلورلو قضیو د دریو اضافي مالیې نرخونه چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د فنډ د تخصیصونو (ASFF cases) څخه ورته فنډ ورکول شوی، د اصلي لګښتونو د مناسب اټکل استازي توب کړی. په ځانګړي توګه DSCAدا اضافي مالیې ټولې کړي دي:

- اداري: د ۲۰۰۵ مالي کال څخه تر ۲۰۱۱ مالي کال پورې د ASFF له تخصیص څخه تر ۸۴۸ میلونو ډالرو ډیر د فنډ ورکړل شوې له قضیو څخه، مګر د DSCA د لګښتونو اسنادونو د اضافي مالیې د نرخ ملاتړ نشو کولای.

- د قرارداد د اداري خدمات (CAS): نا څرګنده مبلغ او اصلي لګښتونه له ټول شویو اضافي مالیو سره پرتله کېدای نشول.
- د ترانسپورت لګښت: نا څرګنده مبلغ او دې نشو کولای چې د ASFF د هرې قضیې لګښتونه معلوم کړي.

دا کار له دې کبله شوی ځکه DSCA مناسب پالیسی او طرزالعملونه ندرلودل تر څو د لګښتونو هر اړخیزه محاسبه وکړي او د اضافي مالیې نرخونه د لګښت له اصلي معلوماتو سره همغږي کړي یا د CAS او ترانسپورت د اضافي مالیې نرخونه د ارزونې لپاره د لګښت له موجودو معلوماتو څخه ګټه واخلي. همدا ډول، DSCA پالیسی ندرلودې ترڅو دا وګوري چې کله یې د اداري او ترانسپورتي چارو د لګښت د اضافي مالیې حسابونو تر منځ انتقالات کول د ASFF له مناسبو تخصیصونو څخه یې کار اخیستی.

په پایله کې، دا روښانه نه وه چې DSCA د اضافي مالیې مناسبه ارزونه وکړي تر څو د ASFF د قضیو لپاره د اصلي لګښتونو تادیات ورکړي یا د دریو اضافي مالیو په حسابونو کې له 2.8 میلیاردو ډالرو څخه څومره د ASFF د قضیو له لوړو نرخونو څخه وي. پردې برسیره، کېدای شي د ۱۳۰ DSCA میلیونه ډالر انتقال له اداري حساب څخه د ترانسپورت حساب د کسر د لرې کولو لپاره و، او کېدای شي دې کار د ASFF له تخصیصونو څخه بهرنیو هیوادونو ته د اردو د تجهیزاتو د پلورلو او خدماتو د لګښت مرسته ورکړې وي.

د لګښت ښه محاسبه او د دفاع وزارت کاري ګروپ به د مناسب لګښت لپاره ګامونه واخلي، لکه څنګه چې د بهرنیو چارو وزیر لخوا یې وړاندیز شوی. کېدای شي دا ګامونه د راتلونکې اټکل شوي اداري اضافي مالیې چې DSCA تمه لري د ASFF له قضیو واخلي لږ کړي (DSCA هیله لري تر څو د ۲۰۱۲ مالي کال له تخصیصونو څخه ۱۸۵ میلیونه ډالر ټول کړي)، او دا به مرسته وکړي چې د افغانستان د کارونو لپاره بسپنې خلاصې کړي.

## د امریکا حکومت او ایتلاف د هڅو ارزونه تر څو د افغانستان سیمیزو پولسیو ته وده ورکړي

(راپور شمیره DODIG-2012-109 چې د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۹ خپور شوی)

که څه هم ډېر کارونه باید تر سره شي، او ځینې پر شاتګونه هم و، د ارزونې ټیم د پر مختګونو څو مهمې بیلګې پیژندلي، پشمول د: په ستونزمنو سیمو کې په بریا کار کول، د ملي اردو له ځانګړو عملیاتي ځواکونو سره ملګرتیا، د افغانستان د ولسوالیو له قاضیانو او څارنوالانو څخه کار اخیستل،د COIN د مشورتي او همکاری ټیم اغیز، او د امریکا د ځانګړو عملیاتي ځواکونو د ټیمونو د نوبت تکراریدل. د ځانګړي عملیاتو ځواک ډله د امریکا د دفاع وزارت عمومي مفتش راپور ورکړی چې د لاندې برخو په پلان کولو او اجراکولو کې کارونه لا پاتې دي.

پلان کول: د افغانستان د سیمیزو پولیسو (ALP) پروګرام د لومړنیو پړاونو بریاو ته په پام سره، د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ISAF) د یوه دایمي پروګرام پر جوړولو پیل کړی، تر څو د افغانستان د حکومت د اوسني دوو تر پنځو کلونو پلان اټکل ځای ونیسي. آیساف ویلي چې د ولسوالی ځینې مشران، او د کلیو مشران باور لري چې د افغانستان د سیمیزو پولیسو نوښت له ولسوالی او کلي د یاغیانو په ایستلو کې او دوی نه پریښودل چې بیرته راشي اغیزناکه و. پردې برسیره، د آیساف له نظره، د افغانستان د سیمیزو پولیسو پروګرام لګښت د اضافي دایمي ملي پولیسو لګښت په پرتله لږ لګښت ته اړتیا لري. مګر،

د افغانستان حکومت د کورنیو چارو وزارت مشران له دوو تر پنځو کلونو وروسته د سیمیزو پولیسو په راتلونکي ډاډمن نه و، پداسي حال کې چې د آیساف کارکونکي او مشران د دواړو طرحو وړتیا باندې فکر کوي، دې کار د ایتلاف، د کورنیو چارو وزارت او ملي پولیسو په منځ کې شک را منځ ته کړی. تر اوسه د آیساف لخوا د سیمیزو پولیسو دایمي کولو په اړه کوم پروګرام د کورنیو چارو وزارت ته ندی وړاندې شوی. د آیساف او یا د افغانستان د حکومت د "دایمي یا غیر دایمي" څنډنی پریکړې مسله کیدای شي د اوسني پروګرام اغیز له منځه یوسي، او یا که د دایمي ملي پولیسو د ونډې لپاره کار ونشي او امنیتي ګټې یې و نه پیژندل شي، پایله به یې نه فعالیت او د سرچینو ضایع کیدل وي.

اجرات: د آیساف، د افغانستان د ځانګړو عملیاتو ځواکونو د برخې قوماندانۍ (CFSOCC-A)، او په افغانستان کې د ناټو د روزنې ماموریت (NTM-A) او د افغانستان د ګډ امنیتي انتقال قوماندانۍ (CSTC-A) تر منځ د افغانستان د سیمیزو پولیسو د پروګرام د تطبیقولو په اړه اړیکي او همغږي هر وخت اغیزناکه نه وي. او دا کار په ولسوالیو او کلیو کې دسیمیزو پولیسو د کارونو او په ځانګړې توګه د لوجیستیک او معاشونو د بې نظمۍ او اخلال سبب شوی دی. دې کار د کورنیو چارو وزارت د معاشونو د اسنادو د لیدلو کارونه هم اخلال کړي دي، چې د CFSOCC-A لوړ پوړو چارواکو لپاره ضروري دی، تر څو پروګرام اداره کړي او د ولسوالیو په کچه د مالي اسنادو او پرسونل تر منځ توپیرونه همغږي کړي.

## د منځنې ختیځ لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش سیمیز دفتر

پدې ربع کې، د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیا رغونې په اړه کوم راپور ندی خپور کړی.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

پدی ربع کې، د حکومت د حساب ورکولو دفتر پنځه راپورونه، پشمول د افغانستان د بیا رغونې په اړه دوه مرتب راپورونه خپاره کړي.

## عراق او افغانستان: ادارې هڅه کوي تر څو د قرارداد کولو په اړه معلومات شریک کړي، مګر ضروري ده چې راپور ورکول ستندرد کړي.

(راپور شمیره GAO-12-977R چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۲ خپور شوی)

که څه هم د همغږې شوې ځواکونو لومړني ځای پر ځای کول او عملیاتي چارو تعقیقب کونکي (SPOT) ته په افغانستان او عراق کې د قانون پر اساس د قراردادونو، مرستو وسایل، او اړوندو کارکونکو د عمومي معلومات د ځای دنده ورکړ شوې وه، د دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت چارواکي او د امریکا نړیواله پراختیایي ادارې (USAID) عموماً د نورو معلوماتو پر سرچینو چې دوی یې ډیر با اعتماده بولي تکیه کړې تر څو د ۲۰۱۱ کال ګډ راپور جوړ کړي. د بیلګې په توګه، یواځې د بهرنیو چارو وزارت د قراردادي او مرسته کونکو کارکونکو لپاره مستقیماً پر SPOT تکیه، مګر له دریو ادارو څخه یوې هم له SPOT څخه ګټه نده اخیتسې تر څو په داوړو هیوادونو کې د وژل شویو او زخمي شویو قراردادیانو او

مرسته کونکو کارکونکو شمیره معلومه کړي. ادارو له بلا بیلو سر چینو ګټه اخیستې تر څو د ۲۰۱۱ کال ګډ راپور جوړ کړي، یا هغه څه چې د ۲۰۱۰ کال لپاره ورڅخه ګټه اخیستل شوې، له نورو معلوماتو ګټه اخیستل شوې یا یې بدلې کړي دي. دا کار عموماً له دې کبله شوی تر څو هڅه وشي او ښه معلومات وړاندې شي یا د پخوانیو محدودیتونو ځواب ویل شوی وي.

پداسې حال کې چې د ادارو په سرچینو او طریقو کې بدلون کیدای شي د اعتماد وړ معلومات پایلې ولري، مګر د ادارو د مشخصو معلوماتو د پرتله کولو مخه نیسي تر څو د ۲۰۱۰ کال له ګډ راپور څخه د ۲۰۱۱ ګډ راپور پورې حرکتونه وپیژندل شي. پردې برسیره، ادارو د ۲۰۱۱ کال د ګډ راپور د منځپانګو لپاره د معلومات د اخیستولو او وړاندې کولو لپاره له یوې دوامدارې طریقې کار ندی اخیستی، او دې کار د ادارو تر منځ د معلوماتو پرتله کول محدود کړي. د بیلګې په توګه،د هرې ادارې لخوا د وړاندې شوي معلوماتو پر اساس، دا ناشونې ده تر څو په افغانستان کې د ټولو ورکړل شویو نویو قراردادونو ارزښت ترلاسه شي، ځکه ادارو د قرارداد د ارزښتونو لپاره له بیلا بیلو اندازو کار اخیستی او هیڅ یوې ادارې د هیواد پر اساس ارزښتونه ندي تقسیم کړي. له یوه کال تر بل کال او د ادارو تر منځ د توپیرونو له کبله، د دریو ادارو د قراردادونو د پایلو، د ګډ راپور له معلوماتو باید کار وانخیستل شي تر څو د قراردادیانو، د مرستې وسایلو، او په افغانستان او عراق کی اړوند کارکونکي د ۲۰۱۱ مالي کال لپاره یا د وخت په تیریدو سره په دریو ادارو کې حرکتونه وپیژندل شي.

د دفاع او بهرینو چارو وزارتونو ځینې ګامونه اخیستي دي تر څو په SPOT کې د قرارداد د کارکونکو معلومات ښه شي او په سیستم کې وروستي تغیرات کولای شي د سیستم کارکول هم ښه کړي. د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو چارواکو ویلي چې دوی د معلوماتو ارزونې ته دوام ورکوي تر څو هڅه وشي او د کارکونکو د معلوماتو اطمینان ښه شي، مګر USAID هڅه نده کړې تر څو معلومات ښه کړي، دوی وایې چې له دې سیستم څخه کمه ګټه اخلي. پردې برسیره، د SPOT پروګرام دفتر په سیستم کې بدلونونه تطبیق کړي چې کیدای شي د سیستم کار کول ښه کړي او پیژندل شوي پخوانې محدودیتونو ته د حل لار پیدا شي. د بیلګې په توګه، د قراردادي د کارکونکو د وظیفو رتبې ستندرد شوي تر څو د اړوندو کارونو لکه د امنیتي کارونو پیژندل آسانه شي لکه. د ۲۰۱۱ کال د ګډ راپور د جوړولو په وخت کې دا بدلونونه نه و تر سره شوي تر څو د ادارو د راپور جوړولو په هڅو کی مرسته وکړي، مګر د ادارې د چارواکو په وینا، کیدای شي دا به د راتلونکو راپورونو په جوړولو کې مرسته وکړي. مګر، د بهرنیو چارو وزارت او د USAID ځینو چارواکو دا سوال کړی و آیا چې آیا د SPOT په وده کې باید دوامداره پانګونه وشي، پداسي حال کې چې نور سیستمونه کولای شي دوی ته د قرارداد، د مرستې وسایل، او اړوندو کارکونکو په اړه معلومات برابر کړي چې د دوی اړتیا په ښه توګه پوره کولای شي.

د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID په عراق او افغانستان کې عموماً له SPOT څخه د قرارداد د مدیریت، نظارت او همغږې لپاره کار ندی اخیستی. دې دریو ادارو له دې سیستم څخه ډیر د دې لپاره کار اخیستی تر څو د قراردادي کارکونکي وکولای شي د امریکا د حکومت له خدماتو ګټه واخلي. د دریو ادارو چارواکو له SPOT څخه پرته نور سیستمونه او میکانیزمونه پیژندلي تر څو د قرارداد مدیریت او همغږي آسانه کړي. د بیلګې په توګه، هره اداره د قرارداد د مدیریت کولو لپاره خپل سیستم لري.

## عراق او افغانستان: د بهرنيو او دفاع وزارتونه بايد وګوري چې ادارو ترمنځ د قراردادونو اغيزناکه اداره و شي او د مالي قانون اطاعت وکړي

(راپور شميره GAO-12-750 چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲ خپور شوی)

تر څو د بهرنيو چارو وزارت سره مرسته شوي وي او په عراق او افغانستان کې خپل مهمې اړتياوې پوره کړي، دفاع وزارت د بهرنيو چارو له وزارت سره د ۲۲ ادارو ترمنځ د قراردادونو مرسته کړې. د اقتصاد د قانون پر اساس د بهرنيو چارو وزارت په استازيتوب، د دفاع وزارت د ۲۰ ادارو تر منځ د قراردادونو مديريت کړی چې نږدې د ۱ ميلياردو ډالرو د اساسي موادو او خدماتو او د امنيتي خدماتو مرسته يې کړې ده. د دفاع وزارت د بهرنيو چارو وزارت د روغتيايي خدماتو او بې پيلوټه هوايي وسايطو د ادارو تر منځ د دوو قراردادونو مرسته هم کړې. په ټولو ۲۲ قراردادونو کې، د دفاع وزارت د قرارداد په يوه او يا ډيرو برخو کې، پشمول د پلان کولو، وړاندې کول، اداره او نظارت کولو کې ګډون درلود. د حکومت د حساب ورکولو دفتر د دفاع وزارت لږ تر لږه ۱۲۸ کارکونکي پيژندلي چې د دې قراردادونو په موضوعاتو کی تخصص درلود او ملاتړ يې چمتو کړی.

په ۲۰۱۰ کال کې د دفاع وزارت د مرستې د قرارداد د مشروعيت لپاره، د بهرنيو چارو وزارت ويلي و چې دا کار يې د بيړنيو اړتياو د پوره کولو لپاره کړی و، لکه څنګه چې دواړه ادارې په ۲۰۱۱ کال په پای کې له عراق څخه د ځواکونو د ايستلو لپاره چمتو کيدلې. د بيړني حالت څرګندول پداسې قراردادونو کې د بهرنيو چارو وزارت د کم ظرفيتي او تخصص څرګندونه کوي. په ځانګړې توګه، د بهرنيو او دفاع وزارتونه دې پايلو ته راورسيدل چې د بهرنيو چارو وزارت د کميت او کيفت له لوري کافي کارکونکي نه درلودل، تر څو دا وړ قراردادونه سرته ورسوي او دا چې دې ادارې د اړتيا وړ وخت نه درلود تر څو خپل کارکونکي ډير کړي تر څو تر هغه وخته قراردادونه وکړي چې په عراق کې د بهرنيو چارو وزارت مشري په لاس کې واخلي. د بهرنيو چارو وزارت ځينې ګامونه اخيستي تر څو د ادارو ترمنځ د قراردادونو د کارکونکو هغه خلا ډکه کړي، چې د دفاع له وزارت څخه يې مرسته غوښتلې وه. مګر، د بهرنيو چارو وزارت دا ارزونه نده کړې تر څو دا وګوري چې د کارکونکو د ډيرولو هڅې يې کافي دي چې د اړتيا ځواب ووېلای شي، او داچې د حکومت او د قرارداد مناسب تخصص لري، او دا چې په کافي اندازه د نظارت لپاره متخصصين لري چې په افغانستان او عراق کې د خپلو د ادارو ترمنځ د قراردادونو د هڅو ملاتړ وکړي.

د بهرنيو او دفاع وزارتونو د ادارو ترمنځ د مرسته شويو قراردادونو د ګټې اخيستنې او مديريت د اړتياو اطاعت نه و کړی. له ۲۰ څخه د ۱۲ مرسته شويو قراردادونو چې د حکومت د حساب ورکولو دفتر يې ارزونه کړې، د بهرنيو چارو وزارت د ادارې او بودجې او فيدرال قرارداد د مقرراتو د اړتياو اطاعت نه و کړی تر څو پدې پوه شي چې د دفاع وزارت له قراردادونو ګټه اخيستل د تدارکاتو لپاره يوه ښه لار وه. د بيلګې په توګه د بهرنيو چارو وزارت دا ارزونه نه وه کړې چې د دفاع وزارت د ادارو تر منځ د پنځو قراردادونو څخه ګټه اخيستل يو اقتصادي کار دی. د بيلګې په توګه، د بهرنيو چارو او دفاع وزارتونو د ادارو تر منځ د قراردادونو د ۱۳ قضيو د موافقتنامو اړتياوې نه وې پوره کړې، او دې کار د دفاع وزارت د مرستو د نظارت په مسوليتونو او تادياتو کې اخلال رامنځ ته کړی. څکه نو، د حساب ورکولو د ادارې موقف د دفاع وزارت لګښتونو لپاره د بهرنيو چارو وزارت تادياتو ته تر ۲۰۱۲ وړاندې د ادارو تر منځ د ځينو قراردادونو په اړه تر اوسه ندي حل شوي او دا اداری له مالي قانون څخه له سرغړونې سره مخ ده. په عراق کې له دفاع وزارت څخه د

بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۱۰ کال د قرارداد وړاندیز څخه ځینې درسونه زده شوي دي. مګر، د ادارو تر منځ د قرارداد د اړتیاو کمزوی اطاعت او له لاسه تللي فرصتونه تر څو په بشپړه توګه لګښتونه، د اړتیا وړ مواد او خدمات و پیژندل شي، دې کارونو د بهرنیو چارو وزارت توان محدود کړی تر څو ورته قراردادونو ته پلان جوړ کړي. په راتلونکو ۱۸ میاشتو کې لکه څنګه چې په عراق کې مهم قراردادونه پای ته رسیږي او په افغانستان کې د امریکا شتون بدلون مومي، د بهرنیو چارو وزارت فرصتونه کمیږي تر څو دا وګوري چې دوامداره تکیه کول مناسب کار دی او یا دا چې د بهرنیو چارو وزارت باید خپل ظرفیت ته وده ورکړي. مګر، د بهرنیو چارو وزارت بیا له دې خطر سره مخ کیږي چې د مرسته شویو قراردادونو لپاره له ناچارۍ پر دفاع وزارت تکیه وکړي نه دا چې د یو ښه کاري پریکړې پر اساس تکیه وکړي.

## بیړني قراردادونه: د ادارې عملي ګامونه تر څو په عراق او افغانستان کې د جنګ د وخت د قرارداد کولو د کمیسیون سپارښتنو ته ځواب ووایي

(راپور شمیره GAO-12-854R چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱ خپور شوي)

په لنډه توګه، دفاع وزارت راپور ورکړی چې په افغانستان او عراق کې د جنګ د وخت د کمیسیون (CWC) تر نیمی سپارښتنو په وړاندې یې یا عملي ګامونه اخیستي یا پلان یې کړی تر څو ګامونه تر سره شي، او د بهرنیو چارو وزارت او USAID هر یوه راپور ورکړی چې د سپارښتنو دریمې برخې په اړه یې یا ګامونه اخیستي یا پلان کړی چې ګامونه تر سره شي. د دریو ادارو چارواکو ویلي چې د پاتې مستقیمو سپارښتنو په اړه کوم عملي ګام ندی اخیستل شوی یا پلان هم ورته ندی شوی تر څو ګامونه ترسره شي. او دا له دې کبله و، چې د بیلګې په توګه د ادارو اوسنیو پالیسیو او کاري اجراتو لا له وړاندې د سپارښتنو موخو ته ځواب ویلی او یا دا چې له سپارښتنو سره یې مخالفت کړی دی. لاندې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او د USAID د عملي ګامونو او یا پلان شوي بیلګې دي چې د CWC له مستقیمو سپارښتنو سره تړاو لري:

- د ۲۰۱۲ کال په فبروري کې د دفاع وزارت یوه وروستی مقرره خپره کړې تر څو د فیدرال د دفاع د مرسته شوې قرارداد اضافي مقرره (DFARS) تعدیل کړي چې د قراردادي د کارونو نظارت ښه شي، پشمول د دې توان چې کله د قراردادي د کارونو په سیستم کې ستونزې وي د پیسو یو مشخصه اندازه ورڅخه وګرځول شي. دا عملي ګام د CWC له سپارښتنې سره برابر دی تر څو صلاحیت ځواکمن شي او د نامناسبو کاري سیستمونو څخه د قرارداد پیسې وګرځول شي.
- د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په میاشت کې د بهرنیو چارو وزارت لارښونه خپره کړه چې د ارادې د موافقې مسوده جوړلو پروسه یې تشریح کړی، چې د قراردادي د احتمالي بندیز یا تعلیق مسله راپورته کیږي، پشمول د هغو قضیو چې د قراردادي په وړاندې د هیڅ عملي ګام سپارښتنه نده شوې. دا لارښونه د CWC له سپارښتنې سره برابره ده تر څو د پلي کیدلو وسیلې ځواکمنې کړي چې د بندیز او تقلیق نه تعقیبولو لپاره یوه لیکل شوي منطق ته اړتیا ده.
- د ۲۰۱۲ کال په جنوري کې د USAID لخوا لارښونه خپره شوې چې د ټولو پروژو د دوام تحلیل ته اړتیا شته او یوې وسیلې ته وده ورکړ شي چې سوالونه، مسلې او بیللګې ولري تر څو USAID د پروژو د ډیزاین له ټیم سره مرسته شوي وی، چې د پروژو د موخو د ملاتړ په اړه فکر وکړي او د پایلو ملاتړ ډیر کړي. دا لارښوونه د CWC د پروژو د ملاتړ

له سپارښتنې سره برابره ده (د بېلګې په توګه کوربه هېوادونه باید پخپله کار وکړي او د امریکا له لورې تمویل شوې پروژې تطبیق کړي).

لاندې هغه بېلګې دي چې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونه او USAID راپور ورکړی چې د CWC د سپارښتنو سره برابر مستقیم عملي ګامونه یا ندي اخیستل شوي او یا پلان یې ندی کړی تر څو ګامونه تر سره شي.

- دې دریو ادارو عموماً کار ندی کړی او یا پلان نلري تر څو د بیړنیو قرارداد کولو د مسولینو ځواک ډېر او پراخ کړي لکه څنګه چې CWC یې سپارښتنه کړې وه. د دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID چارواکو ویلي چې د ادارو اوسني مقررات د سپارښتنو د موخو ځواب ویلی شي. د بېلګې په توګه، د دفاع وزارت چارواکو ویلي چې د CWC هغه سپارښتنه، تر څو د بیړنیو قرارداد کولو لپاره یو نوی ریاست جوړ شي، دې ریاست ته اړتیا نشته، ځکه د دفاع وزارت ډېر لوړ پوړي چارواکي لا له وړاندې د عملیاتو په قراردادونو کې کار کوي، او ملاتړ یې کوي. په ورته توګه، د بهرنیو چارو وزارت چارواکو ویلي لکه څنګه چې CWC سپارښتنه کړې، د یوه بیل ریاست جوړول چې د ادارو تر منځ د قرارداد معاون لخوا یې رهبري وشي پلان نشته، ځکه اوسني مقررات چې د ادارې او همغږۍ د معاون سکرتر او د ادارې لاندني سکرتر د بیړنی قرارداد کولو مسولیت لري، د ادارې اړتیاوې په ښه توګه پوره کوي. د USAID چارواکو ویلي چې پلان نلري تر څو لکه چې سپارښتنه شوې د ادارو ترمنځ د قرارداد مشر افسر په یوه غیر مسلکي بست تبدیل کړي، ځکه چې دوی باور لري چې د بهرنیو چارو مسلکي افسر پدې دنده کې د اړتیا وړ تخصص لري تر څو د ادارې د ځانګړې ماموریت او د ادارو تر منځ د قرارداد اړتیاوې پوره کړي.
- په دریو ادارو کې هیڅ یوې ادارې هم د هغې سپارښتنې سره موافقه نده کړې، چې د قراردادیانو لخوا د انسان د قاچاق د مخې نیولو لپاره، د فعالیت انګیزې او د فعالیت د ارزولو وسایلو ته اړتیا لیدل کیږي. د ادارو هر یوه چارواکي ویلي، چې قراردادي د فعالیت انګیزې ته اړتیا نلري، تر څو د قاچاق پر وړاندې له قوانینو څخه اطاعت وکړي، او نور اوسني نوښتونه، لکه د قرارداد د ادارې کارکونکو روزنه، یوه ښه وسیله ده تر څو د انسان د قاچاق مخه نیولو سره مرسته وکړي.

## د امریکا د اردو د پلټنې اداره (USAAA)

پدې ربع کې USAAA د افغانستان د بیا رغونې هیڅ پلټنه نده بشپړه کړې.

## د امریکا د نړیوالې پراختیایی ادارې د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

پدې ربع کې، د USAID OIG د افغانستان د بیارغونې په اړه یو راپور خپور کړی.

## په افغانستان کې د USAID نظارت او ارزونې ته کتنه

(راپور شمیره F-306-12-002-S چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۶ خپور شوی)

USAID OIG پلټنه کړې تر څو دا وګوري چې په افغانستان کې USAID د خپلو پروګرامونو د نظارت او ارزونې سیستم درلود چې خپل پروګرامونه په ښه توګه اداره کړي.

په وروستني راپور کې دا موضوعګانې راغلي:

- ماموریت د نظارت په اړه لارښونه نده خپره کړې. ماموریت په اوس وخت کې دا وظیفه نلري تر څو عمومي نظارت یا په ځانګړې توګه د کار په ساحه کې د نظارت پروګرام ولري. پر دې برسیره، د ماموریت هیڅ هدایت د ماموریت د کارکونکو د دندو او مسولیتونو په اړه څه ندي ویلي، تر څو د بودجې پر اساس د مرستو نظارت وکړي، چې د افغانستان د خپلې بودجې، لګښت او محاسبې سیستم لخوا تر سره شوی، تر څو له حکومت سره مرسته وکړي چې د نړیوال وجهي صندق د مالي موخو ځواب ووایي، او د بودجې پلان کول او د معاشونو او لګښتونو اداره وکړي.
- تخنیکي افسرانو د ادارې د فعالیت پلانونو (PMP) مرستې ته اړتیا درلوده. په افغانستان کې USAID له خپلو تطبیق کونکو ملګرو څخه غوارې تر څو د پروژې په کچه PMPs جوړې کړي، او په افغانستان کې د USAID د موافقتنامې او قراردادي نماینده افسرانو (A/CORs) لخوا باید تایید شي. مګر ځینې افسران له هغې لارښونې خبر نه و چې کولای شي د دویی له ارزونې او تطبیق کونکو ملګرو سره د پروژې په کچه د PMPs ګانو په جوړولو کې مرسته وکړي.
- تخنیکي افسرانو د بیا زده کولو روزنې نه وې بشپړې کړې. USAID، AORs او CORs اړتیا لري تر څو د بیا زده کړو له روزنې څخه خپل کارکونکي په دندو کې وساتي. مګر، که څه هم ډیری AORs او CORs د بیا زده کړې له اړتیاو خبر و، ځینو یې د بیا زده کړې روزنې نه وې بشپړې کړې.
- ځینو تطبیق کونکو ملګرو د افغانستان د USAID د پروګرام د معلوماتو په سیستم کې خپل فعالیتونه نه و ثبت کړي. که ټول ملګري خپله ونډه ادا نکړي، د ادارې لخوا ساتل شوي او راپور شوي معلومات بشپړ ندي.
- د ادارې چارواکو په دوامداره توګه د هغو معلوماتو صحتوالی ندی معلوم کړی چې دوی ته لیږل شوي. پداسې حال کې چې د راپور ورکړل شویو معلوماتو صحتوالی مهم دی، ځینو A/CORs ویلي چې دوی په دوامداره توګه د ملګرو لخوا د راپور ورکړ شویو معلومات صحتوالی ندی معلوم کړی.

په راپور کې ۱۰ سپارښتنې راغلي وي تر څو دا ستونزې حل شي.

## د نظارت روان فعالیتونه

د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، ملګرو ادارو د افغانستان د بیا رغونې فعالیتونو په اړه د ۲۸ نظارتي فعالیتونو راپور ورکړی. د دې فعالیتونو راپورونه په 4.2 جدول کې لست شوي، او د ادارې لخوا به راتلونکې برخه کې تشریح شوي.

جدول 4.2

**د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر تر ۳۰، د امریکا د نورو ادارو روان نظارتي فعالیتونه**

| اداره | د پروژې شمیره | د پیل نیټه | د پروژې عنوان |
|---|---|---|---|
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JA-0221.000 | ۲/۲۹/۲۰۱۲ | د افغانستان د بګرام په هوايي ډګر کې د ځانګړو عملیاتي ځواکونو لپاره د ودانیو لپاره د اردو د ساختماني پروژو د ادارې او نظارت قرارداد |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0202.000 | ۸/۱۰/۲۰۱۲ | د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د تجهیز کولو ارزونه |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AT-0170.000 | ۵/۱۱/۲۰۱۲ | د C-27A/G222 لپاره د سپیر پارټ شتون |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0163.000 | ۴/۲۵/۲۰۱۲ | د امریکا او د ایتلاف د نظارت هڅې تر څو د داود خان د ملي اردو په روغتون کې د روغتیایي خدماتو حالت ښه شي او د افغان ملي ځواکونو لپاره دوامداره صحیح لوجیستیک ته وده ورکړ شي. |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AS-0137.000 | ۳/۹/۲۰۱۲ | د افغانستان د ملي پولیسو د استادی/او روزني او د لوجیستیک حمایت لپاره د نظارت د اجراتو او طرزالعملونو قرارداد |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AT-0129.000 | ۳/۸/۲۰۱۲ | د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د داترون د مخابرې قرارداد |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JB-0126.000 | ۳/۲۸/۲۰۱۲ | په افغانستان کې د هوايي ځواک د انجنیرانو او چاپیریال مرکز د اردو د ساختماني پروژو اداره کولو او نظارت قرارداد |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0090.000 | ۲/۲۸/۲۰۱۲ | د امریکا او ایتلاف هڅې تر څو د افغانستان په ملي اردو کې مشران وروزي |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-DT0TAD-0002.000 | ۲/۱۴/۲۰۱۲ | د افغانستان په غوره شویو تاسیساتو کې د اردو د ساختمانونو اطاعت د اور د کنترولولو له ستندرد سره تخنیکي ارزونه |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-DT0TAD-0001.000 | ۲/۱۴/۲۰۱۲ | د افغانستان په غوره شویو تاسیساتو کې د اردو د ساختمانونو اطاعت له برېښنایې ستندرد سره تخنیکي ارزونه |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JB-0093.000 | ۱/۱۱/۲۰۱۲ | د دفاع وزارت د مشاورینو د پروګرام له لارې د ادارو ظرفیت لوړول |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D00SPO-0085.000 | ۱/۶/۲۰۱۲ | د امریکا هڅې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د قوماندانۍ د کنترول د سیستم د جوړولو لپاره |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000JB-0071.000 | ۱۲/۱۶/۲۰۱۱ | په افغانستان کې د اردو د ساختماني پروژو د قراداد اداره او نظارت |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AS-0075.000 | ۱۲/۷/۲۰۱۱ | د Mi-17 بیا رغونې او د پیلوټ د ناستې په ځای کې بدلونونه راوړلو لپاره قرارداد |
| د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2012-D000AS-0031.000 | ۱۱/۱۷/۲۰۱۱ | د امریکا د ترانسپورتي قوماندانۍ لپاره د افغانستان د څرخي وزر ترانسپورتي قرارداد |
| DoS OIG-MERO | 12AUD30 | ۱۲/۲۰۱۱ | په افغانستان کې د مخدره توکو او قانون پلي کونې چارو نړیوال دفتر د اصلاح سیستم ملاتړ پروګرام |
| DoS OIG-MERO | 11MERO1875 | ۰۶/۲۰۱۱ | د بېړنې کارونو د عملي پلان ارزونه – د کابل سفارت |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351772 | ۹/۲۰/۲۰۱۲ | د دفاع وزارت طریقې تر څو له جنګه وروسته په افغانستان کې د امریکایی ځواکونو دنده وپېژني |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 320924 | ۷/۵/۲۰۱۲ | د افغانستان مهمې مسلې |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351747 | ۶/۱۱/۲۰۱۲ | د افغانستان د عامه حفاظت ځواک ته د دفاع وزارت بدلون |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351742 | ۵/۱۱/۲۰۱۲ | د دفاع وزارت د ځواکونو لپاره د امنیتي ځواک همکارۍ ونډه |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351743 | ۵/۱۱/۲۰۱۲ | په افغانستان کې مشورتي ټیمونه |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 320889 | ۲/۲/۲۰۱۲ | د افغانستان لپاره د مرستو بیا اصلاح |
| د حکومت د حساب ورکولو دفتر | 351688 | ۱۱/۱۹/۲۰۱۱ | په افغانستان کې د ځواکونو د کمولو لپاره د دفاع وزارت چمتووالی |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF100612 | ۱۰/۹/۲۰۱۲ | په افغانستان کې د USAID د لوړو معاشونو د کنترول ادارې ته بیا کتنه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF100312 | 5/1/2012 | په افغانستان کې د USAID د والیانو د فعالیت د بسپنې پلټنه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101112 | ۵/۱/۲۰۱۲ | په افغانستان کې د USAID د کندهار د برېښنا د فابریکي پلټنه |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF1011712 | ۱۰/۲۵/۲۰۱۱ | په افغانستان کې د USAID د غوره شویو پروژو لپاره د قوماندانانو د بېړني ځواب پروګرام بسپنو ارزونه |

سرچینې: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ځواب، ۹/۲۶/۲۰۱۲؛ سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د حکومت د حساب ورکولو دفتر، ۹/۲۰/۲۰۱۲؛ د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د USAID د عمومي مفتش دفتر ځواب، ۹/۲۱/۲۰۱۲.

## د اردو د ادارې د عمومي مفتش دفتر

تر څو په بهر کې بیړني عملیات (OCO) بشپړ کړي، د اردو د ادارې پر وړاندې ډیرې ننګونې اوس هم شتون لري. د دفاع وزارت عمومي مفتش د دغو ننګونو او لوړ خطر پر اساس لومړیتوبونه پیژندلي دي. د ۲۰۱۳ مالي کال لپاره، د دفاع وزارت عمومي مفتش دفتر به د بیړنیو حالتونو د عملیاتو پر نظارت کار وکړي چې ډیرې سرچینې یې د افغانستان د عملیاتو ملاتړ کوي. په افغانستان کې د دفاع وزارت عمومي مفتش دفتر د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د فنډ، اردو تاسیساتو، د کارکونکو خوندي کول، او قراردادونو د ادارې او نظارت پر ادارې او تطبیق به کار وکړي، چې د ایتلاف د ځواکونو ملاتړ کوي. پردې برسیره، په افغانستان کې د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر نظارت به له افغانستان څخه د ځواکونو کمیدل او د عملیاتو بدلیدلو موضوع ګانو ته هم وګوري.

لکه څنګه چې په افغانستان کې په میلیاردونو ډالرونه لګیږي، لومړیتوبونه به د ادارو تر منځ د قرارداد او قرارداد کولو د نظارت او تفتیش پر پروسې وي، چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو (ASF) د روزنې، تجهیز او ملاتړ باندې به کار کوي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر پلان شوي هڅې به د افغان ملي ځواکونو د تجهیز کولو، لکه د څرخي وزر طیارو، طیارو، مهمات، مخابرې او د شپې دوربینونو د قراردادونو پر اداره او نظارت کار وکړي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به د دې ادارې د هغو هڅو کتنه او ارزونه هم وکړي چې د افغانستان د ملي پولیسو لپاره د قراردادونو د ادارې او تطبیق کارونه کوي.

لکه څنګه چې په افغانستان کې د اردو بیا رغولو یا نوي ساختماني کارونه دوام لري تر څو د ژوند کولو لپاره ځایونه، طعام خانې او د تفریح ځایونه، د روغتیا کلنیک، د ګارنیزیون د ساحې پراخول، د پولیسو حوزې جوړې کړي، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به خپلو هڅو ته دوام ورکړي تر څو د قراردادونو د ادارې او د اردو د ساختماني پروژو کلک نظارت وکړي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به د ملکیت د حساب ورکولو باندې کارونو ته هم دوام ورکړي، اداره به هڅه وکړي تر څو د افغانستان د دفاع په وزارت کې د ادارو ظرفیتونه او د مالي ادارې کنترول ته وده ورکړي.

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د جنوب لویدیځې آسیا د پلان کولو ګډ ګروپ مشري کوله تر څو د فیدرال او DOD OCO د نظارت فعالیتونه همغږي کړي او ستونزې له منځه یوسي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به له سیګار سره او نورو ملګرو عمومي مفتیشیونو، او د دفاع د ټولنې نظارت کونکو سره خپل کار ته دوام ورکړي، تر څو په افغانستان کې د IG ټوله کاري ټولنه د ۲۰۱۳ مالي کال لپاره د ستراتیژیکې پلټنې پلان ته وده ورکړي. د سیګار لخوا د رهبرۍ دا هڅه، کانګرس او برخه لرونکو ادارو ته د بیا رغونې د پروګرامونو په اړه فعاله نظارت برابر کړي.

## د پلټنې د عمومي مفتش معاون دفتر

د دایمي آزادۍ د روانو عملیاتو نظارت د کارکونکو د خوندي ساتلو په اړه کار کوي، چې د بیا رغونې د هڅو، د امریکا د ځواکونو د خوندي کولو پروګرام، د ملکیت د حساب ورکولو، ناسمو تادیاتو، د قرارداد اداره کول او مدیریت پشمول د ساختماني او د ساختمان د پروژې ساحه، د افغانستان د ملي پولیسو د روزنې د قرارداد نظارت، په افغانستان کې لوجیستکي توزیع، روغتیا، او ادارو تر منځ د قرارداد د پلان کولو، او د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بسپنو ورکول کنترول سره تړاو لري.

## د افغانستان د بګرام په هوايي ډګر کې د ځانګړو عملياتي ځواکونو د تاسيساتو او د اردو د ساختماني پروژو د مديريت او نظارت قرارداد

( د پروژې شميره D2012-D000JA-0221.000 چې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۹ پيل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آيا د دفاع وزارت په افغانستان کې د اردو د ساختماني پروژو اغيزناکه نظارت کوي. په ځانګړې توګه، د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آيا د امريکا د انجنيرانو قول اردو د قراردادي د فعاليت مناسبه نظارت کوي، او د بګرام په هوايي ډګر کې د ځانګړو عملياتي ځواکونو د ساختماني پروژو د کيفيت د ډاډ مسوليتونه په مناسبه توګه سرته رسوي.

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تجهيز کولو ارزونه

(د پروژې شميره D2012-D00SPO-0202.000 چې د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۰ پيل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آيا د افغانستان امنيتي ځواکونو لپاره تجهيزات او مهمات چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو له بسپنې څخه اخيستل شوي تر خپلې اندازې ډېر رواړل شوي دي. پر دې برسيره، د عمومي مفتش دفتر به دا هم وګوري چې آيا په افغانستان کې د ناټو د افغانستان د روزنې د امنيتي انتقال د ګډ ماموريت قوماندانۍ، د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو لپاره پلان جوړ کړی، تر څو له اضافي تجهيزاتو يا موادو څخه کار واخيستل شي. په همدې توګه، د عمومي مفتش دفتر به دا هم وګوري چې آيا دفاع وزارت کوم ورانديز جوړ کړی، چې د ASFF قانون تعديل کړي، تر څو د اړتيا په وخت کې ګانګرس دا صلاحيت ولري چې اضافي تجهيزات او مهمات وپيژني او بيرته يې واخلي يا ورڅخه کار واخيستل شي. پردې برسيره، د عمومي مفتش دفتر پلان لري تر څو دا وګوري چې آيا دفاع وزارت د ASFF څخه دباندې د بيرته اخيستلو او يا په کار اچولو پلان جوړ کړی، تر څو هغه تجهيزات او مواد وپيژني چې د ASFF په بسپنه اخيستل شوي.

## د C-27A/G222 لپاره د سپير پارټ شتون

(د پروژې شميره D2012-D000AT-0170.000 چې د ۲۰۱۲ کال د مې په ۱۱ پيل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې د C-27A/G222 د سپير پارټ لګښت او شتون به د افغانستان په هوايي ځواکونو کې د دې طيارو دوام ته اجازه ورکړي.

## د امريکا د اردو او ايتلاف د هڅو نظارت تر څو د روغتيايي خدماتو حالت ښه شي او د داود خان د ملي اردو په روغتون کې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو لپاره دوامداره روغتيايي لوجيستيک ته وده ورکړ شي

(د پروژې شميره D2012-D00SPO-0163.000 چې د ۲۰۱۲ کال د اپريل په ۲۵ پيل شوی)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر په محال ويش سره د امريکا او د ايتلاف د هڅو ارزونه کړې، تر څو د افغانستان د داود خان د ملي اردو په روغتون (NMH) کې د روغتيا د خدماتو اداره او د ناروغانو درملنه، د پاکولو چارې او حالت، او د روغتيايي موادو لوجيستيکي پروسه ښه کړي. دا هڅې په خاصه توګه د هغو کارونو په ځواب کې دي چې

د دفاع وزارت عمومي مفتش په منظمه توګه د MNH څخه ليدنه کړې، او د افغانستان د ملي ځواکونو د روغتيايي موادو او روغتيايي وړتيا د ودې نظارت يې کړی دی. دا پيام د دفاع وزارت د عمومي مفتش په يوه مکتوب کې د افغانستان د انتقال د ګډې قوماندانی قوماندان ته د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۲ ليږل شوی.

## د افغانستان د ملي پوليسو د استادی، روزنې او لوجيستيکي ملاتړ لپاره د نظارت پروسه او طرزالعملونه

(د پروژې شميره D2012-D000AS-0137.000 چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۹ پيل شوې)

دا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د ملي پوليسو د استادی، روزنې او لوجيستيکي ملاتړ د قرارداد د پلټنو له لړۍ څخه دويمه پلټنه ده. د دې پلټنو هر اړخيزه موخه دا ده تر څو دا وګوري چې آيا د دفاع وزارت چارواکو د قرارداد کولو له مناسبو پروسو څخه کار اخيستی، تر څو د ماموريت د اړتياو رضايت ترلاسه کړي او د فيدرال او د دفاع وزارت د پاليسيو پر اساس يې مناسب نظارت تر سره کړي.

د دې پلټنې لپاره د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آيا اردو، NTM-A/CSTC-A او DCMA د قراداد لپاره د نظارت مناسبې پروسې او طرزالعملونه درلودل. پردې برسيره، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به داهم وګوري چې آيا اردو، NTM-A/CSTC-A او DCMA د قراردادي په اړه مناسب تحقيق تر سره کړي. پدې لړۍ کې لومړۍ پلټنه د افغانستان د "ملي پوليسو د استادی، روزنې او لوجيستيک ملاتړ" قرارداد دی، چې د ۲۰۱۲ کال د مې په ۳۰ پدې شميره DODIG-2012-094 راپور کې خپور شوی.

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو ملاتړ لپاره د داترون د مخابرې قرارداد

(د پروژې شميره D2012-D000AT-0129.000چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ به ۸ پيل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آيا د امريکا د بريښنايي – ارتباطاتو قوماندانی د داترون د قرارداد د ورکولو لپاره يې اغيزناکه پاليسی او طرزالعملونه تطبيق کړي، د مناسب قيمت لپاره يې خبرې تر سره کړي، د سپارلو لپاره يې وخت ټاکلی، او د اوسنيو اړتياو پر اساس يې د کيفيت د اطمينان لپاره ګامونه اخيستي دي.

## په افغانستان کې د اردو د ساختمانونو د ادارې او نظارت لپاره د هوايي ځواکونو د انجنيری او چاپيريال مرکز قرارداد

(د پروژې شميره D2012-D000JB-0126.000 چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ به ۷ پيل شوې)

د دفاع وزرات د عمومي مفتش دفتر دا ګوري چې آيا د هوايي ځواکونو د انجنيرۍ او چاپيريال مرکز چارواکو په افغانستان کې د اردو ساختماني پروژو لپاره اغيزناکه نظارت برابر کړی. دا په افغانستان کې د اردو د ساختمانونو د پروژو د مديريت او نظارت د پلټنو په لړۍ کې دويمه پلټنه ده. لومړۍ پروژه، D2012-D000JB-0071.000 په افغانستان کې د اردو د ساختماني پروژو د امريکا د انجنيرانو د قول اردو د مديريت او نظارت پر قرارداد کار کوي.

## د امریکا او ایتلاف هڅې تر څو د افغانستان په ملي اردو کې مشرانو ته وده ورکړي

(د پروژې شمیره D2012-D00SPO-0090.000 چې د ۲۰۱۲ کال د فبروري په ۲۸ پیل شوې)
د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر د ایتلاف د رهبرۍ د پروګرامونو ارزونه کوي چې د افغانستان د ملي اردو لپاره افسران او بریدملان روزي.

## د افغانستان په غوره شویو تاسیساتو کې د اور د کنترولولو له ستندرد څخه د اطاعت تخنیکي ارزونه

(د پروژې شمیره D2012-DT0TAD-0002.000 چې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په ۱۴ پیل شوې)
د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آیا په افغانستان کې د امریکا لخوا نیول شوي تاسیساتو کې د اردو لخوا د اور د کنترلولو سیستم جوړ شوی. د مرکزي قوماندانۍ د یوځای شویو تاسیساتو معیار او د اور د محافظت د ملي ټولنې ستندردونه. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا ارزونه وکړي چې د کندهار په هوایي ډګر، بګرام هوایي ډګر، کمپ ایګرز او نورو سیمو کې د امریکا لخوا نیول شوې تاسیسات ضروري دي. ارزونه به دا راپور هم ورکړي چې د دفاع وزارت د عمومي مفتش د اور د کنترولولو د سیستم د ارزونو د سپارښتنو په اړه اصلاحي ګامونه اخیستل شوي.

## د افغانستان په غوره شویو تاسیساتو کې د بریښنا له ستندردونو سره د اردو د ساختمانونو اطاعت تخنیکي ارزونه

(د راپور شمیره D2012-DT0TAD-0001.000 چې د ۲۰۱۲ کال د فبروري په ۱۴ خپور شوی)
د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې په افغانستان کې د امریکا لخوا په نیول شویو تاسیساتو کې د اردو د ساختماني چارو لخوا د بریښنا جوړ شوی سیستم د امریکا د مرکزي ګډې قوماندانۍ د تاسیساتو د معیار او د ملي بریښنا د کود د ستندرد اطاعت کوي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به د کندهار په هوایي ډګر، بګرام هوایي ډګر، کمپ ایګرز او نورو سیمو کې د امریکا لخوا نیول شویې تاسیساتو ارزونه وکړي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به د بریښنا د سیستم د پخوانیو سپارښتنو په اړه د اصلاحي ګامونو ارزونه هم وکړي.

## د دفاع وزارت د مشاورینو پروګرام له لارې د ادارو ظرفیت لوړول

(د پروژې شمیره D2012-D000JB-0093.000 چې د ۲۰۱۲ کال د فبروري په ۱۱ پیل شوې)
د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به وګوري چې آیا د دفاع وزارت مشاورینو پروګرام خپلو ټاکل شویو موخو ته رسیږي. په ځانګړې توګه، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې د ټاکل شویو موخو رسیدلو لپاره د پروګرام موخې، پایلې او سرچینې په مناسبه توګه اداره شوي.

## د امریکا هڅې تر څو د افغانستان د ملي ځواکونو د سوق او اداري سیستم ته وده ورکړي

(د پروژې شمیره D2012-D00SPO-0085.000 چې د ۲۰۱۲ کال د جنوري په ۶ کې پیل شوې)
د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آیا دفاع وزارت په ټاکل شوې نیټې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د سوق او اداري سیستم جوړول بشپړ کړي. په ځانګړې

توګه، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا ارزونه وکړي چې د امریکا د حکومت او ایتلاف ستراتیژي، لارښوونې، پلانونه او سرچینې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د سوق او ادارې د سیستم د ودې او عملیاتو تطبیق لپاره مناسب دي.

## په افغانستان کې د اردو د ساختماني پروژو د ادارې او نظارت قرارداد

(د پروژې شمیره D2012-D000JB-0071.000 چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۱۶ پیل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آیا په افغانستان کې د ساختماني پروژو لپاره د دفاع وزارت اغیزناکه نظارت برابروي. په ځانګړې توګه، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آیا د دفاع وزارت د ساختماني کارونو په وخت کې د قراردادي د فعالیت نظارت کوي او په مناسبه توګه د کیفیت د اطمینان نظارت او مسولیتونه تر سره کوي.

د دې لپاره چې قوماندانۍ ته پر وخت او دقیق راپورونه وړاندې شي، دا پروژه په دوو پروژو ویشل شوې ده. اصلي پروژه به په افغانستان کې د USACE د اردو د ساختماني پروژو د ادارې او نظارت قرارداد باندې کار وکړي. دویمه پروژه D2012-D000JB-0126.00 په افغانستان کې د هوایي ځواکونو د چاپیریال د کیفیت د مرکز د اردو د ساختماني پروژو د ادارې او نظارت پر قرارداد کار کوي.

## Mi-17 د بیارغونې او د پیلوټ د ځای بدلولو لپاره قرارداد

(د پروژې شمیره D2012-D000AS-0075.000 چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۷ پیل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر ګوري چې آیا د دفاع وزارت چارواکو د Mi-17 د بیا رغولو او بدلون لپاره قرارداد د فیدرال او دفاع وزارت د مقرراتو او پالیسیو پر اساس په مناسبه توګه وړاندې کړي او مدیریت یې وکړي. قراردادي افسرانو دا قرارداد د IDIQ قرارداد شمیرې W58RGZ-09-D-0130 پر اساس وړاندې کړی.

## د امریکا د ترانسپورت د قوماندانۍ لپاره د افغانستان د ځرخي وزر ترانسپورت قراردادونه

(د پروژې شمیره D2012-D000AS-0031.000 چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۱۷ پیل شوې)

د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر پلان لري چې د افغانستان د ځرخي وزر د ترانسپورت د قراردادونو په اړه څو پلټنې تر سره کړي، تر څو دا وګوري چې پداسې حال کې چې د قرارداد کولو دا خدمات په بیړني حالت کې تر سره کیږي، د ترانسپورت د قوماندانۍ چارواکي قراردادونه د فیدرال د ادارو تر منځ د قرارداد د مقرراتو او د دفاع وزارت د لارښونو پر اساس اداره او مدیریت کوي. د پلټنو په لړۍ کې د دې لومړۍ پلټنې لپاره، د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر به دا وګوري چې آیا د قرارداد کولو چارواکي په افغانستان کې د ترانسپورت پر سامانونو، پوست او مسافرینو مناسب کنترول لري.

## د منځني ختیځ لپاره د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر

د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر پدې ربع کې د افغانستان د بیا رغونې په اړه کومه نوې پروژه نده پیل کړې.

## په افغانستان کې د اصلاح د سیستم ملاتړ لپاره د مخدره توکو او قانون پلي کولو چارو د نړیوال دفتر پلټنه

(د پروژې شمیره 12AUD30 چې د ۲۰۱۱ کال په دسمبر کې پیل شوې)

